# زنهار ناول




#ناول: زنهار.

#ليکوال: آريا.

#ژباړونکې: خواجه زې خپرونديه اداره.

#نشر کونکې: خواجه زې.

بِسمِ اَللّهِ اَلرحمٰنِ اَلرحِيم"

هر انسان خپل کيسه لري، خو په دې منځ کې ځينې داسې وي لکه وينه چې په رګونو کې وګرځي، او منزل يې بل ځای نه وي پرته له زړه. لکه يو خوږ داستان چې په خوښيو کې به خاندې او په غمونو کې به يې ژاړې، خو تر ټولو زيات، هغه کيسه چې ته پکې ډوبيږې، هماغه کيسه چې يو وخت به دې له لرې ورته کتل.

شته داسې شيبې چې له ځانه پوښتم، آيا دا ممکنه ده؟ نه، ممکن نه ده. دا امکان نه لرل يې خنديږم، ځکه ناشونی ښکاري. خو ناشونی نه دی، حقيقت دا دی چې موږ يې د درک وړتيا نه لرو. خو... خو افسوس له هغه ورځې چې موږ يې درک کړو! درک چې يوازې د ډوبېدو په وخت کې ممکنيږي، درک چې ته به تر قبر پورې رسوي. خو عجايب يې همدلته دي، چې ته به بيا په خپل ځان جوړ شې.هغه به ته له سره جوړ کړي، خو ځان به بيا پيدا نه کړې! "زه" به نور وجود ونه لري، او يوازې هغه څه چې به شتون څرګندوي، "هغه" دی. هغه وخت چې ته "هغه" پيدا کړې، بيا به د دې نړۍ له تيارو شکايت ونه کړې. خوښي او غم په يوځای انسانيت ته وجود ورکړ، انکار يې ناشونی دی، خو ته د خدای په قلم ايمان ولره، چې قلم يې د بدۍ ليکلو توان نه لري. هغه چې په خپله ټول ښکلا دی.

په نامه د هغه چا چې بدرنګي او ښکلا، ښه او بد، درد او خوښي، مهرباني او ظلم، مینه او نفرت یې یوځای پیدا کړل.

وینې؟ بیا هم مات شوم! له دې احساس چې حقیر یم، کرکه لرم. له دې کرکه لرم چې بې ارزښته شم، خو بیا هم بې ارزښته شوم. آیا یو انسان څو ځله د ماتېدو توان لري؟ څو ځله به نور ماتېږم؟ نور مې توان نه لري، ټوټې مې نور له سره یوځای کېدو ته تیارې نه دي. داسې احساسوم چې وجود مې هېڅ ګټه نه لري. آیا نه وایي چې هرې تورو شپو پسې یوه روښانه سهار وي؟ نو زما سهار چیرې دی؟ ولې زما د شپې تیارې نه ختمېږي؟آیا ما ستونزه ونه منله؟ آیا ما هڅه ونه کړه؟ آیا نه وایي چې بې له ستونزې ارامی نه شته؟ نو بیا په کوم دلیل، له دومره زیار سره سره، ارامي زما برخه نه شوه؟

ستړې یم... ستړې یم له بې عدالتیو، له درد او تکلیف، له حقیر ګڼل کېدو، له درک کولو او نه درک کېدو، له مرستې کولو او نه مرستې اخیستو، له لیدلو او نالیدل کېدو، او تر ټولو زیات له یوازیتوبه.

اته میلیارده انسانان په ځمکه باندې ژوند کوي، او په دې منځ کې یو انسان دومره یواځې دی، آیا دا بې عدالتي نه ده؟ ستړې یم، نور د پیاوړې پاتې کېدو توان نه لرم. نه غواړم پیاوړې واوسم. زړه مې غواړي چې کمزورې شم، یوه اوږه غواړم چې ورباندې سر کېږدم او وژاړم. هغه ژړا چې لکه یو زنداني د خپل ځان د آزادۍ لپاره هڅه کوي، هماغه فریاد چې کلونه کېږي په ستوني کې مې ایسار دی، خو د آزادۍ توان یې نه لري.

غواړم وژاړم، د هر ځل لپاره چې مات شوم، د هر ځل لپاره چې وسوځېدم او غږ مې ونه کړ، د هر ځل لپاره چې مې ریښې پرې شوې. د خپلو بدبختیو لپاره، خو زما اوښکې چیرته دي؟ ولې نه راځي؟ ولې زما مخ د باران په څیر نه لمدوي؟څوک وایي چې ژړا د انسان کمزوري ده؟ برعکس، ژړا زړورتیا غواړي، هماغه زړورتیا چې نه پوهېږم څه وخت او چیرته په دې تیارو کې خاورې شوه او له منځه ولاړه!!! لکه یو ګل چې له بهر سخت او مضبوط ښکاري، خو... خو له دننه کمزورې او وران یم.

هو، دې نړۍ په خپلو تیارو سره زما زړورتیا هم خاورې کړه. نور د ژوند احساس نه کوم، د وجود احساس نه کوم. داسې احساسوم چې وجود مې بېخي شتون نه لري. کاش چې دا رښتیا وای... کاش!!!

—آیت... آیت..وه جنۍ نه اورې؟ کاڼه شوې؟

د کاکا مېرمنې غږ و چې د فکرونو لړۍ مې پرې کړ. قلم مې په خپل تور کتابچه کې کېښود او په کوچني صندوق کې مې پټ کړ. له کوټې بهر شوم.

— ها د کاکا ښځې؟

کاکا ښځه- ای مرګ د کاکا ښځې، چیرته ورکه شوې؟ بد مرغۍ انجلۍ غوږونه دې نه اوري؟ څو ځله باید درته غږ وکړم؟

— بخښنه غواړم، بیا به تکرار نه شي.

کاکا ښځه- ډېرې خبرې مه کوه، ژر شه د زینب جامې اتو کړه چې غواړي مکتب ته لاړه شي.

— په سترګو سمده.

د زینب خونې ته چې په دویم منزل کې ده لاړم، دروازه مې وټکوله او د عادت سره سم د اجازې اخیستلو انتظار مې وکړ.

زینب- راځه.

—سهار پخیر.

زینب- ژر زما جامې اتو کړه، خو پاملرنه وکړه چې خراب یې نه کړې.

د "ښه ده" په ویلو سره مې د جامو اتو کول پیل کړل. زینب هم د هنداري مخې ته خپل د مخ په جوړولو باندې بوخت وه، چې دروازه خلاصه شوه او د کاکا مېرمن راننوته.

کاکا ښځه- د مور شهزادګې چمتو شوې؟"

زینب- آخ مور، وګوره، مېک اپ مې ښه نه دی شوی، څه وکړم؟

کاکا ښځه- آه، لور جانې ته تل ښکلې یې. چا ویلي چې مېک اپ دې ښه نه دی شوی؟ ډېر هم ښکلې شوې یې. ماشاءالله! بد نظر دې زما له لور لرې وي.

زینب- یعنې ښه شوې؟ وګوره، هیڅ شی اضافه کول ته اړتیا نشته؟

کاکا ښځه- نه، د مور شهزادګۍ، بالکل ښه شوی. یوازې ژر شه چې لالا دې انتظار کوي.

زینب- چمتو یم، یوازې باید جامې واغوندم.

کاکا ښځه- اې بدبختې، لا دې جامې نه دي اتو کړې؟

د کاکا مېرمنې مخاطب زه وم. په تلوار مې وویل: همدا اوس خانم کاکا، پای ته رسېږي.

کاکا ښځه- خاورې دې په سر شه، مفت خواره! یوازې خوړل دې زده دي. یوه جوړه جامې اتو کولای نه شې! څه برګ، برګ ماته ګورې ژر شه، چې ناوخته کېږي.

نور د دا ډول خبرو اورېدل ماته نوی نه دي. اووه کاله کېږي چې همدا خبرې اورم. آیا نه وایي چې انسان له هر څه سره عادت کوي؟ نو ولې زه عادت نه کوم؟ ولې لا هم هر ځل چې دا د الفاظو په څیر مرمۍ چې هدف یې زما زړه دی اورم، روح مې ټپي کېږي؟ ویلای شم زه...د همدغو خبرو سره لویه شوم، خو... خو بیا مې هم عادت ونه کړ. ولې؟ یا خو مورِ ته دروغ ویل شوي او یا هم د دې ډول خبرو زغمل د دې قانون نه بهر دی.

کله چې کار مې پای ته ورساوه، جامې مې زینب ته ورکړې او د خونې څخه د ځمکې لاندې منزل پر لور روانه شوم. باید ژر تیار شوې واې.. زه او زینب، چې د کاکا لور ده، ټولګیوالې یو، او نن به د دولسم ټولګي د امتحاناتو پایلې ترلاسه کړو. له هغه وروسته، په هغه محفل کې ګډون کوو چې زموږ لپاره د ښوونځي ادارې له خوا ترتیب شوی. په لاره کې مې د دې اوو کلونو خاطرو ته فکر وکړ، ټولې خاطرې مې د سترګو مخې ته تیرې شوې. د هغو ورځو په اړه فکر کول چې ما تېرې کړې، زما په شونډو مسکا راوسته، خو د پای ته رسېدو فکر یې د مسکا پر ځای غم او اندېښنه راوسته.

په رښتيا سره، په دې اوو کلونو کې زما تر ټولو ښه شېبې هماغه وې چې ما په ښوونځي کې تيرې کړې.خو زما د ښو ورځې عمر څومره لنډ دی.پورته آسمان ته ګورم او خدای ته وايم: "خدايه! ستا حکمت منم، خو څه به شوي وای که ته زما لوري ته هم يو نظر غورځولی وای؟ آيا زه ستا مخلوق نه يم؟"

کله چې کوچنۍ خونې ته ورسېدم، ورننوتم او تشناب ته لاړم. د لاس او مخ وينځلو وروسته، د جامو الماري ته لاړم... الماری چې څه وايم؟ کوچنی صندوقچه چې جامې مې په کې ځای پر ځای دي، خو د خپل کوچني والي سره سره بيا هم زما د جامو لپاره لويه ده، ځکه ټولې جامې مې يوازې له پنځو جوړو تشکيل شوي دي.

ښه، حداقل د ټولو نجونو انديښنه چې "څه واغوندم؟" زما لپاره ستونزه نه ده. انتخاب زما لپاره ډېر اسانه دی. دا هم د کمو جامو ګټې دي.د جامو په منځ کې مې د مور پر جامو سترګې ولګېدې، هغه جامې چې يوازينۍ د مور يادګار دی. البته، د يوې کوچنۍ غاړکۍ سره چې د نيمګړې سپوږمۍ نښه (هلال) په کې حک شوې ده. کله چې مې جامې وليدې، مسکا مې په شونډو راښکاره شوه.

"مورې، کاشکې ته وای! کاشکې وای او په دې تر ټولو ښکلې ورځو کې دې زه يوازې نه پرېښودلای!"يو څاڅکی اوښکه له سترګو مې ټيټېده، چې د لالا مراد غږ مې له فکرونو راويست:

زينب- آيت... آيت، ژر شه، ناوخته کېږي.

—راغلم.

د انګرې په لور روانه شوم. چې په رسېدو سره زينب وويل: آخر د انګلستان ملکه راورسېده!

د کاکا ښځه- بدبخته نجلۍ، زوی مې تا ته منتظر دی او ته داسې نخرې کوې؟

—بخښنه غواړم.

تر دې چې د کاکا مېرمن مې خواب راکړي، مراد وويل:مورې، پرېږده! نجونې، ژر شئ.

بې له دې چې خبرې وکړم، په موټر کې ځای پر ځای شوم. په ټوله لاره کې زينب خبرې کولې، او زه او لالا مراد لکه تل خاموش پاتې وو. تقريباً نيم ساعت وروسته، موټر د ښوونځي مخې ته ودريد او مراد مورږ دواړو ته وويل:هر وخت چې کار مو خلاص شو، خبر راکړئ چې راپسې راشم.

زينب په "ښه" ويلو سره او زه په سر ښورولو سره له موټر څخه ښکته شوم او د ښوونځي په لور روان شوو، چې د ننوتلو سره سم، يوه څوک په ما بريد وکړو او چغې پورته شول..

حيا- آيـــــــــــت..

—مرګ آيت! ليونۍ نجلۍ!

حيا کلکه په غېږ کې نېولې وم او خندل يې چې ورته ومې ويل: ښه ده، حيا جانې، پوه شوم چې بې قراره شوې وې راپسې اوس که اجازه وي، لږ ساه واخلم.

حيا زه پرېښود او په مصنوعي قهر سره يې وويل: نور دې غېږ کې نه نيسم تا ليونۍ څوک په غېږ کې نيسي؟

– ته وخداې؟ ریښتیا وایې؟ خدایه، شکر دې آخر دا الهي عذاب ختم شو!

حیا څو شېبې راته وکتل او بیا یې زه په غېږ کې ونیولم.

– اه، حیا! تخو پوهېږې چې زما د دې کارونو څخه بد راځې نو ژر مې پرېږده!

حیا په خندا وویل: نه دې پرېږدم.

– څو شېبې وړاندې دې څه ویل؟ هېر دې شو؟

حیا- هو، هېر مې شو، ځکه چې ستا په غېږ کې نیول ځانګړې خوند لري!

سمدلاسه له غېږ یې ووتم او خپل ځای ته لاړم. او حیا ته مې وویل: شرم هم یو ښه شی دی، خو بدبختانه، چې ته یې بیخې نلرې آغلې.

حیا په خندا وویل: خدای دې زموږ اوخښې ته خیر پیښ کړي ستا وحشي پیشو سره.

دا ځل مې د یاددښت کتابچه، چې پر مېز پرته وه، پورته کړه او په درناوي سره مې ورته وغورځوله، خو بیا هم هغې وخندل. بهشته زموږ نږدې شوه او ویې ویل: حیا جانې، نو موږ دلته کدو تشریف لرو؟

حیا په سترګو څرخولو سره وویل: ولا، بهشته جان، زه خو نه پوهېږم، خو که ته داسې فکر کوې، زه څه نه وایم!

ټولې نجونې د دې خبرو په اورېدو سره د خندا شنې شوې.. حیا زما ډېره ښه ملګري ده او ډېره هم بخیل ده پر ما د دې څخه مخکې چي دوي دواړه د پشی او موږک پخیر یو بل سره دعوا شروع کړي نو بهشتې ته مي وویل: سلام علیک بهشتې ښه یی ؟

بهشته- علیک سلام شکر دی ته خپله ښه یی ؟

له انجونو سره په خبرو کې توده راغلې وم ما به شوخي وکړه او دوي به خندل

تل همدغه ډول وو! بعضی وخت به حیا ویل(څنګه له دومره درد سره خاندي او نور هم  دي ته مجبور کوي چی و خاندي؟)

دا ژوند په درد راکولو کې زما حق کې بیحد سخاوت مصرف کړی نو بیا ولې زه هم د هغه سره ملګری شم او خپل درد زیات کړم؟زه خاندم ځکه دنیا نه یوازی د خوشالۍ ځای دې او نه نم غم بلکې د دې دواړو څخه حوړ ترکیب دي.هم خوشحالۍ او هم له غم. او خوشاله هغه خلک دي چی دا حقیقت ومنې او درک یی کړي .

د شوخۍ او کیسو حال کې وو چي دروازه خلاص شو او زموږ استاد له نومرو سره صنف ته رانوت. د تل غوندي بهشتې د صنف اول نمرګي مقام خپل کړي وو رښتیا هم دیره بااستعداده او متفکره نجلۍ وه.حیا دریم نمرګی ګټلي وه ما څلورم نمرګي ګټلي وه زموږ د ټولو نومري ښه وي بی غیر د زینب څخه! ټولو د ښوونځي د تالار مخي ته حرکت وکړو جشن بیخی ښه وو او په رښتیا هم ډېر خوندور وو او ډېره خوندور حالت یی هغه وو چی تقدیرنامي مو د ښوونځی له اداري تر لاسه کړي..

جشن پای ته ورسیدو او موږ بیا کورته را وګرځیدو. کورته په رسیدو سره د همیشه غوندي د آشپزخانې طرف ته لاړم او د شپې ډوډی په تیارولو لګیا شوم. ډوډی تیاره شوه او دسترخوان می هوار کړو نوره ډوډۍ مي صالون ته یوړه او خپله آشپزخانې ته راغلم. تره می دا ښه نه ګڼله یا یی نه خوښیده چې زه دی په دسترخوان د هغوی سره کینم خپله خبره یی وه چی ویل یی ( زما غوندی نجلۍ کیناستل ورسره په دسترخوان باندی یا یو میز باندی بد فال یی ګڼلو ) فکرونه می بیرته ووهل او ځانته می ډوډی راواخیسته تر هغی می شونډه ډوډی ته نه وه رسیدلي چی د تره غږ می زه صالون ته وغوښتم..

پورته شوم او د صالون خواته په حرکت شوم. ورو می دروازه خلاص کړو

– څه وایی کاکاجانه؟

کاکا- نمری د لاسته راوړی پارچه یی درکړه؟

– هو کاکاجانه نن یی راکړي.

کاکا- ورشه را یی وړه.

– په سترګو.

غوښتل می چی لاړشم چی تره می وویل: د زینب نمری هم راوړه.

سر په ښورولو سره پاس منزل ته لاړم او د خپل صندوق خواته لاړم نمری په لاس د دهلیز خواته روانه شوم.

– مهربانی وکړي کاکاجانه.

نمری می د کاکا لاس کی ورکړی او خپله بغل ته ودریدم ، کاکا می هم شروع یی ویلو ته کړه او ورته په کتو شو ! وروسته د څو ثانیو می کاکا په تروش تندي زینب ته وویل: دغه بله چشی ده ؟ شرم دي پر تا وي زینی دغه احمقه انجلۍ (ماته یی اشاره وکړه) سره له دومره زحمتو او مصروفیتو بیا هم له تا یی نمره جګه ده !

د کاکا ښځې می د مخکینې عادت په ډول یی د زینب له طرفه جواب ورکړو او ویې ویل: د مراد پلاره دغی نجلۍ طعنه او پیغور زما لور ته ورکوي؟ افرین دې زما په لور وې که کم نمري هم وړی خو خپله یی دا نمری راوړي، نه دا چې ددغي نجلۍ غوندي یی نقل او جلبازی کړې وی.

سترګي می د حیرت څخه خلاصې پاتی شوی جان؟!؟ ما نقل کړي !! د کاکا ښځې می خپلو خبرو ته ادامه ورکړه او ویې ویل: له سترګو می ورکه شه.

د برق او باد په څیر له کوټی څخه ووتم او د آشپزخانې طرف ته لاړم چی زما پس مراد غابونه راوړه آشپزخانې کی کیښودل، لوښی می تری واخستل او په مینځلو مي یی شروع وکړه د چای تیارولو حال کې وم چی د کاکا ښځه او زینب آشپزخانې ته د ننه شوي.

کاکا ښځه- تا بی عقلی احمقي زما یوه دانه  لور کمه راوسته؟ اوس خوشحاله شوي؟ زړه دې یخ شو؟

– د کاکا ښځې تاسو غلط درک کوي ما داسی کوم قصد ....

تر اوسه مې لا خبره پوره کړې نه وه چې د کاکا ښځې مې جوشې اوبه کوم چې ما د چاى لپاره کيخودلې وه زما پر لاسونو را خالي کړل... لاسونه مي سوځېدل ډېر بد هم سوځېدل.غوښتل مې د اوبو طرف ته لاړشم اما د کاکا ښځي مي اجازه را نه کړه.. تر څو چې مې غوښتل وژاړم او چغي کړم د تره ښځي مي خوله باندي راته لاس کيښودو او زينب وويل: دا کار ياد کې وساته تر څو بل ځل ما د پلار مخکي کمه را نه ولي پوه شوي؟

کاکا ښځه- نه پوهيږم چې د کومي ګناه مسوله وم چې ته غم زما په نصيب کې شوی او زما په لمنه کي وغورځېدي؟ مور او پلار خو دې لاړل خو ته منحوس زما د اوږو بار شوی.(د تره ښځې می د خپلي خبري په تعقيب وويل او خپل ګوته يې ماته اشاره وکړه: ښه غوږ ونيسه بې عقلی نجلۍ که مي يو ځل بيا وليدي چې لږ کوشش د هم کړي وی زما د کم راوستلو کړي وو بيا د لاس نه سوزوم ژوندۍ د په قبر کې خښوم؟

د پوی شوی کلمه يی په لوړ غږ وويله

ورو او يو حرفی می وويل: ه.....و يعنی هوو

ددي خبری په ويلو سره زينب پتنوس په لاس او دواړه يو ځاي له آشپزخانې ووتل

ډير بد درد می احساس کولو لاسونه می سوځيدل دومره ډير سوځيدل چی داسی کلمی ولاکه ولرم چی ويی وايم اما عادت می کړي وو . اول وار ندی چې

داسی صحنه د نه وی پيښ شوی تل به له هري غلطی وروسته همداسی مجازات کيدم او سزا به يی راکوله اما دا وار له لاس نه مي ډير زړه سوزيدو.داسې اور پکې بل وو چې حتا د سيندونو او بهرونو يی هم په مړ کولو برلاسی نه وو. دا جمله چی ( مور او پلار خو دې لاړه خو ته منحوس يې موږ ته پرېخودی) څو څو واري می په ذهن کې تيريده را تيريده

خپل لاسونو ته چې د سوځېدو له امله تک سره شوی وه او تڼکاې شوه وه و مې کتل او په درد او فرياد مې وويل: موري ولی ولاړې؟ پلاره څه کيدل چي زه دی هم له ځان سره بيولی واې؟ مګر زه د تاسو وړه شهزادګۍ نه ومچ؟ مګر څه شی به له تاسو څخه کم شوی وی؟ دغی ژړا می زړه را غوڅ کړو خدايه مګر زه ستا بنده نه يم؟ مګر زه انسان نه يم؟ څومره نور بايد صبر وکړم؟ نور صبر نه لرم نور مي صبر پای ته رسيدلی او تمام شوی.. فرياد می وکړو... پلارررره ، مورررررري ولي می غږ نه اوري

پلاره مګر کله به چې زه داريدم ته به مي خواته نه راتلي زه به د په غيږ کې نه نيولم؟

څه کيږی بيا راشه ... راشه ما خپل په نارينه غيره کې ونيسه او ما له دغه ظالم نړۍ څخه وباسه څه کيږي ... بيا هم تيزه ژړا وه چی زه زما ساه يې را بنده کړل. نه پوهيږم څومره به ناسته وم او له خدايه مې ګيلې او شکايتونه وکړل شايد په ثانيو يا دقيقو يا هم يا هم په ساعتو !!!

پورته شوم او خپلي پناه ګاه او ځاي ته په تلو شوم تر سهاره مي د لاس درد له امله هيڅ خوب رانغی حتی ملهم مي هم نه لرلو تر څو مي له درده لږ په قرار کړي

په هر صورت سره د ژوند ښيګڼې همدا دي حتی تر دي چي له درد ډکې شپې هم تيريدي...

نن ورځ امکان دا وو چي تره دويم زوي مى مصور چى د هندوستان هيواد ته د درس لپاره يى اراده کړي وه او نن راګزيدو او د همدي په خاطر وو چي زما کارونه ډير وو. مخکي د لمر د راختلو نه پورته شوم او د حويلى طرف ته لاړم وروسته جارو وهل او حويلي مينځلو سره آشپزخانې ته لاړم او غرمي ته په ډوډی تيارولو لګيا شوم ټول راجګ شول او دهليز ته يى د دوډی خوړلو لپاره راغلل. نو همدا ښه فرصت وو د کوټو پاکولو چى صفا کړى مي وى. يو يو اتاق مي پاک کړو او بيا بيرته آشپزخانې ته لاړم ظرفونه مي ومينځل او بيا د کاليو مينځلو لګيا شوم چى د تره ښځه مي را دننه شوه..

کاکا ښځه- دا چي دې خلاص کړل نو لاړه شه ګلانو ته اوبه ورکړه.

– په سترګو.

ښه په خوند مي کالي ومينځل او خلاص مي کړل او د باغچي خواته لاړم. باغچي سره مي مينه لرله رښتيا هم ګلان په ښه کولو ارزي او هر څه مى ورته ويل او خبري مى ورسره کولي او ځومره ښايسته غوږ يى  راته نيولى وو بغير له کوم قضاوت يا حکم څخه.کار خلاص شو او آشپزخانې ته بيرته راغلم د ډوډی تيارولو لپاره ځکه نن مي بايد څو ډوله خوراکونه تيار کړي وى رښتيا هم د تره د ښځي په امر سره بايد ټول خوراکونه د مصور د خوښې تيار کړي مى واې.

خوراکونه مي يو يو سره تياره کړل نږدی ټول مي تيار کړل چى د مصور د راتلو خبري مى واوريدو مصور يوازينى شخص ددي کورنۍ وو چي چى د دغه 7 کلو په جريان کې ماته په عاجزي سره نږدي شو.د تره کورنۍ مي په دوو زامنو او دوو لورانو څخه جوړه شوى ده مشره لور يى حسنا چى واده شوي وه او په بهر کي يى ژوند کولو مشر زوى يى مراد چي د خپل تره سره مي د قالينو پلورنځي په دوکان کي مصروف وو.دويم زوى يى مصور چى پس د درسو له ختم سره خپل هيواد ته بيرته راګځيدلى و او شايد پاتي شى،او کوچني غړى د ددي کورنۍ زينب چي تازه د مکتب څخه فارغه شوى وه او دوه کاله زما څخه مشره ده ځکه پدى خاطر چى ما دوه کاله د سويى امتحان ورکو نو ځکه زه هم يو ځاى ورسره فارغه شوم..

پخپلو خيالو او فکرو کي ډوبه وم چي يو غږ د خيالې نړۍ څخه را وويستلم.

—تره لوري ماپسي دې زړه تنګ نه وو ؟

هو دا د مصور غږ و چي زه يى مخاطبه کړم، په خندا مې ورته وويل: سلام د تره زويه ، اوه مګر د چا هم اوښ پسي زړه تنګيږی؟

—تر اوسه د دي خبرو څخه دې لاس ندې اخيستې؟

اوږه مى پورته واچوله او نه مې ورته وويل. چې زما په کار مصور هم وخندل.

مصور- ښه راغلاست دې  هم ندي ازده افسوس پرهغه مکتب چي تا ويلى.

— اووو زما بيچاره مکتب سره څه مشکل لرې؟ ښا سمده ښه راغلي اوښ جانه

مصور- خوشاله اوسی.

— ښه ده کځ سلام عليکى دې پوره شوه اوس مخکى لدې چى د تره ښځه مي ما بدبخت نکړی نو لاړشه..

مصور په غمګينه خندا سره چی زما په مخ يی وشيندله د سر په ښورولو سره بيرون ووت.شپه پای ته ورسيده بوډۍ هم خلاصه شوه او وروسته د چای تیارلو لپاره بیرته خپل ځای ته وګرځیدم.سر مي په بالښت کيښودو او د خوب نړۍ ته لاړم .

یوه هفته د مصور د راتلو تيره شوه او ميلمانه تلل او راتلل او حتی يوه دقيقه هم کور بی سرېو نشو يانی بيربار و ټول وخت پدغه وخت کي د مصور د خاله لور حنا يوه هفته پاتي وه. حنا مي نه خوښيده ديره کبرجنه ، مغروره وه. په آشپزخانه کې د چای تیارولو حال کي وم چي مصور را دننه شو.

مصور- سلام علیکم ...

— وی وی څوک وینم؟ محترم اوښ صیب وینم. خیرت دې وې.

مصور دير په تعجب سره زما خوا ته کتل او ويی ويل: پخدای شرم دي تاته زه 8 کاله له تا مشر يم !!!

— ښااا زما ورور څه وکړم؟ د عمر د زيات والې لپاره خو زه د ربښتيا څخه سترګې نشم پټه ولې؟

مصور- اول دا چي زه ستا ورور نه يم ، او دويم کوم ربښتيا ؟

په خندا مې ورته وويل: اول دا چي ته زما ورور يی او دويم د اوښ والې حقیقت درته ښايم...

مصور بد بد راته وکتل چې ما بيا وويل: ښااا صحیح شو اوښ جانه اوس په سترګو دې ما مه خوره او دومره بد مه راګوره، او هو د کوم څه دې پکار وو چې دلته راغلې؟

مصور په تاسف سره سر وښورولو او بيا يې يو قوطې زما خوا ته ونيو او ويې ويل: واخله.

— دا څه دي ؟

مصور— خپله يی وګوره.

قوطې می ورڅخه واخیست او خلاصه مې کړه، د هندي خوږو شيرينو په ليدو سره خوښ شومه او په خوشالۍ مې وويل: واااااااا دا زما لپاره دي

مصور- هو..

—منننننيات

مصور- هيله کوم.

ورته ومې خندل او د شيرينيو په لټولو سره اخته شوم.

مصور- آيت.

—بلی.

مصور- غوارم یو څه درته ووایم.

— ووایه.

مصور- هغه ..... زه ..... دغه دې ... زه

سر مي پورته کړو او په تشويش مې ورته وويل: خيرت خو دې څه شوې دې؟

مصور- نه... يعنی ... مطلب مې هو... خيرت دې... هغه ... زه...

دا په ده باندې څه شوې؟ ولې داسې عجيب غريب رفتار کوې؟

— وای... څه شوی ووایه کنه زه دې و وېره ولم.

مصور تازه خوله خبرو کولو ته جوړه کړل چې حنا آشپزخانی ته رانننوتل او ويې ويل: مصور چيرته يې؟ دا يو شاعت کيږي ستا پسی ګرځم..

مصور- حنا ته لاړه شه زه هم درځم.

حنا- محمود کاکا درسره کار درلود ويل يې ژر راشه..

مصور ژوره ساه واخيسته او لکه چې پوهه شوې اوسيږی چې حنا د هغه بغير د آشپزخانی څخه نه وځې! نو مجبور ورسره روان شو، ما هم خپل د کارونو د کولو وروسته خپل پټن ځاې ته پناه ویوړه او د کتاب پر ويلو لګيا شوم نه پوهيږم سومره وخت به مې کتاب ويلې وې خو اخير کتاب په لاس ويده شوی وم..

څه نا څه يوه مياشت د مصور د راتلو څخه تېری سوی وه، او که د حنا بې ادبی او ازار او اذيت چې د نور سره يوځای شوی وه په نظر کې ونه نيسم نو ښه وخت وو تر دې چې نن بيا راباندی غم راغلوو!

د دسترخوان د هوار کولو حال کې وم چې کاکا مې زينب ته وويل: زينب جانې لورې! زما خوږې سبا د کانکور د کارت اخيستلو لپاره لاړه شه لياده دې ونوځې.

زينب- سمده پلار جانه.

په تمه وم چې کاکا مې ماته هم د تلو حکم صادر کړې خو انتظار کومه فايده ونکړه اخير سل زوړنه می يو کړل او کاکا ته مې وويل: کاکا جانه زه هم ورسره لاړه شم؟

کاکا- هو... لاړه شه لاړه شه ... بيعقل انجلی ته هلته څه مرګ غوارې؟ د څه لپاره غوارې لاړه شې؟

— ه... هغه ز...زه هم غوارم کانکور ورکړم..

د کاکا ښځې په ريشخند وخندل او ويې ويل: سړی اوس اوبه راوړه او حوض ډک مره. ما درته ويلې وه دې جنۍ ته د مکتب تلو اجازه مه ورکوه، ويلی می وه چې هوايې کيږی.. دا هم زما د خبرو ثبوت دا اوس غوارې لاړه شی پوهنتون ته..

– د کاکا ښځې یوازې خو نه ځم د زینب سره ځم.

دا ځل د کاکا غږ مې وو چې ټوله نړۍ راته ویرانه کړه..

کاکا- ته ځان د زینب سره پرتله کوې؟ ته چیرته زینب چیرته؟ ته په کوم جرئت ځان د هغې سره مقایسه کوې؟ ته د کانکور امتحان ته نه ځې خبره خلاصه..

– خو کاکا....

لا مې خبره کړې نه وه چې کاکا مې خپل د لاس ګیلاس زما خوا ته ګوزار کړو

کاکا- بېحیا انجلۍ د د کاکا ښځه دې رښتیا وایې ته بیحد هوایی شوی یی زما د خبرې پر وړاندې خبره کوی؟

هېڅ مې ونه ویل یوازې د مات شوی ګیلاس ټوټې مې را ټول کړل. او بیا خپل د کوټې خوا ته روانه شوم. همدا چې سر مې بالښت ته ورسیده اوښکې مې لکه سیلاب پشان پر مخ روان شول.. بیحد مې زړه نیولی وو، نه پوهېدم چې څه کار اخیر وکړم؟ صبر؟ هغه صبر چې نور د ثبر کاسه یې ډکه شوې؟ نه پوهیږم! خپل د فکرونو په نړۍ کی غرق وم چې د کوټې دروازه خلاصه شوه.. او مصور مې ولیده چې کوټې ته راغلو او زما څنګ ته کېناست.

مصور- د پلار له خبرو څخه مې مه خفه کیږه تخو هغه پېژنی چې څنګه انسان دی.

هېڅکله مې د کیلو او ژړا عادت د بل چا مخ کې نه وو فکر مې کاوه پدې ډول د هغه کس مخکې زه کمزوی ښکارم! او زه کرکه لرم د کمزور اوسیدو څخه په دروغجن خندا مې وویل: لیونې یې؟ ولې خفه شم اوښ جان؟

مصور څو ثانې بغیر له کوم خبرې په ځېر ځېر راوکتل او بیا یې راته وویل: دا ټول ظلمونه خلاصیږې ایت. زه درته وعده درکوم چې لدې خایه دې ورم د تل لپاره.

ده څه ویل؟ ما چیرته ورې؟

– مصور ته څه وایې؟ زما سر خلاص نشو ایا موږ کورنۍ ګډخ کوو لدې ځایه؟

مصور بیا هم بغیر له کوم خبرې څخه په خاموش نظر راوکتل. دا په ده څه شوی؟  ولې نن ماښام دومره په ځیر ځیر ماته راګورې؟ د څو دقو وروسته مصور خپل غږ صاف کړو او ویې ویل: آیت.. هغ... هغه... ز....زه ... دغه .. دې..

– څه شوې مصور؟ کومه ستونزه لرې آیا؟

مصور- آیت... زه .... زه ... درسره مینه لرم...

آیت ـــ هههههه پوهیږم اوښ جانه زه هم درسره مینه لرم وروره

مصور ـــ افففف زه ستا ورور نه یم آیت زه ستا ورور نه یم ... زه ماشوم توپه نا تاته می زړه درکړې  یوازې

ویلو جرعت می ندلورده خو ... نور بس وه آیت تا دي کوره د یځایه لري ورِم قول درکوم  خوشحاله ژوند درته جورِه وم یو بل سره !!

دا څه وایي؟  توکي کوي؟  یا جدی ده ؟؟

ولی خبري  زما کاکا خبرو څخه درِندی دي زغملی نشم ؟؟؟

ولی مصور څخه می بد راغلل ؟ د وضعیت دخبرو آوریدلو ارتیا نلرم ؟

(ته دیځایه لري ورِم قول درکوم )

ولی زما سترگی مخکي پشان نغوارِي تماشایی کرِي؟ ولی زرِه می غوارِي دي ځایه اوباسم تر ابده څیره ونگورم؟ شاید مه ماشوم توپه نا فکر کاوه ورور نلرم خپل ورور فکر می کوه ورته نن ورځ زما خیالونه ویرانه کرِل

کله څه انسان خیالونه ویرانه شي څه ډول احساس درلوده شي؟  کرکه

زه ځان سره به شخرِي که وم مصور وغوښتل لاس می ونسي

مخکي دینه څه زما لاسي نیولی وي ژر پورته شوم

آیت ـ ووځه ژر کوه

مصور ـ آیت زه.........

په جگ غږ می ورته وویل:

آیت ـــدرته وایم ووځه غورِنه دي  اوربِدلي نشي  ووځه ژر هله نوو ...

مصور ـــ وگوره  پوهیرِم د خبرو هضم کول تاته سخته دی خوو ....

آیت ـــ خو څه ؟ خو څه ؟ پوهیرِي هروخت څه می خدایه نا گیله کوله ولی خور یا ورور نلرم یوازي می سترگو ته راتلی ؟ ما یوازي  ورور په سترگو درته کتل خوو سر کیدی نور سوچونه کوله ...

اوس هم گوتي څخه ووځه نغوارم ودگورم!!!

مصور ورو پورته شوو کلچه دروازه ته ورسېده  وویل :

مصور ـ توپیر نکوی ځنکه راته فکر کوي  خو په یاد ولره زه هیڅکله ستا وروره نکیرِم ...

ټولی خبري به عملي کوم آیت جانی!!!

نپوهېرِم ولی مصور خبري بده وریره می زرِه کي پیدا کرِه  یاالله اه  یوازي همدا کم وه ...

ما ټول شپه د ځان سره په جگرِه کې تیر کرِو. هېڅ مې باور نشو کولې. نه پوهیدم چې ځنگه په هغه ټول گډوډي کې ویده شوم. سهار د اذان په اواز پاڅیدم او د لمانځه له ادا کولو وروسته خپلو کارونو ته ورغلم. تر

لسو بجو مې ټول کارونه ختم کړي و چې د کاکا مېرمنې مې راباندی غږ کړو.

—بلی د کاکا ښځې څه وایست؟

کاکا ښځه- ژر شه شابه زما شهزاده مصور ته ډوډی راوړه چې وږې دې.

— سمده په سترګو.

ډوډۍ مې تیار کړل او په یو پتنوس کې مې ایښودله او د سالن لوري ته لاړم.

— مهربانۍ.بل کوم شې تخو اړتیا نلرې مصور لالا؟

د "لالا" کلمه مې له قصد په ژبه جاري کړه. مصور په بد نظر ما ته وکتل، خو د کاکا مېرمنې په شونډو مسکا راغله، لکه چې د دې کلمې څخه ډېره خوښه وه.

مصور- نه.

د سر په خوځولو د سالن څخه بهر ووتلم. نږدې دوه اونۍ له هغه شپې تېرې شوې وې او هره ورځ زما نظر په مصور بدلېده. هر چېرته چې ما خبرې کول غوښتل، هغه به زما شاوخوا و. خو زه په برعکس، تښتېدم. نور د هغه لیدل هم ماته بد احساس راکوله! یوه ورځ په باغچه کې د ګلونو سره بوخته وم چې یو څوک له شا څخه یو شی زما په سر وپاشل. اول وډار شوم، خو چې مصور مې ولید، له هغو ګلونو سره، ډار مې په قهر بدل شوه. د تندي په ګونځې سره مې غوښتل چې له څنګ یې تیر شم، خو اجازه یې رانکړه.

—له مخې مې لرې شه.

مصور- تر کله به تښتې؟

—تر ابده!

مصور په قهر سره وخندل او ویې ویل: اول او اخیر زه یم. که حتی بلې دنیا ته هم ولاړه شې، تعقیب به دې کړم.

له هغه ډاره انکار نه شم کولی چې په ما راغلی و، خو زه داسې انسان نه وم چې د ویرې په لیدلو خپل غږ چوپ کړم. په کلکه لهجه مې ورته وویل: وګوره، زه له تا څخه کرکه کوم. پوه شوې؟ کرکه! هماغه شپه په هغه کوټه کې دې په هغو ناوړه خبرو د کرکې تخم زما په زړه کې کښیناوه او هره ورځ په دې کړنو سره یې نور هم وده ورکوي.

مصور نور د پخوا په شان نه و. ولې داسې احساس مې وکړ؟ چې پښې یې کمزورې شوې؟ په نباوره توګه یې زما په سترګو کې کتل. ما هغه له خپلو افکارو سره یوازې پرېښود، که څه هم نه مې غوښتل چې خفه یې کړم. هر څه چې وي، ما خپل ټول ماشومتوب د هغه سره تېر کړې وه او د دې دوو اونیو چوپتیا هم له همدې امله وه، خو نور وخت رارسېدلی و. باید پوه شوی وایې چې حقیقت څه دی.

سبا په هماغه ورځ، د کاکا او د هغه د مېرمنې د زیات مخالفت سره سره، مصور د هند خوا ته روان شو.

پوښتئ چې زه څه احساس لرم؟

هیڅ احساس مې نه درلود. نه خوښي وه او نه...

زړه مې ډېر درد کاوه، خو نه پوهېدم چې ولې؟ هسې هم ما ته د بدمرغۍ برخه تر لاسه وه. له مصور څخه د یوې میاشتې په تېرېدو سره، هر څه عادي شول. د یوه ګرمۍ په ورځ کې مې لوښي مینځل، چې د حوېلي دروازه په یو دروند غږ سره خلاصه شوه او ټول کور د شور او غوغا څخه ډک شو. اول مې ډېر پام نه کاوه، ممکن بیا مراد له چا سره شخړه کړې وه، خو کله چې غږونه ډېر شول، نو لوښي مې پرېښودل او ژر تر ژره بهر ووتلم.

هغه څه چې زما سترګو لیدل، زما ذهن یې نه شو منلی. څو وسله وال کسان د کاکا په سر ولاړ وو او کاکا مې بې ساه پروت و. د کاکا ښځه، زینب، او حنا ټولې په ژړا وې. نه پوهېدم څه وشول، ژر مې د کاکا په لوري منډه کړه او د هغه په سر کېناستم او په ویره کې مې وویل: کاکا، ته خو به ښه یې؟ کاکا، زما غږ اورې؟ کاکا؟"

کاکا مې په یوه ټیټ غږ کې وویل: لاړه شه، هله.

مخکې له دې چې زه ځواب ورکړم، یو تن له وسله والو څخه، چې نسبتاً اوږد قامت او سخت څېره درلوده، او د دې ډلې مشر ماته ښکاره کېده، په کاکا غږ وکړ: ګوره، په اعصابو مې لوبې مه کوه، په کراره راته ووایه چې هغه بې غیرته زوی دې چېرته دی؟ مخکې له دې چې ټوله کورنۍ دې په یو-یو مرمۍ د دنیا څخه واستوم.

دا یې څه ویل؟ د چا په اړه یې خبرې کولې، مراد او که مصور؟ دوی څه کړي چې دې کسانو تر دې حده قهرولی دي؟ کاکا مې چې نور یې توان نه درلود، په هغه سړي غږ وکړ: نه پوهېږم چېرته دی، په والله نه پوهېږم، زه هېڅ نه پوهېږم.

هغه سړي په کاکا بیا برید وکړ او غوښتل یې چې پرې حمله وکړي، چې ما په چټکۍ سره ځان ونیو او د هغه مخې ته ودریدم. او په لوړ غږ مې وویل: حق نلرې چې زما په کاکا لاس پورته کړې، لېرې شه!"

د خبرو وروسته مې د حوېلي څخه یو غټ ډېره په لاس کې ونیوه. سړی په غور ما ته کتل، څو شیبې وروسته یې په خندا شروع وکړه او په همغه خندا یې خپل یو بل ملګری ته وویل: عمر! عمر! و ګوره، دا کوچنی ماشوم غواړي راته ووایي چې زه څه حقونه لرم؟ دا غواړي زما مخه ونیسي، په همدې کوچنی جسم او قامت باندې؟

ټولو کسانو سمدلاسه په خندا شروع کړه. څو دقیقې وروسته سړی له خندا لاس واخیست او په قهر سره زما په لور را روان شو او ویې ویل: ښه غوږ ونیسه، کوچنیه. زه جرعت او شجاعت خوښوم او قدر یې کوم. خو د یو کوچني څخه مې دومره د شجاعت او مېړانې تمه نه وه. خو مېړانه او لیونتوب سره مه ګډوه، ځکه لیونتوب د انسان سر بایلې.

هغه څو شیبې ما ته وکتل، بیا یې وویل: ته نجلۍ یې؟

— هو.

سړی اول حیران شو، بیا یې کاکا ته وویل: کاشکې یوه ذره له دې نجلۍ څخه مېړانه او سرېتوب په تا او ستا په زامنو کې وای.

هماغه شیبه دروازه خلاصه شوه او مراد او یوه نجلۍ دننه وغورځول شول. په غور سره مې د یوې زړې ښځې موجودیت هم په دوی کې ولیده. سړي چې مراد ولید، په هغه برید وکړ. نجلۍ هڅه کوله چې مراد خلاص کړي، خو ګټه یې نه درلوده. سړي لاهم په مراد باندې بې شمېره ګوزارونه کول. هغه نجلۍ چې ولیدل مراد نور حال نه لري، په چیغو سره یې وویل: ایا غواړې چې په واده کې مې کونډه شم؟ ته څنګه ورور یې؟

سړي لکه مجسمې پشان یوازې نجلۍ ته کتل، په ناباوره اوکمزوره غږ سره یې وویل: څه دې وویل؟

نجلۍ خپل د ستوني لاړې په ارامۍ تیرې کړې او په یوه غږ کې چې په هغه کې د وېرې انګازې و، وویل: نکاح مو تړلې.

سړي خپل لاس په ویښتانو کې تیر کړ او په ارامۍ کېناست، ګواکې نور یې د درېدو توان نه درلود. سترګې مې وګرځولې او ومې لیدل چې نور هیڅا ښه حال نه درلود. یو د مرګ زوړ ځای نیولی و، ګواکې ټول په یوه ځوړندو کې وو. د یو اوږده خاموشۍ وروسته زړې ښځې، چې ښکاره یې د دې کورنۍ مشره وه، وویل: جاوید، پاڅه زویه، چې کوم کار کېدونکې وو، هغه شوی دی.

جاوید- مشري مور.. محکمې ته اړتیا نشته، زه به په خپله دا دوه بدنامه کسان د دې دنیا څخه ورک کوم...

جاوید په چټکۍ سره پاڅید او خپل وسله یې په دوی باندې ونیوله. د هغه دا خبره د ټولو لپاره لکه یو برقي چټکه وه. د کاکا ښځه مې هغه زړې ښځې ته ورغله او په ژړا یې د هغې پښو ته ولوېدله.

د کاکا ښځې مې په ژړا وویل: آغلې قربان مو شم، خواهش کوم مه کوئ، دوی تېروتنه کړې، غلطې کړې. کوچنیان دي، څه کېږي، مه کوئ، نوکري به درته وکړم، د تل لپاره به ستاسې خدمت وکړم، زما زوی ته بخښنه وکړئ ویې ژغورئ

زړې ښځې یوازې د کاکا ښځې ته و کتل او هېڅ خبره یې نه کوله. خو بیا د سړي غږ را پورته شو: مشرې مور امر وکړئ چې د دوی وینې درته توې کړم. ځکه زه غواړم چې د دوی لپاره عزرائیل شم.

د هغوی له خبرو څخه زه دومره و پوهیدم چې هیڅ څوک پرته د مشرې مور د امر څخه هېڅ کار نه کوي. عجیبه ده؟!

مشرې مور هغه انجلۍ ته چې د مراد سره وه اشاره وکړل او ویې ویل: دې انجلۍ ستا د زوې سره په تختېدو زمونږ نوم او عزت خاورې کړو څنګه یې وبخښم؟

کاکا ښځه- هېڅ لاره نلرې؟ هر کار ووایست مونږ یې کو یوازې زما زوې وبخښه.

مشره مور- ستا زوې د دې څخه مخکې چې زمونږ د خاندان انجلۍ وتخته ویې باید دې ځاې ته یې فکر کړې وایې، ستا زوې د زمرې د لیکۍ سره لوبې وکړل او هغه کس چې د زمرې سره لوبه کوې سر انجام یې مرګ دې او بس.

دا ځل کاکا مې هم د هغه مشرې مور پښو ته وغورځېده، د رښتیا هم چې د مور او پلار پشان مینه به انسان هېڅ ځاې کې پیدا نکړې، کاکا مې خپل د زوی لپاره خیرات غوښتلو ته مجبور شوې وو.

کاکا- اغلې په خدای و رسول باندې درته قسم درکوم زما د زوی څخه تیره شې، هغه لا تر اوسه ډېر ماشوم دې تاسو خپل بدله په بل ډول وغواړې بغیر له مرګ څخه زه ډاډمن یم زه هر کار کولې شم تاسو ته..

مشره مور څو دقېقي بغیر له کوم څه ویلو خاموش وه بیا یې غږ وکړ: که ومنې، یوه لاره شته.

کاکا مې په خوشحالۍ او ورختایې وویل: هر څه وي، مورې به یې ومنو.

مشره مور په پوسخند وویل: ډاډمن یې؟ ځکه بیا به د پښیمانې لپاره شانس ونلرې.

کاکا- هو زه ډاډمن یم هر څه وې زه به یې وکړم یوازی زما زوې را خوشې کړې..

مشرې مور څو ثانې سکوت وکړو بیا یې په ویره ونکې غږ وویل: تاسو زمورې څخه انجلۍ وړې زمورې عزت مو خراب کړې د دې تاوان پر بدو سره کو... زه په بد کې ستاسو څخه یوه انجلۍ وړم.

دا خبره چې د هغې له خولې ووته زمورې د ټولو په وجود باندې لرزه خپره کړه، یو لفظ مې په ذهن کې ګرځېده را ګرځېده " بد... بد ... بد ..."

مشرې مور کاکا خوا ته مخ کړو او ویې ویل: همدا زمورې رسم او رواج دې که منې شابه کنه خپل د زوې د جنازی لپاره ګورستان پیدا کړې..

کاکا او د کاکا ښځه مې د ډېر وخت لپاره په فکرونو کې ډوب شوا او خاموش وه بیا ناڅاپه د کاکا ښځې مې زما خوا ته راوکتل، د هغې په کتو باندې په ټول بدن مې د وېرې او ډار لرزه راغله.

خپل له خدای سره مې خبرې کول شروع کړل: یالله یو نن ته راسره مرسته وکړه یو نن ما ته هم خپل د یو بند په سترګه وګوره، ته راسره مرسته وکړه چې دا ظالم خلک ما د حیوان پشان د دوې مخې ته ختا نکړې. خپل د زامنو پر ګناه ما قربانې نکړې. خدایه تاته پناه راوړم ته راسره مرسته وکړه یالله.. د دې یو ځل لپاره زما مرسته وکړه څه کیږی؟ یالله خیر دې...

— سمده.

دا غږ زما د کاکا د ښځې وو.

کاکا ښځه- مورې حاضر یو خپل د زوې د ژغورلو لپاره ستاسو خبره ومنو.

مشره مور- اممم شه پریکړه ده، خو دلته درې انجونۍ دې کوم یو راکوې په بدو کې؟

د کاکا ښځې مې بغیر له کوم ځنډ زما خوا ته اشاره وکړل..

ای کاش همغه دقه ځمکه څېرې شواې وایې او زه پکې ننوتلې وایې.

ای کاش همغه دقه ملک الموت زما د روح د قبض کولو لپاره راغلې وایې.

ای کاش همغه دقه دا منحوس ژوند مې تمام شوې وایې ای کاش..

زه د ژوند کولو توان نلرم بیا ولې ژوندي یم؟

مشرې مور څو ثانې زما خوا ته راوکتل بیا یې هغه ځوان ته چې د دې سره راغلې وو او نوم یې جاوید وو ویل: که څه هم انجونو ته کوم شباهت نلرې خو بیا هم سبا به زه تا ته دا په نکاح کړم.

بیا مې هم لږ امید درلود چې شاید هغه هلک انکار وکړې اخیر کوم څوک زما رقم انجلۍ سره واده کول غواړې؟ سترگي مې د هغه هلک خولې ته نیولې وه خو هغه هم نامید کړم..

جاوید- هر څه چې ستاسو حکم وې مشرې مورې.

نور د خبرو اوریدلو طاقت مې نه درلود مخ مې وگرځاه وه او خپل امن پټن ځای ته په ځغاستو شوم خو نن هغه ځای هم راته امنیت نه راکوو..

خپل کوټه کې ناسته وم او ماتم مې پر ځان نیولې وو، درد مې د بیا څخه وتلې وو خو اوښکه مې نه درلود د تویه ولو لپاره. ماښام د کوټې دروازه خلاصه شوه او د کاکا ښځه مې د ننه راغله.

کاکا ښځه: جگه شه راشه صالون ته.

د ځان سره مې پوسخند ووهو، نن یې خپل د خبرو شاته ونه ویل منحوس، بدبختې جنۍ. پاسېدم او د هغې شاته صالون ته ننوتلم زما په داخلېدو یو دم خاموشې خپره شوه، مراد او هغه انجلۍ هم هلته وه خو زما خواته یې نه راکتل لکه چې زما څخه شرمېدل چې د هغوې له لاسه پر ما د خداې عذاب را نازل شوې غو د هغوې د گناه سزا زه باید ورکړم، کاکا مې خپل مخ خوا ته یو څوکۍ ته اشاره وکړل. بیحد وحشت ناکه خاموشې خپره وه زما په کېناستلو کاکا مې خپل ستونې صاف کړو او خبرو کولو ته یې پیل وکړو.

کاکا- ښه غوږ شه وه جنۍ کله چې دې مور او پلار وفات شول تا یوازې نهه کاله عمر درلود یعنی ماشومه وې، هغه وخت هېچا نه غوښتل تا وساتې نو ما له ځان سره راوړې خپل کور ته. په دومره کلونو کې مې ته لکه خپل لورگانو پشان وساتې خپل په دسترخوان مې درته ډوډۍ درکړه د کاکا ښځې دې درته مور شوه او زه درته پلار شوم لکه حسنا او زینب پشان مینه او محبت مو درکړو، خو... خو اوس.. ته باید زموږ محبتونه جبران کړې!
اوس موږ مرستې ته اړتیا لرو. ته باید د دې ټولو کلونو زموږ د مرستو، د ښېگڼو، او زموږ د زحمتونو په مقابل کې ځواب ورکړې. ته باید زموږ د زوی او اینگور ژوند بېرته موږ ته را وبخښې.

هغه دقیقاً د چا په اړه خبرې کول؟ د کوم زحمتونو؟ د کوم مور او پلار؟ کوم قربانۍ؟ هههههه! چا زه خپل د لور په شان لوی کړې یم؟ چا زه لکه زینب او حسنا پشان لویه کړې یم؟ څوک د هغوی پر دسترخوان لوی شوی ده؟ هماغه د کاکا ښځه چې حتا یو ورځ یې زما نوم بغیر د منحوس د لفظ څخه نه وو اخیستې هغې زما حق کې مورتوبې کړې؟ د هماغه کاکا په دسترخوان چې حتی یوه ورځ یې اجازه ورنه کړه چې پر دسترخوان په سر له هغوې سره یوځاې کینم؟ دا د څه شی په اړه خبرې کوي؟ که دا واقعي وي، نو بیا ولې زه هغه کس نه پېژنم چې دوی لوی کړی؟

هه! زه په دې کور کې یوازې د یو خدمتگار په توگه وم، او بس. کېدای شي که په بل کور کې دومره زحمتونه مې کړې وای، نو زما حالت به ښه وای. ما تل د هغوی د خوړو پاتې شوني خوړلي دي.په دې حساب دا زه یم چې پر هغوی حق لرم، نو د کوم زحمتونو ځواب هغوې زما څخه غواړې؟

آخر تحقیر او توهین تر کومه حده؟؟

بې وجدانه توب تر کومه حده؟؟

خو فکر کوم باید د هغوی مننه وکړم، ځکه چې ما ځان د وقت څخه قرباني کولو ته چمتو کړی و، خو دا خبرې د یو تیغ او چړې حکم درلود. هغه تیغ او چړه چې زما د لاسونو او مرۍ رسی پرې کړه او هغه رسۍ یې زما له ستوني بهر کړ!!! نور زه په خپل نیول شوې تصمیم کې مصمم او ډاډمنه وم، زه ولې باید قرباني ورکړم؟ هغه هم د هغو لپاره چې له انسانیت څخه بوې لا ندې وړې؟

د خپل کاکا په غږ سره دې ځای ته چې په ظاهر کې یو اطاق ښکاري، خو په حقیقت کې د قربانۍ میدان دی، را وګرځېدم.

کاکا- ایا تا زما خبرې درک کړې؟

ما یوازې په سر ښورولو بسنه وکړه.

کاکا- ډېر ښه، لاړ شه او ویده شه. سبا به د مریم ورور سره نکاح وتړې.

سر مې پورته کړ او ټولو ته مې په ځېر وکتل.ترڅو هیڅکله دا منحوسې او بې رحمې څېرې هېر نه کړم. غواړم تر اخره یې په یاد ولرم. دا څېرې باید تر اخره عمر په یاد ولرم. دا هغه څهرې دې چې زه ورڅخه کرکه لرم د عمر تر اخیره. پرته له خبرې خپل پټن ځای ته لاړم او منتظر شوم. نن شپه یا به آزاد شم یا به هم هغه بل نړۍ ته روانه شم..

د دیوال ساعت ته مې وکتل چې دقیقا 1:30 د شپې یې ښودله. هو، بالکل همدا وخت دی، باید لاړ شم.د خپل کوچني د مکتب بکس مې چې ټول وسایل مې په کې ایښي وو، را واخیست. د وروستي ځل لپاره مې خپل پټن ځاې(کوټې) ته وکتل.

هې زما د غمونو حجرې څه شپې چې دې دیوالونو زما د دردونو شاهدي ورنه کړه. څه شپې چې دا بالښت زما په اوښکو لوند نه شو. ژوند تېرېږي او دا لحظه هم د پرېښودلو وخت دی!!! هو، پرېښودل زما لپاره تر ټولو ښه انتخاب دی.

پاتې کېدل نور دلیل نه لري. ظالم تر هغې وخته ظلم کولی شي چې مظلوم اجازه ورکړي. که مظلوم د ظلم اجازه ورنه کړي، هیڅ ظالم ظلم نه شي کولی.خپل سوچونه مې په خپله کوټه کې پرېښودل او د باندې لاړم. د حویلې دروازه قلف ده، او زه باید د دیوال له لارې لاړ شم. خدایا، خپله مرسته وکړه. بکس مې له دیواله ښکته واچوه او اوس زما وار وه. په کراره د دیوال پورته شوم. کله چې مې غوښتل ټوپ کړم، پښه مې په یو شي کې بنده شوه. کوشش مې کاوه چې پښه مې را بهر کړم، خو امکان نه و.

زه په همدې  تکل کې وم چې ځان آزاد کړم، چې یو څوک له کور څخه حویلۍ ته راغی.د ډېرې وېرې له وجهې مې حتی د ساه اخیستلو توان نه درلود. نور هیڅ پاتې نه و چې ما ته را ورسیږي!!

خدایه، خپله مرسته وکړه، زه تا ته ځان سپارم یا رب..

په دعا کې وم چې خپل د کاکا ښځې غږ لکه د یو غیبې مرستې پشان راغی. ویلای شم چې په خپل ژوند کې د لومړي ځل لپاره د دې غږ په اورېدو خوشحاله شوم.

کاکا ښځه- د مراد پلاره، څه خبره ده؟ په دې وخت کې دلته څه کوې؟

کاکا- یو غږ د حویلۍ څخه راغی.

کاکا ښځه- خو دلته خو څوک نشته؟

کاکا- نه پوهېږم، خو ما د یو شي غورځېدلو غږ واورېد.

کاکا ښځه- حتماً پشک (پیشو) وه. راځه ویده شه.

کاکا- سمه ده، لاړ به شو، خو لومړی اجازه راکړه سم وګورم.

اوووووففففف خدایا، که دې خوا ته راشي... نه نه، خدایه مرسته وکړه. بیا مې کوښښ وکړ چې پښه مې را وباسم، خو پایله یې ونه لرله. ځان سره مې وویل: آیت نن دې اخرې شانس دې یا نن ازاده کېږې یا هم هېڅکله به د ددې بند څخه خلاصه نشې. په دې کلمه سره مې په زور پښه را بهر کړه او ټوپ مې کړ!!! سترګې مې نوبتي پرانیستې او خپل ځان مې وکتلو. نه، د خدای شکر هډوکي مې نه دي مات شوي او لا هم روغ یم. خو پښه مې زخمي شوې وه.

بیا مې د کاکا غږ واورېد: ښځې اواز دې واورېد؟

کاکا ښځه- نه، ما خو هیڅ شی وانه ورېد.

کاکا- ستا غوږونه مشکل لري، زه مطمئن یم چې غږ له هماغه لوري و.

او خپل د خبرې په تعقیب هغه دیوال خوا ته راغی، په چټکۍ سره زه ځان د دیوال کونج ته رسه وم او دیوال ته مې تکیه وکړه. د شپې تیاره او د ونو سیوري یو بل ته لاسونه ورکړي وو، ترڅو زما کاکا سترګې ما ونه شي لیدلی. ما خپل لاس په خوله کیښود چې ترڅوکوم غږ مې د نیولو سبب نه شي. بیخې می ساه لا نه اخیسته.

کاکا ښځه -آرام شوې؟ و دې لېدو هېڅ څه نه وو؟

کاکا- نو بیا هغه غږونه د څه وو؟

کاکا ښځه- ته اوس زوړ شوې، سرې، چې شاید وهم وو. راځه لاړ شو.

کله چې زه پوره ډاډه شوم چې هغوی لاړل، ما لاس له خولې واخیست او ژور ساه مې واخیسته. خدایه، شکر دی. خدایه، شکر دی. له څو شېبو وروسته زه راپورته شوم. خپل بکس مې پورته کړ او د نا څرګنده مقصد او ځای په لور روانه شوم. زه نه پوهېدم چې چیرته به لاړه شم؟ یا څه به وکړم؟ یوازې مې دومره پوهېدم چې له هغه ځایه باید واټن ونیسم.

ما یوه خاله لرله چې د هغې ځای ته د تګ په اړه هم ډاډه نه وم، ځکه امکان و چې بیا یې ما دغو ته تسلیم کړي. زه نه پوهېدل چې څومره لاره به مې وهلې وه؟ دومره خپل فکرونو کې ډوبه وم چې د وخت تېرېدو نه وم

خبر. په هماغه وخت کې د یو موټر د دربېدو غږ زه هغه خاورین سړک ته راوګرځاوه وم. دوه هلکانو له موټر څخه را ښکته او د هغوي را کوزېدل ما ته ډېره ویره راکړه.

- عبید ته وګوره، دقیق وګوره. ما درته وویل، جنۍ ده، نه مې ویل؟

- هو ولاې جنۍ ده، عمر، سترګې یې وګوره، لعنت، لکه شراب دي.

- ولې وېرېږې، راځه لکه خپل سترګو پشان موږ هم خمار کړه!!!

او د ددی خبري په تعقیب هغه دواړو په لوړ غږ وخندل.

ما خپله ویره پټه کړه او په تنده لهجه مې وویل: له دې ځایه ورکېږئ.

- ښه، که ورک نشو بیا به څه وکړې؟

په کلک لهجه مې وویل: بیا هغه وخت کې هر څه چې وشول تاسو به ملامت یاست نه زه.

— عبیده دا جنۍ موږ ویره وي هههههههه،

— اوففففف، عمر، دا وحشي هم ده.

بیا یې ماته وویل: راځه، نور ناز مه کوه، له موږ څخه ښه خلک نشې پیدا کولې.

یو له هغوی زما خوا ته رانږدې شو او غوښتل یې چې زما لاس ونیسي. ما هم مخکې له دې چې راته ورسیږي، یو لوی ډبره د سړک له غاړې راپورته کړ او په هغه مې وویشت. ډبره د هغه په سر ولګېده او ځمکې ته ولوېد. وینه په شېبه کې راووتله.

— عبید، عبید، ته ښه یې؟ وحشي جنۍ، ستا حساب ته به زه در ورسېږم څه دې وکړل؟؟؟؟

هغه په قهر راپاڅېد او زما په لور روان شو. زه دومره ویرېدلی وم چې د خبرې کولو توان مې نه درلود.ما ټول توان په خپلو پښو کې واچو او تښتېدم. د هلک غږ په هغه لحظه کې زما ویره نوره هم زیاته کړه.

— ودرېږه، وحشي! دعا وکړه چې زما لاس درته ونه رسیږي، که نه، دلته دې ښخوم.

ودرېږه!

هغه د درېدو امر کاوه، خو په هر ځل چې ما د درېدو کلمه اورېدله، زما پښې لا چټکې شوې. هغه ماته را نږدې شوې وو او لږ پاتې وو چې ما ونیسې چې..........

یوې درنې شی سره ټکر زما د درېدو سبب شو او لکه یو سپک شی، خو متره لرې واچول شوم.نور مې هېڅ ونه اوریدل. هره لحظه چې تېرېده، زما د سترګو دید کمېده. وروستۍ خبره چې مې احساس کړه، د یو چلونکی و چې په چټکۍ سره زما په لور را روان و.هغه څه ویل، خو زما غوږونه د اورېدو توان نه درلود. نور مې څه وا نه وریدل او نه مې څه ولیدل، یواځې سترګې مې په دې نړۍ پټې کړې!!!

***

د بیحد تندۍ له سببه را ویښه شوم، داسې تږې وم چې حرف نلرم د بیان لپاره. د دیوالونو او سپین چت پدې ګواه و چې زه په یو درملنه ځای کې یم، یعنې زه لا ژوندی یم!!! د تیر شوې پېښو په یادولو سره مې ځان ته وویل: ته چې د ژوند کولو لپاره کوم دلیل نه لرې، ولې دې بیا سترګې خلاصې کړې؟ما غوښتل چې پورته شم او اوبه وڅښم، خو د ولاړېدو توان مې نه درلود.لا مې سترګې پوره نه وې خلاصې کړې چې د څو کسانو غږونه مې .واورېدل چې غوږ نیولو ته یې اړ ایستم

— مدثر، اوس څه به کیږي؟

— باید انتظار وکړو چې هوښیار شي، ځکه هیڅ شی ورسره نه شته چې د پېژندنې لپاره مرسته وکړي.

— ښه، ایا موږ پولیسو ته خبر ورکوو؟

د هغه کس پدی خبره مې لځان سره وویل: خدایه، که پولیسو ته خبر ورکړي، بیا به زه بدبخته شم

— اصیل، هغه وخت لالا دې ملامت کېږي.

لالا څوک دی؟ هسې نه هماغه کس وو چې له ما سره یې پېښنه وکړه؟

دریم کس غږ پورته شو: په آخر کې دا نجلۍ هوښیارېږي، بیا به خپله زحمت وکړي، او خپل آدرس به راکړې په هر صورت، زه له هیچا ویره نه لرم.

— ته پوهېږې چې امکان لرې په هوښ رانشې.

یعنې څه چې ممکن ده په هوښ رانشم؟ زه خو راویښ شوې یم. ولې دوی داسې فکر کوي؟ ما لا په خپل ذهن کې له ځان سره پوښتنې کول چې هماغه کس چې اصیل یې بلل پوښتنه وکړه: یعنې څه؟

— اصیل جان، د حادثې پر مهال د سر ټکر ډېر سخت و، او نخاع زیاته ضربه لیدلې ده، نو کېدای شي ناروغ څه په یاد نه کړي.

— یعنې واقعاً ممکنه ده؟

— په پوره ډاډ سره یې نه شو تاییدولی، خو د ټپي شویو برخو په پام کې نیولو سره، هو، ممکنه ده.

بیا دریم کس وویل: ممکن او یا هم ناممکن یې موږ ته هېڅ فرق نه کوي، دا چې هغه په یاد نه راوړې زموږ د پټ ساتلو دلیل نه جوړیږي.

— اصیل، خپل لالا خپله ته پوه کړه. زه نور توان نه لرم.

د دې خبرو په اورېدلو سره زما په ذهن کې یو فکر وځغلېد.حتی که ډېر کوچنی لاره مې پیدا کړې وای، داسې کار مې نه کاوه، خو اوس بل هېڅ لار نه لرم!!! خدایه، ته ما وبخښه، هر څوک نه پوهېږي، خو ته پوهېږې چې زه مجبور یم داسې وکړم.خدایه، ما مرسته وکړه، زه بل څوک نه لرم غیر له تا. ما لا له ځان سره خبرې کول چې دروازه خلاصه شوه، ژر مې سترګې پټې کړې.

– لالا، نو ولې په هوښ نه راځې، دا د دوا اثر دی؟

ما څو دقیقې له ځان سره فکر وکړ ترڅو کومه لار پیدا کړم، خو هېڅ څه مې مخکې نه وو پرته له دې!!! کرار مې سترګې پرانیستلې او درې کسان مې ولیدل چې خبرې یې کولې. زه لا هم په خپل تصمیم ډاډه نه وم، خو بله لار څه وه؟ لومړی هیڅ څوک زما هوښیارېدلو ته متوجه نه شول. ما له خولې څخه د ژورې ځاه په څېر په کلمو کې وویل:آ... اوبه...

هغه هلک چې ډېر نږدې و، ما ته متوجه شو او ژر یې وویل: مدثر، لالا، وګورئ، دا په هوښ راغله.

دواړه ژر زما خواته راغلل. هماغه هلک وویل: فکر کوم څه غواړي.

ما هماغسې بیا تکرار کړ.

یو له هغوی یې زما په خبرو پوې شو او ژر یې له یوه ګیلاس اوبو سره راغی. زما سر یې پورته کړ او اوبه یې زما شونډو ته نږدې کړې. داسې تنده مې سیراب کړه لکه چې کلونه مې په صحرا کې د اوبو پرته تېرې کړې وې. نور مې ستوني وچ حس نه کاوه او اوس مې په آرامه خبرې کولی شوای، خو کاشکې مې د خبرو کولو توان نه درلود. د خبرو کولو چې څه، د دروغ ویلو توان مې نه درلود.

یو له هغوی پوښتنه وکړه: ښه یې؟

هو، وخت یې و، باید خپل تصمیم عملي کړی وای. خدایه، ما وبخښه.ما بې له کوم عکس العمل نه، حیرانه دوی ته کتل چې دوهم کس وویل: ویره مه کوه، دلته هېڅوک تا ته زیان نه شي رسولی.

هه، ته له کومه پوهېږې؟ آهسته مې په هماغه حالت کې وویل: تاسې څوک یاست؟ زه دلته څه کوم؟ څه پېښه شوې؟"

– یعنې هېڅ شی په یاد نه لرې؟؟؟

بې له کومې خبرې ما یوازې دوی ته کتل.

– ستا کورنۍ؟ ایا ته د هغوی پته او یا هم د تماس شمېره راکولی شې؟

کورنۍ؟ کومه کورنۍ؟ زه خو هېڅ کورنۍ نه لرمه. د دې حقیقتونو په یاد راوړلو سره زما سترګې د اوښکو څخه ډکې شوې، هماغه زه چې اوښکې تویول مې ننګ ګڼله.

– څه شوي، ولې ژاړې؟ مه وېرېږه، یوازې د خپلې کورنۍ شمېره مونږ ته راکړه.

بس.

- زه..... زه هېڅ شی پ... په یاد نه لرم.

هغوی درې سره یو بل ته وکتل.

—یعنې هېڅ شی په یاد نه لرې؟

زه څومره بدبخته شوی وم، څومره د رزالت احساس مې کاوه. کاشکې مې واقعاً ټول څه هېر کړي وای. کاشکې...دا ځل مې ژړا زور واخیست او په سلګو بدله شوه. هغوی هم هېڅ څه نه ویل، یوازې یې کتل. زما بدن ډېر زیات درد کاوه، باید پاڅېدم. آهسته مې غوښتل پاڅېږم چې یو له هغوی رانژدې شو او غوښتل یې مرسته وکړي چې زه ژر راټوله شوم.

—مه وېرېږه، یوازې مرسته کوم.

په دې حالت کې مرسته کول بې له دې چې ماته لاس ونه وهی ناممکن و. په بند بند لهجه مې وویل: نه... نه... نه غواړم.

لکه چې هغه پوه شو، آهسته یې زه له کالو څخه ونیولم او لکه یو ماشوم پشان یې پورته کړم.خاموشي حاکمه وه چې دروازه وټکېده او دوه پولیس افسران راننوتل.

—سلام.

ټولو سلام وکړ.

— جناب ډاکټر، موږ باید د هغې څرګندونې ثبت کړو.

— مهرباني.

افسر ماته مخ راواړاوه او ویې ویل: لورې، دا پېښه څنګه رامنځته شوه؟

بې مثاله ویره ټول زما وجود نیولی و. وېرېدم چې حقیقت معلوم نه شي او بیا مې خپل کاکا ته ونه سپاري. ویره دومره زیاته وه چې حتی په سترګو مې اغېز وکړ او هغوی ته پټه پاتې نه شوه.

افسر وویل: لورې، اړتیا نشته وېرېږې، بس پېښې په بشپړه توګه راته بیان کړه.

— زه..... زه هې...... هېڅ شی په یاد........ نه لرم.

افسر څو شیبې عجیبه ماته وکتل او ویې ویل: یعنې څه؟"

ما نه غوښتل چې د چا په وړاندې و ژاړم. ما خپل ژړا په ډېرې سختۍ له ستونې تیر کړه او غوښتل مې ځواب ورکړم چې یو له هغه درې کسانو مخ پولیسو ته کړ او ویې ویل......

— په اصل کې خبره داسې ده چې...

د دې څخه مخکې چې هغه خپل خبره پوره کړې د هغوې مینځ کې چې یو نفر سپین چپنه اغوستې وه او ډاکتر معلومیده په خبرو کې مداخله وکړه او ویې ویل: بهتره به دا وې چې بهر خبرې وکړو؟

او وروسته له دې خبرې، له پولیسو سره بهر ووت. کله چې هغوی ووتل، ما خپل سترګې پټې کړې، داسې چې ګواکې هیڅ مې نه اورېده. بیا د هغو دوو پاتې کسانو څخه یوه، زما پام خپل خبرو ته راواړاوه کله چې ویې وویل: لالا! ولې ته داسې بې حرکته ناست یې؟ وګوره، بې دلیله ولې ځانته مشکل جوړوو؟

ما بیا خپلې سترګې ورو ورو خلاصې کړې او په دقت سره مې هغوی ته وکتل، خو دوی په خپلو خبرو بوخت وو او ما ته یې پام نه و. داسې ښکاره کېدل چې هغوی فکر کاوه زه بیا ویده شوې یم.هو، دا هماغه موټر چلوونکی و چې له ما سره یې ټکر کړی و، نو ځکه یې نه غوښتل چې پولیسو ته ووایي ځکه هغه مجرم و. خو ولې ده ته دا مهمه نه وه؟ ولې هغه حاضر نه و چې پټ کړي؟ اوس چې ټول شرایط ورته ساده ښکاري، ولې غواړي چې د خپل ورور په وینا ځانته مشکل جوړ کړي؟ عجبه ده.؟

اصیل په لوړ غږ وویل: لیوني شوې یې؟ دا چې هغه هیڅ شی په یاد نه لري، دا مانا نه لري چې موږ خپل ګناه پټه کړو.

ورور یې په ارامه وویل: لالا، که ته د ځان لپاره فکر نه کوې، لږ تر لږه د مور لپاره فکر وکړه. ته ښه پوهېږې چې هغه ناروغه ده او داسې شیان نه شي زغملی.

هغه په ژور فکر کې ورور ته وکتل او ویې ویل:خو..

– لالا خو مو پرېږده د مور لپاره دا کار وکړه او هیچا ته مه وایه چې تا په موټر وهلې ده.

اصیل-  زموږ لپاره مور شته، خو ستا په نظر د دې جینۍ به مور نه وی؟ که دا هم مور ولري، هغه به نه اندیښنه کوي؟

– لالا معلومه خبره ده چې دا جنۍ کورنۍ نه لري، که یې لرلی، نو په هغه نیمه شپه به د هغه کوڅه ډېبو هلکانو څخه نه تښتېدل او خپل په کور کې به وایې.

د هغه خبره یو دم رښتیا وې. هغه بل کس هیڅ ونه ویل. ما بیا په بیړه خپلې سترګې پټې کړې، نه مې غوښتل چې هغوی پوه شي چې خبرې یې اورم.هلک بیا په اندېښنه د خونې شاوخوا کې ګرځېده. څو شیبې وروسته، دروازه بیا خلاصه شوه او ډاکټر له پولیسو سره بېرته خونې ته داخل شو. ما بیا سترګې خلاصې کړې. پولیس زما خواته راغلل.

پولیس راته وویل: لورې! پوهېږم چې دا منل سخت دي، خو دا حادثه ستا د حافظې زیانمنیدو لامل شوې ده.

زه حیرانه وم او نه پوهېدم چې څه عکس العمل وښایم، بس د هغوی خواته مې په حیرانۍ وکتل. پولیس بیا وویل: ښه! اوس غواړې څه وکړې؟ چیرته ځې؟

ما چې دا په یاد راوړل چې زه چیرته د تګ لپاره ځای نه لرم، زما نظر بې اختیاره خفه او خواشینی شو او ومې ویل: نه پوهېږم...

پولیس وویل: که غواړې، ته کولی شې له موږ سره حوزه ته لاړه شې. خو که د ځان لپاره کوم بل ځاې پیدا کولې شئ نو هلته لاړ شه. حوزه د داسې ځوانو جینکو لپاره مناسب ځای نه دی. خو بیا هم، دا ستا خپل اختیار دی.

زه نه پوهېدم چې څه باید وکړم؟ خو د هغه هلک غږ زما فکرونه ودرول"هغه کولی شي له ما سره لاړه شي."ټول کسان د هغه په خبره حیران شول پولیس ورته وویل: ډاډه یاست ښاغلې مشرف؟"

هغه ځواب ورکړ، "هو، آمر صاحب! د یوې جینۍ لپاره چې له کور څخه بهر پاتې شي، دا سم کار نه دی. تاسو د ښار وضعیت ښه پېژنئ."

پولیس په احترام سره ورته وکتل، او هغه دوه نور کسان او زه له تعجب څخه ورته کتل.

پولیس- ځوک به له تاسو بهتر وي، جناب مشرف. که دی د دې خبرې مخالفت ونه کړو، زه هم کومه خبره نه لرم. لورې! ستا نظر څه دی؟"

ټولو زما خواته وکتل... ما دا کس نه پېژندلو، ولې به پرې باور کوم؟

— ډېره مننه، له تاسو څخه زه ډېر مننده یم، خو زه کولای شم خپل ځان لپاره ځای پیدا کړم.

پولیس بیا وویل: لورې، د ښار وضعیت ډېر ښه نه دی. زه ستا ویره درک کوم، خو جناب مشرف د ښار له مخورو څخه دی او زه درته د هغه په امنیت باندې بشپړ باور درکوم

ما چې د تګ لپاره بل ځای نه لرو، او پولیس هم دا شخص تضمین کوي، نو بیا باید باور وکړم. له څو شېبو فکر وروسته، ما د خپلې داخلي غریزې پر خلاف وویل: مننه! خو زه نه غواړم چې تاسو ته تکلیف درکړم.

هغه نور څه ونه ویل.. افففففف، دا ولې خاموش شو؟ یو مغرور سړی. څه کېده که لږ ټینګار یې کړی وای؟ ښه، دا معلومه خبره ده، ځوک به په یو ځل قبلول کوی د بیګانه هلک کور ته لاړه شې؟" بیا مې په زړه کې وویل، "اوففففف، ایت مړه شې کوم د خاله زوی خو دی ندی چې هی درته زاری وکړی اوس لاړه شه نیمه شپه په سړک ویده شه خدایه بد مې وکړل له ده سره اوس څه وکړم؟"

پولیس- ښه! اوس نو موږ ځو.. لورې، ته هم اندیښنه مه کوه. هر وخت چې ستا د کورنۍ په اړه څه معلومات راشي، زه به زر تر زر تا ته خبر درکړم" ما په زړه کې وویل: کاش چې هیڅکله هم د هغوی هیڅ خبر تا ته ونه رسېږي." خو په سر خوځولو سره مې دې خبرې ته غاړه کېښوده.

هغوی ووتل، او هغه هلک بې له ځنډه راته وویل: ګوره، زه هم دې ته کومه علاقه نه لرم چې تا ځان سره خپل کور ته ویسم. خو هغه ځوک چې له تا سره یې ټکر کړی و، زه وم، نو ځکه نه شم کولای چې پرېږدم تا داسې په ښار کې سرګردانه شې دا چې دا بلا هم په هماغه ښار کې د کوڅه ډبو سپو څخه د تېښته په وخت درباندې راغله! ته ناروغه یې، او تا ته پاملرنه پکار ده، نو غوره به وي چې له ما سره لاړه شې. دا په پارک کې له خوب کولو څخه ښه ده. که غواړې، شکایت هم کولی شې.

زه حیرانه ورته ګورم او په زړه کې وایم: مغرور انسان خو اول ووایه خپل کور ته دې وړم زما خو زاره وچودل. بیا مې له ځان سره فکر وکړو هو، هغه رښتیا ویل، اوس چې زه د تګ لپاره ځای نه لرم، نو له دې پرته بله لاره نشته چې قبول یې کړم. "هر څه چې وي، وي دې، اوس پرته له دې چې خبره کش را کش کړم مخامخ مې ورته وویل: اوس چې تاسو ته کومه تکلیف نه وي، زه هم کومه ستونزه نه لرم. وایې مار چیچلې له رسې وېرېږي.

دا خبرې ما وکړل او خپل سترګې مې بندې کړې.. چې د هغوې پسبسک غږ مې واوریده.

– لالا مور او پلار ته څه وايې؟

– اصيل څه کار مې کړې وايې؟ دا جنۍ مې د سل لنډغرو مينځ کې په سړک پريښودلې وايې؟

– زه کار نلرم هر کار چې کوې ستا زړه.

درې واړه د کوټې څخه ووتل، په دوه ساعتونو کې زما د لاس سيروم خلاص شو او ډاکتر بېرته راغی.

– ښه، ښه! زموږ ناروغه څنګه ده؟

ما وويل، "څنګه بايد وي؟"

هغه وويل: هيڅ انديښنې ته اړتيا نشته، زه نرسې ته وايم چې ستا جامې راوړي. بيا ته کولی شې ولاړه شې."

د ډاکتر په خبرو کې هيڅ انديښنه نه وه، خو زما په زړه کې يو سيلاب د انديښنو راوګرځېد.

– يعنې نور دلته پاتې کېدل پکار نه دي؟

ډاکتر- نه، پاتې کېدل اړتيا نه لري.

– که بيا زما په سر کې کومه ستونزه راشي نو څه به وکړم؟

ډاکتر- تر اوسه چې کومه ستونزه نشته. که هم کومه ستونزه راشي، نو سرطبيب صيب درسره دې.

ما په حيرانۍ سره وويل: سر طبيب؟؟؟"

ډاکټر- هو، جناب مشرف د دې روغتون سرطبيب دی، هغه هماغه کس دی چې ستا مسئوليت يې پر غاړه اخيستی دی.

وايي، خدايه! نو څکه پوليسو دومره په اسانۍ سره زه هغه ته وسپارله. عجبه ده! ډاکتر بهر ووت، او له څو شېبو وروسته، يوه نرسې چې زما جامې او بکس يې په لاس کې و، رانږوته.ما د بکس په ليدو خوشحالۍ احساس کړ، خو نه مې غوښتل چې هغوی ته دا ښکاره کړم.ما بکس پورته کړ او بيا مې خپلې خبرې ه ادامه ورکړه...

– دا څه دې؟

نرسه- د پېښې په وقت کې دا ستا سره و، احتمالاً ستا خپل به وي.

نرسه د کوټې نه بهر ته ووتله او زه د خپل بکس په کتلو بوخت شوم. ټولې شيان مې هلته وه، پرته له تور کتابچې مې! هغه نه وه او د هغه نه شتون پرما خفګان راوست آخر هغه زما يوازينی ملګری وه چې اوس مې له لاسه ورکړی و. احتمالاً په حادثه کې کوم کونج ته لوېدلې وه. خپل کالي مې واغوستل او همالته کښېناستم.نږدې لس دقيقې تېرې شوې وې چې نرسان کوټې ته راغله. لومړی يې په حېرانتيا راته وکتل زه پوهېدم چې د هغې حېرانتيا زما د کاليو او هلکانه ښه باندې وه. زه دهغې پسې روانه شوم چې هغې وويل: ته سر طبيب صيب له کوم ځاې پيژنې؟څه نسبت دې ورسره دی؟

– له هغه پوښته وکړه.

نرسې په بد نظر راته وکتل او خپلې لارې ته دوام ورکړ.د لومړي پوړ ته په رسېدو سره مې اصيل او هغه سرطبيب وليدل چې نوم يې نه پوهېدم.کله چې ورسېدو، نرسې ورته وويل: جناب سرطبيب، بل څه ته اړتيا نه لرئ؟

–نه، تاسې تللی شئ.

اووو، دا سړی څومره مغرور دی، مغرور خان.

نرسه- ښه ورځ دې وي، جناب سرطبيب.

نرسه لاړه، او موږ هم روان شوو. هغوی په خبرو بوخت وو او زه هم خاموشه د دوی پسې روانه وم.په هر ګام کې مې د نورو خلکو حېرانتيا ډوله نظرونه محسوسول. که څه هم د عجيبو نظرونو سره عادت شوې وم، خو دا ځل دا نظرونه تر بل هر وخت عجيبه ول، لکه زه چې کوم پردي مخلوق وم.د ډېرو نه اوږده شېبو وروسته، اصيل په آرامه زما د غوږ ځنګ ته وويل: څه شوي؟

– ته وګوره، ايا ما ښکرونه راويستلې؟

په حېرانتيا يې راته وکتل: نه، دا نو څنګه خبره ده؟

– نه پوهېږم، خو دوی داسې ګوري.

–پريږده، توجه ورته مه کوه، پريږده چې ګوري.

–اوس چې داسې وايې، سمه ده، په پام کې يې نه نيسم. که نه ما خو غوښتل د ټولو سترګې وباسم.

زما په خبری هغه لومړي په حيران نظر راته وکتل او بيا يې په خندا پيل کړه، مغرور خان، هغه لقب چې ما د سرطبيب لپاره ټاکلی و، هغه په حيران نظر زموږ دواړو ته راوکتل.

– اصيل څه شوي؟

اصيل په هغه غږ کې چې پکې خندا څرګنده وه، وويل: لالا، بايد صدقه ورکړې، ځکه يو لوی خطر ستا له درملتون څخه تېر شو.

مغرور خان په عجيبه نظر ورته وکتل، خو پرته له کومې خبرې، خپل لارې ته دوام ورکړ.موږ د درملتون په انګړ کې و چې د يوه سړي غږ مو مخه ونيوله. يو پنځه پنځوس کلن سړی: مخ دې روښانه شي، جناب مشرف، دا څومره لويه خوشحالي ده.

– سلام، جناب رحيمي.

– سلام، جناب سرطبيب، ښه ياست؟ پلار مو څنګه دی ښه دې؟

– روغ رمټ دې. انجينر صاحب، سلام يې درته ويل.

—وعليكم سلام، زويه، زما سلام هم ورته ورسوه.

بيا اصيل هم په حال و احوال بوخت شو: سلام، کاکا جان.

— وعليکم سلام، زويه، ښه يې؟

— شکر دي ستاسو دعاګانې دې راسره کاکا جانه ښه يم.

سرې د پراخې خندا سره د هغوی دواړو سره په خبرو بوخت شو. مغرور خان يوه تڼۍ چې په يو کليد کې وه، فشار کړه، او بيا يې اشاره وکړه، ما ته يې وويل: ته په موټر کې انتظار وکړه.

ما د سر په خوځولو د هغه فرمايش منلی او هماغه موټر ته لاړم چې مغرور خان اشاره ورته کړې وه. په شاتنۍ سيټ کې کښېناستم او د موټر له کړکۍ نه مې بهر ته کتل. دواړه ورونه ښه په اسانۍ سره له دې ځايه ليدل کېدل، ځکه چې موټر ډېر فاصله نه درلود. له سهاره مې دومره په خپلو بدبختيو کې بوخته وم چې دا دوه مې په سمه توګه نه و کتلي. تازه مې د دواړو ورونو په څېرو پام شو.

اصيل، شاوخوا دوه ويشت کلن ځوان وو. له نږدې لوړ قد، روښانه نيلي سترګې او طلايي ويښتان لري. ريښتيا هم ښکلی و، خو... خو نه د مغرور خان په اندازه! راځئ چې تاسو ته د مغرور خان په اړه ووايم. مغرور خان يو شاوخوا درې ويشت کلن ځوان، له لويو سترګو، د شپې په شان تور سترګې، اوږده باڼه، او تور وريځې لري. ويښتان يې موجي، او د سترګو په شان تور دي، خو د مخ پوست يې بيا په بشپړه توګه د سترګو او ويښتانو سره په تضاد کې دی. مخ يې دومره سپين دی چې له تور سترګو او ويښتانو سره يې ښکلی منظره جوړه کړې. د دې سربېره، اوږد قد او پراخه اوږې لري.

حق خو دا دی چې ډېر ښکلی دی. پرته له شکه، داسې ښکلا مې تر دې مهاله د خپلو سترګو په وړاندې نه وه ليدلې. دا انسان دی، که کوم ښاپيري؟ما سر وښوراوه او په لاس مې په سر ووهلم: "سر دې ښکته کړه، آيت ليونۍ! شرم او حيا کوه." سترګې مې له دې دواړو ورونو پورته کړې او بهر ته مې وکتل. دا درملتون ډېر لوی و، شپږ پوړيزه. په همدې سوچونو کې بوخته وم چې د موټر دروازې پرانيستل شوې او مغرور خان او اصيل موټر ته را وختل.

او موټر حرکت وکړ. په ټول سفر کې مو ترمنځ هېڅ خبرې ونشولې.نيم ساعت وروسته موټر د يوه کور مخې ته ودريد. کور نه، بهتره ده ووايم چې د يوه ماڼې مخې ته. ساتونکو دروازه خلاصه کړه او موټر دننه روان شو. انګړ ډېر لوی و، په سپينو سنګ فرشونو پوښل شوی و، او له هر ډول ښکلو ګلونو او مختلفو ونو سره چې ټول ځای يې خوشبو کړی و.

موټر ړ کوز شوو او کور ته ننوتو. يوه شاوخوا شل کلنه نجلۍ دروازه راخلاصه کړه. څو شېبې يې په تعجب راته وکتل او بيا يې وويل: ښه راغلاست، ښاغلې.

اصيل ځواب ورکړ: خوشاله اوسې، مور مې چېرته ده؟

— په صالون کې دي.

—او پلار مې؟

– هغوی هم تازه راغلي دي او له اغلی سره چای څښي.

اصیل سر وخوځاوه او اشاره یې وکړه چې زه د دوی پسې لاړه شم. په یو ډېر لوی او ښکلي صالون کې ننووتو، چې یوه ښځه، یو سړی، یوه نجلۍ او یو هلک په چای څښلو بوخت وو. اصیل او مغرور خان په لوړ غږ سلام وکړ. ټولو په خوشحالۍ ځواب ورکړ، خو ما ته په کتو سره ټولو په ډېر تعجب سترګې په ما خښې کړې. هغه سړي وویل: اصیله، زویه! پیژندګلوي به نه کوې؟

له دې مخکې چې اصیل څه ځواب ووایي، مغرور خان وویل: لومړی کښېنو، بیا به وضاحت ورکړم.

د مغرور خان د دې خبرو په اورېدو سره د ټولو تعجب دوه چنده شو. دوی ګمان کاوه چې زه به له اصیل سره یم، او هېڅوک دا فکر نه کاوه چې زه دې مغرور خان راوستی یم.

هغه ښځې په ډېرې خوشحالۍ وویل: راځه، لورې!

موږ درې سره کښېناستو. هماغه نجلۍ چې دروازه یې زموږ لپاره خلاصه کړې وه، له چایو ډک پتنوس سره صالون ته را دننه شوه او ټولو چای څښل پیل کړل. مغرور خان خپل غږ صاف کړ او خبرې یې پیل کړې: ما څلور شپې مخکې د موټر چلولو، وخت کې  ناڅاپه یو کس چې د موټر مخې ته راغی تصادف وکړو.

"څلور شپې؟ یعنې زه څلور شپې بې هوشه وم؟"

هغه ښځې په اندېښنه وویل: څه؟؟ تصادف...

او بیا د مغرور خان خوا ته را منډه کړل او د هغه په کتلو بوخته شوه چې کوم زیان خو به نه وې ورته رسیدلی؟ د هغې په دې کار مې بیحد خپل مور یاد شوه کاشکې مور مې دلته وای او زما په اړه اندېښنه یې کوله. کاشکې!

–مور جان، زه ښه یم، څه نه دي شوي.

– زویه! ریښتیا راته ووایه، کوم ځاې خو دی زیان نه دی لیدلی؟

– مورا! ما تاسو ته کله دروغ ویلي چې اوس دې دویم ځل وي؟

ښځه داسې ښکاره شوه چې مطمئنه شوه او نور یې له مغرور خان څخه څارنه ونه کړه. مغرور خان خپلې خبرې ته ادامه ورکړه: هغه څوک چې له ما سره تصادف وکړ، دا نجلۍ وه. خو د تصادف پر مهال د سر پر وړاندې د ضربې له امله یې ټول یادښتونه له لاسه ورکړي، او داسې څه ورسره نه و چې د هغې پېژندنه یې ممکنه کړې وای. تاسو ښه پوهېږئ چې حوزه د یوې ځوانې نجلۍ لپاره مناسب ځای نه دی، او اوس چې زه په دې وضعیت کې مقصر یم، نه مې غوښتل چې هغه په کوڅو کې پاتې شي، نو بل څه مې ذهن ته رانغلل پرته له دې چې هغه کور ته راولم.

ټولو څو شېبې چوپتیا غوره کړه، خو څو شېبې وروسته د دوې پلار وویل: زویه، ډېر ښه دې وکړل. حتی که د دې پیښې سبب ته نه وای، باید چې یوه ځوانه نجلۍ دې په کوڅو کې نه وای پرېښودلې.

ښځې هم وویل: حمید جان، رښتیا وایي. لورې، ښه راغلې!

زه نشم کولی چې خپل تعجب پټ کړم، خو بیا مې په کمه ژبه د دې ښېرازو او مهربانو خلکو پر وړاندې وویل: "مننه. نه مې غوښتل چې ستاسو وخت خراب کړم.

سړي په یوه له مهربانۍ ډک لحن کې وویل: دا څنګه خبره کوې، لورې؟ دا ځای د خپل کور په څېر وګڼه!

یو ځل بیا مې مننه وکړه او چای څښلو ته مې ادامه ورکړه. اصیل وویل: راځه، زه به دې له ټولو سره وپېژنم.دا زما پلار، جناب حمید خان مشرف او د هغه بېحد ښکلی مېرمن آسیه حمید مشرق یعنی زما ګرانه مور ده...

اصیل هغه انجلۍ ت  اشاره وکړل او ویې ویل: ایمان مشرف، زما یوازینۍ خور او د کورنۍ دریم غړی دی. اسد مشرف، د کورنۍ مشرف مشر زوی دی، او زه هم اصیل مشرف یم، د دې کورنۍ کشر زوی.

اسد، یو د جګ قد لرونکی کس  وو او شاوخوا د دېرش کلن سړی ښکاریده. له خرمایي سترګو، ویښتانو او ګندمي پوست سره، خو ډېر جذاب و.

ایمان، یوه متوسطه قد لرونکې شاوخوا څلورویشت کلنه نجلۍ، د اصیل په شان له تیارو نیلي سترګو، خرمایي ویښتانو او سپین پوست سره وه.

خاله آسیه معلومدار ده چې د دې کورنۍ ډېره برخه ښکلا له دې مېرمنې څخه راځي. یوه فوق‌العاده مهربانه او ښکلی ښځه.

کاکا حمید هم داسې یو سړی و چې که څه هم د زوړوالي اثرات په څېره کې څرګند ول، بیا هم د یوې اصیله آسیایي ښکلا نښې په څېره کې موجودې وې. دا ښکلا د پښتنو قوم ویاړ و.

په خپل فکرونو کې ډوبه وم چې اصیل ادامه ورکړه: "او دا احرار مشرف، زما مشر ورور او د مشرف کورنۍ دویم زوی دی." اوه! نو د مغرور خان نوم احرار دی. څه عجیب نوم دی، لکه د هغه په شان.

و مې خندل او ومې ویل: خوشحاله شوم له پیژندګلوی څخه مو...

هغه انجلۍ چې اوس پوهه شوم نوم یې ایمان دې وویل:ښه نو، مونږ به تاته څه ووایو؟

ما غوښتل چې ووایم آیت، خو بیا مې یاد شول چې زه خو هیڅ شی هېڅ په یاد نه لرم! نو ومې ویل: هر څه چې دې خوښ وي، ووایه زما خو هېڅ شې یاد ندې حتا خپل نوم..

ایمان- همم، آرزو؟ یا حدیثه؟ یا... صدف څنګه دی؟ کوم یو دې خوښیږي؟"

— هر یو چې دې خوښ وي، زه ورسره ستونزه نه لرم.

ایمان- نو زه به دې حدیثه بولم، سم ده؟

له ما مخکې اصیل ځواب ورکړ: دا څه ډول نوم دی؟ زما خوښ نشو تبسم ښه دی.

ایمان- ای! دا اصلاً ښه نه دی، حدیثه بهتر دی.

اصیل او ایمان په دې بحث کې وو چې کوم نوم به زما لپاره غوره کړي، چې کاکا حمید وویل: بند یې کړئ! ایا تاسو دواړه ماشوم یاست!

اصیل- پلار، ته وواېه، تبسم څه ډول نوم دی؟ هر څه دي، بهتر له حدیثه دی.

کاکا حمید وویل: "هیڅ یو یې ښه نه دي، پرېږدئ چې خپله یې غوره کړي. ایا دا ستاسو نوم دی؟"

بیا زما خواته وکتل او وې ویل: "لورې، کوم نوم دې خوښیږي؟"

— تاسو یې غوره کړئ.

کاکا حمید څو شېبې فکر وکړ او بیا یې وویل: "بهار... نه، باران... هو، باران څنګه دی؟ ایا دا نوم خوښوې؟"

باران، الحق چې یو ښکلی نوم و، په ځانګړي توګه زما لپاره چې له باران سره مې مینه وه. په خوشحالۍ سره مې وویل: ډېر ښکلی دی.

کاکا حمید- ښه، نو چې دا دې خوښ دي، له دې وروسته به دې باران بولو.

ما وخندلم او په بدل کې د هغوی پر شونډو یو مهربان خندا خپره شوه.

له چای څښلو وروسته ایمان را ته وویل: باران راځه چې تاته کور وښایم.

د سر په ښوراولو د هغې پسی شوم، د هغوی کور دوه منزل وو په لومړي منزل که صالون، پخلنځې د کاکا حمید او خاله آسیه کوټه وه او دوه نور کوټې د میلمنو لپاره. خو دویم منزل کې د ایمان، اسد، اصیل او احرار کوټې وه البته یوه بله کوټه هم اضافه او بیکاره وه. د بام په سر یوځاې د ورزشي څېزونو څخه ډک و او بلخوا د کتابونو څخه ډک وو او یو ښکلې کتابتون یې جوړ کړي وو د دې کوټو یوه ښیګڼه دا وه چې غړونه به ورڅخه نه را وتل او دوې ویل دا پیبسی دروازی او کړکې لري.! او زه نه پوهیدم چې دا پیپسی لا څه دي؟ د کور حویلې هم د ګلانو او درختو څخه پوښل شوې وه او بیحد ښایشته ښکاریده..

اسیه خاله همغه خالي کوټه په دویم منزل کې ماته راکړه.

آسیه خاله- لورې خوښ دې شو؟

کوټه بیحد غټه وه او ټول هم سپین رنګ پکی کارول شوې وه، کوټه کې یوه د کالو الماري، یو سپین رنګ کټ او په سپین شین رنګ پردې پوښل شوې وو. او یو لوې ساعت د کټ سر ته ځوړند وو چې ورباندې کوچنې کوچنې شوپرکان وه. کوټه پداسې حال کې چې ساده وه خو بیحد ښکلې وه.

— مننه خاله جانۍ ډیره ښایسته کوټه ده.

آسیه خاله- خوشحال شوم چې کوته دې خوښ شول لورې. مورې ځو ته یوسه ارام وکړه. کوم څه که دې پکار وه ما ته غږ وکړه.

— په سترګو.

آسیه خاله او ایمان مسکا پر شونډو د کوټې څخه ووتل، د کټ خوا ته لاړم او پر هغه کېناستم او خدای ته د ګلې پشان مې ووېل: عه خدایه دا نو څنګه ستا عدالت دې؟ یو نفر باید هر څیز ولری شایست، پیسی، کور، علم، کورنې، او هر شې او یو بل لکه زما پشان د یو سرپناه بیدا کولو لپاره مجبور دې دروغ ووایې...

ګله او شکایت کومه فایده ونکړه نو بریکړه مې ونیول چې ویده شم...

نه پوهیږم سومره ویده شوی وم خو د یو چا د لاس به حرکت راویښه شوم.

ایمان- باران! وه جنی پاسه تول تاته پتمه دې راځه چې ډوډۍ وخورو ته سومره زیاته ویدېږې.

– سمده ته لاړه شه زه هم درځم.

ایمان- سمده خو ژر راشه.

– په سترګو.

ایمان لاړه او ما هم خپل د جامو د سم کولو وروسته د لاندې منزل پخوا حرکت وکړو، هلته په رسیدو مې سلام وکړو او ټولو په خوش اخلاقی ځواب راکړو ټول د میز شاوخوا ناست وه بغیر له مغرور خان څخه. د ایمان څنګ کې کېناستم خو هیچا ډوډۍ نخوړل کرار مې د ایمان د غوږ څنګ ته ووېل: ولې هیڅوک ډوډۍ نه خوري؟

ایمان ځواب راکړو: دا زمونږ د کور قانون دی چې ټول باید د خوړو په وخت کې حاضر وي، حتی که کوم څوک هم څه نه خوري. تر څو چې ټول حاضر نه وي، هیڅوک خوراک نه کوي."

ما په تعجب ووېل: څومره عجیبه خبره ده، ما تر اوسه داسې څه نه دي لیدلي.

زه ډیر وږی وم، خو باید د مغرور خان تشریف فرمایي ته انتظار وایئ. اوففففف، خدای دې جزا ورکړي مغرور خان، ته مجبور یې چې د ناوې په څیر ناوخته راشې؟

څو شېبې تېرې شوې، چې بالاخره مغرور خان راورسېد. ټول د کاکا حمید دعا سره د خوړو پیل وکړ. رښتیا چې ډیر خوندور و، خو یو عجیب احساس مې درلود. د مور او پلار له مړینې وروسته دا لومړی ځل و چې په یوه دسترخوان ډوډۍ خورم. د ډوډۍ تر پای ته رسېدو وروسته، ټولو چای وڅښل. وروسته د ایمان په وړاندیز، ځوانانو ټول حویلي ته لاړو، ځکه هوا ډېره ښه وه، البته پرته له لالا اسد نه.

په حویلي کې هر یو په خپل کار بوخت و او زه هم د چاپېریال لیدلو سره بوخته وم چې ناڅاپه مې یو نرم شی احساس کړ. کله چې شا ته وګرځېدم، نو یو سپین رنګه وړوکی پیشوګی مې ولیده چې زما له جامو سره یې لوبې کولې. زه په خندا شوم او هغه پیشوګی مې په غېږ کې ونیوه.

ایمان په لوړ غږ چیغې کړې: لالا، دا بیا راغله! لالاااااا!!!

بیچاره پیشوګی وډار شو او زما لور ته راغله چې د مغرور خان غږ مې واورېده: مه وېرېږه هغه ستا سره کار نلرې.

داسې ښکارېده چې هغه زما د وېرې او یا تېښتې تمه درلوده، خو د هغه خلاف، ما په ارامه پیشوګی په غېږ کې

ونیوه.ټولو په حیرانتیا زما لور ته کتل چې ایمان په لوړ غږ وویل: باران، پرېږده هغه چې اوس به دې وخوري!

— ایمان جانې، تا خو زما د اوربېدو ځواک په خاورو برابر کړ. دا به ما وخوري؟ اوس خو د تاسونو له وېرې هغه بیچاره ګې زما غېږ ته پناه راوړې.

زما په خبرې د اصیل خندا پیل شوه او ایمان په عجیبه توګه زما لور ته وکتل او په قهر یې وویل: سمه ده، پوه شوم چې ته ډېره زړه وره یې.

په تعجب سره مې وویل: واه، پوه شوې؟ ته څومره هوښیار یې، جانه!

دا ځل درې واړه زما په خبرو له خندا شنه شول.

اصیل وویل: ته څومره ټوکي یې.

— ته هم ډېر هوښیار یې، دا کچه هوښیارتیا طبیعي نه ده!

بیا هم په شاوخوا کې د خندا غږ و.

اصیل بیا وویل: یعني ته د هر شي لپاره ځواب لرې.

— هو، صاحب.

درې واړه سرونه ښورول چې د ایمان ټیلیفون زنګ وواهه او د "حریر" نوم په سکرین کې ښکاره شو، او دواړه مستقیم احرار ته وکتل.

احرار په نرمۍ سره سر پورته کړ او ویې ویل: څه خبره ده؟

ایمان- حریر ده، لالا.

احرار په تروه تندي سره وویل: ایمان، زه کور ته ځم، ته ځواب ورکړه.

او د خپل خبرو په تعقیب یې، ټیلیفون په لاس کور ته روان شو. ایمان هم د ځواب ویلو لپاره پاڅېده.

ما په تعجب سره فکر وکړ: "یعني حریر څوک دی؟ ولې مغرور خان داسې وکړ؟"

تا ته څه؟ دا ستا کار نه دی، آیت جانې! په تا باندې څه ؟" ما اوږې پورته کړې او بیا مې له وړوکي پیشو سره لوبې ته دوام ورکړ.

— اصیل، د دې نوم څه دی؟

اصیل- وفا.

— وفا؟ څومره جالب نوم دی! ولې وفا؟

اصیل- نه پوهېږم، لالا مې دا نوم خوښ کړ.

زما سترګې د حیرت څخه خلاصې پاتې شو او په همغه حیرت مې وویل: هسی نه چې دا پیشوګی د هغه ده؟

اصیل- هو، دا د لالا پیشوګی مې ده.

— واه! نور څه به وګورم؟

د دې خبرې سره سم خپل د کوټې په لور روانه شوم او په تخت کې پرېوتم، د نن ورځې په پېښو مې فکر وکړو د ریښتیا هم نړۍ د عجایبو څخه ډکه ده نن سومره د پرون څخه توپیر درلود پرون زما څه حال وو او نن څه حال دې؟ وقت د روانېدو حال کېدی او هر څه ځان سره وړې که هغه غم وې او که خوشحالی. نه خوشحالۍ تل وې او نه هم غم دوارِه تل په تلو او راتلو کې وې، او د دوې په تګ او راتګ د یو په ظاهر کېدو او د بل په ورکېدو لا که په غور وګور نو د مینې داستان لیدلې شو. په همدې فکرونو د خوب نړۍ ته لاړم او سترګې مې په دې دومره عجایبو بندې کړې..

***

دوه هفتې زما د راتګ څخه تېری شوی وه، او نن د لومړې ځل لپاره د کامل لمر راختلو وروسته زه راویښ شوم! کنه تل د کاکا کور کې اول زه پاڅېدم بیا لمر را پورته کېدو خو دلته یوشئ فرق کړې خو څه؟ شاید دا چې زه نور د شپې خوب نکوم او دا ټول دوولس شپې مې بد خوبونه لېدلې او بیا د سهار لمانځه وروسته مې خوب و سترګو ته راغلې، ما خپل تېر خوشې کړل خو لکه چې هغوی زه نه یم خوشې کړې؟ لځایه پاڅېدم او ساعت خوا ته مې وکتل څه کم د غرمې یوولس بجې وه.

اوه نه زه سومره زیات وېده شوې یم،به تلوار حمام ته لاړم، حمام مې وکړ، جامې مې واغوستلې او لاندې راغلم، سالون کې اسیه ترور ناسته وه

ـ سلام تروري سهار مو پخیر

ـ ستا سهار هم بخیر لورې ارامه خوب دې وکړ؟

ـ هو ترور جانې ولې مو ویښه نه کړم؟

ـ لورې ته ناروغه باید ارام وکړې نباید ځان ستړی کړې اوس راځه سهارنۍ دې وخوره

په دې دوو اونیو کې دوی تر اوسه ماته د یو وارِه کار اجازه هم نده راکړې، تل مې ارام کړی.

خبرې پسې یې نارې کړې:

ـ ګیسو لورې د باران سهارنۍ راوړه.

سر مې وښوراوه او په مسکه خوله کښېنستم چې امنه ترور د ګیسو مور چې څلوېښت کاله کیږي دې کور کې کار کوي د پتنوس سره راغله ..

ـ واخله لورې!

ـ ژوندی اوسې تروري تاسې په زحمت شوی!

ـ څه زحمت زما ښایستې لورې دارو دې شه.

ـ مننه

د ماشومتوب نه پر طبیعیت مینه وم او د ذهن د ارامولو دپاره مې طبیعت ته پناه وړه.او د اکا په باغ کې باغبانی هم ددې دلیل وو چې ما د ګلانو سره مینه وه!

دا دوه اونۍ ما دلته هره ورځ د ګلونو په کرلو کې تېرې کړې خو په اصل کې دا ګلان او باغ یوازې یو بهانه وه، خپل د ځان څخه د تېښتې بهانه، چې د ځان څخه تېښته ممکنه نه وه.جسماً هلته خو روحاً بل ځای وم. خپل تریخ تېر او نامعلوم راتلونکې ته مې فکر وکړ.ددې اخره به څه شي؟! په دې دروغو به چېرته ورسېږم؟!

په همدې سوچونو کې وم چې یو چا مې پر اوږه لاس کېښود، وډاره شوم او چې شاته مې وکتل د ایمان سره مخامخ شوم،

ـ ای نجلۍ ته چېرته یې؟

ـدوزخ کې یم ته هم راشه!

ـ بې عقلې باران

ـ ولې پیري غوندې یو دم راپیدا کېږې؟

ـ یو ساعت خو مې درته نارې کړې وادې نه اورېده.

داسې سوچونو کې ډوبه وم چې د ایمان اواز مې هم ندی اورېدلی .

ـ وبخښه

ـ مهمه نده راځه لیونۍ چې اوس لاړ شو ..

د ایمان سره رلروانه شوم..

ټول سالون کې ناست وه سلام مې وکړ ټولو ځواب راکړ..

دې دریو اونیو کې مې دې کورنۍ سره ډېر عادت کړی دی.اسد یو ارامه هلک دی او ددې دریو نفرو په حق کې یې د ورور داری حق ادا کړی، اصیل هم ښه هلک دی، ایمان هم ارامه او ډېره موءدبه نجلۍ ده چې کله کله د هغې مخکې د بې ادبي حس کوم ..

ترور او اکا هم څنګه چې د اوله معلومېدل مهربانه انسانان دي ، او مغرور خان څنګه چې مې ورته لقب ایښی همداسې دی خو که څه یې هم نه ښکاره کوي خو باطن کې مهرباني هم لري.

اصیل وویل:

ـ ورځ دې څنګه سوې جانې؟

ـ ستا د ليدلو مخکې ډېره ښه وه ګوريلا

ـ داسې مو خبرې کولې چې نه نور يې نه اوري خو ايمان او احرار په خندا شول ..

ـ شرم وکړه ګوره زه دې د ورځې پوښتنه کوم او ته څه راته وايې عقلمندې

ـ رښتيا وايې تر اوسه مې دې ته فکر نه وو او په هغه عقلمند انداز مې سر کښته کړ دا وار درې واړه په خندا شول.

امينې ترور د ډوډۍ د تيارېدو ږغ وکړ او ټل غونډې وروسته له ډوډۍ ټول حويلي ته لاړل، يو بل څنګ ته کښينستلو او ټل غونډې ټول په مبايلونو باندې بوخت شولدا هغه رواج و چې اوس ټول ځوانان ورسره عادت شوي وه او هغوی يې د واقعی ندۍ نه په واټنو لرې کړې وه!

په رښتيا ددوی ګناه هم نده! د اوس وضعيت داسې شوی چې ټول د واقعی نړۍ نه په تېښته دي او پدې دوی هم کوښښ کوي چې ځان په مجازی نړۍ کې د واقعي نړۍ نه پټ کړي.

څو دقې وروسته د مبايل پاڼې ته ځير شو په حيرانتيا غوټه تندې يې وويل: باران دا ته نه يې؟!

درې واړو حيرانه اصيل ته کتل خو ما ورته په ډار کتل نه په حيرانيتا !

ډارېدمه چې مصور اکا او يا هم جاويد زما د ورکېدو خبر نه وي نشر کړی !

په لرزېدلو پښو و لاسو هغوی ته نژدې شوم ... يو سوی مې د لوبو په حالت کې وليد ! ايمان په لوړ اواز او احرار کرار خندل ..

اصيل ته مې غوسه وکتل ، خوله مې ورته کږه کړه، او د خبرو پيښې مې ځيني وکړې...

ـ ( باران دا ته نه يې) ها ها ها ډېر مو وخندل بد قواره

ـ واقعيت ډېر تريخ وي سوی جانې د هغه ورځې نه چې دې کور ته راغلې يم د ټولو سره مې ډېر عادت کړی، په تېره بيا احرار! که څه هم د نورو سره ډېر تروش دی خو زما سره د يو ماشوم غونډې مهربان دی شايد زموږ د عمر دليل وي چې هغه دې ته مجبور کوي چې زما سره مهربان اوسي، د ظاهر نه درې ويشت کلن ښکارېده خو په همدې ورځو که هغه د اته ويشتو کلنو کېده يعنی زما او د احرار منځ کې د لسو کالو فرق وو !!! ټل به د احرار خواته تلم شايد حس مې کوی چې هيڅ وخت به زما شا خالي نه کړي.

مخ مې احرار ته کړ او ومې ويل :

ـ احرار زه سوی( خرګوش. سوږې) يم؟

ـ نه نه يې

په غرور مې د اصيل خواته وکتل چې احرار د خندا نه له ډکې خولې سره وويل:

ـ هر چا چې ویل ته سوی یې غلط یې ویلي ته خو وحشي پیشو یې.

د احرار په خبره ټول ځای کې د خندا اوازونه لوړ شول،

په غوسه مې وویل: خدایه ګورې دا مغرور خان هم په ما باندې ټوکې کوي زه لاړنه نوره.

تر اوسه مې جمله نه وه تکمیله چې ایمان په حیرانتیا وویل: مغرور خان!!!!

اوس مې خپل اوبه شوي ګل ته فکر شو

ای خاورې دې په سر شه .ایمان ګفت

ـ باران تو به لالایم مغرور خان ګفتی؟

ـ داسې مې وویل ته ډاډه یې؟

سر یې پورته او ښکته کړ

ـ ته یوار فکر وکړه شاید بل څه مې ویلی وي.

ایمان ورځې پورته کړې ( هو ایت تا همداسې وویل او د خلاصون لاره هم نلرې)

بې څه ویلو په تېښته شوم .... احرار راپسې راغی .

ــ زه مغرور خان یم ها .....لاس به مې درته ونه رسي باران.

ما چیغې وهلې او مرسته مې غوښته خو ایمان او اصیل همداسې خندل د ډېرې خندا نه لکه رومي تک سره شوي وه په چیغو مې وویل:

ـ خدای دې مجرد پاتې کړه، ژېړ میږی دخندا په ځای راشه راسره مرسته وکړه اوس دا خرس ما وژني.

دوارو خندا چوپ شوه ایمان وویل:

ژېړ میږی؟؟؟؟ خرس؟؟؟؟

نه ایت نور دې خپل قبر حپل لاسو وکېنده نور هغې ته دنیا ته د تلو دپاره تیاره شه.

ـ ودرېږه سوی جانې

څه نه وو پاتې چې ماته ورسیږي چې اسد لالا لکه د ملایکه زما د ژغورلو دپاره راغی ..

ـ څه شوي باران ولې چیغې وهې؟؟خدایه شکرررر!

د نور په سرعت لاړم د اسد لالا شا ته پټه شوم او په مظلومه لهجه مې وویل:

ــ اسد لالا دا دوه کسان زما خوارکۍ د وژلو پلان لري.

ـ ولې څه شوي؟

اصیل وویل:

ــ لالا دروغ وایي

اسد غوښتل زما د مخ نه لرې شي چې په چیغو مې وویل اسد لالا په نه راغلي وربندار مې قسم دوی ما وژني ، اسد مخ اصیل او احرار ته کړ او ویې ویل :

ـ ونه وینم چې څوک زما ورې او مظلومې خور ته څه ووایي.

اصیل وویل:

ـ لالا دا ستا وره او مظلومه خور ما او احرارلالا ته مغرور خان، خرس، ژېړ میږی، او ګوربلا وایي!

اسد په خندا چې غوښتل یې کنټرول یې کړي مخ یې ماته کړ او ویې ویل:  تا داغسې وویل ورته؟

ـ لالا ما خو دروغ ندي ویلي نو زه څنګه وکړم چې دوی د رښتیا اوریدلو طاقت نه لري.

اسد نور په ښکاره خندل.هر څه چې یې ویلي ښه یې ویلي، هیڅوک ددې د ازارولو اجازه نلري.

اسد لالا د تلو قصد درلود ورته مې وویل:

ــ لالا ما هم د ځان سره بوځه!

ـ راځه د لالا ګرانې

په ډېرې خوشالۍ مې د اسد لالا د شانه دوی ته ژبه وایسته دواړو سر وښوراوه .

د اسد لالا سره د عمارت خوا ته لاړم خپل کوټې ته په رسېدو مې اسد لالا ته ښه شپه وویل .

غوښتل مې ویده شم چې یو بد درد مې ټول بدن کې خپور شو ، داسې درد چې د زغملو وس یې هیچا کې نه و او ربښه یې زما سر ته رسېده.

بې شکه ددې درد سبب هماغه ضربه وه ، کله کله داسې دردونه راته پیدا کېدل خو بیرته ورکېدل، خو نن شپه د هرې ثانیې په تېرېدو لا ډېرېدی ، تقریباً د شپې دوې بجې وې چې نور د درد تحمل هېڅ راته پاتې نه شو.

د درد د ارامولو د ګولیو د خوړلو دپاره پخلنځي خواته لاړم چې د یو چا سره مې ټکر وکړ، لږ پاتې وو چې په ځمکه وغورځم چې یو چا د لاس نه ونیولم..

ـ ته عادت یې چې د شپې د خلکو سره ټکر وکړې؟

دا خو د مغرور خان اواز دی! اخ چې اوس حوصله نه لرم ګنې داسې ځواب به مې ورکړی وای چې خوند یې اخیسته.څه مې ونه ویل او دننه لاړم درد ډېره په تنګ کړې وم د یخچال دروازه مې خلاصه کړه او ګولی پسې ګرځېدم چې ویې ویل:

ـ کوم څه پسې ګرځې؟

د جنګ حوصله مې نه ارام مې وویل:

ـ د درد کولۍ

نیوهېږم اواز مې څه ډول و چې احرار ځراغونه روښانه کړه او زما خواته په تیزی راغی..

ماته درسېدو نه مخکې یې وویل:

ـ سر دې درد کوي؟

زما د ځواب د اورېدو نه مخکې ماته ورسېده او زما د مخ په لېدو یې وضعیت ګډوډ شو ..

ـ یوازې سر دې درد کوي؟

ـ ټول ځان مې‌وخو ډېر مې سر درد کوي.

په تروش تندې یې زه تر لاس ونیولم او د ځان سره یې بوتلم.

د مخالفت توان هم راته پاتې نه و،داسې بې حاله وم چې په لاره تګ هم راته ګران وه..

د احرار کوټې ته ورسېدو ، دروازه یې خلاصه کړه او زه یې بر تخت باندې کښېنولم او خپله الماری کې کوم څه پسې په لټه شو څو دقیقې وروسته د یو ګولۍ سره راغی ، ګولی یې د اوبو سره راکړه، د کولۍ خوړلو وروسته احرار راسره مرسته وکړه تر څو وغځېږم.او پوښتنې یې شروع کړې

ــ ټپ خو به دې ښه یې!

زه بې حرکته پاتې وم او هغه پوشتنې کولې

بیرته لاد او الماریۍ کې کوم څه پسې ګرځېده ، درد مې ارام شوی وو خو مکمل نه وو ورک، کرار پورته شوم غوشتل مې لاړه شم چې د احرار اواز مې تر غوږ شو ځای په ځای ودرېدم

ـ چیرته؟

ـ اوس ښه شوم نغواړم نور مزاحمت .....

دې نه مخکې چې جمله مې ختمه کړم احرار زما لاس کش کړ او بیرته یې تخت خواته بوتلم

ـ تر څو پوره  ښه شوې نه یې ددې ځای نه نسې تلای

ـ ارتیا نشته زه ...

داسې تېز راته وکتل چې ګنګه شوم او پوه شوم چې نباید څه ووایم او ارامه کښېنم.

لاړ او یو قوطي سره بیرته راغی، بله دوا یې راکړه تر څو ویخورم، څو دقې وروسته درد ورک شو، بیا مې غوښتل پورته شم چې بیا یې وویل:

چېرته؟

دې بله کلمه نزده غېر له دې؟!

ـ ځم کوټې ته مې وېده کېږم.

ـ دلته وېده شه.

سترګې مې له کاسې څخه د وتلو حال کې وې

– جان؟؟؟؟؟؟ همدلته ویده شم؟؟؟؟؟

–هو!

نه نه دا بشر لیونی شویچ، په حیرت مې هغه ته په ځیر کتل چې وې ویل: ساتنې ته اړتیا لرې تر اوسه دې په پوره توګه ښه کیدو باندې مطمئن نه یم نو ځکه مې باید سترګو په وړاندې واوسې.

– نه، ښه یمه باور وکه.

بیا دهغه پداسې کتو مې وینه په رګونو کې ودریده.

احرار- په یاد مې ندي چې له تا مې پوښتنه کړې وي.

هغه بیرته الماری ته وکتل او ما د خولې په کړولو د هغه خبرې تکرار کړې

البته په داسې ډول چې هغه متوجه نشو! " په یاد مې ندي چې له تا مې پوښتنه کړې وي" له ځانه راضي انسان زوروېونکی......

– ویده شه.

جناب عالی امر صادر کړو او د منلو پرته بله لاره نشته! غوښتل مې ویده شم چې سترګې مې په مغرور خان ولګیدې. دومره یې حالت پرېشانه وو چې ما یې د بیانولو قدرت نلرو، یعني ددې پرېشانه حالت دلیل زه یم؟ دا مغرور خان خپلو ټولو ناروغانو ته داسې توجه کوي او پرېشانه کیږي؟؟؟؟ عجب!!! ګرانه ذهنه تاته هیڅ اړه نلري نو کرار ویده شه! مګر اوس مې نه باید وجود د وحشت څخه لړزیدلې؟ مګر د شپې پدې وخت کې پدې کوټه کې پاتې کیدل د رواج خلاف نه وو او ما هم د رواج خلاف کار کړې د یو مجرد نامحرم هلک کوټه کې ویده کېږم؟! نو ولې هیڅ ډار نلرم او برعکس یو ډول ځانګړی سکون مې په وجود کې ګډ دی؟ دا عجیبه نده؟ په همدې فکرونو مې سترګې ورو پټې کړې او د خوب نړۍ ته ولاړم.

وروسته له دريو هفتو لومړۍ شپه وه چې د بد خوبونو ليدو پرته سبا شوه، ما ورو ورو خپلې سترګې د يو نرم څيز په احساس سره خلاصې کړې چې په مکرر ډول زما په مخ لګيدو!!!!! وفا وه چې زما سره د لوبو کولو حال کې وه په خندا مې ورو په غيږ کې ونيوله چې وروسته د څو دقيقو مې له غيږ څخه ولټيده او ولاړه بيرته مې سترګې پټې کړې د تيرې شپې د پيښو په يادولو مې تازه ياد ته راغلل چې چيرته يم

ما په خپلو سترګو کوټه چيک کړه نه نشته حتمن تللی صالون کې ويده شوی

د خلکو په کوټه مې چاپه اچولې وه اه سپين سترګې نجلکۍ!!!

خو زر مې خپل ځواب ترلاسه کړ ګران وجدان ما پورې څه اړه لري؟ مګر ما ورته ويلې وه چې لاړ شي؟ او هسې څوک کولی شي د ده مغرور خان په خبرو کې خبر وکړي؟ معلومه ده چې هيڅوک! نو زه ملامته نه يم! په ظاهر کې خو مې ځان قانع کا

غوښتل مې چې خپلې کوټې ته لاړه شم چې..... سترګې مې د مخامخ صحنې په ليدو قادر نه وې! مغرور خان د تخت تر څنګ ناست و سر يې د تخت په کونج ايښی وا او ويده شوی و. نور له مغرور خانه کوم خبر نه وا! دومره مظلومانه ويده وو چې ته به وايې چې د هغه مغرور کس شتون دروغ دي د ماشومانو په شان په درانه خوب ويده شوی وا او ويښتان يې ښواره په مخ پراته ول.

ورو مې له ځان سره وويل: يا رب څومره په خلقت کېدی تضاد دي! زموږ مغرور خان چيرته او دا کس چيرته؟

غوښتل مې ويښ يې کړم چې پخپل ځای کې څملي، مطمئنه يم چې اوس هم د ملا په درد اخته شوی خو منصرفه شوم د خلکو خبره دوې پښې مې وې دوې نورې مې قرض کړې او په اخرين سرعت مې ځان خپلې کوټې ته ورسو چې د اذان غږ مې واوريده. پاځيدم اودس مې وکا او خالق سره په راز و نياز کولو بوخته شوم

د جای نماز په ټولو مې تازه فکر شو چې د سهار ۵ بجې دي دا يعني لا ډير وخت وو بيرته مې سترګې پټې کړې او د خوب نړۍ ته ولاړم!

درې ورځې تيرې شوې او هر څه د مخکې په څير و...

د ډيرې لوږې په حس له خوبه پاڅېدم د لاسونو او مخ په مينځلو او د جامو د بدلولو وروسته د اشپزخانې خواته ولاړم اشپزخانې ته په ننوتلو متوجه شوم چې خاله اسيه، خاله امينه، اصيل، ايمان او ګيسو ( چې د امينې خاله لور ده) د شيريني په پخولو مصروفې وې، په لوړ غږ مې سلام وکا او ټولو په خندا ځواب راکړ

— اممم به به څه جنتي بوی!

خپل د خبرې سره سم مې غوښتل چې له شيرينيو نه يوه واخلم چې امينې خاله ورو د لاس په شا ووهلم او ويې ويل: مکوه نجلۍ دا د ميلمستيا لپاره دي!

— په سترګو امينه سلطان خو ميلمستيا په کوم مناسبت؟

— د خان صيب د کليزې په مناسبت.

—کوم خان؟ موږ خو څلور خانان لرو؟

– احرار خان.

د مغرور خان کلیزه ده؟!

– ریښتیا؟

دا ځل اسیې خاله ځواب راکړو: هو لورې د احرار مې کلیزه ده خدای دې وکړي چې کارونه تر شپې پورې خلاص شي.

– اندیښنه مکوه اسیه سلطان خلاصیږي ته صرف ووایه چې زه باید کوم کار وکم؟

– ستا لپاره بل کار لرم دا به زه امینه او نجونې خلاص کړو.

– تاسو امر وکړئ ...... زه سره تر ښو ستاسو په خدمت کې یم

ټولو وخندل چې ایمان وویل: نجلۍ ته هیڅکله لاس له ټوکو او چاپلوسې نه اخلې؟

هغې پسې ګیسو وویل: فکر نکړم داسې ورځ ووینو.

اصیل هم له قافلې پاتې نشوه او هغه هم وویل: موافق یم هسې ما یو نوی نوم ورته انتخاب کړی" تمثیل گر سوړې."

او درې واړو په لوړ غږ وخندل

په مظلومه څیره مې د اسیې خاله او امینې خاله خواته وکتل او ومې ویل: ګورئ چې څنګه یې یو بې کسه راګیر کړې؟

اسیې خاله وویل: راځه لورې.

د اسیې خاله خواته ورغلم چې په خندا یې غیږ کې ونیولم او دوی ته وویل: زما لور مه ځوروئ.

اصیل وویل: ته دا مکاره ګیدړه وګوره!

ژبه مې وایستله چې اصیل د تأسف په بڼه یې د نورو خواته سر وخوځوو

اسیې خاله ټولو ته وویل: ښا نو بس ده زر کوئ ډیر کار لرو! باران ته هم د اصیل سره احرار بیرون ته بوزه تر څو موږ په راحتۍ سره خپل کارونه وکړو غوارم نن شپه حیران شي!!

له ځان سره مې وویل: اوس اوبه راوړه او حوض ډک کړه، اوس نو څوک دا مغرور خان بیرون بوزي؟

اصیل وویل: په سترګو مورجانې( او مخ یې زما خوا ته کړو او ویې ویل: راځه چې لاړشو.

د سر په خوځولو مې غوښتل چې بیرون لاړه شم چې ومې لیدل امینه خاله متوجه نده په کراره د شیرینیو خواته نیژدې شوم ګیسو او ایمان عجیب عجیب زما خواته کتل لاس مې د چوپ پاتې شئ په نښه په خپله

خوله کیښود له خوړو مې دوې ټوټې واخیستې او په لوړ غږ مې وویل: په اجازه مو ما دا واخیسلللل

او مخکې له دې چې امینه خاله څه ووایي په اخیري سرعت د دروازې خواته ولاړم

امینې خاله وویل: زه درسره کار لرم لیونۍ نجلۍ!

په داسې حال کې چې د دروازې خواته تللم په لوړ غږ مې وویل: له لاسونو دې ځااار امینې سلطان.

او له آشپزخانې بیرون شوم چې د ټولو د خندا غږ مې تر غوږ شو

شیریني مې په جیب کې کیښودل د مغرور خان د کوټې خواته روانه شوم

تیاریدو ته مې اړتیا نه درلوده ځکه د کور داخل او بیرون ماته فرق نه درلود!

له ماشومتوبه مې د تره ښځې د مراد او مصور کالي زما په ځان کول او تل به یې زما ویښتان د هغو دو په شان لنډ کول ځکه مې ویښتان د هلکانو په رکم وو او معمولا به مې خولۍ په سر کوله

د جامو اچول د کابل په ښار کې څه داسې وه چې نور خبره د حجاب څخه وتلې وه. د جمهوریت دوره د ۱۳۹۵ تر ۱۴۰۰ کاله وو او انجونو د پریشانه زلفانو، لنډې جامې پر تن وې له څنګه چې د پښو ډیرى برخې یې ښکاریدې( همغه شوی شهر مطلب) او ټکري یې معمولا په غاړو کې وه په ټوله کې دا ډول اغوستلو ډیر طرفدارن لرل نو پدې منځ کې زما خولۍ په سر کول او د هلکانو په څیر ګرځیدل ډیر عادي و ځکه برعکس ما د خپلو ویښتانو د پټولو لپاره خولۍ په سر کوله!

اوس حتمن د یوې ښکلې نجلۍ یو عکس مو ذهن ته راځې خو برعکس زه د هغه لویو جامو او لنډو ویښتانو سره تل د ملنډو لاندې کیدم! هیڅکله مې د نجونو په څیر ظاهر نه درلود برعکس هر وخت به د هلکانو په رکم وم تر دې حده چې که چا دقت نه وای کړی نه پوهیدل چې زه نجلۍ یم. له دروازې ټکولو پرته ننوتم

د احرار په وړاندې ډیره راحته وم له څنګه چې لدې تشریفاتو خبر نه وو خو یوازې احرار!

بې وار مې وویل: اماده یې؟

اصیل - راځه باران ښه شوه چې راغلې

—زما شتون خو بې له شکه چې نعمت دی. خو څه وشول چې  جناب عالی دا واقعیت ومنو؟ دا دومره هوښیارتیا دې له کومه کړه؟

اصیل- په کراره... لالا مې نه راځې.

— څه؟ ولې؟

اصیل- خپله پوښتنه وکړه.

احرار کتاب په لاس ناست و په کراره مې وویل: پدې څه شوي؟

اصیل خپل سر د نه پوهېږم په مانا وخوځوو او بیرون ته روان شو.

— څه شوي ولې نه راځې؟

اووو خدایه خپله رحم وکړه بیا د جناب تندې تروش شوی!! مغرور خان څو دقیقې ښه په دقت راوکتل. او بیایې وویل: ته غواړې راشم؟

په شیطنت مې وویل: نـــــــه.

مغرور خان کتاب ته ځیر شو او ویې ویل: ښه ده نو تلی شې!

آه دا خو بیا خفه شو! په کرار غږ مې وویل: اممم اسیه خاله او حمید کاکا په ټوکو پوهیږي نو ته بیا چاته تللی یې چې په ټوکو نه پوهیږې؟

مغرور خان بد بد راوکتل دا یعني د خطر علامه! باید کوم بل تخنیک مې استعمال کړې وایې. نو ځکه دا ځل په خواهشمند انداز مې وویل: هیله کوم راځه غواړم ښار وګورم!

مغرورخان- ولې له اصیل سره نه ځې؟

— ته ولې جنایي آمر نه کیدې؟ چې دومره پوښتنې کوې؟ راځه راسره ځې یا که......

مغرور خان- یا که څه؟؟؟

یا که څه؟ ریښتیا یې ویل اوووف ګونګی شې اوس څه ووایم؟

— یا.... یا.... که اها یا تر شپې پورې دلته کینم او د نورو خبره د جناب ماغزه نوشجان کوم! خپل په ډیرو خبرو...

زما په دی خبره د مغرور خان د تندې ګونځه خلاص شو او ما حس وکړو چې خاندي

د تل په څیر یې سر د نورو خواته وخوځوو او د موبایل له اخیستو وروسته دروازې خواته ولاړ دا پدې معنا چې تلو ته موافقت یې وکا! زه هم په خوښۍ د هغه پسې ولاړم حویلۍ ته چې ورسیدو اصیل مې د انتظار حالت کې ولیده درې واړه د خبرو کولو پرته موټر ته پوره شو

مغرور خان- ښه نو اوس چیرته لاړ شو؟

اصیل- لالا اول به لاړ شو حسیب خواته لږ کار لرم.

مغرور خان له کومې خبرې پرته موټر چالاند کا او حرکت یې وکا. تقریبا وروسته له شلو دقیقو یو لوی تجارتي مرکز ته ورسیدو درې واړه ښکته شو.

اصیل- لالا تاسو څو دقیقې په تمه شئ زه بیرته زر رراځم.

مغرور خان- سمه ده موږ هم دکانونه ګورو.

اصیل ولاړ او زه و مغرور خان هم د کانونو په کتو مصروفه شو ټول کالي ډیر ښکلي و غوښتل مې ځان لپاره کالي واخلم ځکه هیڅ کالي مې نه لرل.

— احرار زه هم غواړم ځانته کالي واخلم ته همدلته پاتې شه زه ژر بیرته را.....

لا زما خبره خلاصه شوې نه وه چې هغه یو دوکان خواته ولاړ...

توبه خدایه زړه یې دی ماسره ولاړ شي؟

ناچاره ورپسې ولاړم

مغرور خان- اممم وګوره د دې تر منځ کوم یوه جوړه کالي دې خوښېږي؟

د جامو په لیدو هک حیران و درېدم! ځکه ټول د انجونو کالي و!

مغرور خان- ژر کوه تر شپې دلته نه شم درته دریدلې.

ناچاره د جامو په لیدو بوخته شوم، د نجونو لپاره رختونه او کالي شتون درلود او په واقعیت چې ټول ښایسته وو خو ما د ځان لپاره څه مناسب څه پیدا نکړل. ورو ورو ناهیلې شوې وم چې سترګې مې په یو چهارخانه یخن قاق باندې چې رنګ یې

تور او له سپینو ردو سره او یو سپین بلوز مخ مې دوکاندار ته کړو او ومې ویل: وروره کولی شم هغه تور ست وګورم؟

دوکاندار ست راوړ.

— زما همدا خوښ شو!

د مغرور خان له تعجب څخه ډک غږ مې واوریدو: همدا؟

— هو!

مغرور خان نور څه ونه ویل لږ پیسې مې چې د کال په جریان کې ټولې کړې وې راسره وې که هر څو ډیرې نه وې خو کله مې چې غوښتل د کاکا له کوره ووځم له ځان سره راوړې وې په همغو پیسو مې غوښتل چې د پیسو حساب ورکړم چې مغرور خان پرینخودم او خپله یې حساب ورکا له دوکان څخه ووتلو او د اول منزل په طرف روان شو چې اصیل هم راغی.

اصیل- تاسو دواړه چیرته یئ؟ یو ساعت کیږي چې تاسو پسې ګرزم.

— ژیړ مېږی کور څخه د وتلو مو څلویښت دقیقې کیږي ته څنګه یو ساعت موږ پسې ګرزیدې؟

احرار ورو وخندل

اصیل- که یو څو دقیقې غلې واوسېږی نو څوک به و نه وایي چې ګونګۍ ده!

– ولا تا باندې باور نشته شاید ووایې.

مخکې د اصیل له ځواب ورکولو مغرور خان مخکې توب وکړو او ویې ویل: اصیل کار دې تمام شو؟

اصیل- هو لالا که ته کوم کار نلرې تللی شو.

مغرور خان- زه ډېر وږی یم اول باید ډوډۍ وخورو.

– ولا زه هم ډیره وږې یم.

مغرور خان- نو راځئ.

دواړه مغرور خان پسې روان شو، بیرون ته لاړو او موټر کې کیناستو او موټر حرکت وکا څو دقیقې نه وې تیرې شوې چې لاس مې جیب کې په شیرینو ولګید

د خوړو په رایستلو ښایسته بوی یې ټول موټر کې خپور شو په همدې وخت کې دواړو شاته راوکتل چې اصیل د خوړو په لیدو په لوړ غږ وخندل. احرار حیران اصیل ته کتل د اصیل فکر حرار ته شو

اصیل- لالا پوهیږې دا خواږه له کومه ځایه راغلي؟

مغرور خان- له کومه ځایه؟

اصیل په خندا وویل: د یوې خرګوشې به واسطه د امینې خاله له آشپزخانې څخه تښتول شوي.

احرار ماته وکتل او په حیرت یې وویل: ریښتیا وایي؟

– دې بلا په ټول ژوند کې ریښتیا ویلي چې دا یې دوهم ځل وي؟

مغرور خان- یعني غلا کړې دې نده؟

– امممم دیته غلا نه ویل کیږي! ځینې اول اجازه غواړي بیا یې اخلي خو ما اول واخیستل بیا مې اجازه واخیسته!

پدې خبره مې موټر یو دم ودرید داسې چې مخ ته وغورځیدم، دواړو د ما خواته راوکتل خو په څو ثانیو کې موټر د دواړو ورونو د خندا په ساز ډک شو سترګې مې د احرار په خندا ولګیدې عجب ښاسته خاندې دا خوانیمرګ. دواړه له ډیرې خندا څخه تک سره شوي و چې اصیل وویل: لالا راځه ولاړ شو کوم موټر مې چې خوښ شوی و اول به یې واخلو بیا به اجازه ترې وغواړو.

او بیا یې هم وخندل دې ژیړ میږي په ما رشخند ووهو؟ آیت جانې اهمیت مه ورکوه او له خپلو شیرینو څخه د خوند واخله خپل د مغز په غږ په بیغم انداز خپل اوږې مې پورته کړې او د یوې شیرینې په خلاصولو بوخته شوم شیریني مې د احرار خواته ونیول چې اصیل وویل: نو زه څه؟

– جناب عالی د خوړو حق دې د بنده په رشخند وهلو له لاسه ورکا

اصیل مظلومانه وکتل او ویې ویل: ریښتیا ماته نه راکوې؟

– نــــــــــــــه.

زه د خوړو په خوړلو مصروفه شوم چې مغرور خان خپل شیریني د اصیل خواته ونیوه.

اصیل- نوشجان لالا.

مغرور خان - واخله... واخله.

ما وویل: نو ته څنګه؟ نه یې خورې؟

مغروز خان- ولې خورم یې..

مغرور خان خپل د خبري سره سم یې زما شیریني زما له لاسونو څخه په ناڅاپه حرکت کې واخیسته او وې خوره.

زما او د اصیل سترګې د هغه پدې کار د کاسې څخه راووتل، د دې لپاره نه چې هغه زما شیرنې راڅخه وتخته ول پدی خاطر حیران وو چې مغرور خان یو حساسیت درلود او هغه دا چې د بل چا د خولې خوړلې څیز یې نه خوړو خو هغه زما شیرنې وخوره؟

هغه نور حساسیت هم درلود لکه په خپلو شیانو حساس وو، او یوازې امنیې خاله یې د کوټې د پاکولو اجازه درلوده حساسیت یې تر دې حده وو چې یو ځل یو خدمت کار چې نوی راغلی و په غلطۍ یې سره یې جامې لمس کړې او مستقیم یې اخارج کا!!!! او اوس همغه مغرور خان یعنې..... ښاغلی سرطبیب احرار مشرف چې هیڅ څوک یې په شیانو د لاس وهنې اجازه نلري زما نیمه خوړلې شیریني خوري؟؟؟؟ هسې نه د قیامت ورځ رارسیدلې وي او موږ نه پوهیږو؟؟؟ مغرور خان پرته له توجه زموږ حیرانیدو ته شیریني بیرته ماته ونیوله.

مغرور خان- واخله.

زه په فکر کې وم چې بیا یې غږ پورته شو او ویې ویل: که واینخلي دا ځل ټوله زه خپله خورم!

– وخوره نوشجان زه یې نخورم.

مغرور خان-  ولې لکه چې شیریني دې خیرنه شوه؟

اوفففففف مغرور خان دی نو زر خفه کیږي، غوښتل یې چې شیریني رانه واخلي چې زر مې لږ له شیریني وخوړل په ولا نه مې غوښتل داسې فکر وکړي او بد حس ولري

پس له څو شیبو یې بیا مخ وګرزو او خوله یې خلاصه کړه یعني بیا هم غواړي وېخوري!! زما او د اصیل له حیرانیدو سره خواړه ټول نوشجان شول ټولو چوپتیا اختیار کړې وه چې موټر د یو رستورانت مخې ته ودرید. رستورانت ته په ننوتلو سره یو کس زموږ خواته راغی او په مسکا یې وویل:

— سلام ښاغلی مشرف ښه راغلاست مهرباني وکړئ.

مغرور خان - سلام .همغه مخکینی میز مو تیار کړې؟

— هو هماغه میز دې ښاغلې.

هلک ولاړ او له لږ شیبې وروسته بیا راغی

— مهرباني وکړئ ښاغلی مشرف میز مو تیار دی.

درې واړه د یو میز خواته چې د کړکۍ څنګ کې وو ورغلو او کیناسو، مغرور خان د ډوډۍ سفارش ورکړو او درې واړه د ډوډۍ په تمه شو هغوی دواړه د تل په څیر په خپلو موبایلونو کې مصروف شول او زه هم د شاوخوا کتلو باندې بوخته شوم چې فکر مې د مغرور خان او ژیړ میږي تروش تندې ته وو!

خدایه خیر بیا ولې دې خرس او بیزو خپل تندیان تروش کړې؟ ګرانه مغزه تا پورې هیڅ اړه نلري ضرور نده چې فکر کولو باندې بوخت شې! ډیره وږې وم له سهاره مې فقط همغه شیریني خوړلې وه

— اوفففف نو ولې دا خواړه نه رسیږي؟ ډیره وږې یم؟

اصیل په خندا وویل: ته کوم وخت وږې نه یې؟

— نامحترمه وروره ستا حق مې خوړلی؟

اصیل- اول دا چې نامحترم نه محترم. او بل دروغ خو نه وایم ته خرګوشه کله مړښت لرې!

— اول دا چې هماغه نامحترم، دویم دا چې ښه کوم په تا یې څه؟

موږ دواړه د جنجال حال کې وو چې خواړه راورسیدل، د قحطي وهلو په څیر مې په خوړو حمله وکړه چې سترګې مې په اصیل ولګیدې په تعجب یې راکتل

تقریبا په ډکه خوله مې ورته وویل: څه دي؟ له سهاره مې څه ندي خوړلي

په لوړ غږ یې وخندل او ویې ویل: وخوره وخوره د سومالیا وږې.

اصیل ته مې وکتل او ژبه مې وایستله او بیرته په خوړلو بوخته شوم چې بیا مې هم د دوی د خندا غږونه واوریدل

ډوډۍ خوړل خلاص شول او درې واړه تللو ته پورته شو، مغرور خان حساب وکړ او د موټر خواته روان شو د لارې په اوږدو کې پدې فکر کې وم چې مغرور خان ته څه شی ډالۍ ورکړم هغه ماسره ډیره مرسته کړې نو د قدرانۍ لایق دی. ډیر فکر مې وکا خو څه مې ذهن ته رانغلل موټر د یوې کتاب فروشۍ مخکې ودرید

مغرور خان- زه لږ کار لرم تاسو په تمه اوسئ.

واییی زه په کتاب مئینه وم، په تلوار مې وویل: کیږي زه هم درشم؟ هیله کوم!

په ځير راوکتل او د څه ويلو پرته له موټر څخه ښکته شو. ليونی مغرور خان څه کيدل چې زه يې هم ځان سره بيولې وا......

دروازه خلاصه شوه او مغرور خان وويل: راځې که نه؟

په داسې خوښۍ چې نشمه بيانولی په چټکۍ سره ښکته شوم او د مغرور خان خواته ولاړم، اصيل هم موږ سره يوځای شو د داخليدو سره مې کتابونو کې غرقه شوم دومره زيات کتابونه چې په جدا قفسونو کې ټول شوي وا!

مغرور خان- زما کتابونه تيار دي؟

اوووه مغرور خان هم کتاب وايي؟ عجب کوم سړی چې د کتابونو مسؤل وا په خندانه څيره ولاړ شو او ويې ويل: سلام ښاغلی مشرف ښه راغلاست هو خو يو يې تراوسه ندی رارسيدلی خو تر لسو دقيقو وروسته رارسېږي تاسو مهرباني وکړئ د کتاب تر رسېدو پورې د يو پيالې چای به اندازه زموږ ميلمه اوسئ.

درې واړه د کتابونو مسؤل پسې بلې خواته روان شو، زموږ په کيناستو سره يو هلک د څو جلدو کتابونو او چای سره داخل شو او ټولو ته يې د چای سات وکړو. سړي کتابونه مغرور خان ته ورکړل او مغرور خان د کتابونو په چک کولو پيل وکړ چې د هغوی منځ کې مې سترګې په يوه کتاب ولګيدې( غزليات حافظ) وای نو زموږ مغرور خان شعرونو سره هم علاقه لري!

– احرار تر څو چې ستا کار خلاصيږي زه لاړه شم کتابونه وګورم؟

مغرور خان خپل سر وخوځوو او ما په خوشالۍ د کتابونو مسؤل ته وويل: د فلسفي کتابونو بخش کوم طرف ته دی؟

حيرانتيا د ټولو څېرو کې څرګنده وه او ريښتيا هم حق له دوی سره وا! زه او فلسفه!؟ د فلسفي د کتابونو لوستل زما د خندانه شخصيت سره ډير مطابقت نه درلود دا هغه څه و چې هر وخت مې له نورو اورېدل د هغوی تصوير چې فلسفه خوښوي هميشه د خلکو سترګو کې عبس او لږ خبرو واله او تروش تندې والا خلک دې. خو حقيقت کې دا ډول خلک په تظاهر کې فلسفې سره مينه کوي او له فلسفې هيڅ نه پوهيږي هغوی چې په ريښتيا هم قادر د فلسفې په درک کولو دي ژوند سره مينه لري او پوهيږی چې ژوند ددې بيځايه قهر، بخل، او حسادت لپاره ندې او بايد همدا دوه ورځې ژوند په خوشحالۍ تېر کړو.

سړي هماغه هلک ته اشاره وکړه تر څو ما رهنمايي کړ، هلک پسې روانه شوم او د څو الماريو تيريدو څخه د فلسفي کتابونو بخش ته ورسيدم هلک ولاړ او زه په کتابونو مصروفه شوم. له ماشومتوب څخه مې د کتابونو سره ژوره مينه درلوده او همدې مينې زه د فلسفې خواته بوتلم! زما د ډير ښه شانس حخه يوه ملګری مې هم درلوده چې د هغې هم خاصه علاقه د فلسفې کتابونو سره درلوده او په ډيرې مهربانۍ هر کتاب يې چې لوستلو وروسته ماته په امانت پريښود او کوم وخت به مې چې کوم کتاب ته لاس رسی نه لرو له ښونځي څخه تيښتيدم او کتابتون ته تلم او همدا دليل د ډير کتاب لوستلو وو چې پدې الماری کې ځان ښکاره کو!

د کتابونو د کتلو حال کې وم چې د هغوی منځ کې مې سترګې د خوښې په کتاب ولګيدې:"دنيای سوفی"

په مسکا مې کتاب خلاص کړو په کراره مې کتاب ځان ته نيږدې کړو او ژور مې بوی کړو په ريښتيا چې د کتاب

او د باران پرته بل ښه بوی نشته؟ د کتاب په کتلو و او د هغه د صفحاتو په تماشا وم او بیخی مې وخت او زمان له لاسه وتې وو دومره په کتاب ویلو کې بوخته شوې وم خو د مغرور خان غږ بیرته کوټې ته راوګرځه ولم.

مغرور خان- نه پوهیدم چې فلسفه خوښوې!

— ولې؟

مغرور خان- شخصیت دې داسې څه نه بیانوي!

— امم په ظاهر باید هېڅکله قضاوت ونکړو!

مغرور خان سر وخوځوو او ما وویل: زه هم نه پوهیدم چې ستا کتاب لوستل خوښیږي.

مغرور خان- په کوم دلیل؟

— شخصیت دې داسې څه نه بیانوي.

خپل د خبرې سره سم مې وخندل چې مغرور خان هم لږ شونډې کش کړل او په ظاهر لکه چې ویخندل.

مغرور خان- ښه نو میرمن شخصیت شناسې اوس ولاړ شو؟

— ته ولاړ شه زه دا کتاب په خپل ځای کې ایږدم او درځم.

احرار ولاړ او زه د کتاب ایښودلو په حال کې الماری ته ولاړم، د کتاب ایښودلو وروسته مې د تلو نیت درلود چې سترګې مې به بل کتاب ولګیدې

«دیوان شمس تبریزی » د دې کتاب په لیدو احرار او ( حافظ غزلیات) کتابونه مې یاد ته راغلل دا یعني مغرور خان شعرونه خوښوي! کوم فکر مې چې سر کې تیر شو په پټه مسکا د کتاب خواته ولاړم او وروسته د کتاب له اخیستلو مستقیمه د دوکاندار خواته لاړم.

— سلام د دې کتاب قیمت څومره دی؟

هلک په حیرت سره اول ماته او بیا هغې خواته چې اصیل او احرار وو وکتل او ویې ویل:

— زه به دا د ښاغلي مشرف په حساب کې به ولیکم

—نه، دا د ښاغلي مشرف حساب پورې کوم تړاو نه لري

—دی قیمت درې زره افغانۍ دی!

اوه خدایه، دا ډیر ګران دی،لکه چې هلک هم پوه شو او وویل: دا کتاب یو له لومړیو چاپ څخه دی نو همدې له امله ګران نادر دی! دا هم پرون موږ ته یو لرې ځای څخه ډیر په خواری کوښش زموږ لاسته راغلو، خو ریښتیا، موږ د کتاب خرڅولو په اړه کومه پریکړه نه درلوده، مګر زه دا یوازې د ښاغلي مشرف د درناوي لپاره تاسو باندې خرڅوم.

هغه هلک رښتیا ویل ځکه کوم کسان چې د کتاب په سر او بر پوهیږي نو د دې کتاب په لیدو د هغه اصلی ارزښت بیان کولې شې.خپلې پیسې مې را وایستلې او حساب مې وکړې، چې دوه زره افغانۍ وې.

— زه دا مهال یوازې دوه زره افغانۍ لرم، ایا پاتې پیسې وروسته راوړم؟

— هو کومه ستونزه نشته. مګر تاسو باید یو څه په ژمنه (ګرو) زموږ سره کېږدې هرکله چې تاسو پیسې راکړل نو موږ به ستاسو امانت تاسو ته در وسپارو.

له ځانه سره مې وویل: چې زه خو هیڅ ارزښتناک څه نه لرم، اوس څه وکړم چې سترګې مې خپل په غاړه ګې ولګېدې. غاړه ګۍ هو خپله دی. که څه هم دا زما لپاره خورا ستونزمن و، خو ما هغه غاړګی خپل له غاړې څخه راوویستله او مخ می هلک وخواته کړو او ومی ویل:ایا زه کولی شم دا په ضمانت کېږدم؟

— دا سره زر دی؟

— هو.

— سمه ده، کومه ستونزه نشته.

غوښتل مې غاړه ګۍ هلک ته ورکړم، خو د اصیل غږ د دې سبب شو چې شاته وګرځم او هغه مې خپل په څو قدمې کې ولېد لکه چې هغه د ډیر وخت څخه هلته ولاړ وو؟ عه یعنی زموږ خبری اوریدلې دې؟

اصیل- باران څه کوې؟ دې کار ته اړتیا نشته، خپل غاړه ګې په غاړه کړه، پاتې پیسې به زه ورکړم.

— نه دی ته اړتیا نشته زما تحفه ده زه یې پخپله پیسو اخلم.

اصیل- لیونی کیږه مه دا یوازینی نښه ده چی تاته له پخوا پاتي دی کولای شي پدی سر خپل کورنی پیدا کړې.

— دا خو زه څه د تل لپاره دلته نه پریږدم، د څو ورځو لپاره یوازی، هر کله چې پیسې مې پیدا کړل راځم او دا بیرته لځان سره وړم.

اصیل- که زما پیسی همداسی نه اخلې نو بیا سمده زه درته په قرض پیسی درکوم هر وخت چې دې پیسی پیدا کړل نو زما قرض بیا راکړه.

— زه همدا اوس هم ستاسو زیات د منت او احسان لاندی یم او ستاسو قرض دارې یم نور نشم کولای زیاد لدې ستاسو څخه قرض واخلم.

اصیل- اووووف جلی ته سومره ضدې یې..

ما خپل سر د ماشوم په څیر پورته کړو او و مې ویل: ځکه چې زه باران یم..

او خپل د خبرې وروسته مې وخندل خو د تل پر خلاف دا ځل اصیل زما په خبرو ونه خندل او زه د مغرور خان په راتلو پوهه شوم کتاب مې ژر تر ژره څپل شاته پټ کړو.

احرار د کتاب پلورنځي مدیر سره خدای په اماني وکړل او مورې ټول موټر طرف ته روان شو په ظاهر مې خندل خو په زړه کي مي یو لوې طوفان وه بد حس می درلود

په دې دومره کلونو کې دا لومړی ځل و چې زما غاړکۍ زما څخه لیرې شوې وه. دا زما د مور یوازینی نښه وه !!! په تول لاره کې موټر کي چوپتیا وه تقریبا نیم ساعت تېر شو، موټر د کور مخې ته ودرېد، ژر بهر شوم، خپلې کوټې ته لاړم، کتابونه او جامې مې په الماری کې کېښودې او پخلنځي ته ورغلم، له آمنې پرته بل څوک نه وو. پخلنځي کي ..

– سلام زما سلطانی.

– علیکم سلام زما شایسته لوری زه تاته خوارې راوړم، ته شاید وږی شوې اوسیږی سهار دی څه نه دی خوړلی.

دلته زما د استوګنې پر مهال، آمنیه او خاله آسیا دواړو د خپل ماشومانو په څېر زما ساتنه کوله؟ دوی زما د مور له وفاته وروسته زما پاملرنه وکړه دا لومړی ځل و چې چا د مور په توګه زما پاملرنه وکړه او دا احساس راته نا اشنا او په ورته وخت کې خوږ و. ما په خندا سره وویل:

– مورې ډوډۍ وخوړل، مننه، سلطانی.

آمنې په خواشینۍ سره وویل: زما لور، ته ناروغه یې، ته اړتیا لري چې ښه سمه تغذیه وکړې، مګر و ګوره، ته هیڅ خپل ساتنه نه کوي.

– اندیښنه مه کوه، زما امینی، زه بالکل ښه یم.

خاله آمنه اه وکاږل او بېرته خپل کار ته لاړه، زه له پخلنځي څخه ووتم او صالون ته لاړم چې ټول ناست وو. سلام می واچول واپس د تولو ځواب می واوریدو. د ایمان خواته روانه شوم او هلته کیناستم.

– کارونه خلاص شوه ؟

ایمان- هو پای ته ورسیده، یوازې د سالون سینګار پاتې دی، چې زه به یې د لالا له وتلو وروسته سینګار کړم.

خپل سره می د هو په شان وخوځول، خاله آسیه له مغرور خان څخه وغوښتل چې د هغې ترور پسې لاړشې او هغه راوړې او مغرور خان هم اطاعت امر وکړو د مغرور خان د تګ وروسته ټولو د صالون په سینګار کولو پیل وکړ صالون دیر غټ وو او د سینګار کار یې له یو ساعت وروسته پای ته ورسېده، د کار د خلاصولو وروست ټولو صالون ته وکتل دا واقعیا ښایسته وه.هرڅوک د صالون ستاینه کوله چې خاله آسیا ټولو ته خطاب وکړو او ویې ویل:

– ښه، تعریفونه بس دې ژر شې تاسو ټول چمتو شی چی میلمانه رارسیږي

ټول د سالون څخه ووتل ترڅو خپل ځانونه چمتو کړي. زه هم خپلې کوټې ته لاړم، خو ډېر کار مې نه درلود لومړی مې حمام وکړ او بیا مې هغه نوې جامې واغوستې چې نن مې مغرور خان زما لپاره اخیستې وې، د هیندار مخې ته مې خپل لنډ ویښتان ږمنځ کول چې په هنداره کې د انخور شوی انجلۍ څهرې زما فکر ځان طرف ته کړو. یوه نجلۍ چې تورې سترګې او متوسط بانه یې درلود په ټول مخ کې هیڅ ځانګړې ښکلا نه و، او

د هغې یوازینی جذابیت او زړه راښونکې څیز د هغه په مخ همغه یو دانه ډیمپل و او لوړ قد چې د ځینو هلکانو څخه لا قد مې جګ وو

نظر مې له ښیښې لرې کړ، خولۍ مې پر سر کېښوده او کتاب خوا ته ورغلم، باید چمتو یې کړم، زه څه وکړم زه خو نه پوهیږم چې دا څنګه چمتو کړم، هو، ایمان به خامخا مرسته وکړي، زه د معمول په څیر د ایمان د کوټې په لور روان شوم. د عادت په څیر دروازه می وټکول او انتظار وم چې جانب ایمان اجازه راکړئ.

ایمان- دننه راځه.

ورو ورو ننوتم، چې سترګې مې په ایمان باندې ښخې شوې. بې له شکه، چې ایمان ښکلی و، خو دا آسمانی رنګ جامو او خلاص ویښتیانو سره او هغه ښکلې سنګار سره

بیخی د ښکلا ملکه ورڅخه جوړه شوې وه یا هم په هغه مشهوره وینا بیخی بدله شوي وه. سم د پاچا لور او یوه شهزادګی ښکاریده.

ایمان زما د حیرت څخه د ډکو سترګو په لیدو وویل: باران څه شوي؟ ولې داسې راته ګورې؟

– انجلی ته......... ته ډیره ډیره ډیره ښایسته شوی یی..

ایمان په خوږه موسکا وویل: رښتیا وایی؟ زه د رښتیا ښکلې شو یم؟

– ښکلې څه ده؟ ته سم د فرښتو په څیر شوي یئ ماشالله نظره نشي.

ایمان په کراره خندا وویل: مننه ګرانی سترګې دې ښایستې دی.

– هغه خو خود دې مګر ته هم واقعا ښکلې شوي یې.

ایمان دا ځل یې په لوړ غږ وخندل او وویل: ته چمتو نه یی ؟

– زه چمتو یم وګوره؟

ایمان د څو شیبو لپاره بی حرکت زما خوا ته راوکتل او بیا یې وویل: ایا ته داسې راځې؟

– هو، کومه ستونزه ده؟

ایمان- نه، مګر....

– خو څه؟؟

ایمان- باران، زه یوه پوښتنه کولی شم؟

– هوممم مهربانې وپوښته.

ایمان- ه... هغه ... ته ولې د انجونو جامې نه اغوندي؟ او ستا ويښتان ولې د هلکانو په څير دي؟ ته ولې دومره د هلکانو په شان یې؟

نه پوهېدم څه ځواب ورکړم؟ زه باید دا ووایم چې کله زه د نهه کالوم، نو یو نفر زما د ويښتو او جامو ستاینه وکړه، مګر زما د تره د لور زینب د ويښتو او جامو ستاینه یې ونه کړه، او د دې له امله، د کاکا میرمن مې زما ويښتان په بشپړه توګه وخریل او هیڅکله یې پرینښودلم چې زه د انجونو جامې واغوندم! یا ووایم چې زما د تره لور د خوښۍ لپاره، ما د نجلۍ اوسیدو حق پرېښود. ما د جلی توب نه لاس واخیست ځکه چې هغې مور او پلار یې درلود مګر زه یتیم وم؟ زه خپل په تیرو یادونو کې چې د زهرو پشان وه ډوب وم، چې ایمان وویل: بخښنه غوارم، زما لیاده وتې وه ستا کوم شئ یاد ته نه راځې، باور وکړه باران زما مطلب دا نه و چې تا خفه کړم..

ما په نرمه موسکا وویل: نه کومه ستونزه نشته زه ستا له پوښتنې خفه نشوم.

ایمان-  بیا هم وبخښه.

– بس دی د اناګانو پشان خبرې مه کوه.

ایمان وخندل او ما هم ورسره کرار وخندله، چې کتاب  می یاد ته راغی او په تلوار مې وویل: دومره خبری کوی ، ما په بشپړه توګه هېر کړ چې زه د څه لپاره راغلی یم؟

ایمان په خندا وویل: د څه لپاره راغلی یې؟

– زه غوارم یوه ډالۍ چمتو کړم، مګر زه نه پوهیږم ته کولی شي زما سر مرسته وکړې؟

ایمان په حیرانتیا وویل:  تا زما ورور لپاره ډالی اخیستی؟

– نه ما د کوڅې سر  د دوکاندار لپاره ډالې اخیستې.

ایمان په خندا وویل: یعنی ته باید په هر خبرې کې یو څه ووایې؟

– نو دا هم پوښتنه شوه چې ته یې کوې؟ خو معلوم داره ده چې ستا لالا لپاره می تحفه اخیستی، پرته له هغه ایا د بل چا کلیزې هم ده؟

ایمان- ته هم رربښتیا وایی ، محترمي ، اوس ووایه څه دی اخیستی؟

– راشه خپل وګوره.

له ایمان سره یوځای خپل کوټې ته لاړم، الماری مې خلاصې کړه او کتاب مې د ایمان مخې ته کېښود.

ایمان- وایییی (دیوان شمس تبریزي)کتاب جلی دا دی له کوم ځای راوړی؟ دا ډیر نادره نسخه ده.

– میوه وخوره او د باغ په اړه پوښتنه مه کوه، ستا نظر څه دی چې هغه به دا خوښ کړي؟

ایمان- معلوم داره دی چی هغه یې خوښوي، ورور می له شعرونو سره بېحد مینه لري.

— نو دا خبرې پرېږده، دا راته ووایه چې څنګه دا چمتو کړم؟

ایمان څو ثانې په فکرمند انداز کتاب ته وکتل او بیا بهر لاړه، څو شیبې وروسته هغه له یوه تور بکس او سپین قوطې سره راستانه شوه.

— دا نو د څه لپاره دي؟

ایمان- صبر وکړه.

ایمان خپل د خبری سره سم هغه دواړه قوطیان په کټ کې کېښودل او خلاص یې کړل تور قوطې خالي و، خو په سپینه قوطې کې قیچی، سریښ او پلاستر او داسې نور شیان وو، ایمان کتاب یې د تور بخملې قوطې کې دننه کېښود او بیا یې ناڅاپه وویل:

ایمان- باران ستا کوم رنګ پلاسټر خوښېږي؟

پلسټرونه په سپین، سور، شین، زرغون او تور رنګونو کې د قوطي دننه شتون درلود، تور رنګ مې واخیست او ایمان ته مې مخه کړه او ومې ویل: دا

ایمان- ولې تور د دې ټولو رنګونو ترمنځ؟

ایمان عجیبه بوښتن  وکړه ولې تور؟ شاید ځکه چې تور زما د بخت رنګ و!!!

— اممم ښه، ځکه چې زه تور رنګ خوښوم، مګر ته کولی شئ بل رنګ انتخاب کړې.

ایمان- نه، دا ستا ډالۍ ده، نو ته یې باید خوښ کړې.

ایمان قوطې یی په تور پلاسټر سینګار کړ د رښتیا هم ډېره ماهر وه، هغې قوطي زما خوا ته ونیو او ویې ویل: څنګه شوو ؟

— ښایسته شوو ایمان ته په دی کارو سومره ښه پوهیږی ولا آفرین دی.

ایمان په خندا وویل: مننه... مننه.

مخکې له دې چې زه ځواب ورکړم، دروازه خلاصه شوه او ګیسو دننه راغله.

ګیسو- خاله آسیه ییل چې ښکته راشې.

ایمان- باران ولاړسو؟

— هو، راځئ چې لاړ شو.

موږ درې واړه ښکته لاړو او ما دهغه دومره زیات خلکو په لېدو یو دم هک حیرانه شوم، اوه خدایه دا اوس د کلیزې ورځ ده او که د واده؟؟؟

د بیرته راستنیدو لاره نه وه، ناچار  له ایمان سره روانه شوم، زمورِ په لېدو خاله آسیه مورِ ته اشاره وکړه، او مورِ دواړه هم د هغې په لور روان شو، له هغې سره یو ځای مورِ ټولو میلمنو ته جلا، جلا ښه راغلاست ووایه، ټولو ما ته په ډېره عجیبه نظر راکتل او د هغوې د نظرونو څخه ما ښه احساس نه کاوه، دا ریښتیا ده چې زه یو شوخ شخصیت لرم، مگر دا یوازې زما د نږدې کسانو لپاره و،او برعکس، زه د خلکو په مخ کې ډېر آرام او خاموشه وم او هیچا باور نکېده چې زه دې هغه شوخه آیت اوسیږم.

ټول لگیا وه او خبرې کولې په محفل کې ډېرې انجونې وې،،هره یوه یې تر بلې ښکلې وه، خو په دې ترڅ کې یوه نجلۍ د ډېرو ستورو په منځ کې د سپوږمۍ په څېر ځلېدلې وه. دا انجلۍ دومره ښکلې وه چې ما ورڅخه نظر نشو اخیستې یې. شنې سترگې، تور ویښتان، کوچنۍ، د قلم په څیر پوزه، گرد مخ، اوږد قد او  سپین مخی وو!! ما ایمان ته کرار وویل: ایمان دا نجلۍ څوک دی؟

ایمان- کومه نجلۍ؟

– هغه څوک چې سور جامې یې اغوستي او یو اوږد هلک یې څنگ ته ولاړ دی.

زما د سترگو د نظر  په تعقیب ایمان هغه خوا ته وکتل او ویې ویل: آه، هغه حریر  ده ، د کاکا لور می ده.

– رښتیا؟ ایا ته کاکا هم لری؟

ایمان- هغه زما رښتینی کاکا نه دی، مطلب هغه زما د پلار دومره صمیمی دوست دې چې مورِ ورته کاکا وایو. ما خپل سر وخوځاوه چې اسیه خاله زمورِ خوا ته نږدې راغله.

آسیه خاله- انجونو، ژر شې، څراغونه بند کړئ هغوی اوس را رسیږي.

خاله آسیه، کاکا حمید اسد، اصیل او ایمان ټول دروازې ته نږدې شول گیسو او ما څراغونه بند کړل او ټول خاموش شول څو شېبې وروسته دروازه خلاصه شوه همدا چې دروازه خلاصه شوه ، گیسو او ما څراغونه روښانه کړل او کلیزه دی مبارک سندره ټول د سالون فضا ونیول، مغرور خان ټولو ته په حیرانتیا سره کتل چې خاله په مسکا سره هغه ته نږدې شوه او مغرور خان یې په غیږ کې ونیو او ورته ویې ویل: اته ویشت کاله وړاندې په همدې ورځ ما ستا کوچنې بدن په غیږ کې ونېو مگر نن زما کوچنی زوی د ځان لپاره نر شوی دی.کلیزه دی مبارک شه د مور یو دانه.

مغرور خان په خندا د خاله آسیه لاسونه ښکل کړل.

کاکا حمید هم په خندا وویل: هو، او له هماغه وخته، چې تا خپل ماشومان ولیدل نو زه دی هېر کړم.

تولو د کاکا حمید په خبره وخندل، کاکا حمید، اصیل اسد و ایمان تولو مبارکي ورکړل او احرار یې په غیږه کی ونیو احرار د جامو د بدلولو لپاره پورته خپل کوټې ته ولاړې.

ټول نفران د یوه کورنۍ په ښه راغلاست کې بوخت وو، چې ظاهراً د مغرور خان  د عمه کورنۍ وه او هغه ښکلې نجلۍ هم له خپلې کورنۍ سره ناسته وه. خاله زما خوا ته اشاره وکړل او زه په ورو گامونو سره د هغوی خوا ته لاړم، او بیا ټولو ما ته په عجیب نظر را وکتل.

– راشه زما لوري .

زه د کاکا حمید خوا ته ورغلم، چې د کاکا حمید مخامخ هغه سړې وویل: حمید خان  معرفي کولای شي؟

کاکا حمید- احمد جان باران لور په اړه مې تاته ویلی وه کنه.

– اووو نو تاسو باران یاست؟ تا څه کړی چې ستا نوم د حمید له ژبې نه لرې کیږي؟

ما په نرمه موسکا وویل: دا د دوی مهرباني ده.

کاکا حمید د تل په څېر په مهربانۍ وخندل او خاله آسیه د نورو په معرفي کولو پیل وکړو: لورې دا حسیبه جان، د اصیل جان عمه ده مروه جان، د حسیبه جان لور، شکیب او مسیح جان هم د دوی زامن دي او احمد خان هم د حسیبه جانې خاوند دی.

– ستا په لیدو خوشحاله شوم.

ټولو راته وخندل او په بدل کې یې خوښي څرګنده کړه خاله حسیبه او کاکا احمد لکه د خاله آسیه او کاکا حمید په څېر مهربانه خلک وو، لکه څنګه چې په دې کورنۍ کې ښکلا ارثې ده همداسې لکه چې مهربانۍ هم په میراث پاتې وې، مروه ډېره خوږه نجلۍ وه او شکېب او مسیح راته ښه هلکان ښکارېدل. دا ځل خاله د هغه ښکلې نجلۍ کورنۍ معرفي کړه او ویې ویل: عثمان د حمید جان د ډېر نږدې ملګري ورور دی، سعدیه جانه یې میرمنه دا زوی ساحل جان ده او دا ښکلې نجلۍ حریر جان د دوی لور ده.

د عثمان په نوم د هغه سړي څهره راته ډېر آشنا و، لکه چې دا سړی مې چیرته لیدلی وي؟خو چیرته؟ آه، زما په یاد راغله دا هماغه سړی دی چې ما په کلینیک کې ولید هغوی خوا ته مې وکتل او ومې ویل: خوشحاله شوم.

ټولو راته په مهربانۍ ځواب راکړو، ما دا ډله یوازې پریښوده او یو آرامه کونج ته لاړم چې ټول یو له بل سره په خبرو بوخت وو چې ما داسې احساس وکړو چې یو څوک زما سر ته ولاړ دی.

– پخوا به ناروغان په کټ کې ناست وو، خو اوس په محفل کی دی؟

په دیر حیرانتیا سر می پورته کی چې مدثر مې خپل مخامخ ولید دا د احرار تر ټولو نږدې ملګری و،څکه چې ډېر ښه هلک و، هر څوک ورسره راحته وو او د نا امنې احساس نه کو. ما په خندا سره وویل: سلام ډاکټر صاحب، ښه یاست؟

مدثر- مننه، زمونږ ناروغ څنګه ده؟

– سلامت وسی اوس دیره ښه یم.

مدثر- نو ولې دلته یوازې ناسته یې؟

– ریښتیا ووایم، زما نه خوښېږي چې په ګڼه ګوڼه کې واوسم.

مدثر خپل سر وښوراوه او د څو شیبو له خبرو وروسته لاړ.

حریر ته متوجه شوم چی د ایمان سره نڅا پیل کړه او ټولو ورته کتل بې له شک دوی په زړه پورې نڅا کوله، مګر دا د دوی ښکلا وه چې پام یې ځانته اړولی وو نه نڅا

مغرور خان راغی او ټول یو د بل پسې مغروخان ته ورغلل او سترې مشې ورسره وکړل زما سترګې پ حریر ولګیدې هغه دومره د احرار په تماشا کې ډوبه شوې وه داسې ښکاریده لکه وخت چې ولاړ وي او له دې دوارو څخه هیڅ یو وجود نه لري.

شاوخوا یو ساعت تېر شو چې نرمه موسیقي وغږول شوه، او ټولو جوړه یی په نڅا پیل وکړ، خاله آسیه د کاکاحمید سره، کاکا احمد د خاله حسیبه سره اسد له مروه ایمان له شکیب؛ اصیل ساحل؛مدثر او مسیح له ځینو نجونو سره چې زه یې نه پېژنم،له ډېرو نورو سره. جوړه نڅا کوي خو حریر نڅا نه کول او احرار ته یې کتل

د احرار سره د حریر د میني اټکل کول اوس ستونزمن کار نه و؛هر لیدونکی د حریر او احرار په لیدلو سره په اسانۍ پوهیدلی شول خو احرار ولې حریر ته پام نه کوي؟

هغه شپه ولې د حریر د نوم په اخیستو هغه ځای پریخود؟ ولې یې نن شپه هغه لاسونه یی شاته ووهل ؟ ولې حریر ته پام نه کوي؟ ایا دا ممکنه ده چې دا ټول ښکلا ووینئ او بې پروا شئ؟؟؟؟ عجیب دی؟ خو مغرور خان یو ځل هم ورته ونه کتل

مغرور، په ځان مطمین سړی یوازې پوهیږي چې څنګه ستا زړه مات کړي، د پاچا لور ورته ګورې و دې ورته تندي تروش کوی؟ بی لیاقت..

مسیح د حریر خوا ته ورغی لاس یې ورته ونیوه او له ځان سره یې د ګډا میدان ته یوړه ټول ښه نخیدل مګر حریر, ایمان , اصیل , او مسیح له ټولو ښه د لید په حالت کې مې ناڅاپه سترګې په اسد لالا ولږیدلی چې یو ګوښه کې لکه ما ولاړ وو , او دې یوې جنۍ په کتو کې ورک وو جنۍ وړه تنه او زړه راښکوونکې څهره درلودل په موسکا کرار اسد لالا ته نږدې ورغلم او لاس مې د هغه د سترګو مخکې وښوروه. اسد لالا په ورخطایي خپلې سترګې له جنۍ نه لرې او په ما وګنډلې , ستونی مې صاف کړو او په شیطنت مې وویل: اسد خان چیرته ډوب یې؟

اسد لالا په ورخطایی وویل: هیڅ ځای چیرته ډوب اوسم ؟

– نپوهېږم ولا صبر وګورم •••••••• هلته ( په سترګو مې د جنۍ په لورې اشاره وکړه) سیند هم نه دی نو بیا ولې ډوب شوی وې ? اها پوهه شوم د ورېندار په لیدو کې ډوب وې !

اسد- څه •••••• هغه •••••••• زه... څنګه چې ته فکر کوی هسې خبره نده.

د اسد لالا د دې حالت په لیدو په لوړ غږ مې وخندل، واقعا څهره یې د لیدو وړ شوی وه.

اسد په خندا وویل:چپ ورکېږه.

د ریشخند په طریقه کې مې ورته خبرې تکرار کړل او ومې ویل: هغه .... څنګه .... چې ته فکر کوی هسې نه دی ) نو څنګه دی ها ماته دې ماشومه فکر کړی؟

اسد څه و نه ویل مګر ډېر ورخطا شوی وو داسې چې د راز د څرګندیدو نه یې ویره په زړه لرله , شاید فکر یې کوو چې نور به یې راز یو راز پاتې نشي !

– مګر وریندارہ ډېره ښکلې ده !

اسد- ریښتیا ؟

– هو ! نوم یې څه دی ؟

اسد- مینه.

– وایییي وایییيي مینه یعنې محبت سمه ده ! ښه نو هغه هم تاسره مینه لري ?

اسد له شرم نه ډک سر ښکته کړ او په موسکا چې د پټولو هڅه یې ورته کوله وویل : له حده زیاد !

په خندا مې وویل: توبه ته اوس جنۍ یې چې داسې شرمېږې؟

د اسد موسکا ډېره شوه چې ما بیا وویل: هو پټ مضره ولې دې تر اوسه مونږ ته دا خبره نه وه کړې؟

اسد- کیسه یې لویه ده.

– ښه نو یوه ورځ یې باید راته ووایې.

اسد- حتما.

د خبرو په حال کې وو خو د اصیل غږ زمونږ خبرو ته د پاې ټکي کیږدو.

اصیل- تاسو دواړه دلته یاست زه یو ساعت کېږي تاسو لټوم.

– ولې څه شوي؟

اصیل- د ډوډۍ خوړولو وخت دی.

شاخوا مې وکتل نڅا پای ته رسیدلی وه او ټول د میز خوا ته راټول شوې وه، او ډوډۍ هم راوړل شوی وه.

اصیل- راځئ نو ټول تاسو ته په تمه دي.

– سمده درځې چې لاړشو.

درې واړه د هغه میز په لور چې حمید تره، عمه او د عثمان تره کورنۍ شتون درلود لاړو حمید تره زمونږ په لیدو وویل: راځئ اولادونو ډوډۍ سړېږي.

غوښتل مې ډوډۍ خوړولو باندې پیل وکړم چې اسد د کیناستو په حال کې سر یې زما غوږ ته نږدې راوړو او داسې چې یوازې زه یې واورم راته ویې ویل: هغه موضوع زمونږ تر منځ پاتې کېږي کنه؟

د هغه په رقم مې ورته کرار وویل: بیغم اوسه ښه راز ساتونکې یم.

اسد موسکا وکړه او ما هم د هغه جواب په مسکا سره ورکړو. په ډوډۍ خوړلو مې پیل وکړو چې د مغرور خان غږ زما پام ځانته واړوه.

مغرور خان- یوه وچه کلک تبریکي دې هم نشو راکولی؟

ای خدایه بیا څه شوي? دا بیا ولې دومره غصه دی؟

– ترور لکه چې ته په قار نړۍ ته راوړې یې څنګه ? حداقل د کلیزې په ورځ دې هغه د ټنډې ګونځې خلاصې کړه باور وکړه نه قرضداره کېږئ !

مغرور خان- په تا اړه نه لري.

– ریښتیا وایي همداسې اوسه په ما یې څه؟؟

بیرته په ډوډۍ خوړلو بوخته شوم البته په ښکاره مګر په واقعیت ډوډۍ سره مې لوبې کولې ځکه هیڅ ارامتیا حس مې نه درلود. ډوډۍ خلاصه شوه او کیک راوړل شو ټول له مغرور خان نه چار چاپیر شول , او زه بیا هم په غلی د تالار یو نه لېدونکې ترینه نقطې ته لاړم او له لرې د دوی په لیدو بوخته شوم. کیک ټوټه شو او ټولو لاسونه وپړکول، مغرور خان یوه وړوکې ټوټه د کیک څخه جلا کړه اول ترور بیا تره ته , اسد , اصیل او ایمان ته ورکړه مګر خپله یې ونخوړل. ټولو په تبریکي او ډالۍ ورکولو پیل وکړ•

پورته لاړم له هغه ډالۍ سره چې ایمان راته جوړه کړی وه بیرته راغلم , غوښتل مې مغرور خان ته تبریکي ورکړم مګر په رسیدلو مې پیښمانه شوم. ټولې ډیرې لوړ بیه او با ارزښته ډالۍ وې , مګر مغرور خان پرته له وړوکې پاملرنې ټولې په میز ایښودلی•حریر مغرور خان ته نږدې ورغله او ویې ویل: کلیزه دې مبارک شه هیله لرم ټولو هیلو ته دې ورسېږې.

مغرور خان پرته له دې چې حتی یو ځل ورته وګوري فقط سر یې ورته وښوروه، حریر یو قوطی چې په نظر رسیدو چې لاسي ساعت وي ورته ورکړ.

خو مغرور خان بغیر لدې چې ورته ولا ګورې ولې په بې پروایي یوې خوا ته کېښود. وروسته له حریر نه مدثر احرار ته نږدې ورغی او په غېږ کې ونیوه په همدې رقم ټولو یو بل پسې تبریکي ورکوله.

د پاتې کسانو په لیدو بوخته وم چې د اصیل غږ زه مخاطبه کړم.

اصیل- سویې ( خرګوش) ولې دلته ولاړه یې؟ ته نغواړې تبریکي ورکړې؟

– ولې نه خو اوس بیروبار دی وروسته ورته تبریکي ورکوم.

په اصل کې د دې ډالۍ له ورکولو شرمیدم ځکه ټولو لوړ بیه ډالۍ راوړې وې، خو زما ډالۍ چندان ارزښت نه درلود.

اصیل- نه ژر شه چې همدا اوس ځو.

– ته څه زه درځم.

اصیل- ولې څه شوي ? چا څه ویلي؟؟

– نه.

اصیل- نو بیا ولې د نه راتګ لپاره بهانې کوی؟

– وروسته چې څوګ نه وو ډالۍ یې ورکوم.

اصیل- ولې؟

– هغه ..... داسې ده .... چې .... رښتیا....

اصیل- رښتیا څه؟

– ګوره د نورو ډالۍ ډېرې با ارزښته دي، خوزما ډالۍ هیڅ ارزښت نلري.

اصیل په تروش تندي د کالو له لستوڼي ونېولم او زه یې له ځان سره د مغرور خان خوا ته یوړم.

– اصیل....

اصیل پرته له دې چې ځواب راکړي زه یې ځان پسې کش کولم، له رسیدو سره سم یې وویل: لالا یو څوګ غواړي تبریکي درکړي.

د اصیل په غږ په سالون کې حاضر ټول کسانو زما خوا ته راوکتل.

ایییییی اصیل وایم د ځان په خیر لیونۍ ښځه دې نصیب شه، زیږ مېړتونه عزت دې راته یوړو..

د شرم څخه په ډک انداز مغرور خان خواته ورغلم او په کراره غږ مې وویل: کلیزه دې مبارک شه.

مغرور خان په څېر راوکتل او په نرمه مسکا یې وویل: مننه.

د تیښتې فکر مې په سر لرو چې مخکې له عملي کولو یې بیا هم زیږ مېړتون لاس په کار شو او ویې ویل: باران هغه ډالۍ چې دې د لالا لپاره اخیستې وه ورکړه.

ژر مې د اصیل خوا ته وکتل او په سترګو سترګو کې مې ورته کنځل کول چې دا ځل مغرور خان وویل: زما ډالۍ چیرته ده؟

په بېحد شرم سره مې قوطي د مغرور خان خوا ته ونیوه، غوښتل مې چې لاړه شم چې مغرور خان وویل: امممم صبر وګورم چې څه دې اخیستي.

د نورو ډالیو پرخلاف چې یو نظر به یې لا ورته نه کاوهزما د ډالي په خلاصولو بوخت شو. واییییي نه ولې یې خلاصه کړه؟ کاش نه یې واې خلاصه کړې افففففف !ټولو په ډیر حیرت سره کتل،مغرور خان قوطي خلاصه کړه

او کتاب یې ترینه را بهر کړو.

په مسکا او په حیرت باندې کتاب ته ځیر شو او ویې ویل: دا.... دا تا له کوم ځایه پیدا کړو؟دا ډیر نادره ( کم پیدا) نسخه د دې کتاب ده. ډیر وخت کیدو چې په لټه کې وم.

– یعنې خوښ دې شو؟

د پخوا پر خلاف نور د شرم کوم څه نه وو او ډیره خوښه وم , پر ځان باور مې لوړ لاړو او دروغ نه پرته د غرور حس وو چې ټول وجود یې راته ونیوه. اخر دومره ډالیو په منځ کې زما ډالۍ خوښه شوه، بیا مې پوښتنه وکړه ترڅو ډاډمن شم چې د رښتیا د هغه زما ډالې خوښه شوې او کنه؟

– خوښه دې شوه؟

مغرور خان په هماغه زړه وړونکې نظر وویل: ښه ترینه تحفه وه چې نن شپه مې واخیسته.

نور مې احساس له خوښۍ هم اوښتی وو، په بې حده شوق او ذوق مې وویل: رښتیا وایې؟

مغرور خان د هو په معنا سر وښوروه،له ډلۍ لرې شوم او اصیل سره ودریدم او په خبرو بوخته شوم چې روسته له څو دقیقو مغرور خان هم زموږ له ډلۍ سره یو ځای شو؟ سترګې مې په حریر ولړېدې په دوزخي نظر ماته ځیر وه.

ارامه مې وویل: دا جنۍ ولې داسې راګوري؟

مغرور خان- څرنګه؟

– داسې لکه ما یې چې میراث اخیستی وې!

مغرور خان په لوړ غږ وخندل او په داسې حال کې چې تر اوسه هم په غږ کې د خندا څپې وو وویل: شاید اخیستي دې وي او خپله نپوهېږې؟

– ولې چټیاټ وایې؟ څه مې ترې اخیستي؟

مغرور خان خپلې اوږې یې پورته واچولې او زه هم غلی شوم.

اصیل- لالا لاړ شو هلته؟

اصیل هغه میز ته چې حمید تره او نور ناست ول اشاره یې وکړه، مغرور خان هم د سر په ښورولو سره ودریدو او درې واړو د میز په لورې په حرکت شو. اصیل د حمید تره په څنګ کې ځای خوښ کړ زه او مغرور خان هم د اصیل تر څنګ کیناستو چې حریر وویل: اصیل جانه لکه چې دلته د راتلوو زړه دې نه وو؟

اصیل- ولا د ملګرو کیسې خوږې وي حریر جانې. بیا که زه او باران حضور ولرو له خوږو نه هم پورته کېږي همداسې نه ده؟

ټول په خندا پیل کړه، په رښتیا هم په دې دومره وخت کې له اصیل سره ډېره نږدې شوې وم.

ایمان وویل: ولا همداسې ده اوس نور ټولو د دواړو له ټوکو سره عادت کړی , داسې چې که یو ورځ نه وي کور بې رڼا کېږي او چوپتیا ته ځي.

حریر- ایمان جانې ښه به وې چې عادت ونکړئ ځکه باران خو داسې نه ده چې تل به ستاسو سره وي، په همدې نږدیو کې ځي هغه وخت بیا غمجنه کېږئ..

ولې مې دې برخې ته هیڅ فکر نه وو کړی ? حریر ریښتیا ویل زه باید لاړه شم! داسې لکه چې تریخ حقیقت مې تر لاسه کړی وي چې وجود مې له غمه ډک شو •

مغرور خان په تروش تندي وویل: چا داسې دروغ تاسو ته ویلې چې باران لدې ځایه ځې؟

حریر- امممم ښه مګم دا نه ده چې ځي ? کله چې چې هر څه یې یاد ته راشي او کورنۍ یې پیدا شې نو باران جانه لدې ځایه خپل د کورنې سره ځې، مګر غیر له دې کېږي؟؟

تر څو مغرور خان غوښتل څه ووایي اسد لالا وویل: هر څه چې هم پیښ شي باران تر اخره د دې کور لور ده او دې کور دروازې د تل لپاره ورته خلاصې دي.د تیر وخت په یاد راوړل یې هم د هیڅ څه د بدلون سبب نشي کیدلی مګر د دوه کورونو او دوه کورنیو خیښتنه کیدل او څه ښه تر دې نور؟ هغه هیڅکله لدې ځاېه نه ځې ځکه انسان هېڅکله خپل کور نه خوشې کوي.

او بیا یې مخ ماته کړو او وویل: همداسې نه ده باران؟

سر مې وښوروه او د دې کورنۍ له ډېرې مهربانۍ نه مې یوه لویه مسکا په شونډو راغله...

دا خبرې لکه د ژوند اوبو پشان زما په رګونو کې تزریق شول، ایا زه نباید د دې ژوند ښووونکې خبرو او کورنۍ څخه خوشحال شم؟ داسې کورنۍ چې زه په 9 کلنۍ کې ترې بې برخې شوې وم .لومړې ځل وو چې داسې احساس مې درلود چې زه هم کورنۍ لرم او داسې سوک شته چې زما حمایت وکړې او زما خوا ونیسې او بیحد ښه احساس مې درلود.

وروسته له څو دقیقو چوپتیا نه احمد تره مخ حمید تره ته واړوه او ویې ویل : حمید خان دې کور ته د اینګور د راوړلو پریکړه نلرئ ?

حمید تره- په اتفاق سره موږ هم د اینګور (ناوی) په لټه کې یو احمد خانه د پیدا کولو سره یې سم وخت ته نه معطل کېږم..

احمد تره- حمید خانه څلور خوا مو د فرښته لرونکي مخونو انجونو نه ډک دی ته دې څه په لټه کې یې ?

حمید- د حق خبره خو او مو نلري احمد خان خو هیڅوګ زموږ د شهزاده اسد د خوښې وړ نه ګرځي.

اسد له شرمه ډک نظر ځمکې په مخ ګنډلی وو ههههههههههههه داسې شرمیدو لکه چې جنۍ وي او مرکه ( خواستګار) ورته راغلی وي •

احمد تره- اها داسې ده نو هر څه چې خير وي.

اصيل وويل: پلاره نه کېږي لست سرچپه (برعکس) کړو ? دا دواړه چې د واده پريکړه نلري د دوې په منځ کې زه ناحقه بوډا کېږم •

حميد تره- ښه نو زويه قسمت همدا وو چې ته ناحقه بوډا شی له قسمت سره خو جنګ نه کېږي کېږي ?

ټولو د کاکا حميد په خبرې په خندا شول. شپه په کيسو او خندا پای ته ورسيده ميلمانه د ترور او تره د کورنيو په شمول لاړل. ټول د خپلو کوټو په لور روان شول.

شپه سهار شوه او لمر راوخووت مګر ما ونشو کولای چې سترګه پټه کړم.ذهن کی می د حرير خبری وی(باران چی نه کيږی د تل لپاره دلته ووسی؟ په همدی نږدېو کی به ځی) هغې رښتيا ويل زه بايد تللی وای. په خپلو فکرونو کې غرقه وم چې د سهار اذان زه د راز او نياز لپاره راپورته کړم. پورته شوم اودس او لمونځ می وکړ او د وخت او ځای په نظر نه نيولو سره می راز او نياز شروع کړ.سر تر پښو په آرامتيا کی وم او همداسی خوب وړی وم. دری ورځی تيری شوی وی. او نن زما زخم نه پټی لری کوی يعنی ويلی شم چی په پوره توګه ښه شوی وم.د ور غږ پورته شو.

— راځه.

ور خلاصه شوه او د مغرور خان قد د ور په چوکاټ کې ښکاره شوه.

مغرور خان- لاړ شو.

— هو دوه دقيقې صبر.

مغرور خان- سمده په تمه يم.

مغرور خان لاړه او زه د الماری په لور لاړم.

خپل بکس چی له پخوا مې خپل ټول کالی پکی ځای په ځای کړی ول راواخيسته او ښکته منزل ته لاړم.د ننوتلو سره سم می ټولو ته سلام او او مخ په احرار می وويل:  زه تياره يم تللی شو.

حميد تره د بکس په ليدو راته وويل: لوری دا بکس د څه لپاره دې؟

— کاکا جان زه نور ځم که کولای شی نو حق مو راته وبخښې دا څو وخته راسره په زحمت شوی.

اصيل وويل: باران څه شوی چا درته څه ويلی؟

— نه نو ميلمستيا هم يو حد لری اوس نو ښه شوی يم نو ځکه بايد لاړه شم.

مغرور خان ډېر په جديت زما په لور راغی او بکس يی رانه واخيسته. او ويې ويل: هيڅ ځای ته نه ځی دا چټيات هم پاې ته ورسوه .

— احرارررررررر.

هغه په تيز راوکتل چې ما کرار ورته وويل: تاسو کله چی ما مرستی ته اړتيا لرله تاسو راسره مرسته وکړه پناه مو راکړه زه مو احسان منده یم مګر نه کيږی چی د ميلمه په نوم دلته د تل لپاره پاتې شم درک می کړه.

د لالا اسد وار وه.

اسد- ولې نه کيږی ستونزه څه ده؟

ايمان په خفګان دوام ورکړ: باران څه کيږی مه ځه ما ډير تاسره عادت کړی.

اسيه ترور وويل: ستا په تګ دا کور بی نوره کيږی.

او يوه څاڅکې اوښکه يی په ځمکه وغورځيده.

آه خدايا آه مرسته راسره وکړه. د آسيه ترور په لور چی په کوچ کې ناسته وه ورغلم.

مخامخ ورته کيناستم او په خپلو لاسونو باندې می د هغی اوښکی پاکی کړی او لاسونه می ورته ښکل کړل.

— ترور جانی تاسو په دې دومره وخت کی ماته مور توب کړی دی او زه ستاسو مننديه يم تګ زما لپاره هم سخته ده مګر يوه ورځ خو بايد لاړه شم کنه؟

آسيه ترور هيڅ ونه ويل او زما سر يی په خپل ځنګون کيښوده او شروع يی وکړه ماته په ناز راکولو. ځان سره می وويل يو انسان به تر کوم حده مهربانه کيدلی شی ګواکی آسيه ترور يو فرښته د خداې ووسېږې او موږ نپوهيږو.

احرار وويل: چيرته ځی؟ مګر ته کوم ځای د تګ لپاره لری؟

هيڅ ځای می نه درلوده مګم دلته هم نشوم پاتې کېدلی.

— الله لوی دی زه يوه لاره پيدا کوم.

احرار په غوسې لاس خپلو ويښتو ته ويوړه.

حميد تره چی تر اوسه چپ وه وی ويل: پريږدی چی لاړه شی.

اصيل وويل: يعنی څه پلاره؟

حميد کاکا- يعنی دا چی اوس د ميلمه په توګه ښه حس نلری نو پريږدی چی لاړه شی مګم هغه وخت چی ځان ته د کار کولو او اوسيدو ځای پيدا کړی، خو تر هغه وخت دلته پاتې شه.

مخ په حميد تره می وويل: نه کيږی کاکا جانه.

حميد کاکا- کيږی لوری هر کله چې د اوسيدو ځای دی پيدا کړ تللی شی داسی موږ هم نه انديښمن کيږو.

رښتيا چيری به تللم بد وړانديز نه وه نو په نه زړه مې ومنله.

– سمده کاکا جانه مگر کله چې کار می پیدا کړو ځمه.

حمید تره د سترګو په پېتولو زما خبره تایید کړه.

ایمان وویل: نو پاتی کیږی کنه؟

د سر په ښورولو سره سم ایمان راباندی حمله وکړه او په غیږ کی یی ونیولم.

– هی نجلی حیا وکړه خوشی می کړه.

ټولو وخندل

ایمان په خندا وویل: لکه چی ته هلک یی چی داسی وایی؟

– نه مګم زما دا کارونه نه خوښیږی خوشی می کړه.

ایمان په خندا وویل: په سترګو جنابه.

دوه اونی تیری شوی مګم ما ځان ته کار پیدا کولی ونشو ځکه چندان زدکړې می نه درلودلي او د کورنی هېڅ غړې هم راسره مرسته نه کوله ځکه پوهیدل د کار پیدا کولو سره سم له دې ځایه ځم په فکرونو کی غرقه وم چی د کاکا حمید غږ می تر غوږو شو.

حمید کاکا- سمیع کله راځی زه باید زر لاړ شم؟

– نپوهیږم خان صاحب مګم فکر نکوم وخته راشی !

د غږونه په لور لاړم چی ومی کتل تره می په غوصی ولاړ دی او نور هم اندیښمن دي. ځان می ایمان ته ورسوه او ومې پوښتل:

– څه شوی؟

ایمان- پلار می یو اړین کار لری باید لاړ شی مګم سمیع تره نشته فابریکې ته تللی..

د کاکا حمید سترګو ستونزه درلودله ډرایوری یی نشوه کولای.

– ښه نو ولی له اصیل سره نه ځی؟

ایمان _ اصیل له خپلو ملګرو سره دباندې تللی تر څو راځی ناوخته به وی.

د کاکا حمید غږ پورته شو

– اسیه نو زه په تاکسی کی ځم

مخ په کاکا حمید می وویل: کاکا جانه که غوښتی مو وی زه مو بیایم؟

کاکا حمید- ته ډرایوری کولای شی؟

– هو کولای یی شم.

ټول حیران شوی ول

ـ نه لور جانی خپله په تاکسی کې ځم.

اسیه ترور وویل : پرېږده چی ودې رسوی ناوخته کیږی دربانډی

کاکا حمید په نه زړه ومنله

ـ نو راځه چی لاړ شو

د موټر په لور لاړم او د موټر چلونکی پر ځای کیناستم حمید تره می هم ترڅنګ کیناست

ـ لوری بیړه وکړه نیم ساعت وخت لرو.

ـ سمده کاکا جانه چیرته ځو؟

ـ ته حرکت وکړه زه درته لاره ښایم.

بی له کومی خبری مو حرکت وکړ او وروسته له 20 دقیقو د یو لوی ور ترڅنګ ودریدو.

کاکا حمید مخکی له ښکته کیدلو راته وویل.

ـ لورجانې ته همدلته ووسه زه ژر بیرته راځم

حمید تره لاړه او یو نیم ساعت وروسته بیرته راغی او د کور په لور مو حرکت وکړ

ـ باران!

ـ بلی کاکاجانه

ـ تا موټر چلول له کوم ځایه زده کړی؟

لږ می زده وه ډېر نه، مګم کله چی لالا اسد ایمان ته ورزده کاوه ما هم زده کړ.

ـ افرین ډیر ښه دی زده کړی.

ـ مننه کاکا جانه

ـ زه هم باید د یو موټروان په لټه کی ووسم ځکه هلکان خو بوخت دی او سمیع هم ډیر وخت فابریکې کی وی.

ـ کاکا جانه زه تل په کور یم هر ځای ته چې وغواړی ورلی مو شم.

ـ مننه لور جانی مګم تا نه په زحمت کوم.

ـ د څه زحمت کاکا جانه.

کاکا حمید وروسته له څو شیبو وویل

ـ نو په یو شرط یی منم!

ـ څه شرط؟

ـ د موټروان معاش ومنه!

ـ تاسو څه وایی کاکا جانه شونی نده.

ـ شونی ده، شونی ده که ته یی ونه منی نو زه یی هم نه منم او په دی عمر باید د موټروان په لټه کې ووسم.

ـ کاک.............

ـ ګرانی لورجانی ترڅو چی یو کار پیدا کوی همدا کار وکړه چی بیا یو غوره کار دی پیدا کړو لاره شه! خلاص نور زما په خبره کی خبره مه کوه.

ژوره ساه می واخیسته

ـ سمده کاکا جانه

کاکامی یوه ښکلی مسکا راته ډالی کړه

خبره پر دی شوه چی زه د کاکا حمید موټروانی وکړم ځکه سترګو یی ستونزه لرله او موټروانی ورته خطر درلوده زما ظاهر د هلکانو په څېر وه او زه لا تر اوسه د اتلسو کالو هم نه وم شوی مګم څوک زما د سن په پیدا کولو قادر نه ول ځکه په ونه او جسم کی د اتلسو کلونو نه هم ډېره ښکاریدم نو ځکه هېڅ ستونزه د جواز په اخیستلو کې راته پیدا نشوه.

معاینات هم مکمل شول او د ډاکټر په خبره هیڅ ستونزه می نه لرله.

یوه میاشت تیره شوه او نن ما خپل لومړی د زحمتونو پایله ترلاسه کړه

ډیره زیاته خوشحاله وم مګم د خوشحالی ډیره برخه مې د غاړې کی لپاره وه.

پخلنځي ته لاړم او مخ په امینه ترور می وویل

ـ ترور جانی زه دباندې ځم څه ته اړتیا نلری؟

ـ چیری ځی لورجانی؟

ـ لږ کار لرم ژر بيرته راځم.

ـ سمده ناوخته نه کړی

ـ په سترګو.

له کور نه د کتاب پلورنځی په نيت ووتلم

دومره غاړکې ته د رسيدو په خوشحالی کی غرقه وم چی پوه نشوم کله کتاب پلورنځی ته ورسيدم او د هغه هلکی د پيدا کولو په لټه کې شوم.

د معلوماتو څانګې ته لاړم

ـ سلام کولای شی ددی ځای مسؤول ته غږ وکړی؟

ـ عليکم سلام نه ميرمنی وبښې ډير وخت کيږی ددی ځای مسؤول زه يم.

ـ وروره دلته يو هلک لږ په ونه لوړ خرمايی وېښته او خرمايی سترګو ولا وه

ـ ستا منظور محمود دی؟

ـ په نوم يی نپوهيږم مګم يو هلک په همدی نښو دلته وه.

ـ هو خپله دی مګم هغه دری اونی مخکی دا ځای خوشی کړی دی

ـ يعنی څه؟؟؟؟؟؟؟ چيری تللی؟؟؟؟؟؟؟

ـ نپوهيږم.

اوفففففففف خدايه نه نو خدايه هغه زما د مور يواځينی نښه وه.

ـ کولای شي آدرس يی ماته راکړی ډيره اړينه موضوع ده.

ـ تاسو څه کار ورسره لری؟

— وګوره ورور جانه ما تقريبا يوه مياشت مخکی له دی ځايه يو کتاب اخيستی وه مګم پيسی می کافی نه وی او ستاسو هغه ملګری وويل د يو څه په ګرو کيښودلو کتاب له ځان سره يوسم او د پيسو په وروړلو هغه بيرته واخلم نو ماهم يو غاړکې په ګرو کيښوده.

مسؤول سر وښوروه او ترڅنګ يو هلک ته يی وويلی

ـ وينی وحيده تا هم د محترم يو بل کرلی ګل.

او وروسته يی مخ په ما وويل:

ـ اغلې محمود یو پست انسان وه عین کار یی له ډېرو نورو خلکو سره هم کړی د هغوی باارزښته توکی یی اخیستی او بیا له دی ځایه وتښتېد کنه زموږ پلورنځی داسی کوم قانون نلری چی څه په ګرو واخلی هغه هم بی له بل نه. په هر حال اوس نو شوی کار دی تاسو زموږ پلورنځی ته د غاړکې قیمت ووایی زموږ پلورنځی یی درکوی.

ـ وروره تاسو څه وایی؟؟؟؟ چیری تللی؟؟ قیمت څه زه قیمت نغواړم زه خپله غاړکې غواړم هغه می د مور وروستی نښه وه!

سړی په دلسوزه انداز راوکتل او وی ویل

ـ ښښنه غواړم اغلی مګم موږ څه نشو کولای.

رښتیا یی ویلی هغی څه نشو کولای

هیچا ته نشو کولای.

په ټیټو اوږو له پلورنځی نه بهر لاړم ګواکی د نړی ټول غم بار شي او زما پر اوږو ایښودل شوی اصلا پوه نشوم څنګه تر کوره لاړم، کور ته ورسېدم ټول په چای څښلو بوخت ول چی اسیه ترور راته پام شو.

ـ باران لوری ښه راغلی راشه چای وڅښه.

ـ تاسو یی وڅښي ترور جانی زما زړه ته نه کیږي.

زما د لیدو سره سم اسیه ترور په اندیښنی وویل: لوری کوم څه شوی ښه یی؟

ـ هو ښه یم

ـ نو ولی دی رنګ الوتی؟

ـ هیڅ ترور جانی لږ سر درد یم لږ ویده شم ښه کیږم!

ـ سمده لورجانی څه ته اړتیا نلری؟

ـ نه ژوندی اوسی

اسیه ترور په همغه کتلو چې اندېښنی پکې موج وهه وویل: سمده لاړه شه ویده شه.

د کوټی په لور لاړم او ور می بنده کړه چې اوښکو مې ټول مخ ونیوه

ـ موری ما وبخښه چی ونشو می کولای امانت څخه دی ساتنه وکړم، د دې خبرې سره سم ژړا مې زور واخیست.. موری زه پوهیږم زه ډېره بده لور دی یم ډیره بده مګم څه کیږی ته له ما خپه مه اوسه. له مانه مه په غوصه کیږه. خدایه ولی ؟ ولی تل باید زه له لاسه ورکړم؟ خدایه مګم غیر له هغه غاړکې ما نور څه درلودل؟ ولی خدایه ولی؟؟؟؟؟؟؟

تر شپې مې همداسي وژړل کله مې الله ته د شکايت دسترخوان هوار کاوه، او کله مې له مور نه بخښنه غوښتله کله مې ځان ته کنځل کول او کله هغه سړی ته د دروازی په يو وار خلاصولو له خپل فکرونو نه بهر شوم او په بېړه مې خپلی اوښکی پاکی کړی چې د احرار غږ مې تر غوږو شو.

احرار- باران ولی په دی تیاری کې يواځی ناسته يی؟

په هغه غږ چی غوښتل مې د ژړا غږ پکې پټ کړم ومې ويل: همداسی مې زړه وغوښتل.

احرار گروپونه ولگول او زما په لورې راغی.

— تا ژړلی؟

— نه.

څنگ ته مې کيناسته او زنه يې راته پورته کړه.

— ماته راوگوره

— احرار وايم څه نش...........

خبري ته يې پرينخودم او بيا يې وويل: ماته وگوره!

کرا مې سترگی پورته کړی چې زما د سترگو په لېدو د احرار څهره تغيير وکړل او په تروش تندې وويل: چا څه ويلی درته ؟

— نه.

— نو ولی دی ژړلی ؟

— همداسی لږ مې زړه تنگ ده.

— د انسان زړه بې دليله نه تنگ کيږی ووايه څه شوی؟

— احرار هېڅ ندی ش....

— بـــــــاران

مطمئنا احرار بې د حقيقت د پوهېدلو له دې موضوع نه نه تيريده نو غير د حقيقت د ويلو بله لاره مې نه درلوده مگم نه مې غوښتل په ټول حقيقت پوه شی ځکه هغه ډالی د احرار لپاره وه نو ددې حقيقت په پوهېدلو هغه خفه کيده. نو په دروغو مې وويل: ما څو وخته مخکې غوښتل يو څه واخلم مگم پيسو مې بسنه نه کوله پېرودونکي وويل کولای شی يو څه په گرو کيږدی او وروسته د پيسو له راوړلو هغه بيرته واخلم ما هم غاړکې په گرو کيښوده. مگم.......مگم نن چی کله له پيسو سره ورغلم هغه کس هلته نه وه! له مسؤول نه مې پوښتنه وکړه هغه وويل دا کس غل دی او له ډېرو يې داسی څيزونه اخيستی او تښتېدلی...

نور مې خپلی اوښکی نشوې پټولی او لکه یو بندی د سترګو له زندان نه مې په تویدوو شوی. احرار یواځې کتل چی په ژړا می دوام ورکړو خبرو ته او ومې ویل: احرا هغه یواځینی نښه وه یواځینی څیز وه چې لره می!!

نور می ژړا په سلګیو بدله شوه. زما لپاره چی ژړا غیر له کمزوری بله معنا نلره نن د احرار په وړاندې می لکه ماشومانو پشان ژړل، نور مې اوښکو زما نه منله او په خپلو لارو تللی ګواکې نور یی نه غوښتل پاتې شی او یواځینی خواهش یی پریښودل ول بس...

ګواکې د زړه درد مې تازه شوی وه چې په ژړا مې وویل: اح...........احرار و.......... ولې زه؟ولې زه .........باید ...تل له......لاسه ورکړم؟ مګم ......څه ګن............ګناه مې کړی؟

او بیا هم ژړا پرېښودم خپل خبره پوره کړم، احرار یواځې کتل ګواکی دوه زړه وه

مګم.......... مګم وروسته له څو لحظو لاسونه یی زما تر ملا راتاو شول او ځان می د هغی په غیږ کی پیدا کړ.

احرار- هیسسسسسسسسس  غلی اوسه.

– احرار ولی.........ولی خدا.......خدای ما نه........وینی مګم.....مګم زه یی بنده نه یم؟

نور می هم سر د احرار په غیږ کی ننویسته.

احرار- باران پوهیږی سهار کله کیږی ؟

سر مې په دواړو خواوو وښوروه؟ چې احرار په کراره وویل: دقیقا وروسته د شپی له تیاره ترینی نقطي نه پس.

ګواکې همدا یوه جمله زما د غلې کولو لپاره کافی وه. نور می د زړه تنګون حس نه لره دا یعنی یوه نړی ارامښت.دومره می وژړل چې نور می د سپک توب حس کاوه

وروسته له څو دقیقو کرار د احرار له غیږ نه لری شوم.

احرار- لږ ارامه شولی؟

– اهوم!

احرار د سر په غوځولو د کوټې د پریښودو اراده وکړه، نوی یی لاس د دروازی لاستي ته رسیدلی وه چې زما په غږ یی شاته راوکتل.

– احرار؟

احرار- بلې؟

– مننه

په یوه ډېره زړه راښکونکي مسکا یی کوټه پریښوده او لاړ، څومره دی ژړا ته اړمنه وم! د ارامښت د حس سره سم می د روزګار په ټولو ترخو سترګی پټی کړی. دوه اونی د هغه منحوسی ورځې تېریدلې مګم هېڅ خبر می د

هغی سړی نه ندرلوده

نن جمعه وه او د تل پشان ټول په کور کې ول، په حویلی کی د موټر په مینځلو بوخته وم چی اصیل راغی.

اصیل- سویه( خرگوش) څه کوی؟

– په سپینی مانی کی د قهوه څښلو په حال کې یم! ژیړ میږیه لکه چې سترگی دی لیدلی نشی؟

اصیل- بې ادبه باران.

کرا می وخندل او ومې ویل: ښه نو اوس ووایه څه شوی چې بیزو صیب تشریف راوړی؟

اصیل- عه ښه شو چې ودې ویل نږدې وه له یاده مې ووځې..! لالا می تاپسی گرځیده گواکې تاسره کار لری؟

– له ما سره ؟څه کار یی درلوده؟

اصیل- نپوهیږم؟

اصیل لاړه ما می ژر کار خلاص کړ او د مانی په لور لاړم، ډیره وږی وم نو ځکه لومړی پخلنځي ته لاړم.

امینی ترور زما په لیدلو وویل

ـ نجلی ته چیری یی؟ یو ساعت دی چې خان صاحب تاپسی ټوله مانې په بل مخ کړه.

– راغلم امینه سلطان موټر می مینځه.

– سترړی مشې لورجانی اوس نو زر ورشه خان صاحب خنگ ته.

– ډیره وږی یم اول خواړه وخورم بیا ځم

د یخچال په لور لاړم چی یو څه وخورم چی گیسو د مټی نه ونیولم او د یخچال ور یی کلک پورې کړو

– خیریت دی گیسو څه شوی؟

– ته ځان ته څه فکر کوی ها؟ خان صاحب باید تاته په تمه ووسی؟

– سمه وغړیږه!!

– اوووووو څه وشول دوه ورځی یی دلته ستاسره وخندل خپل ځای دی هیر کړ؟ ته یواځې یوه خدمتکاره یی نجلی پوهه شوی یواځې یوه خدمتکاره!!!!!!

امنه خاله- گیسو دا څه ډول خبرې کول دی؟

گیسو- څه دی موری؟ دروغ وایم؟ د خبری کوم ځای مې غلط وه؟ دا چې خان صاحب ورته زړه سوځوي په دې

معنا نده چې ځان ته د کور ملکه فکر وکړې ! تاسو که غواړې کولای شی ددی نخرې وزغمي مګم زه په دی کار اړه نه یم. د خبرو په خلاصیدو یی پخلنځي پریښوده او لاړه.

نور راته اشتها نه وه پاتی د پخلنځي نه ووتم او د احرار د کوټې په لور لاړم

ور می وټکوله.

– راشه.

– له ماسره مو کوم کار درلوده؟

احرار په تروش تندی وویل: چیرته وی ؟ پوهیږی ما څومره ولټولی ؟

– د موټر په مینځلو بوخته وم.

ګواکې یوه شو چې خپه یم نو ځکه ډیر ژر غوصی ځای اندیښنې ته ځای ورکړو او ویې ویل: ښه یی ؟ کوم څه شوی؟

– هو ښه یم او نه څه ندی شوی.

– چا څه ویلی؟

ډیر هوښیار وه د دې څخه مخکې چې رانه اظهارات واخلې ومې ویل: ښه ته ووایه له ماسره دی څه کار وه؟

احرار ډیر په ځیر راوکتل او ویې ویل: دا چی خبره بدلوي یعنی نغواړې وغږیږي! مګم پوهیږی چی کولای شی هر ستونزه دی ماته ووایی رښتیا وایم کنه؟

بی اختیاره می مسکا په شونډو راغله او ومې ویل: څنګه داسی ښه انسانان پیژنی؟ آن زه دومره ښه خپل ځان نشم پیژندلی!!!!

احرار ډیر په ځیر راوکتل دومره په ځیر چی فکر مې وکړ د هغی لید می له سترګو تیر شو...

احرار- زه انسانان نه انسان ښه پیژنم؟

– ښه نو څه فرق کوی انسان یا انسانان!

احرار په یوه نری مسکا چی غم پکې څپي وهل وویل: فرق کوی د یوی ځمکی او اووه اسمانونو په برابر فرق کوی مګم نپوهیږم ته نشی کولای پوه شی یا نغواړې پوهه شې؟!

– مغرور خان کولای شی په داسی ژبه خبری وکړی چی زه هم پری پوهه شم؟

یوه ژوره ساه یی واخیسته او د ژبی لاندی یی څه وویل چې زه پری پوهه نشوم

– رښتیا ودې نه ویل ماسره دی څه کار وه؟

احرار- نن یوځای ته ځو تیاره اوسه.

— چیرته؟ وای لکه چی د لوبو پارک ته می بیایی؟

احرار- ته فقط تیاره اوسه نور په تا پوری اړه نلری!

— ښه نو کله ځو همدا اوس؟

احرار- نه اوس لږ کار لرم چی راغلم بیا او.

— سمده.

له کوټې نه ووتلم او د بهر په لوری لاړم د احرار تر راتګ می هیڅ کار نه درلوده نو کولای می شو بڼ ته لاړه شم تل می بیکاره وقتونه په بڼ کې تیریدل ګلونه او ونی می د آرامتیا لامل کېدل، ما ډیر کلونه د تره په بڼ کې می باغوانی کړی وه په همدی خاطر می له ونو او بوټو سره خاصه مینه وه. بڼ ته لاړم او د تل په څیر د ګلانو په لیدلو کی غرقه وم بیا هم تیاره مخکینی ژوند او نامعلومه راتلونکی ژوند فکرونو ځان کی غرقه کړی وم تر څو به وکولای شم له پخوا وتښتم؟ آیا یوه ورځ دا پخوانی تیاری به ما پریږدی؟ترڅو به وکولای شم له دی دروغو سره ژوند وکړم؟ هغه ورځ چې ټول په رښتیا پوه شی څه به وشي؟ څه فکر به زما په اړه کوی؟

په همدی وخت کی د صاحب تبریزي یوه بیت چی زما د اوس وخت سره یی تطابق درلود یاد ته راغی کرا می د شونډو لاندې زمزمه کړو

#ما

دراین

غمکده یا رب

به چه کار امده ایم؟؟؟

ـ سوی جانی دلته څه کوی؟ ولی یواځی ناسته یی؟

ژیر میړي وه د تل پشان یې زما یوازي توب را خراب کړل، د هغه شاته می سترګي په مغرور خان ولګیدی ..

— غوښتل می ګلانو سره خبري وکړم خو جناب بیزو پرینښودم!

اصیل- مکر ګلان هم خبري کوي؟

— هو خبري کوي.

اصیل- عجبیه ده تر اوسه می اوریدلي نه وه ؟

— ځکه غوږونو هم بصیرت(لیدل) خو لکه چې ته ژیړ میږې د خداې د دې رحمت څخه بی نصیب پاتی شوی

يې.

ژيرميړی قهقهه ووهله او په همغه خندا يې وويل: خرگوش هغه غوږ بصيرت ندی سترگي بصيرت دي.

په مسخره ډول می اصيل تقليد خبرو پيل وکړه ( هغه غوږ بصيرت ندی سترگي بصيرت دي )خپله هم پوهيدم ځکه می وويل دلته سترگي صدق نکوی ځکه می غوږ ياد کړل ستا عقل درک کولی نشی هسی فشار ځان باندی مه راوړله !

اصيل څوشيبې غلی شي وروسته وويل: لالا ږ خدای کارونه دي ليدل؟

مغرور خان په حيرانه وويل: کوم کارونه؟

اصيل- خدای ټولو ته ژبه وکړي خو دي خرگوش( ته رسې ورکړې )

بد بد می ورته وکتل او ومی ويل: احرار خان ايا د خدای کارونه گوري؟

احرار چې پوهيده اوس زه يو زبردست او غاښ ماتونکی جواب غواړم اثيل ته ورکم خپله خندای غوښتله کنترول کړي وويل: کوم کار ؟

– خداې ټولو ته عقل ورکړی خو دا ژيرميړی ته يې يوازي تش سر په نصيب شوي!

احرار وخندل او بيا مخکي لدينه چې موږ دواره شخړه پيل کړو ويې ويل: تياره يی ؟

– هو قومندان صاحب  مگر چيرته ځووو؟

احرار- کله چې ورسيدی وبه گوري!

مغرور خان دی نو که جواب هم رانکړي عجبيه ده! دری واره موتر ته سپاره شوو او موټر حرکت  وکړ..

بيا هم سکوت په خپل پادشاهي تخت باندی ناست وه اصيل وويل: لالا يو سندره په کيدو؟ ستړي شوم ولا !!

احرار ـــ کيده

سر می شيشه باندی کيښود سندري پتمه شوم، اصيل خپل مبايل وصل کړل څو شبيی وروسته سندري موتر فضا بدله کړه !!

ای شب تو به روزگار من ميمانی

يا مولا دلم تنگ آمده

شيشه دلم ای خدا زير سنگ آمده

ای ماه نهان به یار من میمانی

یا مولا دلم تنگ آمده

شیشه دلم ای خدا زیر سنگ آمده

ای ابر سیه تو هم به این حالت زار

یا مولا دلم تنگ آمده

شیشه دلم ای خدا زیر سنگ آمده

بردیده اشک بار من میمانی

یا مولا دلم تنگ آمده

شیشه دلم ای خدا زیر سنگ آمده

در جای دلم به شیشه  خون باقی ماند

یا مولا دلم تنگ آمده

شیشه دلم ای خدا زیر سنگ آمده

در سر به دل خرد جنون باقی ماند

یا مولا دلم تنگ آمده

شیشه دلم ای خدا زیر سنگ آمده

سیمرغ بودم بدام عشق افتادم

یا مولا دلم تنگ آمده

شیشه دلم ای خدا زیر سنگ آمده

در دلم کبوتر زبون باقی ماند

یا مولا دلم تنگ آمده

شیشه دلم ای خدا زیر سنگ آمده

یا مولا دلم تنگ آمده

شیشه دلم  ای خدا زیر سنگ آمده

سندر غاړي( استاد ساربان)

احرار- باران!

احرار غړ باندي سترګي مي بيرون واخستی ورته می وکتل..

– ها؟؟

احرار- ورسيدو!

سندري که داسي غرق شوي وم چې موتر دريدل ته می فکر هم نده شوي.موتر راښکته شوم نوي پام می‌شو يوی غټې ښايسته ګلانو دوکان ولاړه وم ....

په حيرانتيا می احرار ته وکتل او ومې ويل: احرار دلته ولی راغلی يوو؟

احرار- بايد باغچه (بڼ ) لپاره ګلان خوښ کړو.

ډيره زياتي خوشحالی څخه می لکه ماشومان په څير چک چکي ووهلی او ومې ويل: وايييبی عالي !

دری واړه دوکان داخليدو سره ښکلی ګلانو ، عطر بوی زموږ پوزه احساس کړل ....

داسي د ژوند عطر همدی مکان که شتون لري...داسي ښکلی زړه پوري فضا وه هيله می وکړه کاشکی همدلته پاتی شم ظلم ستم څخه به هم لري اوسيږم ډوبه به ګلان که شوم ....

دوکاندادر- سلام عليکم داکتر صاحب ښه راغلی ؟

احرار- عليکم سلام  شريفي صاحب څنګه ياست ؟ کورني مو ښه ده ؟

شريفي- الحمدالله ستاسو په دعاګانو ښه دی !

احرار- استغفرالله جناب شريفي  زما لطف ندی بلکي پروردګار لطف مهرباني ده !

شريفي- خيريوسی داکتر صاحب که ستاسو مرسته نه وه نپوهيدم څنګه پيښه به غورځيدلي وه.

احرار- ما د دې څخه زيا مه شرمنده کوئ دنده می وه .

شريفي- ژوندي اوسي داکتر صاحب ژوندي اوسي.

احرار په سر خوځلو سره وويل: وخت تنی ګلان دي؟

شريفي- هو وختنی ګلان هم شته نوي ګلان مو همدا نن ورځ رارسيدلي!

کراره می اصيل ته وکتل ومی ويل: وختنی ګلان ؟ يعني تاسو هروخت دلته راځي؟

اصیل ـــ هو لالا می ګلان باندی ډیر حساس دی همدی دلیل لپاره تل باغچه ګلان خوښه وي  بل څوک نا‼

واییی خدایه دا یو انسان ترکومه حده پوری عجبیه اوسیدی شي؟

دری واړه د دوکاندار شاته روان شوو، موږ دوکان یو جلا ځایته رهنمايي کړو الحق یو خاص ښایسته منظره وه ګې ما په ټول عمر کي لیدلی نه وه، همدا ځای وه همدا برخه کي  رنګا رنګ ښایسته ښایسته ګلان ول شاید ځنیځی ګلان می لومړی ځل وه ګورمه ....

خو ټولو ګلانو منځکی یو خاص ګل زما پام ځانته واړو ..یو داسی جوړ شوی ګل وه (ګل منځ سپین جوړ شوی وه پاڼه هم توري نازکه جوړي شوي وي بغیر له کوو شک پع ټول عمر کې مې داسی ښایسته ګل لیدلی نه وه ښایسته متضاد ګل څه په سپینو تورو جوړ شوی وه.

– احرار دغه ګل نوم څشي دي؟

احرار- رز کهکشانی یو کمیابه ګل دی !

– ولی ؟

احرار- ځکه شمال خواته شین کیږي یعنی نورو ګلانو په څیر ګرم ځای که شین کیږي نه یوازي یخ ځای که سختي هوا که شین کیږي  مګر بیاهم ښایسته دي!

– هو ډیر ښایسته او خاص دي.

احرار بیاهم په زیر زیر راته وکتل، خو حیرانه نشوم نور می عادت کړی وه احرار داسی لیدلو ته! .روسته لع یو ساعت پلټنې یو څو ګلان مو خوښ کړل. ټول ګلان ډیر ښایسته وه بغیر شک باغچه نوره هم ورسره ښکلی کېږي. ګلان مو موتر کي کیښودل کور ته مو حرکت وکړل.

***

غوښتل می پخلنځلی ته لاړه شم خو د سهار خبري می یاد ته راغلی او پیښمانه شوم خپل د پریکړی څخه. د کوتي خواته په تیزي سره لاړم..

وروسته لدي چې په دي کور کې مې دنده واخیسته او کار مې پیل کړو نو حمید کاکا ته ډیره شله شوم ترڅو نور د دي کوټې څخه لاندي د خدمتګارانو کوټې ته لاړه شم! خو حمید کاکا اجازه رانکړه د دي کورنې او بلخصوص د احرار بیحد توجه و ماته د دي سبب ګرځېدلې چې د کور نور کارکونکې زما سره حسادت او کینه وکړې.

پرته  د خاله امینه هیچا راسره سم چنلد نکوه خو ماته اهمیت ندرلوده ځکه کوم وضعیت کې چې زه لویه شوي وم نو دا خبری او کارونه مې زیات لیدلی وه حتا بتر د دوی له خبرو او کارونو څخه راسره شوي وه..

ډیره ستړي وم سوچ کولو څخه می لاس واخسته او ویده شوم...

د چا به لاس خوځولو او زما د نوم په تکرار کولو راویښه شوم ...

– باران، باران، باران ..

سترګي مي خلاصی کړي ايمان می مخته ناسته وه.

– ايمان دا خوله دي بنده که ..

ايمان- تنبلی ويښه شه نوره څومره ويده کيږي ټوله ورځ ويده وي!

سترګي مي پورته کړي هوا تياره شوي وه ..

بيانو رښتيا وايی ټوله ورځ ويده وم

پورته شو خپل ځای که کيناستم.

ايمان- راځه ډوډۍ تياره ده.

د ايمان په خبره مې بيا د ګيسو خبره راياد شول.

(ته يوازي خدمتګار يی وجلی پوی شه يوازي خدمتګار) رښتيا وايی زه يوازي خدمتګار وم او کيناستل د خانانو په دسترخوان زما لپاره سم ندی، دوی که هر څومره مهربان وی دا معنا نلری چی زه خپل اوقات او ځای لياده وباسم.

ايمان خپل لاس زما د سترګو وړاندې و خوځوی او ويې ويل: اووو چيرته لاړې باران؟ يو ساعت کيږي درته ناری وهم ژرکوه بايد لاړي شوو.

– ته لاړه شه زه وږي نه يمه غوارم....

ايمان- تخو ټوله ورځ ويده وي نوره هم غواړي ويده شي؟ باران ښه خو يی ؟

– هو ښه يمه يوازي سر می درد کوی .

ايمان- غواړي دوا درته راوړم ؟

– نا خپله ښه کيږی ته لارشه ډوډی وخوره ...

ايمان- مطمينه يی؟

– هو.

ايمان په انديښمنه نظر باندې له کوټي څخه لاړه پيرته می سترګي پټي کړي خو خوب چيرته راځي يوازي می سترګي تړلي وي، چې شايد کوم نيم ساعت به تير شوی وه چی دروازه بيا خلاصه شوه.

– ويده يی ؟

احرار غږ وه.

–  نا ويده نه يمه.

احرار را دننه شوو لاسکی ډوډی پتنوس هم وه.

احرار- هله ژر کوه پاسيږه ډوډی وخوره.

– زه وږي نه يمه.

احرار- ترڅو دی ډوډی خوړلي نه وي نشي کولی دوا وخوري هله پاسيږه هله نوو

– افففف احرار درته وايم وږي نه يمه!

مغرور خان خپل په هغه تورو سترګو په ژور نظر راوکتل داسی لکه دسترګو په ژبه چې وايې( آيت ګونګی شي او پاسيږه ډوډی دی زهر کړه ) کراري پورته شوم  غوښتل می په ډوډی خوړلو پيل وکړم پام می شوو ډوډی زياته ده ...

–اوووو سمده زه ډيره ډوډی خورم خو نه دومره زياته؟

احرار- ټوله خوو ستا لپاره نده؟

او بيا بغير له نور څه ويلو ډوډی باندی پيل وکړل!!! حيرانه حيرانه می احرار ته کتل احرار هم زما حيرانه کتلو ته پام شو  سری ډوډی ښکته کړي وه وويل:

احرار - پوهيږم سترګي اخستل زما څخه سخته کار دی خو اوس لپاره ډوډی وخوره.

– دځانه راضي! مغرور خان.

احرار کراره کراره وخندل ډواره ډوډی خوړلو مصروفه شو، خو زياته ډوډی مه وخوړله، سهار څخه می څشي خوړلي نه ول الحق ډيره وږي وم ..

احرار- ته خوو وږي وي بيا ولی ډوډی خوړلو ته رانغلی..

–دلږمی سر درد کاوه.

احرار- ويلی به دي وه  ډوډی به درته راوړي وه !! که ما ډوډی راوړي نه واي نو ترسهاره وږي پاتيږي؟

– ښه ،جنابه زما محاکمه خلاصه شوه

احرار_ نه نده خلاصه شوې بيا دې ونه وينم وږې پاتې شې وپوهېدلې؟

په خندا مې وويل: نوچ ونه پوهېدلم.

بيا هم د مغرور خان تروش کتلو ته چوپ پاتې شوم.

احرار- رښتیا یو ډالۍ درته لرم.

ـ زما دپاره؟

احرارـ هو

په ډېرې خوشالۍ مې وویل: ته وخدای رښتیا وایې؟؟

احرار زما خوا ته بد بد وکتل او ویې ویل: انسان دداسې ورو شیانو دپاره قسم نه اخلی.

دې بیا غوسه شو افففف نو ما څه وویل؟!

ـ ښه سمه ده اوس ووایه چې څه دې راوړي؟

احرارـ راځه خپله یې وګوره.

ـ چیرته ده

احرارـ زما کوټه کې

بې ځنډه دروازې څنګ ته لاړم او مخ مې احرار ته کړې ومې ویل: څه ته په تمه یې خو راشه!

احرار مسک شو او ویې ویل: په کراره نه تښتي.

ـ دومره فلسفه مه وایه ژر راشه.

مغرور خان په همغه مسکا د دروازې خوا ته راغی او د کوټې دروازه یې خلاصه کړه.

ــ ښه نو چیرته ده؟

احرار د بام خوا ته لاړ او د یو کهکشان شمالی ګل سره زما خوا ته راغی او ماته یې ونیوه.

په جینګه خوله مې وویل: دا زما دپاره دی؟!

احرار د هو په اشاره سر وښوراوه ما ځنډ ونکړ ګل مې د لاسه ځیني واخیست او په کتلو یې بوخته شوم.

احرارـ خوښ دې شو؟

ـ ډېرر مې خوښ شو ګوره دا څومره ښایسته دی خدایه

احرار په هغې ښکلي مسکا ماته کتل او ویې ویل: تر تا ډېرر نه .

پورته شوم او لوړ اواز مې په خندا پیل وکړ ځکه د احرار خبره غیر له ټوکو بل څه کیدای نه شوه.

ــ وای مغرور خانه ستا د لاسه

احرار چوپ پاتې شو

ـ ښه مغرور خانه باید لاړه شم تاته ښه شپه.

احرارـ ښه شپه ارامه خوب وکړې وحشي پیشو

ـ چاته دې وحشي پیشو وویل

احرار چې کوښښ یې کوی خپل خندا کنټرول کړي زما خوا ته یې اشاره وکړه.بالښت مې واخیست او پر احرار مې حمله وکړه، په بالښت مې په سر او مخ باندې وهی

ـ څوک وحشي پیشو ده؟

احرار چې دا وار په لوړ اواز خندل ویې ویل: ته یې زما وحشي پیشو.

بیا مې هم په بالښت ووهی خو احرار د تسلیمي په بڼه لاسونه پورته کړل

احرارـ تسلیم تسلیم شوم

لاس مې چې د حرار د لاس څلورمې برخې ته هم نرسېده د ورزشکارانو په ډول مې غرور ونیوه او په غرور مې وویل: زه تل ګټونکې یم.

احرار دومره وخندل چې رنګ یې بیخي سور شو

په مظلومانه انداز مې وویل: نه یم؟

احرار خندا ودرېدل هغه ماته کتل او زه یې د څواب په تمه وم

کرار یې زما لنډو وېښتو ته لاس یوورړ او ویې ویل: رښتیا وایې ته د اوله کټونکې وی..

ته څه خبر یې؟ ؟

ژوند غېر له ماتې ماته څه راکړي؟؟

ماشومتوب مې وبایلی!

پیغلتوب مې وبایلی!

هیلې مې و بایللې!

د خندا ګړس مې وبایلی!

امېدونه مې وبایلل!

نه پوهېږم څنګه خو مې بايلل!

يوازينۍ ګټه مې د ژوند نه تور پور دی او غير له دې نه مې د ژوند نه څه ګټلي نه دي نه هېڅ هم نه!

خو د باطن نه سيوا مې د غم او اوښکو په ځای پر شونډو مسکا ساتلې

ــ نو منې يې؟

احرارـ تر اوسه مې په داسې څه باور نه درلود.

په لوړ اواز مې وخندل

– وای وای مغرور خانه که تا څوک په دې حال کې ووينې خپل په سترګو به باور ونکړې

بيا يې هم کتل او چوپ وو.

ــ ښه نو ښاغلې بايلونکيه ښه شپه.

احرار- ښه خوب.

د دروازې نه ووتلم په ياد مې شوه چې مننه خو مې ونکړه

بيرته مې د دروازې د درز نه سر دننه کړ.

– رښتيا مغرور خانه..

احرارـ بلی!

–مننه.

وای بيا مې هم هغه ښکلې مسکا وليدل،عجبه زړه راښکونکې انځورګري ده دا مرشد!

ايا د داسې اثر انځورګر د عبادت وړ ندی؟؟کوټې ته مې لاړم د تل غوندې مې سترګې پټې کړې ددې نړۍ نه چې د يو تور پور دی او بس...

وخت په تېرېدو دی او دې منځ کې د انسان عمر هم تېرېږي.يوه اونۍ تېره شوه او نن شپه حرير د خپل کورنۍ سره عمارت ته راتلونکې ده. پخلنځې ته لاړم امنه ترور د ميلمستيا په تياري باندې بوخته ده لستوڼې مې د مرستې د پاره پورته کړه چې احرار مې په دروازه ولاړ وليد.

احرارـ امنه تروري زما قهوه تياره ده؟

امنه خاله- خان صيب تاسې کښينی اوس تيارېږي.

امنه ترور د قهوې په تيارولو بوخته شوه چې احرار زما خوا ته راغی

احرار_ ته ولې دا کارونه کوې؟

– ځکه امنه ترور په يوازې ځان نشي کولای دا ټول کارونه وکړي.

احرار- ګيسو او نور چېرته دي؟ دا خو ستا مسوليت ندی!

سمه خبره يې کوله د عمارت کارونه زما په غاړه نه وه ځکه زه درېوره وم او تل به مې خپل په خوښه د کور په کارونو کې د امنې سره مرسته کوله.

ـ مغرور خانه تل خو بايد هغه کارونه ونکړو چې زموږ مسؤليت دی او بيا ما خو څوک کار کولو ته نه مجبوره کوي زه خپل په خوښه مرسته کوم په دې کې نو څه خبره ده.؟

احرار اوږده ساه وايسته او په غوټه تندې يې وويل: سمه ده خو خپل ځان ډېر مه ستړی کوه.

ومې خندل چې دې وخت که امنې ترور وويل: واخلئ خان صيب قهوه مو تياره شوه.

احرار خپل قهوه واخيسته او د پخلنځي نه ووت.

هوا تياره شوه او زموږ کارونه هم خلاص شول هر څه تيار وه، نور نو ميلمانه هم کرار کرار راورسېدل ټول د ميلمنو ښه راغلاست ته لاړل غير له مغرور خان او اسد لالا نه چې بهر وتلي وه.

ګيسو او مهرې (بله خدمت کونکې) د ميلمنو په ښه راغلاست پيل وکړو، پخلنځی يو کوچنی کړکۍ درلوده چې ټول سالون ترې ښکارېده پدې مې هر څه واضح ليدل خو زه چا نه ليدلم.ټولو يو بل سره خبرې کولې خو حرير لکه کوم څه پسې چې ګرځي اخر يې طاقت ونشو او ويې ويل: تروري احرار نه راځي؟

– راځي لورې خو دا څو ورځې يې کارونه ډېر دي پدې ناوخته راځي.

حرير نور څه و نه ويل خو په منتظر سترګو چې يوه ثانيه لا د سالون د دروازې نه لرې نشوې.الحق چې عشق هم عجيب شئ دی څنګه چې فريدون مشيري وايي:

در برابر عجيبی عشق کلمات کوتاهند

از بين همه معجون ها او بی سر و پاينده است

دست و پا شده ام جز تو دسان ديگر هيچ

نګر ناګفته را چه ګفت فريد حال مرا با توست...

يو ساعت تېر شو ټول په مجلس ګرم راغلي وه چې د دروازې ږغ پورته راغې پورته شوم او د دروازې د خلاصولو په قصد مې پخلنځی پرېښود او د ګمان سره سم مې د دروازې په خلاصولو سره په احرار او اسد لالا مې سترګې ولګېدې.

– سلام ښه راغلاست.

احرار_ علیکم سلام خوشاله اوسې.

اسد_ علیکم سلام د لالا ګرانې میلمانه لرو؟

– هوو ښاغلی رحیمي او کورنۍ یې.

د ښاغلي رحیمي د نوم په اورېدو اسد احرار ته وکتل احرار تندی تروش شو او ویې ویل:

احرار- دوی څه کوي؟

اسد ـ احرار ارامه اوسه مور خو مې تېره شپه ویلي وه چې میلمانه لرو.

احرار_ لالا ویلي یې وه میلمانه لرو خو دا یې نه وه ویلي چې څوک دي؟

اسد ـ مهمه نده چې میلمانه څوک دي مهمه داده چې تر ننه په دې کور کې د میلمه عزت او احترام تر پښو ندی لاندې شوی او ددې وروسته هم داسې څه نه کیږي.

احرار_ لالا م...

اسد ـ د لالا ګرانه درک کوم دې خو نکیږي چې میلمنو ته بې احترامي وکړې میلمانه د خدای دوستان دي سمه خبره کوم که نه؟

احرار سره ساه و ایسته او مجبور ودرېده.

اسد ـ ښه دی نو راځئ دننه.

رښتیا هم اسد په دې ښه پوهېده چې احرار څه ډول کنټرول کړي، احرار مجبوره د اسد پسې لاړ زه هم د برق په سرعت اشپزخانې ته لاړم او کړکۍ کې کښېنستم تر څو سالون کې وګورم.احرار او اسد سالون ته ننوتل او په ستړي مشې بوخت شول

احرار چې کله حریر څنګه ته ورسېده غیر له دی چې سر پورته کړي ویې ویل: سلام

حریر ـ سلام احرار ښه یې؟

احرار ـ شکر دې.

مغروره او د ځانه راضي انسان حتی د هغې د احوال پوښتنه یې هم ونکړه مستقیم د اسد څنګ ته لاړ او کښېناست.

ټولو ګپ شپ لګوو خو حریر د مغرور خان په لېدلو کې ډوبه وه خو مغرور خان حتی ورته کتل هم نه! د ډوډۍ د خوړلو وخت وو.

امنه خاله- باران لورې لاړه شه ټول دسترخوان ته راوغواړه.

– په سترګو سلطان امنې.

سالون ته لاړم سلام مې وکړ او ټول مې ډوډۍ خوړلو ته راوغوښتل، حمید اکا ټول د دسترخوان خوا ته رهنمايی کړه او زه د پخلنځي خوا ته لاړم نور مې څه کار ندرلود ځکه نور کارونه پر  ګيسو او مهريې وه.

امنه خاله ـ لورې راځه ډوډۍ وخوره حتمن وږې شوې يې.

امنې ترور راته ډوډۍ راکړه او زه په خوراک بوخته شوم.نور ډير وخت کېده چې ددې کورنۍ سره په يوه دسترخوان نه کښېنستلم هر څو که احرار ووېل خو ما بايد خپل حد پيژندلی وای.نو چيرته مو ليدلی چې خان او مزدور په يو دسترخوان ناست وي؟؟؟

مطمئناً هېڅ چېرته!!تر اوسه مې دوه ګولې خوړلي نه وې چې احرار راغی او په تروش تندي يې راته راوکتل او ويې ويل: پورته شه راځه!

– ولې څه شوي؟

احرار– يوځای ډوډۍ خورو.

– نه زه همدلته ډوډۍ خورم.

احرار– باران

–نه راځم جبر خو ندی؟

احرار همداسې ولاړ وو زه بيرته خپل په خوراک بوخته شوم، فکر مې وکړ چې لاړ خو که تللی وای نو مغرور خان نه وا! څو شېبې وروسته زما اړخ ته کښېناست

– ولې کښېناستې ته بايد دننه لاړ شې.

احرار- اول ډوډۍ راکړه بيا ځم.

– ای خدايه دا بنده دې ګورې ما ليونۍ کوي. د څه ډوډۍ؟ ولاړ شه هلته ټول ستا په انتظار دي.

احرار شاته تکيه ورکړل او ويې ويل: زه به تر هغه وخته نه ځم تر څو چې مې ډوډۍ نه وې خوړلې.

– افففف احرار، ته ماشوم يې چې ضد کوې؟

هغه په سترګو سره ډوډۍته اشاره وکړه، او ويې ويل: ژر څه راکړه.

– اوووف صحې دی واخله زهر يی کړه.

ـپه خپل لاسونو يې راکړه.

هغه ته می په حيرانتيا وکتل او ومې ويل: جــــــــــان څه؟

احرار کرار و خندل او ویې ویل: ژر شه، زه وږی یم.

– خپل لیونتوب نور بس کړه هله ولاړ شه ژر کوه.

احرار- نه ځم یا به ماته ډوډۍ راکوي یا هم تر سهار هم دلته کېنم.

خاله آمنه وخندل او ویې ویل: لوری زما زوی مه ځوروه، وګوره هغه وږی دی، ډوډۍ ورکړه.

آمنه خاله دا وویل او بیرته خپل پر کار بوخته شوه،زه پوه شوم چې د ده سره بحث کول هېڅ ګټه نلری نو مجبوره شوم او یوه ګوله می جوړه کړل او مغرور خان خوا ته مې ونېول

که څه هم ما په ظاهر باندي عادی رفتار کاوه، خو په زره کی بیحد  د خوښۍ څخه ډک احساس مې درلود،ځان سره وایم چې احرار دومره رنګین میز پریښود او دلته زما سره په پخلنځی کې ناست دی او زما فقیرانه ډوډۍ خوری؟ ټول وجود می د غرور احساس کاوه.. څومره ښایسته دی دا رقم ګران توب. هو زه په احرار باندي ګرانه وم هغه ماته مینه راکول، هغه مینه چې زه یې کلونه بی نصیب وم!

– مغرور خان، بس دی پورته شه.

احرار- نوچ بس نه دي.

– پورته شه، شیطانه، تا زما ټول ډوډۍ  وخوړل.

احرار وخندل او ویې ویل: دا ډیره خوندوره وه.

ما ورو وخندل او سر مې وخوځاوه احرار هم له پخلنځي څخه ولاړی، ډوډۍ وخوړل شوه او لوښي یی پخلنځي ته راوړل  ګېسو او خاله آمینه چای آماده کړل مهریه او ما د لوښو مینځل پیل کړل.لوښي لا پای ته نه وو رسیدلي چې اصیل پخلنځي ته راغی او ویې ویل: باران..

– بلی خان صاحب؟

اصیل- پلار مې له تا سره کار درلود.

– په سترګو خان صاحب اوس درځم.

زه له اصیل سره ډېر راحته وم او تل به مو خندل، خو ما نه غوښتل چې دا صمیمیت د نورو په مخ کې ښکاره کړم، سر ببره پر دې چې هغه خان و او زما سره دوستي د هغه په عزت کې نه وه، نو له همدې امله د خاله امینه په استثنا.، د نورو په مخ کې، دوی ټول اشرافیان دي او زه یوازې یو موټر چلوونکی وم نور څه نه.

امینه خاله- باران ژر شه لوری ولاړشه.

– صحی دی خاله جانی دا لوښې ختم شی ځمچ.

امینه- هیڅ اړتیا نشته، لوری ته لاړ شه هغه یو څو لوښې به مهری پای ته ورسوي، دا صحې نه ده، خان صیب

انتظار پرېږدي.

– په سترګو.

ما خپل لاسونه ومينځل او صالون ته لاړم

– کاکا، تاسو زما سره کوم کار درلود؟

کاکا حميد چې له کاکا عثمان سره په خبرو بوخت و، ماته يې مخ کړو او ويې ويل: باران راشه لورې..

او خپل څنګ ته يې اشاره وکړه، ما هم اطاعت امر وکړ او هغه خواته لاړم کيناستلم

حميد کاکا- باران، زما لورى عثمان جان د ثبت احوال نفوس رياست کی دير شناخت لري ما له هغه سره ستا په اړه خبرې وکړې، اوس هغه څه پوښتنې لري، که خدای وغواړي انشاالله ستا کورنۍ به پيدا کړو..

کله چې ما د کورنۍ کلمه واورېده، زما لاسونه او پښې په لړزيدو پيل وکړو او ټول بدن مى خولو واخيست.

عثمان کاکا- ښه لورى جانۍ ايا ته د خپل ځای په اړه څه په ياد لرئ؟ د مثال په توګه، ژبه اويا څنګه جامې اغوستل يی ؟

وېره مې دومره غلبه کړې وه چې د خبرو کولو توان مې له لاسه ورکړی و، د خپل راز د افشا کولو فکر به مې په زړګونو متره د ځمکې لاندې داسې ډوب کړم، چې زما په سترګو کې ځمکه او وخت يوازې يو مخ ګرځېدل. يقينا هغه مخ زما د تقدير وو .

– باران..

له زړو ځلو مړ کېدو وروسته مې بالاخره خپله خوله خلاصه کړه..... يو شی مې هم  په ياد نه دی...... ګوره،

لورى ، ښه فکر وکړه، حتی کوچني شيان لوی توپير کولی شي.

غوښتل مې ځواب ورکړم، خو احرار د ناجی په شان زما مرسته ته راورسېد.

احرار- عثمان کاکا، موږ واقعاً مننددوی يو چې تا د باران په اړه فکر وکړ،خو هغه لا تر اوسه په بشپړه توګه خپل روغتيا نه ده ترلاسه کړی او فشار راوړل وربانديې د هغې د ذهن لپاره خطرناک ثابت کيدی شي، نو دا به غوره وي چې دا مسله د اوس لپاره بنده کړي تر هغه چې هغه پخپله يو څه ياد کړي.

واييی ، چی سومره زه له احرار څخه مننددوی وم،که هغه نه وای، نو نن به په ډېر بد حالت کې وم،خو ډېر وخت نه و تېر شوی، چې حرير وويل: احرار ته ولی خبره لوی کوې؟ هغه خو نغواړی کوم  د رياضی درس حل کړې چې دماغ يې تر فشار لاندې راشی هغه يوازې يو څه فکر کوي بس...

اووووف ستا سره څه تړاو لري؟

کاکا حميد وويل: احرار حرير صحې وايی ،پرېږده باران لږ څه فکر وکړي، شايد يو څه به يې ياد ته راغي( بيا يې زما لور ته مخ واړوه او ويې ويل: لوري ښه فکر وکه هڅه وکه شايد يو څه دی ياد ته راشې..

ياد ته راوم ؟؟؟سترګې مې وترلې او ياد مې کړل!!! ما هغه ورځ را په ياد کړه چې ما خپل مور او پلار په هغه لعنتي لار له لاسه ورکړل،هغه ورځ مې را په ياد شوه چې د (آيت) نوم تبديل وه (نحس) او( يتيم) ته شوه،هغه ورځ می را په ياد شوه چی زما نه غټ تره ماشون لوبی کوله خو ما په لس کلن کی خواره پخول، او کالي مېمينځل او باغبانی به مې کاوه،هغه ورځ مې را په ياد شوه چې په ژوند کې مې د لومړي ځل لپاره په چيغې سره زاري کول خو بيا مې هم ويښتان وخريل شوه.هغه ورځ مې را په ياد شوه چې يوازينی ناوکی او جامې راته اور ته اچول، هغه شپې مې په ياد دي چې تر سهار مې په دروازه کې تيروله چې لږ تر لږه د غږ په اوريدو او د بوټانو په غيږ کې مې ويره کمه شي. .

هغه اوښکې مې را په يادېدې چې وچې شوې ځکه نه پوهيدې چې د کوم درد لپاره بايد لومړی وژاړم.هغه شپه مي په ياد راوړل چی تر سهار می بهر د باران او واوري لاندي تير کړل د هغه کارونو لپاره کوم کارونه چي زما ګناه نه وه، هغه شپه مې را په ياد شوه چې زما کتابونه په اور کې سوځيدلي وو او ما د ليدو پرته بل څه نه درلودل.هغه وختونه مې په ياد راول چې زما لاسونه په کوچنۍ خطا سره سوځولي به ما يو ماشوم په ياد راوړو چې هيڅکله نه پوهيږي چې ماشومتوب څه معنی لري؟

ما هغه نجلۍ را په ياد کړه چې هيڅکله نه پوهيده چې د نجلۍ کيدو معنی څه ده؟

ما هغه سوک ياد کړ چې د تل لپاره خوشحالی ورسره بيګانه وه، هغه ژوند مې را په ياد شو چې په افسوس سره تېر شو، هغه ماشوم مې را په ياد شو چې د زرګونو کلونو په اوږدو کې په يوه شپه کې لوی شو، هغه اميدونه مې ياد شول چې خاورې شول او ورک شول، هغه عمر مې را په ياد شو چې يوه ورځ مې هم تجربه نه کړل و او يوازې ژوندی وم....

— باران باران، ته ښه يې؟

د يو چا د لاس په خوځولو خپل د فکر له نړۍ بهر شوم، احرار وو چی په انديښمن نظر يې وپوښتل: باران باران اوری ؟ ايا ته ښه يی؟؟؟ يو څه ووايه باران ښه يې؟

له زرو ځلو مړ کېدو وروسته مې بالاخره په کراره غږ وويل: زه ښه يم.

احرار- ته ډاډمن يې چې ښه يې؟

— هو هو..

بيا د حرير غږ و چې زما غوږونو ته را ورسيد.

حرير- ايا کوم شئ دې په ياد راوړی چې داسې حالت دې خراب شو ؟

خدايه دا نو څنګه امتحان دی؟ اوس څه ځواب ورکړم؟ زه په ذهن کې د ځواب په لټه کې وم چی احرار په قهرجن لهجه زما څخه مخکې وويل: د څشی په ياد راوړل ؟ دا بې ځايه خبرې نور ختمې کړې. مګر حالت يی نه ويني؟

ټول خاموش وه کله چې زه پورته شوم او پخلنځي ته لاړم. نور هلته د اوسيدو توان مې نه درلود، د خاله امينه سترګې په ما ولګېدی او په ورخطا يی زما خواته راغله.

امنه خاله- باران زما لوری څه شوي دی ؟

– څه ندي شوې خاله جانې.

امنه خاله- نو رنګ دې ولې داسې الوتې؟

– زه فکر کوم چې زما فشار یو څه راټیټ شوی.

امنه خاله- راځه،کینه خپل په پښو دیر ، مه ودریږه.

– ولارم یو چوکی باندې کیناستم.

خاله امینه د یو ګیلاس اوبو سره چې هغه کې بوره اچولې وه زما خوا ته راغله او هغه یې زما لاس کی راکړل.

ډیر وخت نه و تیر شوی چې احرار د دروازې په چوکاټ کې راڅرګند شو.

احرار- ته ښه یی؟

– هو زه ښه یم، بس زما فشار یو څه ټیټ شوی و..

احرار ما ته په اندیښمنه نظر راکتل چې دا ځل اصیل راننوت او ویې ویل: ته سوی ( خرګوش) ښه یې؟

په شیطنت مې وویل: ښه یم، ته دومره نېکمرغه نه یې چې زما له لاسه دومره ژر خلاص شی..

اصیل- ما فکر کاوه شاید دا ځل بخت زما سره یارې وکړې او شانس راوړم.

په خندا مې ورته وویل: نه نو هغه متل دې چی وایی: بد شئ بلا لا نه وهي، که څنګه مغرور خان صحې نه وایم ؟

احرار په جدي ډول وویل: خوله دې بنده کړه تر څو چې زه یې په خپله ونه ترم.

یا خدای مه کړه، هغه بیا په غوسه شو، دا د دې معنی ده چې د چوپتیا وخت دی،

له محدودو شیبو وروسته ایمان هم زموږ سره یوځای شوه.

ایمان- باران، ته ښه یې؟

– ته زما دا دومره انرژی ته ګورئ، ایا دا د هغو خلکو سره ورته دی چې ښه نه وي؟

ایمان په خندا سره وویل: نوچ.

ایمان بیا احرار او اصیل ته مخ کړو او ویې ویل: لالا موږ حویلی ته ځو، تاسو هم راځې.

احرار- ته له اصیل سره لاړ شه، زه به له باران سره پاتې شم.

– ته ولې له ما سره پاتې کېږې ؟ پورته شه او ولاړ شه.

احرار- آیا چا ستا څخه د نظر پوښتنه وکړه؟

اصیل- لالا، دا بده ده، دوی مېلمانه دي.

احرار- اصیل ومي ویل تاسو ولار شي زه نشم کولای دا پدې حالت کي یوازي پریږدم.

اصیل- ښه نو باران هم له موږ سره راځي.

– نه، زه ولې راشم ، تاسو  لاړ شئ.

اصیل- باران ضد مه کوه، وګوره لالا هم پراته له تا نه ځې، پورته شه شابه.

اوووف خدایا!

ناچار پورته شوم او له دوی سره روان شوم حویلی ته ورسیدو چې اسد له حریر او ساحل سره ناست وو او موږ هم ورسره یو ځای شو، خو کله چې حریر زه ولیدلم نو مخ حالت یې خراب شو لکه چې زما راتګ یې خوښ نشول؟زه نه پوهېږم دی جلی مشکل راسره څه دي؟ ولی زما څخه بد راځې؟ اخیر په څه دلیل؟ په هر حال ماته مهم نده چې دا زما سره ښ اوسیږی که بد! ځکه ژوند داسی ندې چې ټول تا خوښ کړې باید مخالف نظر اوریدو توقع هم ولرو، لکه د ښاغلي حافظ په وینا.

# افسوس خلق میشنوم در قفای خویش

کاین پوخته بین که د سر سودای خام شود !

ټولو په خبرو بوخت شول چې ایمان وویل: تاسو  ولې د زړو خلکو په څیر ناست یاست ستری شوم ولا..

– ښه ته راته ووایه چې څه وکړو؟

مخکې له دې چې ایمان څه ووایی ساحل ځواب راکړو: راځې د حقیقت او جرئت لوبه وکړو.( دا ملګرو داسی لوبه ده چې یو بوتل یا هم کوم بل شئ څخه وې او د هغه بوتل خوله که د هر چا خواته راغله قابل نفر هغه ته وایې جرئت او که حقیقت؟ په دې دوو کې باید مقابل نفر یو انتخاب کړې که جرئت انتخاب کړې نو مقابل نفر چې هر څه وویل باید دې همغه کار وکړی او که حقیقت انتخاب کړې نو مقابل نفر ورڅخه یو شخصی پوښتنه کوې او دی مجبور دی د رښتیا جواب ورکړی هغه موضوع ته. دغه لوبې ته د جرئت او حقیقت لوبه وایې)

اصیل لاسونه پورته کړو او ویې ویل: ډېر ښه نظر دی زه موافق یم.

له هغه وروسته، ټولو خپله موافقه څرګنده کړه، زه هم پخلنځي ته لاړم ما یو خالي یوتل د اوبه راوړو، ټول ناست وو، اصیل بوتل وڅرخه وو او د بوتل خوله یا هم سر لالا اسد خوا ته مخامخ ودرېد.

اصیل خپل لاسونه یو بل سره وموښل او ویې ویل: ښه، لالا، جرئت یا حقیقت؟

اسد- حقیقت.

اصیل د څو شیبو لپاره فکر وکړو او بیاېې وویل: ته زما سره زیاته مینه لرې که له ایمان سره؟

اسد- ایا دا هم پوښتنه شوه؟معلومداره خبره ده ایمان سره.

د اسد لالا پدې ځواب بغیر له اصیل څخه ټول په خندا شوه، چې اصیل وویل: مشکل نشته لالا، زه دی خرڅ کړم.

اسد لالا ښیښه وڅرخوله او ښیښه د حریر پر خوا ودریده.

اسد- جرات یا حقیقت؟

حریر- حقیقت.

ساحل تر نورو مخکې شو او ویې پوښتل:

– تر اوسه مینه شوې یې ؟

حریر پرته له ځنډه په احرار سترګې ښخې کړې او ویې ویل: په ټول وجود سره هم مینه شوی یم او هم رابانديې ګران دې.

هیڅوک حیرانه نشول ګواکې ټول د سوال په ځواب پوهیدل حتی زه!

ساحل ښیښه وڅرخوله او دا ځل ښیښه زما په خوا ودریده.

– ښه نو باران جرات یا حقیقت ؟

د حقیقت له ویلو مې ډار درلود نو ومې ویل: جرات.

ټولو اووووو کړل چې ایمان وویل: صبر ساحله زه یې وایم چې باران باید څه وکړي؟

ساحل- سمه ده ووایه !

ایمان- باران ته مې باید لالا ته د واده وړاندیز وکړې!

څه نه وو پاتې چې شاخ وباسم !!!

په لاس اصیل ته اشاره کوم او وایم: څه ? د واده وړاندیز ?? هغه هم و دې بیزو ته؟؟؟

اصیل خپل غړ د انجونو په شان  نازک کړو او ویې ویل: نه زه یې نه منم پلار جانه زه غواړم درس ولولم...

ټول له ډېرې خندا سره اوښتي ول چې ایمان د نه په معنا سر وښوروه او ویې ویل: نه اصیل لالا ته نه هغه خو ډېر اسانه دی احرار لالا ته باید وړاندیز وکړې !!!

خنداوې په حيرانتيا بدلې شوې مګر وروسته له څو لحظو نو ټول په خندا شول پرته له حرير نه.

— نه کېږي !!

ايمان- خپله پوهېږئ يا يې تر سره کړه يا بايلوونکې کېږې...

اوفففففففف خدايه د مغرور خان په خوا مې مخ واړوه غږ مې صاف کړو او ومې ويل: ښه ••••••• څه ده ••••••• احراره ته ••••• زما د واده وړانديز منې؟

احرار پداسې حال کې چې خپل خندا کنټرول کول وويل: نه .

ايمان په لور مې مخ کړو او ومې ويل: دا هم وړانديز خلاص شو، ويې نه منو.

ايمان- نه تر څو چې ويې نه منې نه خلاصېږي.

ساحل د ايمان د خبرې په تاييد وويل: ايمان سم وايي تر څو يې نه وي منلی قبول نه ده.

اوفففف خدايه همدا د مغرور خان پخلا کول کم ول !!!

اوس څه وکړم ؟

نظر مې مغرور خان ته کړو او ومې ويل: ولې يې نه منې؟

احرار- اممم څکه تا سم وړانديز ونکړو.

— څه ستونزه يې لرله ؟

د احرار لځايه د اصيل غږ پورته شو او ويې ويل: ولا زه هم وای نه مې قبلوه نپوهېږم د واده وړانديز اوس تا وکړو يا امنيتي ګواښ!؟

انسان په مينه وړانديز ورکوي..

بيا هم ټولو وخند مغرور خان ارامه داسې چې موږ دواړه يې يوازې خبره واور راته وويل: وا دې ورېده اصيل څه وويل؟ په مينه !!

د هغه په رقم مې ارامه ورته وويل: خانده خانده مغرور خان که د دې ټولو کارونو څواب مې له سود سره يې بيرته درنه وانخيست نو باران به نه اوسم.

احرار بيا هم په خندا چې د کنترول کولو هڅه يې ورته کوله په لور غږ وويل: زما وړانديز څه شو؟

په قهر او غضب سره مې غږ صاف کړ او ومې ويل: احراره له ماسره واده کوې؟

احرار- نه.

دا ځل مې د اعتراض په بڼول وويل: راشي وګوري دا ځل مې ارامه وويل ښه نو نه يې منې ما پورې څه اړه

لري؟

ایمان- یوازې په ارامتیا خو نه کېږي په مینه او محبت باید وپوښتې.

غوښتل مې بیا پیل کړم چې ایمان راغله او زه یې په زنګونو په څمکه د احرار ومخ ته کینولم او ویې ویل: اها اوس سم شو ! هر څه چې اوس زه وایم باران ته همغه یوازی تکرار کړه.

ژوره ساه مې واخیسته، او هر څه چې ایمان ویل ما یې خبرې تکرار کولې.

— احرار خان مشرف ایا حاضر یې چې خپل ټول غمونه او خوښۍ له ماسره شریک کړې او ټول عمر زما په څنګ کې اوسېږې؟ ایا حاضر یې ستا ویښتان زما له ویښتو سره یو ځای سپین شي؟ (یعنې تر اخرینه شیبې د ژونده تر څو چې بوډا کېږي )

احرار  ارامه وخندل او سر یې د "هو"په معنا وښوروه.

په خندا په لوړ غږ مې ایمان ته وویل: قبول یې کړو قبول یې کړو...

ایمان- سمه ده جنۍ اوس سکته ونکړئ له خوشحالۍ.

اصیل- ښه نو باران ستا نمبر دی ښیښه وڅرخوه، ښیښه مې په لاس کې ونیوله او و مې څرخوله چې مخامخ احرار ته ودریده •

— ښه نو جرات یا حقیقت ?

احرار- جرات.

اوس نو باید مغرور خان څه وکړي ? اها پوهه شوم !!!!

ایمان- باران ووایه نو لالا مې باید څه وکړي؟؟

— شعر دې ووايي..

ایمان- فرین باران.

احرار- شعر؟؟

— هو یو شعر ووایه..

مغرور خان څو ثاني خاموش شو بیا یې په کراره پداسې حال کې چې و ماته سترګی نېولې وه وویل:

# غرور حسنت اجازت مگر نداد ای گل

که پرسشی نکنی عندلیب شیدا را

ندانم از چه سبب رنگ آشنایی نیست

سهی قدان سیه چشم ماه سیما را

جزء اینقدر نتوان گفت در جمال تو عیب

که وضع مهر و وفا نیست روی زیبا را

ټولو چکې وهلې پرته له حریر څخه چې د مغرور خان په شعر کې ډوبه وه، ګواکې مغرور خان د هغې د زړه درد په ژبه راوړی وو؟ په ریښتیا هم دا مینه څه ده؟ څنګه یو کس تر دې حده مست (مدهوش) له هوښه وتلی کېدای شي؟؟ بې له شکه مینه له درک نه پورته څه ده!!

د هندي فیلسوف رایيندرانات تاکور په وینا:

# مینه یو بې پایه راز دی ځکه نور څه نشي کولای هغه توضیح کړي.

الحق مینه داسې راز وو چې هرچا د هغه د امانت اخیستلو توان نه درلود..

ځکه د دې راز د امانت اخیستلو لپاره ( زه ) حلال شي او (هغه) په مېنځ کې راشي ..

احرار ماته مخ کړو او ویې ویل: صحیح شو؟؟

په موسکا مې سر وښوروه،تازه مو غوښتل لوبې ته دوام ورکړو چې ګیسو ټول صالون ته وغوښتلو ځکه د تګ وخت وو..

ښاغلي رحیمي او کورنۍ یې خدای پاماني وکړه او لاړل.

ژوند له عجایبو ډک دی،حتی د وخت ګذر انسان په حالات پورې ترلی دی، کله چې خوښ یو وخت داسې تېرېږي لکه تښتېدلی زنداني او کله چې غم او خفګان وي نو داسې وي لکه یوه زړه ښځه چې په حرکت یا په لار روانه وي...

***

.څلور میاشتې له لومړۍ ورځې چې دې کور ته مې قدم کېښودلې وو تېریدې

.بلی هو څلور میاشتې تیرې شوې او داسې تیرې شوې چې ما ونشو کولای د وخت حساب په لاس کې واخلم

– باران کولای شی مرسته راسره وکړې؟

–امر وکړه اغلې مهریه څه وکړم؟؟

مهریه-  زما قد هلته نه رسېږي.

– راکړه زه یې پاکوم.

د نورو ځایونو پر خلاف په دې کور کې پاکاری معمولا د اونۍ په منځ کې کیده ځکه د حمید تره نه خوښېږي؟ کور دې مردار اوسیږي.

د الماری په لورې لاړم او په پاکولو مې پیل وکړو،د الماری کار تقریبا خلاص وو چې ګیسو زه یې مخاطبه کړم او ویې ویل: باران باران !!!

– ها؟؟

ګیسو- خان صیب درته په تمه دی زر شه.

– سمه ده .

مهریه- باران ته لاړه شه زه خپله خلاصوم دا نور.

– صبر وکړه مهریه څه نه دي پاتي، دا خلاص کړم.

مهریه- نه لاړه شه چې بیا په قار کېږي خان صیب.

ریښتیا هم د احرار غصې د هر انسان په زړه کې ډار غورزوه. او دروغ ولې حتا زه چې احرار مې په حق کې ډېرې مهربانۍ هم کول، د هغه له قار نه مې ډار درلود , څه ورسېږي نورو ته چې حتا د احرار موسکا یې هم نه وه لیدلې.

احرار د کوټې لاره مې په مخ ونیوله !!!

کوټې ته په رسیدلو دننه شوم !!!!

چې احرار شتون نه درلود!!!

په غصې له ځان سره په خبرو بوخته شوم.

– لیونی مغرور خان ماته غږ کوي او خپله نشته!

کرار د تخت خوا لاړم او په تخت کیناستم چې سترګې مې د احرار په عکس ولږېدلې چې په دیوال ځړېدلې قالب شوي انځور کې موسکا کوله!!!!!

مګم یو انسان تر کوم حده زړه راښکوونکې ( جذاب ) کیدای شي؟

مګم د یو انسان موسکا تر کوم حده ښکلې اوسیدی شي؟

یو انسان تر کوم حده بې نقصه کیدای شي ؟

احرار ښکلی نه وو تر ښکلي پورته وو !!!

په لیدو کې ډوبه وم.

احرار- د نورو ليدل هغه هم په دې ډول ايا سم کار دی؟

خدايه دا څه وخت راغی ? زما ولې پام نشو ????

په ورخطايي سره د احرار خواته ورغلم په بنده بنده ژبه مې وويل: هغه ••••••••• زه ••••••••• زه ••••• څه مې کول •••••••• هغه څه وو؟

احرار په جدي څيره او تروش تندي نږدې راغی او ويې ويل: څه وو ?

په هر قدم چې احرار مخکې راتلو زه شاته تللم •

– زه ••••••• ف ••••• فقط....

شا مې په ديوال ولږېده مګم احرار و نه دريدو او ويې ويل: ته فقط څه؟

نور مې ژبه قفل شوې وه د احرار له څيرې نه کيدو څه تشخيص کړم يعنې واقعا د يو انځور د ليدو لپاره تر دې حده غصه شو؟؟

هيڅ لار نه وه بايد بخښنه مې غوښتې وای نو هوډ مې وکړ او ومې ويل: احراره بخښنه غواړم واقعا نه پوهيدم غصه کېږئ •••••• زه •••••ما فقط هغه انځور وليدو او غوښتل مې له نږدې وګورم مګم د ليدو په حال کې پوه نشوم چې څنګه •••••••••

زه په خبرو کولو کې ډوبه وم چې احرار په خندا شروع کړه.په حيرانتيا مې احرار ته کتل , داسې يې خندل تا به ويل چې دلته د باغ وحش نمايش روان وي او زه هم بيزو اوسمه•

احرار په خندا وويل: څيره دې واقعا د ليدو وړ وه.

او د غږ په نري کولو يې زما د خبرو تکرار وکړو...

احراره بخښنه غواړم واقعا نه پوهيدم چې غصه کېږئ ما فقط هغه انځور وليدو او غوښتل مې له نږدې يې وګورم ) هههههههههه

– ښه نور بس دې ټوکې.

مګر احرار فقط خندل...

لږ لږ واقعا د شرم احساس مې وکړو او په غصې د دروازی خوا ته لاړم چې احرار له لاس ونيولم•

احرار ړ چېرته؟؟؟

– دوزخ ته !!!!! ته دې هم ريشخند وهلو ته ادامه ورکړه ..

ارحرار- بارا....

اجازه مې ورنکړه چې خپله خبره پوره کړي لاس مې په زوره د هغه له لاس نه ختا کړ او کوټې نه بیرونه شوم.

انګړ ته لاړم او موټر مې ومینځلو او وروسته له هغه کتابتون ته لاړم او یو کتاب مې راواخیستو او په ویلو مې پیل وکړو.

نپوهېږم څومره وخت به تیر شوی وو چې د کوم چا په ټوخي مې سر پورته کړو

– فکر مې کوو یوازنی کس چې په دې کور کې دلته راځي هغه زه او مهریه یو چې البته مهریه هم د پاکاري لپاره راځي ••••

بلی هو ریښتیا یې ویل یوازنې کس چې د کتاب ویلو لپاره دلته راتلو اسد لالا وو••

په موسکا مې وویل: ښه نو لالا جانه مبارک دې وي یو شریک دې پیدا کړو

اسد لالا وخندل او ویې ویل: نو خوشبخت یم زه په داسې شریک !!!

– ښه نو څه احساس لری د ما پشان د یو شریک لرلو باندې؟؟

اسد لالا بیا هم وخندل او ویې ویل: د خوشبختۍ احساس..

اسد لالا هغه کتاب ته چې زما لاس کې وو په لیدو یې په حیرانتیا وویل: فلسفه؟؟

– هو.

اسد- اصلا تاسره نه وایي چې فلسفه دې خوښه شي؟!

اوږې مې پورته واچولې او ومې ویل: اوس خو مې خوښېږي !!!!

اسد- افرین ماشومې فلسیوفې..

موسکا مې وکړه او بیرته مې مهربانه موسکا تر لاسه کړه !!!

اسد لالا کیناست ورته څېر شوم.

– کوم سیند دې کښتۍ ډوبه کړې؟

اسد لالا غلی وو.

– موضوع د ورېندار په اړه ده؟؟

ارامه یې سر د هو په معنا وښوروه •

– ښه نو ستونزه څه ده کله چې دواړه یو بل سره مینه لرئ او هو ناممکنه ده چې کورنۍ یې تاته منفي ځواب درکړي !!!!

اسد لالا په غمجنه موسکا وویل: هغه له ورکتوب نه د ماما زوی په نوم ده.

اه زما خدایه....

ښه نه ده...

په ورکتوب کې په نوم کول !!!!

کلونه دا د دار رسۍ د فرهنګ او رسم په نوم د هیواد د ځوانانو په مره کولو لګیا دې.

اه چې دې بار څومره ملاوې کړې نکړې...

اه چې څومره هیلې د خاورو لاندې شوې !

ای خدایه اخر تر کومه؟؟؟

اخر تر کومه باید د هیواد ځوانان مو د دې بې ځایه رواجونو ښکار کېږي؟؟

د یو نوي کور لرلو لپاره باید یوازې هغه څیزونه چې نوي کور کې د ګټې ور وي له زوړ کور نه راواخلی او که ټول زاړه شیان له ځان سره وساتو هغه وخت نور نه کور بلکې یو انبار( بیځایه شیانو د ساتلو ځای) به وي , او پرته له شکه هیڅ انسان په یو انبار کې د ژوند کولو قادر نه دی. دا رسم او رواجونه هم د هماغه وسایلو حیثیت لري چې یو کور په انبار بدلوي....

– ښه هغه هلک څه؟ ایا هغه هم•••••••

ومې نشو کړی جمله مې بشپړه کړم

اسد- ولې دې بشپړه نکړه ؟

– هغه هلک ورسره مینه لري ؟

دا ځل یې ترخه خندا وکړه او ویې ویل: کاش چې مینه یې ورسره لرلی ! لاقل پوهیدم نیکمرغه کېږي مګر هغه ورسره هیڅ لیوالتیا نلري او د کورنۍ تر فشار لاندې غواړي ورسره واده وکړي !!!

یوازې انجونې نه وې چې په دې هیواد کې تر جبر لاندې وې.

دې رسم او رواج لکه ړلۍ ټولې نوې غوړیدلې غوټې له منځه ورلې..

که له ما یې وپوښتئ وایم چې د هیواد هلکان مو تر نورو ډېر تر ظلم او جبر لاندې دي هغه هم د یوه توري تر لاندې ( سړی ــ نر ) !!!!

نر خو نه ژاړي !

نر خو نه خاندي !

نر خو گلې نه کوي !

نر خو نه احساساتي کېږي !

نر خو نه کمزورې کېږي !

ته نر يې نو کورنۍ دې بايد له تانه وډار شي !

ته نر يې بايد استواره اوسې حتی که ريښې دې د وچيدو په حال کې وي !

ته نر يې بايد په يوازيتوب د يو کور عهده دار اوسې •

ته نر يې بايد درد وباسې مګم نفس ونباسې ••••

نر نر نر

څومره غلط انځور مو د ( نر ) له کلمه جوړ کړی •

ولې نر (سړی) د خندا او ژړا حق نلر مګم هغه احساسات نلري ?

ولې بايد يو نر ټول عمر د يو کورنۍ مسووليت په غاړه ولري !!

مګم د يو انسان اوږې څومره د بار وړلو طاقت لري ?

ولې نر نه ضعيفه کېږي مګر هغه انسان نه دی ?

ولې بايد نر تل درد وګالي او هيڅوګ پرې خبر نشي ???

ولې ?????

مګم زه وايم..

نر اوسيدل بايد دومر طاقت وره اوسی چې وکولای شی له دردونو دې ووايې !!

نر اوسيدل يعنې دومره تکړه اوسې چې د خندا او ژړا توان ولرئ ••

نر اوسيدل يعنی د درد حالت کې د چا په غېږ کې د سر ايښودلو زړورتيا ولرې !!

نر اوسيدل يعنې دومره مين اوسې چې شپې محال ستا په راتګ د ټولې نړۍ غمونه وتښتي !!

نر يعنی تکيه ګاه اوسې او خپله هم تکيه وکړې !!!

اما •••••• اما •••••• اما •••••

يوازې د يو کس پر وړاندې نه ټولو او نر اوسيدل د همدې يو کس لاسته راوړل د زړه په سترګو !!!

ټول ځای چوپتیا ونیوه !!!

د ( هر څه ښه کېږي په اندېښنې مه اوسه ) ویلو توان مې له لاسه ورکړی وو خپله هم پوهیدم د دې هر څه ښه کیدل دومره اسانه نه دي !!!

– ښه نو د ورېندار په هکله راته ووایه!

زما په خبر د اسد لالا موسکا پر شونډو میلمنه شوه، او ويې ویل: پوهېږئ باران سترګې يې د سیند په شان دي !!!

په یوه ثانیه کې داسې ډوب کېږئ چې هر څه دې له یاده وځي !!!!

دومره مهربانه ده چې ته به وایې دا کس د کینې او حسد په نوم څه نه پیژني !!!

دومره پاکه ده ې ته به وايې هيڅ رنګ يې له دې رنګارنګ زمانې نه دې اخیستی !!!!

اسد له خپلې مینې ویل او زه اوریدونکې ومه !!!

څومره ښکلې يې ویل !!!!!!

داسې يې ویل چې په کلماتو کې مینه بې نقصه او بشپړه پیدا کوله !!!!!

او الحق مینه همدا ده !!!

د مین په سترګو کې هیڅوک له معشوقې نه پشپړه نه وي !!!!

مین د خپل د معشوقې د کمبودیو د لیدلو توان نلري ځکه بدیو سره يې هم مینه لري !!!!

زما له نظره مینه یعنې بې دلیله ګرانښت

ستا که ښیګڼې خوښېږي ته مین نه يې فقط له حده ډېر احترام مینې ته اړ کړی يې !!!!!

ځکه مینه دلیل او منطق نلری مینه لکه یو اور دی چې د یو کس په سینه کې بل کېږي..

عشق شجاع است و دیوانه

عشق مدهوش است و از خود بی خبر

عشق منتق سرش نمیشود

که اگر چنین نباشد من آنرا عشق نه خواهم خواند

چنانچه شاعر عشق می‌سراید

# عشق هم سببی نمی خواهد

عشق چنین میسازد تا مطلق بود

#مولانا

څو دقیقې دخبرو وروسته اسد د تلو لپاره ولاړ شو، تازه دروازې ته رسېدلی وو چې ورته ومې ویل: څومره مینه ورسره لرې؟

اسد- له هر څه نه ډیره!

— نو اړینه نده اندیښمن اوسې کله چې شیرین فرهاد ته ، مجنون لیلا ته، او زلیخا یوسف ته ورسیدل اسد به هم مینې ته ورسیږي زه یې په قلم ( قسمت) ایمان لرم.

د اسد په مخ خوږه مسکا خپره شوه او ویې ویل:همداسې فکر کړې؟

په خندا مې سر وخوځوو او ژوره خندا مې د هغه څیره کې ولیده..

د اسمان تور والي د شپې د راتګ خبر ورکوو، کتاب مې بند کړو او د خپلې کوټې خواته روانه شوم. اته بجې د شپې وې که هر څو ډیر وخت وو د خوب لپاره خو لدې خبرو ډیره ستړې وم وږې نه وم نو مستقیمه مې سترګې پټې کړې او خوب ته مې پناه یوړه..

— کمکککککککک.........کمککککککک ...... مه ځه ما تنها مه پریږده....... مه ځه ځه کیږي..... تنها مې مه پریږده زه ډاریږم...... مه ځه..

په چیغو او د یو چا د لاسونو په خوځولو سره له خوبه ویښه شوم..

— مه ځه..... م..... مه ځه....

احرار-  ایشش ارامه اوسه تیره شوه ارامه اوسه...

— اح........احرار وګوره...... وګوره ځي..... ځي احراره...

احرار- جان...

— هغه...... هغه ولاړ..... وګوره ولاړو ز...... زه بیا هم تن..... تنها پاتې شوم ..... ځ...... ځي.......

احرار- باران...

— ځ.... ځي...

احرار- باران ماته وګوره.

احرار زما مخ خپلو لاسونو کې ونیو، په ویره مې احرار ته وکتل داسې ښکاریده لکه هغه لعنتي خوب نه وي خلاص شوی.

احرار- هیڅوک هیڅ ځای ته نه ځي، یو بد خوب وو او خلاص شو.

بې اختیاره مې د هغه غیږ ته پناه یوړه او ومې ویل: ت...... ته خو نه ځې؟

احرار اول نه خوځیدو خو وروسته له څو شیبو یې لاسونه رانه چاپیر کړل او زه یې غیږ کې ونیولم.

احرار- نه ځم.

په سلګو سلګو ژړلو رانه د خبرو کولو توان واخیست په بنده ژبه مې وویل: احر...... احرار زه ډارى...... ډاریږم ځ.... څه کیږي ما مه پریږده!

احرار- مه ډاریږه د احرار ژونده قسم دی تر څو چې پدې سینه کې ساه شته هیڅ څوک تاته زیان نشي رسولی !!!!

د وجود دننه مې یو غږ ویل د احرار خبرې یو دم حقیقت دی..

— ن..... نه مې پریږدې؟؟

احرار- ندې پریږدم.

— وعده ده؟؟؟؟

احرار- وعده ده!

نه مې غوښتل چې له غیږې نه یې لرې شم که هر څو پوهیدم چې نه ځي خو ډار مې په ټول وجود کې خپور شوی و. چوپ پاتې شوم او چوپ پاتې شو

څومره یې مننوویه وم چې دا چوپتیا یې نه ماتوله، زه محتاجه وم

د دې زنهار (زنهار ملګرو په مطلب د پناه امن ځاې امید) محتاجه وم.

ددې چوپتیا محتاجه وم.

ددې غیږې محتاجه وم.

احرار زما زنهار شو د هغه چا چې بی زنهار وم..

عجیبه نده؟؟؟

ځینې وخت خپل مو له بیګانه و څخه بیګانه او یو بیګانه له خپل څخه مو ډیر خپل کیږي .... ما ته احرار د هر څه خپلوانو او شناختو څخه زیات خپل او دوست وو داسی لکه چې د کلونو راهیسې پیژنم.. په حق سره چې د تقدیر قلم له عجایبو پرته بل څه پدې کتاب کې ونه لیکل!!

احرار کرار وویل: ښه شوې؟

ریښتیا هم ارامه شوې وم، له خبرو پرته مې سر وخوځوو

بیا هم په خاموشي سره مې په کټ تکیه ولګول چې احرار وویل: وګوره نن مې تاته ډالۍ راوړې وه خو خفه شوې!

– څه د راوړي و؟

احرار- ته چې خفه وې نو ولې ووایم؟

پوهیدم چې هغه غواړې په دی خبرو زما حالات ښه کړې نو په کراره مې وویل: احرار!

احرار- جان.

– څه د راوړي و؟

احرار- خپله یې وګوره.

د خبرې سره سم یې یو کوچنی قوطی له جیبه وایستلو او زما خواته یې ونیو

قوطی مې خلاص کا او...........

نه نه خدایه واقعي دی؟؟؟

څه کیږي که خوب وي ما مه ویښه وه!!!!

سترګې مې په لیدو قادرې نه وې..

زما غاړګې مې د سترګو وړاندې وو!!!!!

زما د مور یوازینی یادګار مې په لاسونو کې وو خداااایه!!!

په ناباورۍ سره مې د احرار خواته وکتل او په بند بند ژبه مې وویل: غا..... غاړګې .... مې.

احرار وخندل او سر یې وخوځوو، څو شیبې مې غاړګې ته په ځیر کتل وای به چې زما په لاسونو کې یې بیرته شتون د باور وړ نه وو خو بلاخره مې د تعجب نه لاس واخیست. د ماشومانو په شان مې د احرار خواته حمله وکه او بیا مې په غیږ کې ونیو ته به وایې چې یوې مور د خپل ماشوم لپاره د هغه د خوښې د لوبو سامان راوړي وي په ریښتیا هم چې د هغې صحنې د کنترول کولو وس مې نه درلود..

په چیغو مې وویل: احرارررررر زما غاړه ګې په ولا چې همدا دی احرارررر..

احرار په خندا وویل:  سمه ده ارامه اوسه..

د احرار له غیږې اخوا شوم او د کټ په سر ودریدم..

— څنګه ارامه واوسم وګوره خپله دی زما غاړه ګې ده پخدااااای.....مننننه مننه... په قران چې دربانډې مئينه يم دربانډي اصلا ليونی د يمممم احرارررررررررر..

ما د تخت په سر ټوپونه وهل او چيغې مې وهلې احرار هم خندل، وروسته له څو شيبو د احرار خندا بنده شوه او په کلک لهجه يې وويل: باران بس ده ښکته شه ژوبله به شې!

— نه درځم نه درځم خداااايه مهربانه خدايه مينه درسره لرم، مئينه يم دربانډې..

احرار- باران!!!

يو دم لکه څه مې چې ياد ته راغلي وي ودريدم او احرار ته وګرځيدم د ګرځيدو سره سم بالښت مې واخيست او د هغه خواته مې حمله وکړه.

احرار- ايييييېې شيشکې څه شوي؟

— څه شوي ها څه شوي؟ ولې دې ژر زما غاړه ګې رانکړ ها؟

احرار- ما خو غوښتل درکړم خو ته غصه شوې او لاړې!

رښتيا يې ويل خفه شوې وم خو ناممکنه وه چې وې منم نو ځکه مې بيرته په بالښت په سر او مخ ووهلو او ومې ويل: که پر ما دې ريشخند نه وايې وهلې زه هم نه خفه کېدم.

احرار- ضد مه کوه او ومنه چې ستا غلطي وه.

— نې منم.

احرار- ولې؟

— ځکه زړه مې غوارې او تاته هم اړه نلري؟؟؟ او هو ريښتيا غرېبړه مه زه خفه يم

احرار په حيرانو سترګو راوکتل او ويې ويل: غلطي ستا وه او خفه هم ته يې؟؟؟

— هو صاحبه ستونزه لرې؟

احرار خوږه مسکا وکړه او ويې ويل: ښه نو اوس دا و ايه چې څه وکړم چې د جنابې د ښښې وړ وګرځم؟

څو شيبې مې فکر وکړو.. اها همدا خپله دی! او خپل په راغلې فکر په خوشحالی مې وويل: يو لوی کاکو غوارم.

احرار- همدومره؟

— هو.

احرار- منم يې..

– نو سمده زه اوربند اعلان کوم مغرور خان.

بالښت مې کېښود لاس مې د احرار خواته اوږد کړو، احرار په خندا چې غوښتل یې کنټرول کړي لاس یې زما لاس کې راکړو او ویې ویل:مهرباني د وکړه زما اغلې.

اوس یې ډیر ښه وخت وو د ځورولو، خپل په شیطانی فکر مې خندا راغله خو کنټرول مې کړو او په کلک لهجه مې وویل: ښه نو زر کوه ولاړ شه غواړم ویده شم

احرار په حیران انداز وویل: ولاړ شم؟

– هو که زحمت نه کیږي.

احرار په راوتلو سترګو راوکتل چې ما بیا وویل: مګر کوم عجیب خبره مې وکړه؟ غواړم ویده شم لاړ شه.

احرار- یعني ما له کوټې وباسې؟

– اممم هر رقم چې فکر کوې!

احرار- سمه ده ارامه خوب.

احرار خپل د خبری سره سم په غصه ناکه څېره د دروازې خواته روان شو، غوښتل یې بیرون شي چې نور مې نشو کولی ځان کنټرول کړم او په لوړ غږ مې خندا پیل کړل او ومې ویل: واااااای ته یې څهرې ته وګوره؟

احرار په تروش تندې غبرګې سترګې ماته نیولې وه، چې ما وویل: ښه نو احرار خان مشران څه وایې؟

وایې: د بل چا دروازه مه وهه په نوک چې ونه وهې ستا دروازه په سوک.

احرار غوښتل زما خواته راشي چې زر مې پښې په ټېښته کېښودې،د ماشومانو په شان مې منډې وهلې او احرار هم راپسې وو.

احرار- دعا وکه چې لاس مې در ونه رسیږي کنه نو هر څه چې د ولیدل له خپلو سترګو د لیدلي!

په خندا او د ټیښتې په حال کې مې وویل: ووځه زما له کوټې.

احرار- اوس وتل درته ښیم.

د ټیښتې لاره نه وه نو باید بل تخنیک مې کاره ولې وایې په نرم لهجه مې وویل: مغرور خان دنیا دوې ورځې ده ولې مو خپل لنډ عمر په انتقام کې تیر کړو؟ راځه د دوستی لاس ورکړو څه وایې؟

احرار رنګ د زیات خندا څخه تک سور شوی و، او خندل یې. څه په زړه پورې وه دهغه د خندا ساز. ته به وایې چې خدای د هغه په خلقت له ښایسته پرته بل څه نه وو کارولي

د زرم ځل لپاره د خدای پدی شهکار کې ډوبه شوې وم چې احرار خپل لاس زما د سترګو په وړاندې وخوځو او زه یې هغه ځای ته وګرزولم.

احرار- چیرته ډوبه شوې؟

– هیڅ ځای چیرته ډوبه شم؟

احرار ښایسته وخندل او یې ویل: ښه نو وړاندیز دې منم نو ملګری؟

– ملګری!اشتې.

دواړه په خندا کیناستو.

– ریښتیا مغرور خان تا څنګه غاړه ګې پیدا کړل؟حتی حوزې پولیسانو لا ویل چې ډیر وخت کیږي د هغه کس پسې ګرځي خو هیڅ ګټه یې نده کړې او نه یې دی پېدا کړې.

احرار- میوه وخوره خو د باغ پوښتنه یې مکړه.

– اوففففف ووایه نو

احرار- د ویلو لپاره څه نشته غاړګې دې غوښتو پیدا شو خلاص!

وروسته د څو شیبو چوپتیا څخه مې ورو وویل: احراره نه پوهیږې چې تر کومه حده دې منندویه یم که نن ته نه وای یوازنی څه مې چې د تیر وخت نه لرل له لاسه ورکول .

احرار- کله چې دومره درته ارزښتناکه وو نو ولې د له ځانه لرې کا؟

یا الله تر څو چې دا مغرور خان حقیقت لکه د طوطي په څیر زما له خولې ونه باسې زما له سر لاس نه اخلي.

– ته نه غواړې ویده شې؟ مګر سبا شفاخانې ته نه ځې؟ وګوره څومره ناوخته شوې ولاړ شه هله.

د مغرور خان نظر کلک او ویرونکي وو په همغه کلکه لهجه یې وویل: هېڅ ګټه نکوی دا خبري دی ځکه بحث نه بدلیږي رښتیا ووایه ولې؟

یا رب رحم وکړه دا ځل د ټوکو او شوخی تخنیک مې خپل کړو چې شاید بحث بدل کړې.

– لږ یې هم ګټه ونکړه؟

مغرور خان په همغه کلک نظر راکتل

خپله د ګوتې نوک مې د هغه د سترګو په وړاندې وښوره او ومې ویل: دومره هم نه؟؟؟؟؟

هغه هیڅ یو حرکت لا نه ښکاره کولو،یعنی دا چې آیت جان د چوپتیا وخت راغلی، او باید رښتیا ووایې.

احرار- څه مجبوری دی درلوده؟ چې اړه شوی خپله غاړګۍ ګرو کړی؟

چوپتیا مې اختیار کړه ځکه ویلو ته مې کومه خبره نه درلوده.

احرار- باران څه ته دی اړتیا درلوده چې له خپلی غاړکۍ هم تیره شوی؟او هغه هم داسی غاړکۍ چې شپې کې هغه لپاره ته ژاړې.. که پیسو ته دی اړتیا درلوده ماته به دی ویلی وو،ولی دی خپله غاړکۍ ګرو کوله؟

اوس نو څه ځواب ورکړم؟ ورته ووایم غوښتل مې چې ستا کلیزی لپاره ډالۍ واخلم له خپل لرلو او نه لرو څخه تیره شوم؟؟ نه،ممکنه نه ده چې احرار غمجن کړم،د مجرمینو په څیر خاموشه مې ځمکې ته کتل.

احرار- باران ماته وګوره!

په ارامه می خپل سر پورته کړ،او احرار ته مې وکتل، بیا هم هغه راته په هغه ژور او ویرونکي انداز راکتل.

احرار- سمه ده مه وایه! مګر بل ځل دی ونه ګورم چې خپل ځان داسی ناراحته کړی،هر څه ته دی اړتیا درلوده ما پسی به راځی،او که دی بیا داسې کوم کار وکړو نو  داسې خاموش به ما ونه ویني پوهه شوی؟؟

یو انسان تر کوم حد پوری د پوهیدو وړتیا لری؟

یو انسان تر کوم حد پوری مهربانه کیدای شي؟

ځینې وختونه ما په ټکې په ټکې پوهه وی،فکر کوم چې احرار ما احساس کوی!

داسی لکه زه پرانستل شوی کتاب او هغه لوستونکی دی کتاب وی!!!!

په ژوره خندا می وویل: په ډوارو سترګو قومندان صاحب په مهرباني تاسو امر وکړي!!!

په هماغه تروش تندي وویل: فکر کوي د خوږو خبرو سره بخښل کیږي؟

باران- نکیږم ؟

مغرور خان په معنا د ناا سر وخوځاوه، پیل می وکړ عجبیه عجبیه څیرو باندی یعنی مسخری باندې چې احرار په کلک انداز وویل: اړتیا نشته خپل ربښتېنې مخ دي راښکاره کړه مخکي مي هم دا څیري لیدلی ..

باران- ښه کوم مغرور خان تاته څه ؟

بیامی هم ژبه ورته راوباسله

احرار- انسان مشرانو سره همداسی خبري کوي؟

– داسی خبری نکوی ناا ؟

احرار جدی را وکتل او ویې ویل: یو څو دقیقی جدی اوسیږی څه کیږی؟

– وغوارم او که ونغوارم ژوند جدی دې نو زه ولی جدی اوسم؟؟

دواړه په خندا پیل وکړو، چې احرار د تللو نیت وکړ دروازه ته نیږدي وه غږ می وکړو

– رښتیا احرار؟

احرار- جان.

څومره ښایسته وایي(جان)

– مننه!

په هماغه خندا یې وویل: هیله کوم.

احرار لاړ یې او زه بی خبره بله دنیا ته لاړم؟ یعنی ویده شوم...

***

..اوه میاشتي تیری شوی

..هواوه میاشتي د هغه دوزخیستان څخه تیری شوی

..اوه میاشتي د دروغو سره تیری شوی

مگر نور بس دی نور دغه دروند بار زغمل راته سخته وه نور توان نلرم دروغ ویلو ته نور اړتیا هم نشته دروغ ویلو ته.

ما په په دې څو میاشتو کي چې دلته پدې ماښې کې کار کاوه خپل ټول پیسی می ټولی کړې وي، ځکه حمید کاکا کوټه هم راکړې وه ډوډی هم راکوله مصرف کیدی ناا همدی سببه ذخیره شوي وي.

کومي پیسی می چې جمع کړې وه په هغه مې کولی شو بل ولایت ته لاړه شم او هلته ژوند پیل کړم ...

کابل زما پیدایښت ځای وه کابل پریښودل راته ستونزمنه خبره وه، خو بله چاره می ندرلوده باید تللی وای ....

زموږ ټول خپلوان کابل که ژوند کوي ځکه هم مې پلار او هم مې مور کابل څخه وه همدی ډار له سببه دلته وه او زیات بیرون نه تلم او ډاریدم چې څوک می ونه ویني  او کاکا می بیا هغه دوزخیستان ته بو نه ځي...

اوس چې کوم وضعیت کې ما شتون درلوده یوازې انتخاب می دا وو چې ددې ځای څخه نوره لاړه شم...

هینداري څخه می زړه واخسته خولی می پر سر کړه حویلی په مقصد روانه شوم کوټې څخه لاړم مانې څخه تللی نه وم خاله اسیه غږ وکړو ....

آسیه-  باران!

باران- سهار پخیر خاله جانی ؟

آسیه-  ستا هم سهار پخیر  خوړی چیرته ځی ؟

باران- موټر مینځلو ته ځمه..

آسیه- لومړی راشه سهار چای وڅکه بیا وروسته لاړه شه...

باران- نوش جان مو زه وږي نه یمه.

آسیه- یعنی څه وږي نه یی ژر راشه تا هیڅ خوړلي ندی داسي نکیږی مریضه کیږیږی !!!

باران- مننه خوو ......

مخکي دینه خبره مکمله کړم له شالخوا سرته په څپیړی ووهل شوم

باران- اخخخخخ...

احرار- شابه مور مي رښتیا وایی ژر کوه.

مغرور خان د تل پشان امر صادر کړو او پرته لدې چې زما قهرجنه نظورنو ته وګورې د میز خوا ته لاړو او په چای څکلو باندی پیل وکړو لیونی مغرور خان! اصیل او ایمان خندل چې ما ورته بد بد وکتل او هغوی هم خاموش شول...

چاره نه وه میز لورته لاړم کیناستم،ټول مصروفه په سهار چای باندی وه چې حمید کاکا وویل: باران نن چیرته ځم موتر تیاره کړه.

باران- په سترګو خان صایب.

بیزو د تل پشان خاموش پاتې نشو او ویې ویل: پلاره چیرته ځی هغه هم جمعه په ورځ ؟

حمید کاکا- حاجي صاحب قدیر نن ورځی میلمستیا نیولې لاړ نشم ښه کار ندی!!!

ټول حیرانه شول..

اصیل- حاجي صاحب قدیر؟ هغوی د هغه موضوع وروسته مګر خارج ته تللی نه وه او هلته ژوند پیل کړي نه وه ؟

حمید کاکا- هلته ژوند کاوه خو مشره ښځه لږ مریضه وه نو همدا دلیل شو بیرته راشي...

یعنی دا څوک دی چې دوي ټول داسي سوالونه د هغوی په اړه کوي؟

داځلی اسد وپوښتل: زوی هم راغلي؟

حمید کاکا- هو دواړه. راغلي.

احرار نوبت راورسیده: هغه جلی څنګه شوه؟

ځان سره مې وویل: ښه نو موضوع جلی باندی ده عجبیه ده په تا څه آیت مګه دا خلک ته یی پیژني؟

حمید کاکا- نپوهېږم زویه خدای وکړي ژر یې پیدا کړي.

ټول سوچ که لاړل چوپتیایی خپره کړه ...

سهار چای وخوړل شوو ټول خپلو کارونو پسي لارل ..

زه هم موټر په خوا لارم منځلی می پیل وکړل.

څه کم نیم ساعت روسته خان صایب راغی موتر دروازه می پرانستله اوکیناسته

– خان صایب چیرته لاره شمه؟

حمید کاکا- ته اوس حرکت وکه روسته درته وایم.

– په سترګو.

حرکت می وکړل

تراوسه ډیره لاره پاتی نه وه چې حمید کاکا وویل: هغوی احرار او اصیل ندی؟

په زیر می وکتل او ومې لیدل احرار اصیل موتر څنګ کې د سړک سره ولاړ وه.

– هو خپله هغوی دي.

حمید کاکاچ-  ولی ولاړ دي؟  ته صبر وګورم څه خبره ده ؟

موټر می د هغوی څنګ کې ودروه زموږ په لیدلو دواړه زموږ خواته راغلل.

موټر څخه ښکته شوم دروازه می خان صایب ته خلاصه کړه.

حمید کاکا-  احرار څه شوي ولی دلته ولاړ یاست؟

احرار- سلام پلاره جانه نپوهېږم موتر یو دم ودریده فکرم کوم خراپ شوي  ...

حمید کاکا- چیرته ځی ؟

احرار- کار خانه یې ته ځووچ.

حمید کاکا-  بیا نو زموږ لاره یوه ده راځي تاسو هم رسه وم...

احرار- ناا تاسو باندی ناوخته کیږي  موږ تکسی نیسو.

حمید کاکا- ناا زویه نه ناوخته کیږي لا وخت شته بیا زموږ لاره هم یوه ده .

مخکي احرار نا اصیل جواب ورکړو.

اصیل- لالا راځه ناوخته کیږی.

احرار چې ولیدو ورور او پلار خبره یوه ده نو ناچاره موټر خواته لاړه!

د احرار وروسته موږ هم د موټر خواته لاړوو..

دروازه می حمید کاکا ته خلاصه کړه هغه کیناسته اصیل هم ورسره کیناست زه هم خپل ځای کی کیناستم احرار هم مخکي سیت کي زما څنګ کیناست ....

احرار- باران اول کار خانه ته لاړه شه .

څو ځلي کارخانه ته تللی وم بلده وم بغیر له اضافه خبری حرکت می وکړو ...

نن هوا هم زما زړه په څیر وه !

طوفانه او بدرګه وریځي فضا نیوله وه!

تیز باد وه ښارکي هم چوپتیا خپره وه.

نیم ساعت وروسته حمید کاکا موبایل ته زنګ راغی.

حمید کاکا- سلام حاجي صاحب څنګه یاست؟

موبایل شاته غږ نه اوریدلو کیدو..

حمید کاکا- هلکانو کارخانه کي کار درلوده لاره کي یي موټر ورخراپ شوی هغوی رسوم درځم ..

مبایل شاته غږ .....

حمید کاکا- احرار او اصیل دی.

موبایل شاته نفر- .....

حمید کاکا- هغوی هم سلام درته وایي.

مبایل شاته غږ- .......

حمید کاکا لږ ځند وروسته موبایل احرار ته ونیوه او ویې ویل: حاجي صاحب غواړی تاسره خبري وکړې!

احرار موبایل واخسته.

احرار- سلام علیکم حاجي صاحب.

حاجي صاحب- .........

احرار- مننه کوم څنګه یاست صحت مو ښه دی ؟

حاجي صاحب- ..........

احرار- حتما انشاءالله درځمم

حاجي صاحب- ........

احرار- ښه وخت سلام کوي

حاجي صاحب- ........

احرار- په سترګو الله حافظ

احرار مبایل بند کړو او ویې ویل: اصیل روسته به کارخانه ته لاړشوو لومړی به د حاجي قدیر کورته لاړشوو.

اصیل- ولی ؟

احرار- ډیر شله شوو که لاړ نشوو بی احترامي کیږي.

اصیل- سمده هسي هم ډیر کار نلرو ژر خلاصیږي.

کارخانه ته لاړو ډیر ژر کارونه خلاص شوو ...

څه کم یو نیم ساعت تیرولو وروسته د کارخاني څخه د حاجي قدیر کورته ورسیدو!!! دروازه می حمید کاکاته خلاصه کړه احرار اصیل هم موتر راښکته شول .

احرار راوکتل او ویې وویل: باران موتر ته پورته شه تا کورته بیایم خپله راځم پلاره می هم موږ سره درځي..

– نا‌ا پتمه پتمه کیږم تاسو ته.

احرار- دلته یوازي حوصله دي ختمیږي دننه هم د سړیو میلمستیا ده  ستا مناسبه نده!

– نا‌ا ستونزه نشته  تاسو میلمستیا خوند واخل  زه هم شاوخوا ګورم ...

احرار- څه کیږي یوازي یو ځل ضد ونکړي او زما خبره ومني؟

په خندا مې وویل: قیامت! اوس ورځه نوو هله..

مخکي لدینه چې احرار کوم جواب راکړي حمید کاکا غږ وکړو.

حمید کاکا- احرار زویه  راځه

احرار-  په سترګو پلار جانه.

په سترګو مې احرار ته اشاره وکړه چې ورځه ..

احرار په اندېښنه نظر راوکتل او بیا په تروش تندې سر را وخوځاوه او د اصیل او حمید کاکا سره دننه میلمستون ته لاړو ....

ما هم د شاوخوا په لیدلو پیل وکړو پورته ماډل موټرې ، ډېر زیاد موټر چلونکي، اوبیحد خلک چې ټول خلک هم راته د پورته جامعي مطلب خانان خلک معلومېدل. خدمتګارانو هم د میلمستیا شیانو په جوړه ولو باندې مصروفه ول. موټر چلونکي، او کور چوکیدارن هم یو بل مینځ که خبرو باندې مصروفه ول. هیچا ماته پام نه وه ماهم د فرصت ګټه واخیسته او د کور په کتلو بوخته شوم.

اوووو هاااا دااا ځشي دي؟؟؟ حاجي قدیر کور د حمید کاکا له کور څخه هم ډېر غټ وه !!!دوه غټ غټ ماڼۍ دواړه دوه منزله وه یو باغ ، ډول ډول میوي درلودې، ډېر ګلان وني، ماڼۍ شاته یو غټ لامبو حوض ، لږ هغه نا مخکي والیبال میدان وه بس خایسته غټ کور وه .

خدایه دا حق ندی ؟

خدایه دا انصاف ندی ؟

دوی دومره لري چې د مصرف کولو لاره ورنه ورک شوي څنګه یې مصرف کړي؟ خو موږ باید د یو وخت ډوډۍ لپاره شپه ورځ خواري او زحمت وباسو..

لاس مې د ګیلي کولو څخه واخسته شیطان ته مې لعنت وویل.

خدایه ته حکیم یې په هرڅه پوهیږي شکر ګذاره دی یم هرڅه دي راکړي نعمت دی څه دي راکړي نه وي رحمت دی !

خدایه ته دانا یې ټول شیان تاته سپارم ...

دری ساعته تیر شوی وه ما هم شاوخوا کور کې پلټنه کول، فکرونو کی ډوبه وم چې ناڅاپه یو چا سره مې ټکرو وکړو او په ځمکه وغورځیدم لاس مې په تیږه ولګیده او ویني ورنه روانی شوي...په غوسه باندې مې سر پورته که د بوډا سرې په لیدو غوسه مې ورکه شوه.

سرې غږ پورته شوو.

بوډا- ولی لارې ته پام نکوې؟ ؟ مګر سترګو دید نلري؟ ؟ نادانه انسانه ؟؟؟؟

دا څه وایي؟ ؟؟؟

زما سره ټکر هم ده کړې زما لاس هم زخمي کړې بیا هم داسي خبري کوي؟ غوښتل مې جواب ورکم چې له شالخوا غږ ورته وشو او زما خبره بنده شوه.

— پلاره څه خبره ده ؟؟؟

نا نا نا خدای دی نکوی !!!!

خدایه څه کیږی په تیروتنه سره می اوریدلي اوسي؟؟؟

کاشکی کڼره اوسم و هیڅکله می اوریدلي نه وایې دا غږ...

خدایه که چیرته بد خوب وي نو راویښه می که حتا دي بد خوب زغمل راته ساه اخستلو اجازه نه راکوي!!!

خدایه څه کیږی دا بد خوب ربښتیا نه اوسي..

خدایه نااااا نااا څه کیږی ربښتیا نه اوسي!!!

بوډا- دا نادان څوک دی جاوید؟

جاوید، جاوید، جاوید، جاوید،.

دا نوم مي ذهن که څو ځلي تکرار شوو...

دا نفر زما شاته ولاړ دي جاوید دی؟ ...

هغه جاوید چې زما د هر شپي بد خوب وو؟ هغه اوس زما شاته ولاړ دی؟ نیږدي راتلوو غږ جاوید غږ راغی زه بی حرکته ځمکه باندي ناسته وم ...

جاوید- ته څوک یی ؟

داسي وېرېدلې وم لکه د محشر میدان کې چې ولاړ یمه او د عمر اخری شیبی میدی ..

جاوید- تاته وایم نه آوردی؟ ته څوک یی؟

غږ می ندرلوده چې له مرۍ څخه ووځي چوپه خوله پاتی وم یو کلمه می هم ویلی نشوه ...جاوید لاس زما خواته را اوږد شوو لکچه فکري کړي وه زه هم هلک یم ..

سترګي مي پټه کړي ملک الموت پتمه شوم..

خوو د یو چا غږ زما ټول سوچونه ویران کړل ..

هغه غږ د تل پشان او د هر ځل پشان زما ژوند د تمام کیدو څخه وژغورو هغه غږ زما زًنهّارَ ... زما احرار

احرار- باران...

د احرار غږ سره د جاوید لاس هم بی حرکته پاتی شوو.

احرار او اصیل زما خواته راروان شوه خو احرار زما لاس وینه ولیده په منډه او ورخطایي ځان راورسوه ..

احرار- باران څه شوي ؟؟ لاس ندی ولی ویني روانی دي؟؟؟ ښه یی ؟؟؟

کراره می سر وخوځاوه خو هغوی دواړه زما پریدلې رنګ ته حیرانه پاتې وه، بیحد وېرېدلې وم.

جاوید غږ می واوریده:

جاوید- احرار خان دا نفر پیژني؟

اصیل پوهیده چې کله احرار په اندیښنې کې وې نو د چا سره خبري نکوی، نو د هغه په ځای جواب ورکړو.

اصیل- باران زما دپلار موتر چلونکي ده.

احرار کراره وویل:

احرار- باران څه شوي؟ ولی رنګ دی الوتی ؟ کومه پیښه شوي؟؟؟

نوره هلته پاتیدلی نشوم مهمه نه وه زما په حقیقت پوی شوی مهمه نه وه ما د کور څخه وشړې اوس مهمه مسله د جاوید څخه ژغورل وه او بس....

احرار ته می وکتل په اندیښنه ماته کتل په کراره غږ داسې چې یوازي اصیل او حرار وآورې ومې ویل: ما لدې ځایه ویسه خیر دی نباید دا نفر ما وویني!!!

دواړه څوشیبې چوپتیا وکړه او په حیرت یې راوکتل خو احرار ژر ځانته راغی او ویې ویل: ولی ځانته پام نکوی ؟ ولی تر دحده بی پروا یی ؟ آسمان په مخه روانه وي چې دا رقم وشو؟ هله ژر کوه باید لاړشوو..

احرار خپل خبري سر سم خپل لاس راوړد کړو او زه یې د ځمکې څخه پورته کړم، زما د سر خولې نور هم زما پر مخ راکش کړل او زما لاس یې کلک ونېو د ځان پسی کش کړم، چې جاوید په مسخره وویل: هوم باران! مګه د سرېبانو او نرانو قحطې راغلې وه چې حمید خان یو جنۍ خپل موټر چلونکې کړې ده؟

د احرار غضب ناکه لیدل می ولیده او بیا د هغه قهرجنه لهجه چې وې ویل: میړانه او زړه ورتوب یواځې په نر او جنیست باندی ندی جاوید خان، داسې که وایې اوس باید ډیر سرېبانو پر سر تکړی او لاسونه که بنګری اچولې وایې هغوی د نرانو نوم بدنامه کړې..

بیایې ماته راوکتل او ویې ویل: باران ژر کاوه باید لاس دی پانسمان شي.ستاسو په اجازه حاجي صاحب.

بوډا- صاحب د اجازې یی احرار خان..

په بیحد سرعت د احرار شاته روانه وم باید ووایم منډې مې وهلې.

د لومړي ځل لپاره، زما دعا بې ځوابه پاتې نه شوه،

د لومړي ځل لپاره ما احساس وکړ چې په دې نړۍ کې زما قسمت توره ندی..

لومړي ځل لپاره می احساس وکی چی زما غږ هم اوریدل کیږي او هیر شوی نه یمه.

او زه څومره منندوی یم خپل د خالق څخه  او بیا د احرار څخه بیحد منندوی یمه.

موږ په دیر سرعت سره د موټر په لور روان شو،کله چې موټر ته ورسیدو، ما ولیدل چې حمید کاکا د موټر څنګ کې ولاړ دی.

هغه زموږ په تمه و کله چې موږ نږدې ورغلو او هغه زما په لاس کې وینه ولیده، نو  په خفه اندازه یې وویل: باران لوری څه شوي؟ لاس دې ولې وینې؟

اصیل ژر وویل: اغلې دومره په هوا ده چې مخ ته یې ونه لیده او وولیدل لاس هم په یو ډبري ژوبل شوو.

حمید کاکا- لوری ته ولی پام نکوې ځانته؟ ته ښه یی؟

ما سر وخوځاوه چې احرار وویل: ته ټیي یې، زه پخپله موټر چلوم.

په رښتیا هم ما په هغه حالت کې نشو کولې موټر وچلوم نو پرته له دې چې څه ووایم په موټر کې کېناستم.

کاکا حمید خبرې کولې، خو زموږ له دریو څخه هیچا خبرې نه کولې، زما په شان احرار او اصیل په خپلو فکرونو کې ډوب وو، او یوازې د کاکا حمید خبرې ته یې غوږ نیولی و، خو زه پوهیدم چې د دوی په فکرونو کې څه روان دي؟ ماڼې ته ورسیدو .زه بې له دې چې خبرې وکړم، خپلې کوټې ته لاړم حمام می وکی

غوښتل مې خوب ته پناه یوسم، او دا ټول جنجالونه هیر کړم خو فکرونو په کراره نه پریخودم..

د بسترې تر څنګ پر ځمکه ناست وم، او د هر څه په اړه مې فکر کاوه، د خپل ځان، کورنی، زما مور او پلار، تیر، راتلونکي او تر ټولو مهمه دا چې زه څنګه د احرار او اصیل سره مخامخ شم؟ په هر حال زه خو ددی ځای څخه روانه وم خو کاش چې د دوی په ذهن کې داسې درواغجن انځور مې نه وایی شوي جوړ کړې، زه له ځان سره په شخړه کې وم چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او احرار را ننوت، پرته له دې چې څه ووایي، هغه زما څنګ ته کېناست او زما لاس یې واخیست او پانسمان یې پیل کړو.ما خپل لاس هیر کړی وو خو احرار نه وو هیر کړی،مرګونی چوپتیا خپره شوه ما تمه درلوده چې احرار به په شور او غوغا سره ټول هغه بد او ناسم کارونه راته وړاندې کړي خو هغه زما د تمې خلاف وو احرار غلی و.

زما د لاس پانسمان خلاص شوی نه وو،چې اصیل د دروازې په چوکاټ کې راڅرګند شو.

اصیل- لاس دې څنګه دی؟

خدایه ولې دوی ټول زما د شرمولو په لټه کې دي؟ په کراره لهجه مې وویل: ښه دی.

اصیل خپل سر وخوځاوه او کیناستی زما د لاس پانسمان  پای ته ورسیدی ، چې اصیل وویل:ولې دې ونه ویل چې خپل حافظه دې ترلاسه کړې؟

احرار پرینخود چې اصیل کوم بله خبره وکړی او ویې ویل: اصیل اوس یی وخت ندی.

نور چوپ پاتې کیدل بس دی ، زه باید ریښتیا ووایم: نه احرار هم دا یې وخت دی.

دوی دواړو ماته راوکتل.

– زه له اول څخه هرڅه وایم.

احرار- ډاډمنه یې؟

د احرار لپاره می سر وخوځو زه نور نشم کولی دا دروند بار ځان سره یوسم نور می طاقت نه درلود ما باید دا پای ته رسولي وایی او اوس يي وخت وو د څو شیبو چوپتیا وروسته ساه می واخستل او خبرو ته می پیل ورکړو.

– اوولس کاله وړاندې ، یوې نجلۍ له یو هلک سره واده وکړ ، او یو کال وروسته دوی د یوه وړوکې ماشومې انجلۍ خاوند شوه. چی د بد شانس هغه جلی زه وم ، او مور اوه کاله ارام ژوند درلود. مګر اوه کاله وروسته ، زما پلار ، د یو ملګري په مشوره ، هجرت پریکړه وکړه او له همدې امله هغه ایران ته مهاجر شو. زما پلار د ساختماني کارګر په توګه او زما مور په یوه کور کې د خدمه په توګه کار پیل کړو. په پیل کې هرڅه سم وو، مګر د وخت په تیریدو سره ستونزې ډیرې شوې او زمونږ ژوند سخت شو، پولیسو ځورول کول ، خلک یې توهین کول او ویل یې چې ولې خپل وطن ته نه ځی ؟

کله چې دوی وپوهیدل چې مونږ افغانان یو، دوی له مونږ سره خبرې نه کول، ځکه افغانانو سر خبری کول دوی ته بی عزتي ښکاریده ، مونږ حق نه درلود چې ښوونځي ته لاړ شو زه کله کله له خپلې مور سره د کور خاوند د کار ځای ته تللم د کور خاوند  به زما مور د خپلې میرمنې پرته تعقیبوله او هغې ته به یې ډیر زیان رسولی

هغه یې  دیر ځوراول په ریښتیا، زه نه پوهیدلم چې هغه وخت څه پیښیږي، مګر اوس زه ښه پوهیږم!!!کله چې زما پلار د شپې کور ته راغی، لاسونه ټول ژوبله شوی وه اوږی هم ژوبله شوی وه  دا د کار نښه وه چې د درنو وزنونو بوجو پورته کولو په وخت کې پیښیږي وو.

که څه هم زه کوچنی وم او زما پلار ماته خپل درد نه ښودو خو زه پوهیدم چې پلار مې درد لری کله چې به هغه زه پر شا کېناولم، د هغه مخ د درد څخه تروش کیده.له دې ټولو بدبختۍ سره دوه کاله تېر شول خو مونږ هغه ځای ته ورسیدو چې نور د ژوند کولو توان نه وو پاتې،یوه شپه زما د پلار ملګري زمونږ کور ته راغلل، زما پلار خپل د سخت ژوند قیصه هغه ته کړې وه هغه د څو شیبو لپاره فکر وکړو او بیایې وویل: علي، ته په کابل کې ځمکه لري کنه؟

– هو، زمونږ میراثي ځمکې په کابل کې دي.

– نو ولې یې نه خرڅوي او اروپا ته نه ځئ؟

– اروپا؟

– هو، اروپا، زما ورور هلته ژوند کوي، تاسو پوهیږئ، که تاسو یو ځل هلته لاړ شئ، ستاسو راتلونکی تضمین دی!

– مګر زما ځمکه دومره نه ده.

– بس ده،تاسو یوازې درې کسان یاست.

پلار مې په فکر کې ډوب شو، چې هغه ملګری بیا وویل: خپل لور ته فکر وکړه چې په دې وطن کې ستا د لور

راتلونکي ته څوک پروا نلري، ته چیرته ورسیدلی ، زه چیرته ورسیدم ، تر څو زموږ اولادونه راورسېږي؟
افغانستان تر دې ځای هم بدتر دی

زما مور وویل: سعید وروره، یو خطرناک لاره ده ، موږ یو ماشوم لرو.

— وریندارۍ خطر ډېر نه دی، رسنۍ له تنې څخه غر جوړوي. ستاسو په څیر، که ما هم کافي پیسې درلودې، زه به دلته یوه ورځ هم نه تیروم.

یوه میاشت تیره شوه او زما پلار بدل شو، ما د هغه ښه پلار څخه نور څه نه لیدلی هغه زما له مور سره سمې خبرې نه کولې، هغه زما سره لوبې نه کولې، هغه تل په خپلو فکرونو کې ډوب و، بالاخره یوه شپه یې مور ته وویل: رعنا، ما خپله پریکړه وکړه، موږ اروپا ته ځو،

مور- علي، ته څه وایی ، ته نه ګورې چې د ورځی په زرګونو خلک د خپل ژوند پر دی لار د لاس ورکوی ؟

پلار- هېڅ هم نه کېږي د سعید ورور همداسې تللی دی.

مور- هره ورځ منګې نه ماتېږي؟ یوه ورځ ماتیږي ولې زموږ د لور له ژوند سره لوبې کوئ؟

پلار- زه دا کار د خپلې لور د راتلونکي لپاره کوم چې هغې ته په دې هیواد کې د زده کړې اجازه نه ورکول کیږي او افغانستان نور هم خراب دی.

مور- علي مکوه زما د لور د ژوند سره لوبي مکوه.

پلار- رعنا بس ده.

مور مې چپ شوه او زما سر یې په خپلو ښو کېښود او ما زما ویښتیانو باندې لاس تېر کړو څو شیبې وروسته زما پلار د هغې څنګ ته کیناست او لاسونه یې خپل لاسونه کی ونیول.

پلار- رعنا، زه نه غواړم چې زما لور د ساختماني کارکونکي یا د خلکو د کور خدمه وي، زه غواړم چې زما لور زده کړه وکړي او خپل راتلونکی جوړ کړي.زما د لور لپاره د افغانستان او ایران په څیر هیوادونو کې خوب لیدل منع دي. دلته خو د مهاجر په نوم راتلونکي نلری او افغانستان کي د جلی په نوم

زما د مور له سخت مخالفت سره سره بیا هم زما پلار ټوله هغه ځمکه خرڅي کړی چې زما له نیکه څخه یې په میراث کې اخیستې وه، ټول بسته بندي کړل او قاچاق لاره مو ونیوله ترکیه په لاره کې مو داسې ورځې ولیدې چې د بیان وړ نه دي لوړه، سترپیا، تنده، بې خوبي د دې لارې تر ټولو اسانه برخې وې تر دې چې ترکې ته ورسېدو، په زرګونو ځله مو مرګ پر سترګو ولید، په ځنګلونو کې مو ورځې تېر کړې،

په داسې حال کې چې ماشومان او لویان مو هم ورسره وو، ساعتونه مو بې له ځنډه تګ راتګ کاوه، قاچاقبر ناڅاپه موږ ته د وتلو امر وکړ او پولیس هم. په موږ باندې د مرمیو باران کړل تر دې چې په پای کې له زرو سختیو او مشکلاتو سره د ترکې پولې ته داخل شو او په یو خرابه کی ځای پر ځای شوو موږ په ترکیه کې نږدې درې میاشتې تیرې کړې..

مورې درې میاشتې په هغه کنډوالو کې ژوند وکړ چې نه دروازه وه او نه کړکي خو کاش مورې به هلته پاتې شوی وایي د دریو میاشتو په اوږدو کې، مورږ څو ځله هڅه وکړه چې یونان ته لاړ شو، مګر هر ځل مورږ به له ناکامۍ پرته بل څه ترلاسه نه کړو تر څو چې د غم هغه ورځ راغله..

زه نه پوهېدم چې کله او څنګه اوښکو زما مخ ډک کړو

که څه هم زه یوازې نهه کلن وم او کوچنی وم، خو ما هغه ورځ ثانیه پر ثانیه کې یاد دي هغه ورځ چې تور یې زما ټول تقدیر تور کړو، هغه ورځ چې زما هرڅه یی له منځه یوړل،هغه ورځ چې ما خپل نوم له لاسه ورکړ، هغه ورځ چې زما نړۍ رڼا له لاسه ورکړه. هغه ورځ هم لکه د دې دریو میاشتو په څیر، مورږ غوښتل چې له پولې یونان ته لاړ شو، هلته زمورږ شاوخوا پنځه ویشت تنه وو، قاچاقبر یوې ورې کښتۍ ته اشاره وکړه او ویې ویل چې کښتۍ ته ورشئ.کښتی دیره وړه وه خو هر دول وو تول سپاره شوه او کښتی حرکت وکی څو ساعتونه تېر شول نور ځمکه نه لیدل کېده، هر څه ارام وو، خو ........... مګر یوازې د طوفان څخه مخکې آرام چوپتیا تر هغه وخته پورې حاکمه شوه یو غږ راغی، پولیس دي سکندرار پولیس...

د قاچاق ورونکي سرې چې لوی بدن او خورا بد شکله مخ یې درلود، سترګې د وحشیان وو چی هر بنده یی ویرول مورږ د هغه اصلي نوم نه پوهیږو، مګر د هغه مستعار نوم سکندر وو هغه ټولو ته مخ کړو او ویې وویل: ژر سی کښینی ژر سی ، حتا که زه د یو چا د ساه غږ واورم، زه به یې مستقیم سمندر ته وغورځوم !!!ټولو ته معلومه وه چې سکندر له هیچا سره ټوکې نه کوي او ریښتیا به هم داسې کوي ځکه چې د ترکیه له پولې څخه د تیریدو پر مهال یې زمورږ د سترګو په وړاندې څو کسان وژلي وو.

ساعتونه تیر شول او یوازینی شی چې مورږ یې احساس کولی شو هغه رڼا او تیاره وه چې له یو بل څخه تیریږي. مورږ نه پوهیدو چې دا څومره وخت تیر شوو، ځینو ویل درې ورځې، ځینو وویل څلور ورځې.نور نو حساب مو هم د یاد وتلي وو تر څو زما توره ورځ راغله د ورځې نږدې نیمې ته رسیدلی وو او د تل په څېر هر څوک په خپلو کارونو بوخت وو، ځینې ویده وو، ځینو خبرې کولې، ځینو په بشپړه چوپتیا کې سمندر ته کتل، هماغه سمندر چې یو څه وخت یې زمورږ کوربه و!!!په کښتۍ کې ډیر شور نه و او مورږ په بشپړ چوپتیا کې وو کله چې یو کس په ویره باندی چیغې پیل کړل.

– سوو....... سوری سوریییییییی !!!!!ای کښتۍ ته وګورئ سوری ده .... کښتۍ سوری ده....

کښتۍ سوری شوی وو، سکندر ټولو ته وویل چې ارام شی ، هیڅ به نه کیږي، بیا یې هغه هلک ته اشاره وکړه چې د هغه د لاس لاندې و، ورشه د نجات جاکټونه راوړه ،

سکندر د نن خواته ولاری هلک هم د هغه په شا کې روان شو. شل دقیقې تیرې شوې خو د دغو دوو کسانو هیڅ خبر نه و یو چا غږ وکړو

– ولې دومره ناوخته یې کړو؟ مورږ باید وګورو.

ټولو ومنله او دواړه هلکان دننه لاړل د څو دقیقو وروسته،

هغه دوه په ورخطا یی سره راوتله

سکندر لاړ، اوه خدایه، بیچاره شوو هغه نامرد ولاړې اوس څه خاوری پر سر کوو

ـ ته څه وایی چیرته تللی؟

— د کښتۍ شاته یوه کوچنۍ کښتۍ وه هغه سره تښتیدلی دی.

هرڅوک ډارېدل

یو چا چیغې وهل

یو چا ژړل

یو چا لعنت ویل.

مور مې زه په ټینګه غیږه ونیولم او پلار ته یی مخ واړوه

ـ علی اوس څه وکړو؟

پلار مې یوه شېبه چورت ووهه

ـ ارامه اوسئ

ـ څنګه ارامه اوسو هغه بیغیرت تللی مورږ ټول مرو؟؟ په چیغو وهلو او ښېرا کولو څه نکیږي باید د ژغورلو یو لار پیدا کړو

ـ رښتیا وایي، اوس مهمه داده چې څنګه ددې ځای نه ووځو؟!

ـ د ژغوورنې واسکټونه باید پیدا کړو.

ټولو د ژغورنې د واستکټونو په پیدا کولو لګیا شوه.

لږ شېبه وروسته یو هلک ږغ کړ!

ــ پیدا مې کړل ولا چې پیدا مې کړل.

ټول خوشاله وه خو هلک په خواشیني راووت

پلار مې مخ هلک ته کړ او ویې ویل: څه شوي؟

هلک- یوازې لس دانې د ژغورنې واسکټونه شته.

ټوله کښتي کې خاموشي شوه

— اوس څه وکړو مورږ پنځه ویشت نفره یو د ژغورنې واسکټونه لس دانې!

یو نارینه ږغ کې: واسکټونه ماشومانو او ښځو ته ورکوو.ټولو ورسره ومنل، تر څو دوی واسکټونه تقسیمول د

کښتیٖ درزونه نور هم زيات شوه، نه پوهېږو څه وشوه خو په څو ثانيو کې ټوله کښتي اوبو ونيوله نوره د واسکټونو د ويش خبره ختمه ټولو پر واسکټونو جنجال شروع کړ ، دې منځ کې مې پلار يو واسکټ په مشکل راواخيست

ــ رعنا يوازې يو مې راواخيستلای شو.

مور مې بې له ځنډه واسکټ په ما واغوست.

ـ مهمه نده علی همدا يو بس دی.

اه د مور د مينې نه اه

اه د پلار د قربانیٖ نه اه

اه زما د تور تندي نه اه

کښتي د ډوبېدو په حالت کې وه پلار مې زه ټينګه غېږ کې نيولې وم ، د کښتیٖ هره ټوټه هره خوا ته خپل په مخ روانه وه، پلار مې زه پر يو ټوټه کښېنولم ما په ژړا هغه تر غاړې نيولی نه مې غوښتل ترې جلا شم ..

پلار- لورې ما پرېږده.

ـ پلاره زه نه ځم ، زه ډارېږم ما يوازې مه پرېږده!

د لومړي ځل د پاره مې د پلار په سترګو کې اوښکې وليدلې، په هغه مهربانو لاسونو يې د اخرين ځل لپاره زما مخ ونيوه او ويې ويل: د پلار شهزادګیٖ د هيڅ شي نه نه ډارېږي ځکه پلار يې تل ورسره دی.

په ژړا مې ويل: خو ته د کښتې په دې تختې ما يوازې پرېږدې.

پلار مې مخ راښکل کړو او ويې ويل: په ياد دې ده چې يو بل سره مو پټ پټونې کولې؟هغه وخت چې دې زما سترګې پټولې ما ته نشوې ليدلای خو ته هم هلته وې اوس هم هغسې کيږي خو دا ځل زه ستا سترګې ترم خو ته شايد مې ونه وينې خو مې به تا تل وينو.

پلار مې خپل اوښکې پاکې کړې او لاس يې زما پر زړه کښښود او ويې ويل: موږ به همدلته پيدا کوې هر شېبه هر ګړی ستا د زړه د هرې درزا سره به موږ درسره يو نو هيڅکله هم مه ډارېږه تل غښتلې اوسه!ژوند کې هميشه لوړې ژورې وي خو غښتلی انسان هغه دی چې دې لوړو ژورو ته سر کښته نکړي او تر ټولو په لوړ اواز وخاندي.

د پلار ژوند د هغه په نرتوب او په جنسيت او رېره کې ندی ، نر اوسېدل يوازې د هغه په غيرت او غښتل توب کې دی نو تل نر او غيرتي اوسه!

د خبرو خلاصېدو ورسته يې کلکه غېږ کې ونيولم، د لومړي ځل د پاره مې د پلار اوښې د ريږدېدو حالت کې وليدلې !!بيا مې مور او پلار په ژړا زه غېږ کې ونيولم او ښکل يې کړم او پر هغه ماته تخته يې کښېنولو راته يې وويل: سترګې دې پټې کړه!

ای کاش مې د هغوی خبره نه وای منلې!

ای کاش مې دا بلا وهلې سترګې نه وای تړلې!

ای کاش چې د پلار د غېږې جلا شوې نه وا!

ای کاش په ژړا د هغوي سره تللې وای!

ای کاش چې هغه ورځ مې د هغوی سره ساه وتلې وای ای کاش!

نور مې د اوښکو کنټرول د وسه وتلی و،د هغو یادونو په یادولو سره زما د زړه ټپ تازه شو او لکه مالګه چې ور باندې وشندې پر مخ باندې مې اوښکې روانې وې غوښتل مې یوازې وژاړم او وژاړم!

د کلونو په اندازه وژاړم!

د غمونو په اندازه مې!

د بد مرغیو په اندازه مې!

د ټپونو په اندازه مې!

د مور دپاره مې!

د پلار دپاره مې!

خپل د ځان دپاره مې! !!

ـ هغه ورځ مې خپل هر څه د لاسه ورکړل، ما خپل سترګې خلاصې کړې خو مور او پلار مې نه وه، نور مې مور د شپې راته نکلونه ونکړه، نور مې پلار د کور په راتلو ونه ویل (د پلار ژوند چیرې ده)

نور مې مور زما ویشتیان چوټي نکړه

نور مې پلار زما سره لوبې ونکړې

هغه ورځ یتیمه شوم!

احرار او اصیل ته متوجه شوم د دواړو مخونه په اوښکو لانده وه خو ما په چیغو ژړل څه شېبه وروسته اصیل خپل مخ پاک کړ او لاړ یو څه اوبه یې راوړې د اوبو په څښلو مې یو څه حالت ښه شو.

اصیل ـ ښه نو نور بیا څه وشوه؟

ژوره ساه مې واخیسته او ومې ویل: زه یې بیرته افغانستان ته را مرز کړم پدې چې مور مې هیڅ خپلوان ندرلودل زما سرپرستي زما د یوازیني اکا په غاړه شوه یوه ترور مې درلود خو په اصل کې ترور مې نه وه د مور

ملګرې مې وه مطلب تور غونډې مې وه خو هغې زما سرپرستي وانخیسته. او رښتیا اکا مې هم زه نغوښتلم خو مجبورر وو او زه د اکا په کور کې را لویه شوم.ددې اوو کلنو یادونو کې ډوبه شوم..

ټول یادونه مې د فلم په څېر د مخ نه تېرېدل چې د احرار اواز د یادونو د نړۍ نه را وایستلم

احرار- نو ولې د شپې تښتېدلې؟نو ولې چې هر څه دې په یاد وه د کورنۍ څنګ ته دې لاړې نه؟

ـ کورنۍ؟ ؟!کومه کورنۍ؟!! زما اکا او دهغه کورنۍ زه هیڅوخت خپل نه کړم تل هغوی ته د اوږو د بار په څېر وم.

اصیل په حیرانتیا وویل: نو ستا د تیښتي وجه همدا ده؟

د نه په بېه مې سروښوراوه او د څو شېبو دپاره چوپ شوم، بیا مې کرار وویل: د اکا زوی مې یو نجلۍ وتښتول او ورسره یې نکاح وکړه، د نجلۍ کورنۍ غوښتل د اکا پر کور مې حمله وکړي هم هلک او هم د هغه کورنۍ له منځه یوسي خو اکا او د اکا ښځې مې د بدو مې زما د ورکولو وړاندیز وکړ.

اصیل ـ نو ته یې په بد کې ورکولې؟

ـ نو تر ما بله ښه قرباني هم وه ؟ تر یو ناکسي او یتیمي نجلۍ نه بهتره څوک وه؟

دا وار احرا په قهرجنه لهجه وویل:ـ اکا دې لور نلري؟

په غوسه مې وخندل او ومې ویل: لري یې یوه نه دوه لونې لري او دوارې هم تر ما مشرانې دي.

اصیل په خفګان وویل: د هم دې دپاره وتښتېدې؟

ـ هو هغه شپې په سهار یې غوښتل ما په بد کې ورکړي .

اصیل ـ نو ولې دې وویل ستا هیڅ یاد ندي ولې د اول نه هر څه ونه ویل تر څو کمک وکړو درسره؟ !

په شرم او پښېمانۍ مې سر کښته کړو او ومې ویل: هغه شپه چې و تښتېدلم دوو هلکانو زما د ازارولو کوښښ وکړ ما یوه ډېره واخیسته یو مې په سر په وواهه و وتښتېدلم چې د احرار سره ټکر شوم کله چې مې سترګې خلاصې کړې فکر مې دا و څنګه د کابل نه بهر لاړه شم .

بیا هم چوپ شوم ..

ــ زه .... زه ډارېدمه چې هسې نه تاسو ما د اکا کور ته واستوی خو چې کله مې د اصیل او مدثر دوی اواز واورېد چې ویل یې کیدای شي څه یې یاد نه وي دا فکر مې ذهن ته راغی او تاسې به زما څخه د کورنۍ په اړه پوښتنه هم نکوئ او هلته به مې استوئ هم نه.

احرار همداسې راته کتل او ویې ویل: تا فکر کړی و چې موږ تا بیرته هغوی ته تسلیموو؟

ـ ما هغه وخت تاسې نه پیژندلی او په هیڅ یوه مې باور ندرلودا!

اصیل وویل: نو ته جاوید د کومه پېژنې او ولې ځیني پېژندې؟

ـ جاوید همغه کس دی چې اکا مې زه په بد کې ورکولم.هغې نجلۍ چې د اکا د زوی سره مې ښتېدلې وه د جاوید خور وه.

اصیل چې څهره یې په حیرانتیا کې غرقه وه ویې ویل: یعنی هغه ....هغه نجلۍ ته یې؟

ما هم په تعجب وویل: کومه نجلۍ؟

د اصیل نه مخکې احرار وویل: نو چې کله دې موږ وپېژندو ولې دې رښتیا ونه ویل؟

د شرمندګۍ حس مې په بدن ویښتیان شخ ودرول او ومې ویل: نه مې غوښتل ما د یو دروغجنې په حیث وپیژنئ او هغه دروغ زما مجبوریت و.

درې واړه چوپ شو څه شېبې وروسته احرار د تلو دپاره پورته شاو او اصیل هم ورپسې شو.

ـ سبا ځم.... یوازې که کیدای شي نور ته څه مه وایاست! نه غواړم د یو دروغجنې په نظر یې په یادونو کې پاته شم.

اصیل مخ راواړاه خو احرار شا ته هم ونه کتل دواړه لاړل.دواړه دروازې ته رسېدلي وه چې احرار وویل: اصلي نوم دې څه دی؟

ددې پوښتنې انتظار مې نه درلود.

ـ آیت

اصیل وویل: ښایسته نوم دی

ـ مننه

دواړه بې څه ویلو ووتل.

دې زخمونو زه په دې کلونو کې ډېره کمزوري کړې وم خو اوس چې مې ټول ښکاره کړل لکه یو لوی بار چې مې د اوږو نه کښته شوی یې سپکه شوې وم.د یو بې وزنه بال په ډول چې الوتلو ته تیار دی! سهار باید تللې وای هم ددې کور نه هم ددې کورنۍ نه لرې تر اوسه چې یې زه د کوره نه ایستلې او پولیسو ته یې نه یم تسلیم کړې زما په حق کې یې ډېر ښه کړي وه ، سهار باید لاړه شم، سترګې مې پر دې دنیا پټې کړې د خوب نړۍ ته لاړم...

سهار وختې د خوبه پورته شوم د لاس و مخ د پرېمینځلو وروسته مې خپل وسایل چې ډېر هم نه وه یو وړوکي بکس ته چې لومړۍ ځل دې کور ته ورسره راغلې وم واچول.تر اوسه مې کار خلاص شوی نه وو چې دروازه خلاصه شوه ایمان را ښکاره شو

ایمان ـ باران پلار مې تاته نارې وهي

ـ سمه ده

د کوټې نه ووتلو او ایمان پسې شوم دهلیز ته په رسېدو مې ټولو ته سلام وکړ

ـ سهار پخیر

اسیې ترور په ورین تندې وویل:سهار دې پخیر ښایستې لور مې.

ددې ملایکې په مهربانۍ مې مسکا وکړه.

حمید کاکا ـ باران لورې نن شپه میلمانه لرو اسد او اصیل کارخونې ته تللي او احرار هم شفاخانې ته تللی او تر شپې پورې راځي زه هم باید شرکت ته لاړم شم او سمیع هم زما سره ځي ته به نجونې د ځان سره ښار ته پوځې

ـ په سترګو..

حمید اکا دروازې څنګ ته لاړ خو بیرته راوګرځېد

حمید کاکا ـ رښتیا باران

ـ بلی؟

حمید کاکا- هېر دې نشي چې د امنې د ارتیار شیان هم ورته واخلې

ـــ په دواړو سترګو خان صیب.

حمید اکا لاړ نجونې ته مې مخ کې او ومې ویل: هله ژر شی چې ناوخته کیږي.

نیوهېږم زما حالات به څرنګه وو خو د چغو غږونه هر ثانیه بتره کېدل، دروازې ته ورسیدو جاوید له ویښتانو ونیولم او زه یې د دروازې په لورې ټیله کړم  هماغه وخت دروازه خلاصه شوه او د دروازې پر ځای له کوم چا سره ولږیدم.

اشنا بوي مې تر پوزې شو !!

ژوره ساه مې واخیستو او په ډېرې سختۍ مې سترګې پرانیستې چې ځان مې د احرار په غېږ کې پیدا کړو، هغه احرار چې نه کیدو څهره یې ولولې

قار , حیرانتیا , خفګان ټول یو ځای لیدل کیدل

ارامه مې وویل: احراره !!

احرار جواب نه راکوه او په وینو ډکو سترګو یې یوازی راته کتل، احساس مې کوه خپل اخرین نفسونه اخلم او په دې اخر نفسونو کې مې غوښتل د خپل زنهار په غېږ کې اوسم !!!

غوښتل مې په دې اخر وخت کې ارامښت حس کړم !

هغه آرمښت چې مې په دې کلونو کې نه وو احساس کړی !

جاوید غوښتل زما خوا ته راشي چې ما په ټول پاتې قوت احرار کلک ونیوه، غوښتل مې ورته ووایم چې ما مه خوشې کوه مګر ونشو د ومره توان راکې نه وو پاتې، جاوید غوښتل له لاس نه مې ونیسي او له ځان سره مې یوسي مګر لاس یې ماته ونه رسیدو !

د جاوید د لاس د رارسېدو مخکې احرار د هغه لاس په هوا کې ونېوې چې جاوید وویل: احرار خان خوشې کړه دا جنۍ باید ماسره لاړه شي !

احرار- چا جرات وکړو چې ورباندې لاس پورته کړي؟ چا؟؟

جاوید- ته دا جنۍ نه پیژنۍ دا جنۍ تښتیدلې او تاسو ته یې هم دروغ ویلي دا حرمونـ...

د احرار په سوق د جاوید خبره په خوله کې نا تمامه پاتې شول او پر ځمکه راوغورځېدې، احرار په لوړ غږ وویل: حرمونی ته یې بیشرفه بنده کړه مرداره خوله دې !!!

هغه دوه کسانو غوښتل په احرار حمله وکړي چې اسد او اصیل یې مخه ونیوله او جنګ پیل شو !!

احرار زه په ځمکه کینولم او دیوال ته یې تکیه کړم او غوښتل یې خپله لاړ شي چې لاس مې ورته ونیوه او اجازه مې ورنکړه چې لاړ شي !!!

— مه ځه.... مه ځه ....

مګر ما د احرار د کنټرول کولو توان  نه درلود هغه زما لاس خپل د لاس څخه خوشی کړو او بیا یې پر جاوید حمله کړه. پرته له تره مې چې په ډار یو ګوښه کې ولاړ وو نور ټولو جنګ کوه حتی مصور...

اسیې او آمنې ترور چیغې وهلې او مرسته یې غوښته ایمان او ګیسو هم یریدلې وې او ژړل یې چې په همدې وقت کې حمید تره د رحیمي کورنۍ سره کور ته دننه شول !!

اول حمید کاکا د هغه حالت په لیدو حیرانه شو مګر ډېر ژر یې د جنګ د پای لپاره خبرې اترې وکړې !مګر احرار داسې ډارونکې جاوید وهو چې فکر مې وکو نن د جاوید جنازه له دې کور نه وځي..

بلاخره اصیل او اسد په ډېر زیار احرار له جاوید نه لرې کړ او لاسونه یې ورته کلک نیولي ول تر څو بیا حمله ونکړي !

احرار- اصیللللللل پرېږده مې لالا پرېږده مې..

اسد- احراره ارامه اوسه په لالا ګرانه..

احرار- لالا څنګه ارامه اوسم وګوره دې بیشرف ایت څه حال ته رسولې ! وګوره له ټولې خیرې نه یې وینې راځي ما پرېږده لالا د دې بي غیرت مرګ زما په لاسونو لیکل شوی !!

حمید تره احرار ته نږدې شو او په کرار لهجه یې ورت  وویل: احراره ارامه اوسه د پلار زمریه..

وروسته له هغه یې زما تره ته وویل: ژر زما له کور نه ووځه !!!!

هغه دوه کسانو جاوید پورته او له ځان سره یې یوړو تره مې هم له مصور سره وتل چې مصور وویل: دا خبره دلته پای ته نده رسیدلې.

هغوی د تلو نه روسته آسیه ترور د هلکان څنګ ته راغله او په ژړا یې ټولو ته کتل.

اسیه ترور- اسد اصیله ښه یاستئ ؟

اصیل-  ښه یو مور جانې ته ارامه اوسه.

آسیه ترور د احرار پخوا لاړه او د هغه مخ یې په لاسونو کې ونیوه او په ژړا یې وویل: احرار مې ته ښه یې ؟ ټپي شوی خو نه یې ؟

احرار لا تر اوسه هم غصه وو..

احرار- ښه یم مور جانې.

احرار زما خوا ته راغی او په مخ کې مې کیناست او زما د ټپونو په کتلو یې پیل کړ هر څومره ډېر یې چې زما ټپونو ته کتل لاسونه یې لا پسې موټي کول او څنګه چې یې زما لاس په خپل لاس کې ونیوه درد مې په ټول وجود کې ګډ شو او چیغه مې کړه

– اخخخخخخخ...

احرار اصیل مخاطب کړو او وبې ویل: زر موټر راوله باید روغتون ته لاړ شو.

حمید تره په اندیښنې وویل: احراره څه شوي باران ښه ده ??

احرار په پریښانۍ لاس ویښتانو کې تیر کړو او ویې ویل: لاس یې مات ده.

آسیه ترور په ژړا وویل: الهي ښه ورځ و نه ویني !!د خدای په غضب دې ګرفتاره شي وګوره لور یې راته په څه حال ورسوله !

احرار غوښتل ما له ځمکې پورته کړي چې پرې مې نښودو او ومې ویل: خپله ځم.

احرار داسې دارونکي راوکتل چې ګنګه شوم.

حمید کاکا- باران لورې ضد مکوه د ودریدو توان نه لرې پریږده احرار دې یوسي.

احرار زه په غېږ کې ونیولم او له ځمکې پورته کړم او د موټر په لور یې بوتلم.اصیل مخکې زه او احرار شاته کیناستو،اسد لالا هم د اصیل تر څنګ کیناست موټر حرکت وکړ  احرار پرله پسې اصیل ته ویل زر زر ځه او هغه هم هر دقه د موټر  سرعت ډیروه.اسد لالا دواړه ته د ارامتیا ویل مګر هیڅ تاثیر یې نه لرو.

روغتون ته په رسیدو مدثر په بیړه زموږ خوا ته راغی.

مدثر- احراره څه شوي ؟

احرار- فکر کوم لاس یې مات دی.

مدثر- مګر دا هر څه ••••• دا هر څه څنګه؟

احرار- وروسته خبرې کوو.

د ټپونو مې درمنله وشوه او لاس مې هم د ماتیدو له وجې ګچ شو، نرسې راته ارام بخشه راکړو او خپله لاړه. شپه راورسیده او زه چت ته ځیر وم داسې چې ذهن مې له هر رقم فکر نه خلاص وي چې ور خلاص شو او احرار دننه راغی. د کټ په یوې څنډه کې کیناست شا یې ماته وه او خپل نظر یې له مانه غلا کوه..سترګې مې د هغه په لاس ولړیدلې چې د کلکو ضرباتو په اثر ټپي شوی وو زر پاڅیدم !

– احراره لاس دې...

احرار لکه دا چې اوس خپل ټپونه ته یې پام شوی وي لاسونو ته یې وکتل او بیرته یې خوشی کړل او بې فکره یې شو.پوهه شوم چې نغواړي په دې ټپونو ملحم ولګوي. جیګه شوم او بیرون لاړم له نرسې مې بنداژ او الکول او مرحم راوخیستو او بیرته راغلم،یو لاس مې ورته د خپل لاس منځ کې ونیوه مګر په کلکه یې لاس کش کړ. پوهیدم له مانه خفه دی مګم دا کیدای نشي چې دا قار د هغه د درد ویستلو لامل شي.بیا ځلې مې لاس خپل په لاس کې ونیوه بیا هم غوښتل هماغه شان وکړي خو لاس مې ورته کلک ونیوه او بوخته شوم د ټپ په پاکولو روسته له ملحم لګولو بنداژ مې وتړو. په بل لاس یې د ملحم لګولو په حال کې وم چې ومې ویل: مغرور خان په قار یې؟

چوپتیا....

– ښه نو زما ګناه څه ده ها ؟ د کومې ګناه لپاره ما محکوم کوی ؟

بیا هم چوپتیاچ...

– احرارررررره

غوږونه مې د جواب په انتظار پاتې شول مګر کوم غږ یې وا نه وریدوچ..

دې پیښو زما زړه نازکه کړی وو او د احرار خبرې نه کول داسې وو لکه لرګي چې د اور لمبې زیاتوي. اوښکې مې ځاځکي ځاځکي په تویېدو شول. واقعا دا زه وم؟ باور مې نه کیدو زه هغه آیت اوسم چې په دې 7 کلونو کې د جنی، توب حق د ژوند حق یې ترې اخیستې وو ولې چا یې اوښکه نه وه لیدلی مګر ولې اوس یې زړه نازکه شوی چې په وړوکی موضوع اوښکې تویوي؟

ولې احرار راته تر دې حده اړین وو ؟ احرار زما لپاره څه وو ؟ ورور ؟ ملګری ؟ نه هغه فقط احرار وو. ولې باید هره اړیکه نوم ولري ؟ بعضې څیزونه لکه څنګه چې دي ښکلې دي لکه احرار !هغه نه ورور وو او نه هم ملګری هغه تر دې لوړ څه وو هغه صرف احرار وو !!! زما احرار او د دې اړیکې وصف چې زموږ تر منځ وه په هیڅ یو

دې کلمو کې سمون نه خورو او همدا دلیل وو چې هغه شخصیت یې دومره منحصر به فرد ښودو •

احرار- آیت ته ژاړې ؟

جواب مې ورنکو...

احرار- آیت ماته وګوره

بیا هم غلې وم له هغه خفه وم..

احرار- آیت له تاسره یم !

پوهیده زه ضدي یم تر دې خبرو چې خپله لاس په کار شو سر یې راته پورته کړو او ویې ویل:

احرار- آیت نه اورې وایم ولې ژاړې ؟

غوښتل مې مخ واړوم چې اجازه یې رانکړه

احرار- څه شوي لاس دې درد کوي ؟

— نه.

احرار- نو بیا ولې ژاړې؟

— په تا اړه نلري..

ژور یې راته وکتل او ویې ویل: ما پورې اړه نه لري ؟

— هو اړه نلري کله چې راسره خبرې نکوی نو ولې تاته اړه ولري ؟

احرار- ته زما لپاره ژاړې؟

نور مې په لوړ اواز ژړل..

— هو د ستا لپاره ژاړم ! ځکه ستانه پرته څوک نه لرم !

احرار حتی باڼه نه ښوریدل دروغ ولې دا خبرې زما لپاره هم لکه د عجایبو نړۍ داسې وه ! په خپل حال کې ډوبه وم چې احرار په غېږ کې ونیولم غوښتل مې لرې شم چې لا یې زما سر په خپلې غېږې کې کلک کړ او پرې نه ښودم !

— ما پرېږده !

احرار- زما آیت چېرې ؟ هاغه نه ډاریدونکې جنۍ چې اووه اسمانه او یوه ځمکه یې د موسکا له منځه وړولو کې ناکام ول ؟ هغه جنۍ چې ټولې نړۍ ته یې اور لګوه خو نه یې پرېښودو حق کې بې عدالتي وشي ? زما ایت له

اوښکې سره اشنایي نه لرله څه لامل شول ? دا جنۍ چې څو بې شرفه راغلل او هغه یې په دې حال ورسوله څوګ ده ?

— ایت پاتې راغله احرار هغه پاتې راغله! نور د جنګ کولو توان نلري ! نور د ودریدو توان نلري ! نور یې اوږې توان نه لري د بار د وړولو !

احرار- هر څومره دې ملا کږه کړې دا ژوند هومره بار دې نور پر اوږو اېږدي، خو زه پوهیږم زما آیت هغه ونه نه ده چې په دی بادونو ولرزیږي..

د ټیونو صفحې مې خلاصې شوې وې او درد یې د زړه تر اخره په اور سیزه. تل مې ښودو چې خوښه یم مګم نن نه ..نن داسې ښودل مې له توان بهر ول.

— ایت یو نیالګی دې چې د یوې ونې په بیخ کې ځای نیولی , احراره دا نیالګی تر دې حده ماتیدونکی دی چې حتا نرمه او ملایم باد هم هغه په لرزه کوي..

ځکه ریښه یې د وچیدو په حال کې ده او څه نه دي پاتي چې له منځه لاړ شي •

احرار-ته نباید ولرزیږې ; نباید ماته شې نباید وچه شی ځکه ••••••••

جمله یې د اسد , مدثر , ایمان او اصیل په راتلو نا مکمله پاتې شوه •

اصیل- دننه راتللی شو..

احرار- راځئ..

مدثر- آیت زما د لیدلو لپاره اړ نه یې چې هر بار دې لاس مات کړی !!

پوهیدم چې مدثر د ټوکو نیت لري نو وخت یې وو چې نقاب په څیرې کړم

د شاعر په وینا :

# خنده بر لب میزنم تا کس نداند راز من

ور نه این دنیا که ما دیدیم خندیدن نداشت

— فکر کوم بیا کومه کړو سترګو والا جنۍ دی له څنګ څخه تیره شوې او زینو خواته یې کتلي خو تا هم فکر کړی چې ستا خوا ته یې کتلې که څنګه؟

ټولو په خندا پیل وکړو پرته له احرار څخه چې اصیل وویل: دقیقا کنه نو اعتماد به نفس یې د وضاحت وړ نه دی.

اسد- مه زوروی بیچاره دا سمه ده چې اعتماد په نفس یې تخیلي دی..

مدثر ته مې پام شو چې سر یې له شرم نه ښکته کړو.

په نرم لهجه مې وویل: کوم ځای یې تخیلي دي وګوره لوړه ونه , شنې سترګې, او ډاکټر هم دی , ماشاالله.

دا ځل مدثر وخندل چې اصیل حیرانه وویل: سویه(خرګوش) ته د غله هم لاسی یې یا د قافلې ملګری ? څو دقیقې مخکې دې څه ویل ?

– ما ټوکې کولا تاسو ولې منځ ته راغلئ ?

اصیل- مکارې ګیدری.

– بیزو..

اسد مدثر او ایمان وخندل چې ایمان په زړه سواندي وویل: باران ښه یې ?

ښه وم ? نه نه وم ! خو دې زړه سواندي مې حال بد کوې.

– ښه یم اندیښنه مکوه !

ایمان- مور مې او آمنه ترور ډېر درته په اندیښنې ول مګر پلار مې اجازه ورنکړه راشي ځکه روغتون فضا یې حالت لا پسې خرابوي.

– تره مې بهترینه کار کړی په روغتون کې اوسیدل د هغوی لپاره ښه نه دي.

ایمان سر وښوروه او بیا یې احرار ته مخ کړو او ویې ویل: تر کله دلته پاتې شي ?

احرار- تر څو یې معاینات ختمېږي او زخمونه یې رغېږي حداقل درې څلور ورځې باید دلته وي •

په حیرانتیا مې وویلچ: څه درې څلور ورځې ? اړتیا نشته زه ښه یم

احرار ډارونکې راوکتل او ویې ویل: کله چې وایم باید تر سره شي یعنې اړتیا شته اضافه خبرې هم نغواړم.

په زړه کې مې ښکلې کلمې ورته تقدیم کړی.

له ځان نه راضي انسانه مغروره !!!

ټول په خبرو بوخت ول چې مدثر ته مې پام شو چې ایمان ته په ځیر ګوري مګر بد کتل نه وه برعکس ډېر ښکلې ورته کتل ! او ایمان هم کله کله به یې د کتلو ځواب ورته په موسکاوو ورکوه !!!

نرسه را دننه شوه او ویې ویل:سلام ډاکټر صیب د پیچکاري وخت یې دی

مدثر- ع سلام اغلی محمودي مهرباني

ټولو د کوټې څخه ووتل نرسې څو رقمه دوا د خوړلو لپاره راکړه، نرسې ته مې مخ کړو او و مې ویل: خلاص شول ?

– هو خلاص شو فقط یوه دوا دې پاتې ده.

سر مې وښوروه او اخرې دوا ته په تمه شوم چې نرسې یو وړوکې بوتل په لاس کې ونیوه او دهغې محتویات یې پیچکاري ته تیر کړل.

د پیچکاري په لیدو مې د ځان ویښتان سیخ شول، له ماشومتوبه یوازني ځیز چې زه ډار ته اړ کولم پیچکاري وه ځکه له پیچکاري سره مې فوبیا ( یوه ډول روحي ډار یا تکلیف) درلود او اوس هم د پیچکاري په لیدو مې ډار وپاریدو !!!

نرسه له پیچکاری سره نږدې شوه

– لستوڼی دې پورته که.

– نه کېږي له دې تیر شو په ځای یې یوه بله دوا راکړئ؟

– نه کېږي لستوڼی دې پورته کړه.

–اصلا درې ګولۍ راکړه خو پیچکاري نه.

–لاحول ولا جنۍ مه مې زوروه.

– هیله کوم.

نرسې مې په کلکه لاس کش کړو او پیچکاري یې نږدې کړه چې اخ اواز مې پورته شو

– اخ خوشې مې کړه.

– غلې شه جنۍ حوصله دې راته خلاصه کړه

– ایت څه شوي ؟

احرار د غږ په اوریدو مې ورمنډه کړه او تر شا یې پټه شوم.

– احراره مرسته !!!

احرار- څه شوي ؟

نرسې وویل: ښاغلی مشرفه اجازه نه راکوي چې دوا ورته تیره کړم پیچکاري کې !

احرار ماته مخ راواړوه او ویې ویل: ولې اجازه نه ورکوی ؟

– هغه •••••• څه ••••••

نرسې زما لځای وویل: وایي یوه بله دوا د دې په ځای راکړه چې چې زرق یا پیچکاري نه وي.

احرار په پټه خندا وویل: ته له پیچکاري نه ویرېږې ؟

نمې غوښتل د ډارنې فکر راته وکړي نو ځکه مې تیز وویل: نه ولې باید وډاره شم ؟

احرار- یعنې نه ویرېږې؟

– نه ښاغلیه نه یرېږم !

احرار د نرسې په خوا ورغی او ورته ویې ویل: اغلې محمودي راشه پیچکاري وکړه

د ( راشه پیچکاري وکړه ) په اوریدو مې د احرار جامې د شا نه کلکې ونیولې.

– نه نه نه نه دې راځي احراره ز••••••••• زه ډارېږم !

احرار کرار وټوخل او اغلې محمودي ته یې اشاره وکړه چې د حیرت څخه لږ پاتی وه د هغی سترګی له کاسې راووځې.

احرار- اغلې محمودي تاسو تللی شی زه یې ورته پیچکاری کوم !

اغلې محمودي لاړه چې احرار کټ پلو اشاره وکړه.

احرار- کینه.

لاړم کیناستم چې خپله هم راغی زما تر څنګ کیناستو !

احرار- ته له پیچکارۍ سره فوبیا لری ؟

هوښیاري تر څه حد؟؟ په حیرانتیا مې سر وښوروه.

احرار- ښه اوس نو سترګې دې پټې کړه.

– نه نېټوم ته راته پیچکاري کوی.

احرار- وایم پټې کړه.

د نه په معنا مې دواړه خوا سر وښوروه چې احرار مې سترګو ته وکتل او کرار یې وویل: په ما باور نلری ؟

که په ژوند کې مې یو چا باور ولرم نو پرته له احرار نه به بل کس نه وي نو پرته له ځنډ نه مې سترګې پټې کړې •

احرار مې لاس ونیوه او لستونی یې راته تر مټې پورته کړو،که پرته له احرار نه هر څوک وی د دې کار اجازه مې نه ورکوله مګر احرار توپیر درلود !

څو دقیقې چپ شو او بیایې کرار وویل: آیت دا سمسورتیا وګوره ښکلې نه ده ؟

هماغه شان په پټو سترګو مې وويل: کومه سمسورتيا ؟

احرار- همدا بڼ او سمسورتيا مګر نه يې وينې ؟

– نه.

احرار- سمسورتيا او ښکلې بڼ په رنګانګ او خوش بويه ګلانو ! ايت هغه ګوښه وګوره کهکشاني رز ( د ګل نوم دی ) هم شته.. جلا جلا ونې بيد او چنار , کاج و.. ته د سيند تر څنګ ناسته يې پښې دې اوبو کې ايښې دي او لوبې کوې او زه هم په يوې غټې ونه کې بوخته يم تاته ټال جوړوم..

وګوره ټال دې سم شو او ته پکې کينې او زه هم تاته ټال درکوم ته وايې احراره تيز احراره تيز او روسته په لوړ اواز خاندې او زه ••••••••••

– اخخخخ

جمله يې نه وه پوره شوې چې څه يې راته له لاس نه وويسته چې اخ مې پورته شو

زر مې سترګې خلاصې کړې چې ومې ليدل احرار پخته زما په لاس ايښې وه او پيچکاري هم خالاص شوه •

په حيرانتيا مې وويل:څه وشول ؟

احرار- خلاص شو !

– څنګه خلاص شول ؟

احرار ښکلې موسکا وکړه او ويې ويل: غواړې بيا درته پيچکار وکړم چې باور دې وشي ؟

—نننننننه سم ډېر هم ښه.

ارامه موسکا يې وکړه او چپ شو

– خو واقعا ښکلی وو..

احرار- څه ؟

– کوم خيال چې راته ووېل ! پوهېږی احرار ما تر اوسه داسې ځای نه دې ليدلی

احرار- هغه بې شرفه تره دې نه ښايي له چکر نه يې ښه رانشي !

په لوړ غږ مې وخندل !!!!!! ولې خندا ته يې سمون نه درلود !!

– اتفاقا هم ډېر يې خوښيده په دې حد چې اخر د هرې اونۍ ټول يې چکر ته وړل !

احرار-  نو ته ولې نه تللې ؟

– ځکه د کاکا د ښځې په خبر مې زه بدبخته وم او دا چې یې یو بدبخته ته کور کې ځای ورکړي ډېر دي •

احرار یوازې راته کتل یې چې د نرسې په راتګ چې ړوند یې راوړې وه احرار بهر لاړو، ړوند مې وخوړه او ویده شوم •

د بدن مختلف ځایونو ماتیدل د دې لامل شوي چې زه یوه اونۍ په روغتون کې بستري شم، احرار د ورځې په اوږدو کې او حتی په شپه کې ډیر ځله زما دیدن ته راتلو او حتا شپې به لا کور ته نه تلو او په روغتون کې به ویده کیده. مدثر به هم هر کله بیکار وقت پیدا کړو نو زما کوټې ته به یې سر معلوم کوې او ټوکې به یې کولې

هغه هم یو شوخ مزاج هلک و او په دې وخت کې یې پرینښودم ترڅو د اصیل کمښت احساس کړم.اصیل اسد او ایمان هره ورځ ما سره لیدو ته راتلل او البته په دې وخت کې د مدثر د ډیرو انکارونو او نه منلو با وجود هغه بیا هم ماته د ایمان سره د هغه د مینې اعتراف وکړو.

او تر کومه ځایه چې زه پوه شوم، نو ایمان هم ورسره مینه درلود..

حمید تره د اسیه خاله، آمنه او سمیع کاکا سره یو ځل زما لیدلو ته راغلل.

او یو ځل بیا، زه د دوی د دومره مهربانۍ شرمنده شوم،اصیل دوی ته هر څه ویلي وو، که څه هم ما تمه درلود چې هغوی ما ملامته حساب کړي او خبری راته وکړي خو برعکس، آسیا او امېنې خاله بیا مهربانی وکړه دوی ژړل او د جاوید او زما تره ته یې ښېراوې کول حمید کاکا هم راته وویل چې دوی به هیڅکله هغوی ته اجازه ورنکړي چې ما په بدو کې جاوید ته ورکړل..

لکه چې خدای غوښتل ما ته د انسانیت او مهربانۍ ریښتیني معنی را وښایې چې زه یې د دې کورنۍ سره مخ کړم.

زما زخمونه روغ شول او لاس مې هم له ګچ څخه وتلی او زه د یوه اونۍ وروسته کور ته تلم کور مې ډېر یادیده مګر ددی څخه انکارنشم کولې چې بیحد ډاریدلم یو ځل چې احرار کوته کې نه وو نو ایمان راته وویل چې جاوید او تره څو ځله کور ته راغلل، خو هر ځل د دروازې څخه په زور ایستل کېدل، خو پروا یې نه کوله

او ګواښ یې وکړ، چې بیا به له پولیسو سره راشي او مصور څو ځله کور ته نږدې لیدل شوی وو..

خدایه زه هر څه او هر څه تاته پریږدم

خدایه ته عالم یې او هیڅوک له تا څخه بهتر په ښه او بد نه پوهیږي.

نو زما لپاره ته پریکړه وکړه هر هغه څه چې ته یې راته مناسب حساب کوی.

مدصر- ښه ښه میرمن  آیت اوس د تلو وخت رارسیدلي دی چمتو یې؟

په خندا مې ورته وویل:

آیت- مدثر جانه زیات خوشحاله کیږه مه،زما تلل په دی معنا نه ده چې زما له شره خلاص شوي!

مدثر وخندل او بیا یې وویل:

مدثر- لاس دی هم مات کړی اړ پښه دی هم ماته کړی دی ځل حتما غواړی چې سر دی هم مات کړي!

آیت- نوچ دی ځل ستا سر ماتوم.

مورې دواړو خمدا چې احرار وویل:

احرار- زر کو چې ناوخته کیږی.

سر په خوځولو مې هوو وویل او له مدثر سره مې خدای پامانی وکړ او د موټر لاره می ونیوله،مورې دواړه په موټر کې کیناستو چې موټر هم حرکت وکړ،

په ټوله لاره کې د اخری پیښو په اړه فکر مې کول،

– په کوم سوچ کې تللی یې؟

آیت- هیڅ همداسی د باندی مې لیدل.

– چا درته یاد کړی نه دی چې کوم کار ورتیا نه لری هغه کار باید ونکړې؟

آیت- یعنی څه ؟

– یعنی دا چې کوم ګار نشي کولې نو ولی دورغ وایې؟

ژوره ساه مې واخیسته،

آیت- په دی فکر کې یم کله چې له دی ځایه لاړه شم څومره به دی ځای پسی خفه اوسم !

احرار موټر یې یو دم ودرو چې له ځای څخه مخ په ورلاندی لاړم

آیت- احرار خان غواړی چې مورې دواړه ووژنئ؟

زما پوښتنه یې نه اریدونکې ونیوله،

احرار- لاړه شی؟مګر ته غواړی چې چیرته لاړه شې؟

په ویاو باندی پوره پاډمنه نه ومه ځکه  پوهیدم چې غوسه کیږي

احرار- آیت له تاسره یم غواړی چیرته لاړه شې؟

په نه زړه مې ورته وویل:

آیت- مزار ته ځم یو څو ورځی له ترور کره پاتی کیږم،او وروسته هرات ته ځم،او هرات څخه وروسته نیمروز ته، او نیمروز څخه نژدی ایران ته ځم!

احرار- په ایران کې څه کوی؟

آیت- که په یاد لری خپل پلار ملګری په اړه مې درته ویلي وو!هغه اوس هم په ایران کې ژوند کوي،هغه څنګ ته ورځم،هلته کار کوم او څه انداز پیسی لاسته راوړم، بیا ځم اروپا ته!

له څه ځنډ وروسته په مسخره وویل:

احرار- وګوره په .......

آیت- احرار په غوسه نشی خو زه دلته پاتي کیدو وړ نه یم.

احرار-  واقعاً؟ بیا د څه وړ یې! د تلو وړ یې؟

احرار خپل د خبرو په تعقیب یې خپل سر په غوسه سره د موټر په سټرینګ ووهلو او په چیغوو وویل:

احرار- احمق اخر تا څنګه د تلو فکر دی کړی هغه لاره باندی چې تا خپل مور پلار له لاسه ورکړي دی؟؟؟

بیا هم له سترګو مې اوښکې روانی شوی،خدایه دا زه نه یم نا زه نه یم!

هغه اوښکې چې په دومره کالونو کې جاری کیدو جرائت مې نشو کولي،اوس ټول په ګډه زما د سترګو له زندان څخه د تیښتي لپاره چمتو شوي،

احرار زما د اوښکو په لیدو بی حوصله یې خپل لاس په ویښتانو کې تیر کړ،او وروړسته یو دسمال زما مخی ته ونیوه.

احرار- اوښکي دی پاکی کړه.

د احرار اواز ارامه وو مګر زه ارامه نه وم په ژړا مې وویل:

آیت- تا څه فکر کوي چې په هغه لاره باندی ماته تلل اسانه او ساده ده؟پریښودل راته دغه ځای اسانه ده؟فکر کوي چې زه انسانه نه یمه احساس نه لرمه؟احرار زما د سترګو په وړاندی زما مور پلار له دی دنیا څخه لاړه،مګر زه څه وکړم؟که دلته پاتې شم جاوید او کاکا مې له هغه مصور  بی غیرته سره مې نه پریږدی چې ژوند وکړم!

احرار- مګر زه مړ شوی یم؟

آیت- خدای دی نکوی داسی خبره مه کوه.

احرار- نو ولی بیا ویریږی؟آیت زه یم!

آیت- پوهیږم مګر که سبا دی پولیسو مخکې راغلې بیا به څه وشی؟هغه وخت ته هم بیا څه کولي نشې ځکه زه تراوسه اتلس کلنه شوی نه یم، او د قانون له لحاظ زما سر پرست زما کاکا دی !!!

احرار- یو لاره به پیدا کړو.

چې بیا سلګو ونیولم او احرار ته مې وویل:احرار هغوی نه غواړی چې زه ساه واخلم نه مې پرېږدی.

احرار- آیت بخښنه غواړم،کله چې دی وویل چې غواړی لاړه شی خپل کنټرول مې له لاسه ورکړو مګر نه مې غوښتل چې چغې ووهم

خپلې اوښکې مې پاکې کړې ومې ویل:

آیت- پوهیږ.........

دی احرار د موبایل زنګ اواز پورته شو

احرار- سلام پلار جانه.

پلار-......

احرار- کور ته نژدی یو څو دقیقو کې رسیږو.

پلار-....

احرار- دواړو ته پلار جانه

اړیکه پری شوه او  بیا روان شو.

وروسته دی نیم ساعت نه کور ته ورسیدو بیا د امینه ترور او د اسیه ترور د مورګانو په خیر اندیښنې پیل شوی!

آیت ښه یې؟آیت وږی خو نه یې؟آیت دوا دی خوړلی؟آیت لاس خو دی درد نه کوي؟ دا دوه فرشتی تل د دې سبب کیده چې احساس وکړم د مور درلوده تر څومره حده پوری ښکلی وی او ښایسته وي!

بلاخر د حمید کاکا صبر ختم شو

حمید کاکا- ښځې بس دی پرېږده چې لږه په راحت کی شې تر اوسه یو ساعت لا نه دی شوي د روغتون څخه راغلي مګر ستاسو په دی کارونو بیرته به روغتون ته لاړه شي.

آسیه ترور وویل: خدای دی نکوی سړیه، دا څنګه خبرې کوې،ان شاءالله، چې زما د لور پښې به هم هغه روغتون ته نږدې لاړه نه شي.

حمید کاکا- امین، لوری، لاړ شه او لږ آرام وکړه،حتماً ستړې شوې یې.

زه واقعیا ستړی وم او آرام کولو ته مې اړتیا درلوده،خپلې کوټې ته لاړم او د حمام کولو وروسته په خپل تخت کې اوږده وغځیدلم او د زر ځل لپاره د خپلې راتلونکې په اړه په سوچونو کې ډوبه شوم.......

د یو چا د لاس لمس کولو له خوبه راویښه شوم، خو سترګې مې خلاصې نه کړې، لاس داسی ښورلول یا لمس کولو زما په سر باندی چی زما په مزاج باندی ښه لږیده او نه مې غوښتل پای ته ورسېږي، او له نېکه مرغه هغه

هم خپل کار ته دوام ورکړی و، خو د دروازې پرانیستل د کیدو لاس شورول پای وموه.

—ویښه شوی نه ده؟

که څه هم ما تمه درلوده چې د آسیا او یا د آمنې ترور غږ به واورم، خو ما هیڅ یوی غږ وانورېدل.

— نه، شاید ډېر ستړی وه،

— هو!!!

په حیرانتیا مې د احرار غږ واوریده!

اصیل- څو ساعته شوی چې ویده !

احرار- کومه ستونزه نه ده دوا اغیزه ده.

اصیل- ښه نه ده چې هغه راویښ کړئ، لالا؟

احرار د څو شېبو لپاره څه ونه ویل:

احرار- ته لاړ شه، زه یې راویښه کوم،

د اصیل ځواب مې وانورېده، خو د دروازې د بندېدو غږ مې واورېد.

د احرار په تمه کې پاتې شوم چې ما راویښه کړي، خو یوازني څه چې وو یوازی چوپتیا شتون درلوده، نور هیڅ ډېر وخت مې انتظار وکړ، خو نه مې د احرار غږ واورېد او نه مې د هغه حرکت احساس کړ، د یوې شېبې لپاره مې فکر وکړو شاید احرار زه راویښه نکړم او همداسی بی اواز کولو وتلي دی، غوښتل مې سترګې خلاصې کړم چې یو ښکلی غږ د سترګو خلاصولو څخه منع کړم.

حسن چې کافـر شي عقیدې پــه بله واړه وي

مینه چې اظهار شي مېکدې پـــه بله واړه وي

کله چې زمـا او د ساقي تضاد بې ضبطه شي

شېخ غوړونـــه اونیسي تسبې پـه بله واړه وي

زار شم له سکوته ستا د عکس چې ورته ګورمه

مـاپـــه چغو سر کړي ائینې پـــه بله واړه وي

زۀ به د نــاتــرسه جانان کومې چارې ستائیمه

نه راځي چې راشي نـو وعدې پــه بله واړه وي

ایا زه د هغه په غږ کې ډوبه شوی وم؟ هو، دا ممکنه وه چې زه د احرار په غږ کې ډوب شوی وم، دومره ډوب شوی وم چې وخت او ځای مې له لاسه ورکړ.

رښتیا هم دا غږ د دې نړۍ سره اړیکه نه درلوده.کاش چې وخت بند شوی وی او د قیامت تر ورځې پورې یوازې دا غږ اوریدلی کېدای، کاش چې دا شېبې د تل لپاره قفل کړې وای.او د تل لپاره بیرته دې شیبې ته راستون شو

کاش چې غږ یې له دې دنیا او خلکو پټ نیولی وای او زنداني شوی وای، ...........!!!

بیا هم زه د سر څخه تر پښو پوری په حیرت کی تللی وم، په هغه کوټه کې آیت شتون نه درلود د احرار غږ زما لپاره بیحد ارامه وو، مگر دا ځل حد نه زیات مختلف ډول وو شعر زمزمې توپیر درلوده دا ځلی اوآزی ستوني څخه نا مستقیم زړه څخه وه زما بی صاحبه زړه یی په نښانه ونیولو هلته ځای جلوس (ونیولو)

دا ځلی زه بلې نړۍ ته ویسوم!

به چمنزار پراز گل های یاس، لاله، نیلوفر، نرگس

به جنگل درخت های سرو، بید،چنار،کاج

به کوه های سر به فلک کشیده !

به بالای آبر ها و آسمان آبی !

دومره ښایسته ویلی زړه می غوښتل تر سهاره ورته کینم او احرار یوازې شعرونه ووایی. خو بلاخره په خپلو ذهني سوالونو ځان ته راغلم

احرار ولی دا شعر زمزمه کړل هغه هم دلته؟ احرار عادي انسانانو سره شباهت ندلوده دا رقم زمزمه کول یوازې یو انسان کولی شي ( عاشق) !!!

یوازې مین انسان داسې ښایسته شعر زمزمه کولی شي

آیت ـــ یعنی ...... یعنی احرار...عاشق......نا نا امکان نلري ...

حتا فکر کول یې هم وحشتناکه او ویرونکي دي!

فکر کول په دی اړه چې یوه ورځ به زه احرار له لاسه ورکړم د مرگ پشان وه او که احرار پر ما میئن شی نو زه هغه خامخا له لاسه ورکوم.

شاید شه خبره نه وې خو زړه کې می ژوره هیله وکړه چې هیڅکله احرار زما څخه لرې نشي !! ځان سره په شخړې که وم..

خو که احرار مین وي نو اخر په چا مین ده ؟ وي الله خدای دی نکوی که هغه کس حریر اوسیږی.. پخدای هغه شیشکه ما به ژوندی ښخ کړې! خو امکان نلري حریر اوسي ځکه زما سترگو وړاندې خو ځلي احرار حریر رد کړی

بیا نو هغه څوک ده احرار داسي زمزمه ورته وکړه؟ دروغ ولی ووایم د هغه جلی سره زما حسادت او بخیلی راغله هغی احرار اسیر کړی وه یعنی مین کړی وه ځان باندی آخر څوک ده ؟؟؟

احرار- آیت، آیت ویښه شه ؟

احرار غږ راباندي کوه ویښه شم خو هغه خبر نه وه زه څنګه غضب که اچولی یمه احرار- ایت څومره غواړي ویده شه هله پاسیږه؟

راویښه شوم سترګي مي خلاصی کړي

– څه شوي؟

احرار- هله پاسیږه کوم څه د وږي په نوم پیژني یا نه؟

سر می پورته کړه سترګي مي په تیاره ولګیده شپه شوي وه

– وایییییی ماڅومره خوب کړی ؟

احرار- 5 ساعته ! اوس راځه لارشو.

سر می وتخوه ومی وویل: ته ځه زه درځم

احرار لاړه خو زما فکرونه نا!ا

یو عجیبه حس راته پیدا شوی وه لکه ترکیب د ویری ، غوسه ، حسادت ، غم ، زړه تنګ والي، ناچاري، زه لکه موریانه دننه خوړلم خو ولی؟

آخر احرار مین کیدل ماته څه ربط لري؟ زه احرار څه کیږم ؟ هیڅه خو اوس هیڅ کومي خبری زما ذهن آرام کولو نا!ا احساس می کوه نړی آخرته رسیدلی آیت هم 7 طبقه ځمکه لاندي په زنځیر تړل شوي عذاب باسي شاید ځکه بیا هم بی پناه شوم !

فکرونه څخه می لاس واخسته د دهلیز په لور راوانه شوم خو احرار ګوټي ته مخامخ شومه ګوتي خلاصه وه کله چې تیریدم یو حس زه ګوتي ته دننه کولم !

ګوتي ته ورغلم ټول شیانو ته می وکتل لکه خواړه خاطرات ذهن څخه می تیرشوو

ذره ذره دي ګوتي څخه خاطرات لرم.

د احرار ګیتار څو ځلي زړه پوري غږ يي زه آسمان ته رسولي وم دومره ښکلی آواز لري جامي یی زیاتر زما په خوښه اخستل شوي، بالښتونه څه دواړه یوبل ویشتل په کول لوبي می کولی دا دیوالونه زموږ دواړه خندا شاهد دي.په کتابونونه می سترګي ولکیدی خو یو کتاب ځانته ایښي وه هغه کتاب وه ( دیوان شمس ) ماورته تحفه ورکړی وه کلیزه کي. په شونډو می مسکا خوره شوه کتاب می لاس کی واخسته لمس می که غوښتل می

پرځای کیدم خو یوه توره کتابچه کتاب شاته پام می ورته شوو ... دا کتابچه می ښه په یاد ده دا همغه کتابچه ده چې احرار د ټولو څخه پته ساتلی حتا زمانه هم..

یوځلي احرار همدی کتابچه که لیکلو باندی مصروفه وه زما راتګ ته پام نشوو قصد نا کتابچه می ورنه واخسته په منډو می شروع وکړه احرار هم راپسي منډې وهلي کله چې ماته ورسیدی زه شاته تله کړم کتابچه رانه واخسته په چیغوی وویل: لیونی جلی په کوم حق باندی کتابچه ته لاس وروړې؟

دومره غوسه وه تک سور شوي وه کوتی اشاره او تهدید په ډول راته وخوځوله....

احرار- ګوره یوازي یوځل ...... یوازي یوځل بیا جرأت وکړې لاس وروړې سخته بد به وګوري!

همغه ورځ نا روسته هیچا جرأت نکوه لاس وروړې ما هم جرأت ندرلوده کتاب می پرځای کیښود دروازه په خوا راوانه شوم اندیښمنه شوم تلوسه می پیدا کړه مطمینه شوم دي خاطرات کتابچه کوم خاص راز شتون لري، دوه لارو کي پاتي وم یوی خوا عذاب وجدان، بلي خوا تلوسه آخر هم ډیر سوچ کولو تلوسه میدان وګټه!

کتابچه په لور روانه شوم پوهیدم کار می غلط دی ! کتابچه په لوستلو می پیل وکړل..احرار خپلو هدفونه څخه د ژوند لپاره یي تاګلی وه کومي ستونزي ورته پیښ شوي وي دا لیکل ډیر پخوا څخه وه شاید احرار هغه وخت نوي زلمي شوي وه احرار خپل هدف آرمانونه ټول پکی لیکلي وه لکه داکتر ! رښتیا ځانه شرمیدم تراوسه خدای نه می ګیله کوه ولی انصاف ندی کړی احرار هرڅه لري خو اوس پوی شوم احرار هم څومره کوښښ کړې او مقام ته رسېدلي دي.

احرار دي خپل سفر په اړه هم هرڅه لیکلي وه،کومه ورځو څه همزولي لوبي کولی خو احرار کتاب ویلو مصروفه وه. کله چې شب درس ویلی تر سهار او نور ویده وه !

هغه وخت څه همزولي خپل ښایست باندی زلمي ټوپ دروه که مصروفه ول خو احرار خپلي روپی ټول کولی کتابونه اخستل دی خپلو زحمتونو امریکا بورسیه واخسته امریکا هیواد ته لاره هم یې درس ویلی هم یې دنده کوله تر څو خپل ژوند تحصیل خرچه پیدا کړي! کله چې خپل هیواد ته راستون شو شپی ورځی کار وکه ترڅو دا نن ورځ دی مقام ته رسیدلی ....

د خط لوستلو می ځان سره هم مثال ورکوه یوازي کامیابي ګورم څومره سختي باسلی فکر می نکوه دومره زحمت کوښښ کړې وي ځان سرمی احرار ته نور هم احترام زر برابره شوو

زموږ مشرانو څنګه ښه ویلی:

#نا برده رنج ګنج میسر نمیشود

مزد آن ګرفت جای برادر که کار کرد!

احرار ټول عمر زیار کوښښی کړې وه الحق پرته هغه نا بل څوک یی لیاقت نلري دی مقام منزل ....دومه پاڼه می واړوله تشه وه څوپانی واړوله تشي وي فکر می وکه خلاص شوو زما عادت وه کتابچه می آخر خوا هم لیدله نور آخر خوا می وکتله پام می شوه آخر خوا هم ښه لور ته لیکلي وه دا ولی عجبیه ولا .....

اوړه می پورته واچولی آخر خوا لوستلو باندی پیل وکه

اوله پاڼه که شعر لیکلی وه .....

# اشتیاق که به دیدار تو دارد دل" من "

دل من داند و دل داند ومن "

خاک من گل شود وگل شگفد از گل من "

تا ابد مهر تو بیرون نرود از دل من "#

بغیر شعر د پاڼه کي نور څه نه وه  بله پاڼه می واړوله....

دی نړی که ستونزمن کار اعتراف کول دي! هغه هم زما پشان نفر ! رښتیا هم تر اوسه می فکر نه کوه داسي ورځ به راشي زه به اعتراف کوم ! پوهیږي څه ؟ کوښښ می کوه انکار وکم قصه کي  نه اوسم خو ناممکنه وه، ډیر می ...... کوښښ وکه زما حد څخه پورته وه کومه لاره می پیدا نکړه ..... خو ....... نن ورځ ..... اعتراف کوم ! اعتراف کوم تړل شوي یم هغه تورو سترگو تړلی یم لکه شپی پشان توري دي خوو خاصه جلا پکی ښکاري.. اعتراف کوم تړلي ښه وي ازادي نااا ....

شاعر په قول عشق حضرت مولانا :

#من درد ترا ز دست آسان ندهم

دل بر نکنم ز دوست تا جان ندهم

از دوست به یادگار دردی دارم

کان درد به هزار  درمان ندهم ☆

هو زه اعتراف کوم زه مین شوي یم دا اعتراف به آخره پوري کوم  همدی پاڼه کي....

باور می نکیده زما شک په رښتیا بدل شوو احرار مین شوي زغملی راته ستونزمن ول احرار مینی څخه! احساس می وکه ساه اخیستلی نشم ساه می بنده بنده کیده کتابچه په ځکمه ولویده ژر بالکن ته لارم څو ځلي می ژوره ژوره ساه واخسته  ترڅو ساه اخستلو لاره خلاصه شي خو نه امکان یې نه درلود بیحد ستونزمنه وه.. ما د احرار د مینی څخه ویره درلود اوس هغه مین دی یا هم خپل قول باندي تړلي شوي  یعنی احرار مینه ډیره ژوره ده بیحده ژوره !

هغه جلی نیژنم خو کرکه احساس می ورڅخه درلود ځکه ما احرار خپل گنه خو اوس هغه زړه بل چاته ورکړي وو او دا چی هغه دا دومره توجه او پاملرنه بل چاته وکړی زه د بخیلی او کرکی څخه د مرگ حال کې وم. ذهن کي می هغه جلی  تصور کړه څنگه جلی به وي شاید فریښتو پشان ښایسته اوسي ؟ځکه احرار دا ښکلی صفت ورڅخه کړي  ناساپه می ځان هغه جلی  سره مقایسه کړل فکر می وکه هغه په خای که زه وم څه کیدل؟ خو یاد ته می راغله چې زه حتا د انجونو پشان نه یم احرار ولی زما سره مینه وکړي! او پدی فکرونو می نور هم غوسه راغله...

بلاخره ځان ته راغلم کوټې پخوا روانه شوم کتابچه مې څمکه سرنه راواخیسته په خپل ځای مې کېښوده په تیزي باندی له کوټې څخه ووتم صالون په خوا روانه شوم جگ غږ مې سلام وکه او کیناستم، بوبې ته مې زړه نکیده آسیه ترور په زور بوبې را وخوړله هغه لپاره مې لږ لږ خوړله ترڅو خفه نشي..

اصیل پعذاب کولک لومری ځل وه اصیل پعذاب کولو مخکي غلی وم ټولو فکر وکه مریضی او شوک لپاره غلی یم. د تل پشان عادت سره سم ټول انګر ته لاړو احرار زما څنګ ته راغی سر یې راښکته کړو او زما د غوږ څنګ کې وویل: څه شوي؟

بیرجدی مې وویل: باید څه شوي اوسیږی؟

احرار- ناا خو ښه نه راته ښکاری.

– کوم وخت څخه باید مریض ښه ښکاري شي؟

احرار په حیرانتیا راکتل شاید زما نه د دی جواب تمه یې نه درلورده ؟

احرار- آیت غواړي درته آرامښت ګولی راوړم ؟

– لاس مې مات دي پښه مې ماتې نده که اړتیا ولرم خپله یی اخلم.

مخکي لدی چې احرار کوم بل جواب راکړي پورته شوم او ومې ویل: ټولو ته ښه شپه.

ایمان وویل: چیرته ؟

– ویده کیږم.

ایمان- خو ته خو همدا اوس راویښه شوي؟

– نپوهیږم شاید دوا تاثیر وي.

لالا اسد وویل: ورځه جان لالا ښه شپه ولري ځان ته پام کوه.

سر په خوځولو مې بیا ټولو ته وویل: ښه شپه ولري..

او خپل کوټې په خوا روانه شوم،  سترګي مي پټي کړي خو خوب چیرته راځي ترڅو ما بله نړی ته یوسي...

کوټې چت مې په ځیر ځیر کتل نپوهېږم څه راباندي شوي وه، د وجود دننه مې آرامتیا احساس ندلورده یو عجیبه شان احساس وه لکه چې دنیا ټول غمونه زما پر سر راغلی دی، یو څه زه دننه ماته عذاب راکوه نپوهېږم څه وه ؟ شپه په تولو ظلمت سره تیره شوه کمزوري رڼا خپره شوه د سهار ....

اذان په غږ راویښه شوم اودس مې وکه لمونځ وکه خدای سره مې راز نیاز وکه لږ آرامتیا احساس مې وکه او بیا ویده شوم ...

دروازه غږ زه خوب نړی څخه راوباسلم...

– څوک دی ؟

احرار- دننه درتللی شم ؟

– اوس خو راغلې یې نو اجازه د څه لپاره غواړې؟

احرار- ډېر ښه م ایوه غلطي کړې تاسو راته بخشش وکړې زما اغلی.

کله چې احرار مینه ناا خبره شوی وم نور می نغوښتل احرار وګورم بد احساس می درلوده احرار په لیدلو نور هم زیاته کیده مطمئن یم هیڅ بني ادم داسي څه نه خوښیږي!

– کوم څه ته اړتیا لري؟

احرار- ناا یوازي راغلم زخمونه دچک کړم احوال دي واخلم.

– اوس دی احوال واخیسته الله حافظ.

احرار پرته له کومي خبری په غوسه لاړ، د هغه په تلو ځان سره مې وویل: ماته څه لاړ دی شی نازونه غوسه ماته کوي  شاعري  مینه هغه جلی ته !

دوه ورځي تیري شوي هرڅه عادي ډول مخته روان وه بغیر زما او د احرار چلند بهتر ووایم زما چلند! نپوهېږم ولی دا دوه ، دري ورځو کي کومه احوال او خبر زما د کاکا جاوید او یا هم مصور څخه نه وه زه ډېره په اندیښنه او ویره کې وم یوازي زه نا ټول حیران ول .....حالت می ډېر ښه نه وو امینه ترور څخه می اوریدلي وه رحیمي کورني  شپی ډوډی  ته راځي او بیا هغه ښایسته شیطان صفت هم راځي زما  طعبیت تریخ کوي مخصوصا هغه پخوا شپی پشان هرڅه خراب کوي....

کتابتون پخوا روانه شوم ترڅو مطالعه باندی ځان بوخت کړم اسد لالا ته می پام شوو ...

مګر ولی دومره ورخطا او اندیښنه کیدی؟ څنګ ته ورغلم سلام می وکه خو هغه پام نه وه او فکر یې بل ځای کی وه لاس می د هغه سترګو وړاندې وخوځاوه....

– هیییی چیرته دوب یی ؟

اسد- سلام دی چیرته دی؟

– زما سلام پر ځای وه خو ستا جناب پام چیرته دی ؟

اسد- چیرته ناا ؟

– دروغ! څیره دي سترګی ناری وهی کوم څه شوي؟

اسد لومړی خاموشی وکړل او بیا د لږ  فکر کولو وروسته یې وویل: آیت هغوی  غواړې د مینه واده وکړې؟

– څششششی ؟؟؟ توکي کوي؟

اسد د زړه له تل اه اوباسه او ویې ویل:کاشکی توکي وي کاشکی خو اصلي موضوع بله ده ؟

د پوښتنی په ډول می ورته وکتل چی هغه وویل: مینه وویل که هغه په زوره واده شي......... هغه ځان وژنې ......... آیت یوازي یو تار ویښته باندی کم شي وشی زه ساه اخستلی نشم او چیری هغه ځانته ضرر ور.........

خبري نیمه پاتی شوه او اوښکو یی پرمخ روانی شوه .

اه خدایا!!!!!!!!!! ولی دوی باندی زړه نه سوځیږي ولی نګوری؟ ؟؟؟ ولی ؟

خپله هم حیران وم ژبه می بنده شوي وه خو ژر ځانته راغلم او ومې ویل: اسد لالا ماته راوګوره.

هغه ماته راوکتله چې ما وویل: زما لالا ډیر پیاوړي دي مطمئن یمه داسي څه نکیږی تاسو یوځای زاړه کیږي.

خپلو لاسونه باندی می اوښکي ورته پاکي کړي څو شیبې غلی پاتی شوم ځکه دی سکوت ته اړتیا لري

– ښه نو څه پریکړه لري؟ بغیر لخ کوم شک څخه ډاډمنه یم چې ته اجازه نه ورکوي داسي کار وشي سم وایم کنه ؟

اسد سرو خوځاوه او ویې ویل: د هغې د واده مخکي باید لومړی ما هغه دنیا ته ولیږه، ځکه ترڅو څه زه ساه اخلم داسي کارته اجازه نه ورکوم .

– خدای دی نکوی خو غواړي څه وکړي؟

اسد- نن شپه مینه او هغه کورنۍ راځي.

– ښه بیا ؟

اسد- نن شپه هرڅه دواړه کورنیو ته وایم!

– ډاډمن یی ؟

اسد- آیت نور هیڅ راته مهمه ندی زه نشم کولی مینه دي لاسه ورکم هغه زما ټول ژوند ده ، یوځای مړه کیږو ، یوځای ژوند کوه ، یوازي موړ!

سر می ورته وخوځاوه سم وایي.

– اندیښنه مکوه انشاءالله ټول درک کوي.

وروسته د زړه د درد خبرو اسد لالا لاړه.. ورځ تیره شوه شپه راغله، په نا رضایتی باندی می د کتاب څخه زړه واخسته لاندي لاړم چی ناځاپه می په لاره کی د یو چا سره ټکر وکړو او زما د ښه بخت هغه کس بل سوک نه وه بغیر د حریر څخه، اه لعنتی دا دلته څه کوي؟ تل پشان شهزاده ګي په ناز نخرو پورته شوه او په قهر یې وویل: ړنده یی ؟ سترګي نلري؟

دی ورځو که زما حوصله هم صفر شوي وه نو بغير له کوم فکر څخه مې ورته وويل: نااا نلرم ؟

حرير بد بد راوکتل:

حرير- ټول د دوی ګناه ده تا باندې زړه سوځيږي تاته ارزښت درکوی، کنه ته خدمتکار چيرته دومره جرعت؟

– سم وايي ټولو ما ته خدمتکار څخه هم زياد ارزښت راکوی خو پوهيږې څه دې؟ تاته يو خدمتکاری پشان هم ارزښت نه در کوی.

هو ميرمن حرير کله چې د چا دروازه وهې په نوک نو خامخا ستا دروازه وهی په سوق، مخکې لدی چې د هغی چغی پورته شی د هغی ځای څخه لاړم ځکه هيڅ می د جنګ او جنجال حوصله نه درلود، پخلنځلی ته لارم ټول کارونه باندی مصروفه وه ماهم لستوڼی پورته کړل او په کارونو کې مې مرسته پيل کړل.

هرڅه تيار ول چې مينه خپل د کورني سری راورسيدل..يو ځلي می احرار کليزه کی ليدلی وه خو ډير لرې نااا اوس نيږدې څخه ګورم ..

هغوی سترې مشي خلاصه شوه ټول په خپلو ځايونه کيناستل.....

– آيت

– بلی امينه تروری.

امينه- لوري نپوهېږم دا ګيسو چيرته ده که په زحمت کيږي نه دا چای صالون ته وروړه ؟

– په سترګو.

پورته شوم چای می صالون ته ويسو ټولو ته می سلام واچوه، مينه کورني غړې، موری ، پلاريی ، مينه، يو ېبهم ورور وه ، سترې مشي می وکړه....لومړی ځل ليدولو کې مينه سترګو زه ځانته جذب کړم الحق اسد صفت توصيف بی ځايه نه ول خوو مينه سترګو که ژوره انديښنه غم ليدل کيده،چای ويشلو باندی می پيل وکړ غوښتل می مينه چای پياله ورکم اسد لالا منع کړم او ويې ويل: آيت مورې باغ ته ځوو.

ټول لارل غوښتل می پخلنځلی ته لاړه شم احرار راغی يوه شيبه می ونشو کولی ورته ونګورم تل پشان ساده جامو که سپوږمی پشان ځليده ! زه يې ليدلو که دوبه وم احرار به توخي زما فکر خپل خوا ته کړو او ويې ويل: آيت تاسره يم !

– ها څه دي ويلی؟

احرار کوښښ کوه خندا کنترول کړي او ويې ويل: هو څه می وويل.

عجبيه حس می درلوده لاس پيښي رانه ورکی شوي ورخطا شوم.

– اوبخښی زما ...... پام نه وه ...... څه مو وويل؟

احرار- درته ووايم باغ ته ځوو؟

– ته لاړشه زه .......

مغرور خان لیونی ! بغیر لدی چې زما خبرو ته پام وکړی پتنوس رانه واخسته میز پرسر کیښود او زما لاس ونیولو ځان پسي کش کړم.

هلته په آشبزخانه کې می ونشو کولی کوم کار وکړم ځکه ټول موږ ته راکتل، خو همدا چې د باندي انګر ته ورسیدو غوښتل می خپل لاس ورنه جلا کړم خو ومې نشوو کولی ځکه بیحد کلک نیولی وه افففففف..

– زما لاس پریږده مات دې کړو.

خو احرار بغیر لدی چې زما خبرو ته پام ومړی خپل لارې ته ادامه ورکړل زه ځان پسي کش کولم.

– تاته وایم زما لاس پریږده.

احرار دا ځل زما لاس په غضب باندی پریښودو او زما خواته راتاو شوو، او په قهر یې وویل:

احرار- ستا د لاس نیولو مینوال نه یم، که ضد ونکړې او انسان پشان زما خبرو ته غوږ ونیسې نو زه نه مجبور کیږم داسي کار وکړم!

ژبه لاندي می هر څومره چې کنځلې مې زده وه  ورته ومې کړه، کله چې باغ ته ورسېدو مغرور خان مخامخ د نورو خواته ورغی داسې لکه چې زه بیخی ورسره وم نا‌ا داسي تیز لاړ.زه هم هغوی سره یو ځای شوم خو اصیل، ایمان، مینه او ورور یې نه وه،اسد لیدلو ته مې پام شوو بغیر له کوم شک څخه پوهیدم چې چیرته ګوري دواړه یو بل سترګو ته کتل، داسي دواره یو بل سترګو که دوب شوي وه لکه چې وخت دربدلي اوسي  پرته لدوی څخه بل څوک دلته شتون نلري

آیا دا مینه ده؟ نپوهېږم خو هرڅه وي ډېره ښایسته ده !

ناڅاپه احرار خواته  می وکتل یوه شیبه دواړه سترګو په سترګو شوو

حریر غږ  زما پام ځانته واړولو :

حریر- ربښتینی نوم دې آیت وو کنه؟

پوهیدم چې هغې زما نوم زده وو خو له قصد یې داسې وویل ترڅو ما ته د بی ارزښته اوسیدو احساس راکړي.. یوازي د سر پر خوځاوه ولو مې د هو جواب ورکړو....

حریر- هغه ورځ ډیره خفه شوم اوس څنکه یی؟

پوهیدم دا ټول ددی ایټینګ او ظاهر سازی ده، له قصد یې د مار پشان نیش داری خبري کولی ترڅو ما بی ارزښته ښکاره کړی .....

– مننه ښه یمه.

حریر- رښتیا ډیر می زړه دربانډي و سوځیدی دومره بیچاره انسان می خپل ټول ژوند کې لیدلی نه وه خو مور مي ویل: کورنۍ هیڅکله پرته له کوم دلیل څخه داسې کوم کار نکوی ډاډمنه یم ستا گناه ډیره لویه وه چې داسي درته غوسه شوي وه کورنۍ دې او داسې لکه وحشې ځناور پشان ستا سره چلند وکړو کنه؟

بیا می هم اور واخسته ځکه زه د بیچاره گي د لفظ څخه چې ماته استعمال شې کرکه مې درلود.

— مننه مهرباني څخه مو، خو اړتیا نشته زړه دی راباندي وسوځیږي او هو کاشکی ترور جاني دا هم درته ویلي وایې چې د چا شخصي ژوند که مداخله کول ښه کار ندی لري ادب څخه مو !

حریر مخ سور شوو او په غوسه یې وویل: ته احمقه جلی ځانته څه فکر کوئ هاا؟ ته ماته بی ادبه وایې؟ خدای پوهیږي کومه بدنامي او رسوای دې خپل کورنۍ ته جوړه کړې وه چې داسې ته بد نامه یې وهلـ...

احرار- خوله دي بنده کړه !!!

احرار په قهرجنه لهجه خپل گوته د حریر خواته وخوځوله او په گواښ لرونکې انداز یې ورته وویل:مردار فکرونه دي ځانته وساته آخر ځل دی اوسیږی چې داسي کلمات د آیت په اړه خوله باندی اخلي!

څشي می واوریدل! هو ما د حریر د زړه او غرور ماتیدو غږ واوریده..حریر په هغه سترگو چې هر ثانیه اوښکې توېدیو ته تیاری وه ژر له هغه ځایه لاړه د هغې ورور هم ورپسی ولاړی ....

مینه کراری زما څنگ ته راغله او ویې ویل: حریر خبرو څخه مه خفه کیږه هغه تل همداسی ده.

د مینې خوا ته مې وکتل هغې په غمجن انداز زما خوا ته راکتل او لدی چې زه د حریر په خبرو خفه شوی وم خفه وه،شاید خدای غواړی راته ووایې: آیت وگوره که ما شیطان پیدا کړي نو ملایکه مې هم پیدا کړې حریر که شیطان وه خو مینه هغومره ملایکه وه راته.هغی ښکلو سترگو ته می مسکاه وکړه او ومې ویل:

— پوهیږم.

مینه- ما ستا د ښه اخلاقو او نرم زړه په اړه زیات اوریدلی.

اسد خواته می وکتل او په شیطانی لهجه می وویل: ما هم ستا په اړه ډیر خبری آوریدلی.

مینه په حیرانتیا او ویری او په بند بند ژبه وویل: څه ...... څه دی اوریدلی؟

اسد غږ وکړو:

— دچا غیبت کوي؟

سترگي مي ورتاوه کړي او ومی ویل: ستاسو مربوط نکیږی زما وریندار ترمینځ ده ...

وریندار نوم په اوریدو مینه غومبري سره شول سری ښکته واچوه، زه د هغه یدی لیدو اړ شوم وخاندم او ومې ویل: وریندار جانی اړتیا نشته وشرمیږی زه په هرڅه پوهیږمه

میني غمجنه مسکاه وکړه او ومې ویل: کاشکی ټول ستا پشان پوهیدلي..

ــ مني يې تشويش مکوه اصلاً د داسې عشق نه منل ممکن دی؟

سترگې يې وځلېدې څومره ددې نجلۍ زړه بې ريا دی.

مينه ـ داسې فکر کوئ؟

ـ شک مکوه.

مينه ـ ان شاءالله.

بيا يې هم نظر د اسد خوا ته کوږ شو چې ايمان اصيل او مينه ورور چې نوم يې موسی وو راغلل شېبه وروسته حرير او ورور يې زموږ مجلس ته راغلل د اصيل په ويلو مو په باغ کې قدم وهل شروع کړه.احرار او اسد تر ټولو مخکې وه ور پسې حرير او ورور يې هم ځانونه ورته ورسول.اصيل او موسی د فوټبال لوبې په اړه خبرې کولې اخر کې ټو د مينه سره وو چې په پښه کې کوم څه سيخ شو چيغې مې کړې

ـ اخخخخخ

ټول زموږ خوا ته راغلل خو احرار د ټولو نه مخکې راورسېد

احرار۔ څه شوه؟

—نه پوهېږم فکر کوم څه مې پښه کې ننوت.

نه کېده چې د حرير خوله بنده پاتې شي؟

حرير- حتمن يو کوچنی ازغی وو تشويش مکوه.

احرار زما پښه لاس کې ونيوله په لېدو يې تندی تروش کړ خو چې لاس يې وروړ زما چيغه پورته شوه.

اسد پوښتنه وکړه: احراره څه دي ازغی دی؟

احرار د نه په بڼه سر وښوراوه

اسد ـ نو څه دی؟

احرار۔ ميخ دی!

احرار ماته مخامخ وويل: بايد يې وباسم ډېر درد به وکړي.

پوست مې لکه د تمساح داسې کلک شوی وو ځکه د ماشومتوب نه مې يوه ورځ هم بې ټپه نه وه تېره کړې.

ـ مهمه نده ويباسه.

احرار خپل لړزېدلی لاس يې زما د پښې خوا ته اوږد کړ د تعجب وړ وه ځکه احرار په سلگونو سينې څيرلې وې

خو اوس د یو میخ د ایستلو دپاره یې لاس لړزیږي؟ !

سترګې مې پټې کړې دې دپاره نه چې د وینو یا میخ د درد توان نه لرم بلکې د هغه د لاس د لړزېدو د لیدلو توان مې نه درلود.

د ردر مې د بدن په ټولو برخو کې خپور شو هغه هم داسې درد چې زغمل یې سخته وه د سترګو نه مې بې واره اوښکې بهېدې او چیغې تر اسمانه رسېدې سترګې مې خلاصې کړې چې احرار خپل د غاړې دسمال خلاص کړ او زما په پښه یې وتاړه.

زما خوا ته راغی تر څو پورته مې کړي خو اجازه مې ورنکړه او ومې ویل: خپله ځم.

خو چې پورته کېدم د درد دلاسه مې توان ختم و.

احرار په غوسه وویل: بیا هم ضد وکړه هله نو.

مغرور خان زما خبرو ته بې توجه د یو پاڼې په ډول پورته کړم او د ماڼې خواته روان شو.

په دې فکر چې ټول هلته ولاړ دي او څه به وایي چورت واخیستلم.

د دروازې مخ کې مې وویل: احرار ما کښته کړه.

خو احرار زما خبره یې ونه منل ورته مې زاری وکړې او ومې ویل: احرار هیله کوم.

په ځمکه یې ودرولم خو زما لاس یې ایله نه کړ ماڼې ته ننوتلو مستقیم یې خپل کوټې ته بوتلم زه یې پر تخت کښېنولم او خپل په وسایلو پسې لاړ په غوټه وربځو یې زما پښه پانسمان کړه رښتیا په درد کې مې خندا راغلې وه د الکولو په وهلو یې تندی داسې تروشېده تا به ویل دی زخمي دی.اخر مې وخندل

احرار په جدي لهجه وویل: دا هم خندا لری؟

– خان صیب باید زما خوله د درده کړه شي خو زما لځایه ستا خوله کړه کیږی.

احرار همداسې راته کتل او ویې ویل:

# راز درون پرده ز رندان مست پرس

کاین حال نیست زاهد عالی مقام را

ما احرار نشو درک کولای چې دی څه وایي؟

ـ یعنی څه؟

احرار ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: ایت پوهېږې ویده کس راویښ کولې شې خو هغه کس نشې را ویښ کولی چې د ویده کېدو تظاهر کوی.

ـ اوف احرار ته څه وایې ویده تظاهر خو سم ووایه چې څه وایې؟

په خندا یې وویل: نور څنګه ووایم ایت سترګې دې خلاصي کړه او وګوره..

دروازی خلاصه شوه او حریر دننه راغله او د احرار په اوږه یې لاس کېښود او په ناز یې وویل: احرار راځه ډوډۍ تیاره ده.

وای دا څنګه نجلۍ ده هېڅ په حیا نه پوهېږي.

احرار- ته ځه زه درځم.

حریر- ترور ویل چې بې له تا لاړه نشم راځه نو.

لاندې لاړو او د ټولو د شفا دې وي په ویلو مو ډوډۍ شروع کړه. پښې مې درد کوی غوښتل مې کوټې ته مې لاړه چې اسد په تشویش راغی او ویې ویل: آیت کیدای شي پاتې شې یو تا لرم لاړه نشې کنه خپل جرئت د لاسه ورکوم.

خدایه اسد مې بیخي هېر کړی و

— هو ولې نه دا هم د ویلو خبره ده.

دواړه بیرته سالونه ته راغلو چې اسیې ترور وویل: لورې نه یې ویده شوې

ـ نه تروري وروسته ویده کېږم

په مسکا یې وویل: راځه لورې اوس وختې دی وروسته وېده شې ښه ده.

دواړه کښېناستلو خو اسد ډېر په تشویش و

ـ اسد لالا ارامه اوسه.

اسد سر یې وښوراوه او سل زړونه یې یو کړه او حمید اکا ته یې وویل: پلار جانه!

حمید کاکا- جان زویه؟

اسد- زه ... یعنی مورږ غواړو تاسې ته یو مهمه خبره وکړو.

زمورږ د کلمې په اورېدو ټول چوپ شوه ټولو اسد لالا ته کتل.

حمید کاکا ـ ووایه زویه څه شوي؟

اسد- پلاره هغه ... پلاره زه .... مورږ

کرار مې وویل: اسد لالا ارامه اوسه او توکل په خدای کړه هر څه الله ته وسپاره.

لالا اسد دا وار مستقیم وویل: مورِ د واده پرېکړه کړې ده.

ټوله سالون کې خاموشي شوه چې ناڅاپه مې احرار ته نظر لاړ په لېدو یې حیرانه شوې وم.د بت پشان وو داسې چې روح یې تللې اسمان او فقط جسم یې پاتې دی

بلاخره اکا په خبرو راغی او وې ویل: ولې مو داسې پرېکړه کړې؟

اسر سر کښته کړ او ویې ویل: پلار جانه .... مورِ یو بل سره مینه کوو.

زما سترګې پر احرار ولاړې وې رنګ یې الوتی وو شاید د ورور د عاقبت نه ډارېده ځکه دا مینه به ده ته ډېره ګرانه پرېوځي.حمید اکا یو څو شېبې چوپ وو وروسته یې ماته وویل: آیت اسد رښتیا وایي؟

سترګې مې د احرار نه وګرځولې او ژر مې وویل: هو اکا جانه رښتیا وایی.

حمید کاکا- نو دا دومره وخت ولې ټول چوپ وئ؟

اسد- ستاسې د عکس العمل او دښمنۍ نه ډارېدو.

د حمید اکا تندی تروش شو او ویې ویل: اسده ما تر اوسه ستاسې کومه غوښتنه همداسې پرې ایښې؟ چې دا به یې دوهمه وې؟ او پاتې شوه د دښمنۍ خبره زه د چا نه نه ډارېږم، او اوس چې تاسې یو بل خوښ کړي او ایت هم راضی ده نو د مخالفت سوال هم نه پیدا کیږي ددې اونۍ په اخره کې به د اسد او ایت کوژده وي.

د چا کوژده د چا سره؟ ؟؟

قریب وو ښکرونه مې کړي وه؟ یعنی څه؟ ؟ حمید اکا فکر وکړ زه او اسد ؟؟؟

سترګې مې وغړولې چې د هیچا حال هم شه نه ښکارېده. مینه په غټو سترګو راکتل د ایمان او اصیل حالت خو د ویلو نه و یوازینۍ کس چې سترګو کې یې خوښي ښکارېده حریر وه خو احرارر... احرار داسې شکارېده چې ددې انسانانو منځ کې ندی.

غوښتل مې پورته شم او دا غلط فهمي له منځه یوسم چې اسد مخکښ شو او ویې ویل:ـ پلار جانه تاسې څه ویاست؟

حمید اکا وویل: زویه اوس چې تاسو یو بل سره مینه کوئ د ناوخته کېدو هیڅ امکان نشته او هغه جاوید هم هیڅ نه شی کولای پلار دې لا ژوندی دی.

اسد ـ پلاره تاسې غلط پوه شوئ زه د ایت خبره نکوم اصلاً د هغې په اړه داسې فکر هم نه کوم ځکه زه هغې د خور په سترګه ګورم نو تاسې څنګه فکر وکړ چې زه او ایت ؟!

لکه نورو ته چې تازه نفس ورکړي خو د احرار حالت فرق کوئ لکه دوم وار چې یې رګونو ته وینه ورشي

حمید کاکا ـ نو تا د ایت په اړه خبرې نکولې ؟

اسد ـ هو پلار جانه زه د مینه په اړه خبرې کوم.

د مینه نوم دویم شوک وو د ټولې کورنۍ د خاموشۍ دپاره او دا شوک د مینه پلار بد رقم مات کړ! خبل کورنۍ ته یې مخ کړ او ویې ویل: ژر ښه ښځې چې ځو نور دا کور زموږ په درد نخوري.

حمید اکا په تلوار د هغه خوا ته لاړ او ویې ویل: کریم خانه څوه شېبې صبر وکړه.

کریم خان ـ حمید خان موږ د یو بل مالګه خوړلې او نن د هغې مالګې لحاظ دی چې زوی دې ژوندی پرېږدم.

وروسته مینه پسې لاړ او هغې ته یې وویل: لعنت دې پر ما وي چې ستا په رقم اولاد لرم او لعنت دې ستا په رقم لور شي.

اسد لالا نور زغم ونکړ لاړ د کریم خان لاس یې ونیوه، د کریم خان سترګې سرې شوې وې دا ځل یې کلکه څپېړه د اسد پر مخ ورکړه.

کریم خان ـ بې شرمه هلکه دې په ځای چې وشرمېږې زما لاس نیسې؟

حمید اکا په داسې غوسه چې تر ننه مې نه وه لیدلې وویل: کریم خان خبرو ته دې پام وي زما زوی داسې کار ندی کړی چې شرمنده دې وی.

کریم خان په لوړ اواز وخندل او په طعنه یې وویل: زوی دې د نورو ناموس ته سترګې نیولي بل دلیل هم غواړې ها؟

حمید کاکا- کریم خان زما زوی ستا پر لور میین شوی او د نر غوندې ولاړ دی تر څو لاس یې ونیسي دې کې د شرم څه خبره ده؟

کریم خان ـ کوم لاس نیسي حمید خان؟ کوم لاس چې د پیدا کېدو سره یې د بل چا په نوم شوی هغه؟ حمید خان ته هم ځان په نا پوهۍ وهې؟

حمید کاکاـ کریم خان خبره دې سمه ده خو دوی یو بل سره مینه کوي.

کریم خان ـ حمید خان دا خبرې ماته ارزښت نلري زه همدا سبا ددې بې حیا نکاح ترم او ته هم خپل زوی درکنټرول کړه.

حمید کاکاـ کریم خانه پرېږده مشکل حل کړو.

کریم خان ـ څنګه یې حل کوې؟د هغوی سره خبرې کوی؟حمید خان ته غواړې ما بې عزته کړې همدا سبا ددې نجلۍ نکاح ده او بسسس.

اسپې ترور حمید اکا حتی د رحیمی کورنۍ د کریم خان د قانع کولو کوشش وکړ خو هغه نه منل یوازې همدا یې ویل چې سبا به د مینه نکاح وي صبر مې خلصېدو په مشکل د ځای نه پورته شوم چې د مینه رېغ شو.

مینه ـ بس دی نور بسسس کړئ

په سلګو يې وويل: پلار جانه تاسې چې هر څه وایاست زه يې منم خو يوازې تاسې ارامه اوسئ د زړه لپاره مو ښه نده.

زړه مې ددې نجلۍ دپاره ټوټه ټوټه شو معصوميت يې هیڅا نه لېده ځان مې کريم خان ته ورساوه ، اسد په نه زړه وویل: مینه ته څه وايې؟ نه داسې نکېږي موږ خو داسې نه وه ويلي؟!

کريم خان بیا هم اسد ته څپېړه ورکړه دا وار حميد اکا پر اسد چیغه کړه!

حميد کاکاـ اسده!پرېږده چې لاړ شي.

اسد ـ پرېږدم چې لاړ شي پلار جانه! نه زه دا نه منم.

حميد اکا چې وليد اسد په حال کې ندی نو احرار او اصيل ته يې اشاره وکړه چې اسد ونيسي خو احرار دا کار ونکړ برعکس دا کوښښ يې کوی چې دوی راضي کړي.....

اما اصيل د کاکا د فرياد سره سم يی اسد لالا د لاس ونيو..

اسد- مه څه مېني مه ځه ! پلاره مه پريږده چي لاړه شي څه کیږی خوشی می کړي پلاره زه به غير د هغي مړ کيږم قسم کوم !

مينې د اسد د حالت ليدو سره ونه شو کولی چی توانايی راوړی غوښتل يی د هغه طرف ته لاړه شي ولي کريم خان پرينښوده او په ډېر قهر سره یی بهر ويسته مينې سلګی وهلی او ويل يې: پلاره خوشي می کړه . پلاره ... څه کيږی خوشی می کړه وګوره .....اس ..اسد فرياد او ژړا کوی پلارررررررره..

مګر ټول کاڼه شوي وو او هيڅا یی خبري نه اوريدي،نور دريدل ښه نه وو ، د کريم خان مخه مې ونيول او ومې ويل:

— کاکا خلک وایی چی یا به د مشرانو خبری ته د غوږ نیسې يا کوچنيانو خبری ته، تاسو چی مشرانو خبرو ته غوږ نه نيسي نن ددی ماشومې خبری ته غوږ نيسي .

کريم خان- همدا پاتي دی چی يوه کوچني ما ته نصيحت وکړی !

— زموږ سترګي سم د ليدو طاقت نه لري اما ډير ښه کولی شي نور ووينی او په ضمن کي بايد رښتيا له کوچنيانو بايد وپوښتل شي.

کريم خان لږ خاموش شو او بيا يې کرار وويل: ووايه اورم !

— تاسو رښتيا وایی کاکا جانه دوي دواړو غلطي وکړه ! ډيره غلطي یی وکړه چي ميينان شول، غلطي یی وکړه چی سره يو ځای شول مینې غلطي وکړو هو آيا ټول عمر کي یی ستا بیغير له اجازي کوم کار کړی؟

آيا تراوسه یی ستا له خبري سر غړونه کړی ؟

آيا تاسو خبري باندي یی بله خبره کړي ؟

آیا تر اوسه یی تاسو بی احترامي کړي ؟

آیا تاسو عزت یی کله هم کم راوستي ؟

آیا تر اوسه بی غیر له ویاړ څخه بل څه درته راوړي ؟

زما په خبرو کریم خان د میني خواته وکتل او چوپ شو

– کاکا جانه میني دا ځل بیا هم غلطي وکړه! زړه یی غلطي وکړه بد ځای یی پښه کیښوده او بندي شوله ! اما آیا دا سیی وه چی تر دي چي یو ورځ د راتلو یی دغه نړۍ ته نه وه تیره شوی تاسو یی د ژوند دا دومره مهم پریکړه وکړه ! ایا دا صحیح وه چی یو څوک چي ښي لاس او چپ لاس یی نه پیژندل او ماشومه وه تاسو ورته نفر انتخاب کړو او ورته مو وویل چی لدي سره واده وکړه؟ فکر د نه کولو چی کله لوي شي نو شاید یو بل یی خوښ نشي ؟ فکر د نه کولو چی شاید دغه دواړه سره یوي پریکړې ته ونه رسیږي؟ فکر د نه کولو چی شاید یوه ورځ میینه شي ؟؟

څو لحظي چوپ پاتي شوم...

کاکا که هغوی غلطي وکړه نو تاسو څه وکړل ؟ سبا که ته ددوي نکاح و تړي په ظاهره به هر څه خلاص شی خو مینه خپل د خاوند سره خوښه نده او تل به یی فکر هم نه وي ورته او خپله به هم جگرخونه شي، په آخر کي یی دري لاري ورته پاتي کیږي اول خیانت ، دوهم طلاق او دریم هم ځان وژنه !

او همداسی مطلب د اسد لالا لپاره هم او هغه دوه نفره چي د دوی سره واده کوي د هغوی هم دغه حال دی. نو ولي تاسو د څلورو نفرو ژوند ورتباه کوي !یعنی د څلورو ځوانانو ژوند په یو ضد سره په تباه کولو ارزی؟ د څلورو ځوانانو راتلونکی په یوه ضد سره ارزي ؟

کریم خان په پسخند وخندل او ویې ویل: لورجاني ته وړه یی پدي موضوع گانو کي ځان مه داخل کوه ! خلک به څه وایی ؟ زه نشم کولی پاتی ژوند مې په ښکته سر ژوند وکړم.

– خلک ? ښه چي سبا د لور غمجنه شي نو بیا خلک څه نه وایی ؟ کله چي ځان وژنه وکړي بیا څه ؟ هغه وخت بیا خبري نه کوي ؟ کاکا مي خلکو د پیغمبرانو ﷺ پسی لا شاته خبری کړې او تاسی غواړي خپل ژوند د هغوی خبرو قربانی کړې واااااه څه عجبه غیرت دي !

کاکا غیرت دا ندي ! غیرت دادی چی خپل لور ته په سخت حالت کي د ویري احساس ورنکړې ځکه پلار یی لکه د غره په څیر شاته ورسره ولاړ وي ! غیرت یعنی چي د هر طوفان سره مخامخ شي و نه لړزیږی ځکه پلار یی ریښه گرځیدلی،او خپله لور یی مقاومه درولی، غیرت یعنی پوه شه چي څوک ورته ضربه نشی ورسولی، ځکه تاسو ورسره یی ! دا دي رښتیني غیرت نه وهل او ډبول !نه د قربانی کول د خپل اولاد د خلکو د خبرو په خاطر اما که بیا هم غواړې لور مو قرباني کړي نو زه کومه خبره نه لرم !

د کریم خان د کتو رنگ بدلون وخوړ د میني مور یی په پښو کي په زاریو سره ولویده: کریم مه کوه ! مه کوه څه کیږي د لور ژوند مي مه تباه کوه ! ته کولی شی د زړه د له لاسه ورکولو څخه زه یی تاب نه لرم . پخدای قسم کوم..

اسیه خاله هم په ژړا سره د میني مور له ځمکي راپورته کړه او کریم خان ته یې وویل: هر څه بخښل کیږی، مگر د یوې مور آه او افسوس او پعذاب کول نه ، آه او افسوس د دوو میندو مه په ځان اخله .

حمید کاکا هم د څو دقیقو مخکي پشان په غوسه نه ښکاریدو په کراره لهجه یې وویل: کریم خان مگر ما او تا دا ټول عمر د همدی ماشومانو لپاره تکلیف و نه ایستو ؟ خپله ځواني مو د دوی لپاره خاوری نکړل؟ تر څو دوی آرامه ژوند ولري ؟ هیڅوک هم که نه پوهیږي مگر زه خو پوهیږم ته له میني لور سره د خپل ځان څخه هم ډیره مینه لري نو بیا راشه او ماشومانو په څیر ضد مه کوه راځه هغه ژوند چې هر څه لرلو او نه لرل مو مخکي ورته کیښودو هغه خو یی تباه نه کړو ! راشه ضد مه کوه د لور شاته د لکه د غره په څیر ودریږه !

کریم خان پس له یوي اوږدی چوپتیا وروسته په قهر سره میني ته وویل: ته هم له اسد سره مینه لري ؟

میني په ډیر شرم سره خپل سر ښکته کړو او ویی ژړل.

کریم خان- جواب راکه مینه ورسره لري یا نه؟

میني ډیر په ورو ډول او سرښورولو سره هو وویل.

کریم خان خپل لاسونه پورته کړل او د ټول د حیرت څخه د ډک نظر لاندی خپل لاسونه د میني په سر کیښودل.

مینه خپل سر پورته کړو او په حیرانتیا سره یې کریم خان ته کتل خو کریم خان کاکا حمید ته مخه کړه او ویې ویل: حمید خان د احمدی کورنۍ څخه د لور ترلاسه کول اسانه ندی ، ایا ستا زوی چمتو دی؟

کاکا حمید په لومړی سر کې حیران شو، خو وروسته هغه کریم خان خوا ته په خندا سره ولاړی او ویې ویل: کریم خان، تاسو د مشرف د کورنۍ زامن نه پیژنئ، دوی په سختۍ او زحمت باسلو باندی پیژندل کیږی.

کریم خان- امممم سمه ده و به گورم چی پښیمانه کیږی او که نه؟

حمید کاکا- هغهنه  پښیمانه کیږی خو تا به ضرور پښیمانه کړی.

بیا دواړو په لوړ اواز وخندل او یو بل یې په غیږه کې ونیو.خو ټول لا تراوسه په حیرت کی وه او دوی دواړو ته یې کتل. حمید کاکا د اسد لالا خوا ته ورغی او هغه یې په غیږ کې ونیو د اسد لالا لپاره دا خبره منل ستونزمنه وه چې د هغه ستونزې حل شوی!

کریم خان هم د میني خوا ته ولاړی او ویې ویل: خپل اوښکې پاکې کړۀ ، ستا پلار تر اوسه ندی مړ چې ته داسی بی پناه وژاړی تر هغه چې ستا پلار ژوندی وی هیڅوک نشی کولی تا ته تکلیف در ورسوی!

مینه خپل ځان د خپل پلار په غیږ کې وغورځاوه ، او یوازې خدای پخپله پوهیږی. چې ما هغه لحظه څه حال درلود او سومره مې خپل پلار یاد ته راغلوو..

یو عجیب چاپیریال و ، هر چا ژړل او په ورته وخت کې خندل او یو بل ته یې کتل حمید کاکا موږ ټول کیناستو ته دعوت کړو.

حمید کاکا- ښځي ژړا بس که ، زموږ خولي خوږی کړه.

آسیه خاله په خندا سره د آشپزخاني خواته لاړه له چاي او خوړو سره راغله او ټولو ته یی خواړه وویشل او وروسته اسد خواته لاړه او د هغه سر یی ښکل کړو

اصیل ، ایمان ، حریر ، او ورور یی له موسی او احرار سره د هغوی څورولو باندی لگیا شوو او هغه دواړو په شرم سر ښکته کړ چي حمید کاکا وویل: په څه فکر کې یې کریم خان؟

کریم خان- حمید خان نه پوهیږم څنگه د میني ماما و مخ ته وگورم؟ او څع هغه ته ځواب ورکړم؟

حمید کاکا- تشویش مه کوه کریم خان یوه حل لاره پیدا کوو!

سعدیه خاله چي د حریر مور وه سترگي یی نازکي کړي او په خندا سره یی آسیی خاله ته وویل: وروسته د اسد نه نوبت د احرار دی لخیره.

آسیی خاله په مهربانی وویل: إن شاء الله.

سعدیه- څوک د احرار لپاره نظر کي لري ؟

اسیه خاله- انتخاب یی خپل لاس کي ده هر څوک یی انتخاب کړل فقط د احرار خوشحالی موږ ته مهمه ده.

اصیل وویل: موري ته خپله لاس په کار شه که د لالا ته مي کیني عمر تر آخره

خپله به هم مجرد پاتي شي او زه هم !

ـــته له کومه پوهیږي چي ما نده انتخاب کړي ؟

ټول له حیرانتیا څخه وازي خولي نیوله  مگر زه  خو  پوهیدم چي احرار میین شوي دي !

مشران انکر ته لاړل چي موسی په خندا سره وویل :

ـــاحرار خان داسي خو به نه وي چي زړه د چاته ورکړي وی

ـــته همداسی فکر وکړه

ـــواه واه  ..څوک ده  همدا ښکاري چي احرار خان یی دام کي گیر کړي ؟

احرار په نه زړه وخندل

ـــوخت یی راشي پوه به شي

ټولو ته می میوه تقسیم کړه احرار اشاره راته  وکړه چی راشه زما تر څنگ کینه خو مه  حریر ته می اجازه ورکړه   احرار تر څنگ ځای کیني   مگر زه د ایمان  ترمنځ کیناستم حریر په ناز خبري کولي مگر احرار تروش غوسه سره   ناست وو .

د زړه له بیخه می حریر ته غوسه  راتله څومره دغه جلۍ ښه  خیال  احرار سره وهي ولی بیچاره نه پوهیده

چي د احرار  زړه بل چاسره دي !

بیا مي هم ټول فکرونه همغي جنۍ ته ول

خاا دا نجلۍ څوک ده ؟ ایا زه یی پیژنم ؟

رحیمی او احمدی کورنۍ لاړي او داسی وشول چي حمید کاکا او

کریم خان د مینه ماما طرف ته ورشي او خبره ورسره واضح کړي او بیا د دوي موافقت سره د نامزادي جشن ونیول شي

د ټولو له سترګو خوبونه تختیدلی وو هر څومره څه  وخته وه  ټول ناست ول او د نامزادی په اړه یی خبري کولي !

بغیر  کومي خبري می صالون  پریښودو او خپلی کوټي ته راغلم زړه می یوازی توب غوښت خو بیا به هم خوب نه راته ..

څو شيي کیدي چی له خوب سره پردي شوي وم  .

د زړه تنګون او خفګان احساس می کولو همدي لپاره بام ته وختلم د شپی آسمان دیر زړه پوري  زړه راښکونکي کابل وه  !!!

ـــله څه وخت نه د یوازیتوب ملګري شوی یی ؟

د احرار غږ

سر می سر راتاوه که هو خپله وو

اما مانع نه وو

ـــولی ماسره په یوځای کیدو ورته ترجیح نه ورکوي !

غږ یی زړه خوړونکی وو یعنی په غوسه وو خاا نو په ما یی څه ؟

ـــمګر زه ستا مغرورخان د غوسی کیسه کی یم

نه داسی نده

ـــخی ځنکه ده !

یوازي  دا می ښه و ګنله چی تاسو  کورنۍ خبرو کی دخالت ونکړم

احرار په غوسه شو

ـــستا مشکل څه دي ؟

ـــزه کوم مشکل نه لرم شکر الحَمۡدُ لله

ـــزه ماشوم نه یم آیت څو ورځي کیږی رفتار د بدلون کړي فکر کوي درته متوجه نه یم لدي چی هغه جلۍ د زما څنګ ته راوسته

ـــتاته څه هاا په تا یی څه ؟ مګر زه ستا کنیزه یمه  باید زه  ولی تاته هرڅه نا توضیح درکړم  هو له قصده می داسی وکړل څکه زړه می غوښتل .

لیدلی یی ویرونکی،ووو او نږدي راغی دومره ویریدلی وم څه ساه می بنده بنده کیده...

هر یو ګام څه به مخته راتلوش زه به یو ګام شاته تلم

احرار همداسی را نیږدي کیدو

څه،دیوال ته نږدی شوم

غوښتل می چی څنګ نه لاړه شم  څه  دواړه لاسونه دیوال باندی کیدول او زه  دواړه لاسو ترمینځ احصاره شوم !سترګو کی  ویني ښکاره کیدی رښتیا ګناه زما  سرچپه  تیز خبری وي څه مشرانو  سره کوچني انجلي بحث وکړي

ـــنو له قصده د څنګه اجازه ورکړه ؟

د خولی لاړي می له ستونی تیري کړي

ـــاحرار زه ویریږم؟

دواړه لاسونه باندی زما

اوږي  کلکی ونیولی .

ـــله دي کارو د څه لاسته راوړي

خوشي می کړه

ـــآیت ستا  موخه څه ده ؟

ــــاحرار لاس می درد کوي.

زما په خبری احرار لدی لځایه چی لاس مې خوشې کړې نور یې هم کلک نیسی، داسی چی احساس کوم د لاس هډوکی مې مات شو او هغه په لوړ غږ سره وایې: نو ته ولی ما ته درد راکوی؟ ولی ما ته عذاب راکوی ایا زما د درد ورلو څخه خوند اخلی؟ ووایه لعنتی خوند اخلی؟

نه پوهیږم د لاس د درد سبب و که د احرار د وینو څخه ډک سترګي چی بیا می نفس کم راوړو، د دومره وقت وروسته بیا هغه ورک شوی مرض می راپیدا شو او ساه می نشو اخیستلی، لکه چی احرار ته هم زما بد حالت معلوم شو چی زما لاس یې خوشی کړو او ویې ویل: آیت...

همدغه یوه خبره بس وه چې فشار مې صفر شی او پر ځمکه را وغورځم، زما د حال په لیدو هغه لیونی احرار بیرته همغه پخوانی معصوم احرار شو او په ورخطای زه له اوږی څخه ونیولم ساه می نشو اخیستلی.

احرار- دوا دی چیرته ده؟

د سترګو په اشاره می ورته خپل چی وښودو او هغه په تلوار زما د جیب څخه دوا راوخیسته د دوا خوړلو وروسته لږ مې حالت ښه شو او دا هغه وخت وو چی اوښکو مې مخ ونیو.

احرار- ایت مه ژاړه ښه یې؟

خو زما اوښکی کله بس کیدل دا ځل احرار په خواهشمند انداز وویل: ایت قسم پخدای نه مې غوښتل پعذاب دی کړم زه ... زه بخښنه غواړم ما... ما ستا د پعذاب کولو نیت نه وو..

— خو ودی ځوروولم ، ودی ځوروولم ،ته زما له ژونده څه غواړې؟ ها څه غواړې؟ته له نورو توپیر نلری،ټول ما ته درد راکوی ، یوازې زما په درد زیاتې کوي، ولې نه پریږدی ساه واخلم او خپل دا بدبخت ژوند وکړم؟

احرار چپ شو، خو د سترګو په ژورو کې مې یو څه ولید، شاید دا د هغه زړه وو چی مات شوو ما خپل د خبرو کنترول نه درلود صرف می غوښتل سپکه شم خو یو لحظه په خود راغلم خدایه، ما څه وویل؟ ما څه وکړل ما احرار ته وویل چې آیا هغه ما ځوروي؟ یوازینی کس چې هیځکله یې ما ته زیان نه دی رسولی او برعکس هغه تل ماته سر پناه شوه هغه احرار و،

که احرار نه وای، نو نن به زما حالت بل ډول و او شاید زه به ژوندی نه وای نه پوهیږم چې د دې ښکاره خنجرونو سره څنګه هغه زړه می په خبرو ټپي کړو، مګر دا چی پر خود راغلم نو هغه می مخ ته نه وو، د رڼا په سرعت سره د احرار د کوټې په لور روان شوم، هغه په غوسه و زه پوهیدم چې د هغه په غوسه کې هغه هر څه کوی ، په ځانګړې توګه ځان ته زیان رسول. د هغه خونې ته د رسیدو دمخه، یو بد غږ زما غوږونه ډک کړل او زه یې وډار کړم د قدمونو سرعت مې زیات کړ، خو کله چې ننوتم، پښې مې کمزورې او ځای پر ځای ودریدم.. احرار خپل د کوټی لوی هینداره مات کری وو او خپل هم په وینو لړلي لاس مات شوی شیشه په بوکس وهل

زه نه پوهېدم چې څنګه له هغه ټپي پښې سره ورغلم او احرار اوږه مې ونیول.

— احرار مکوه احراررر..

چیغې مې وکړې، خو احرار زما غږ وانه وریدل،هڅه مې وکړه، چې لاس یی ونیسم ، خو هغه بلې خوا ته وغورځولم وینه تول ځای نیولی وو ، مهمه نده چې څه پیښ کیږی، ما باید مخنیوی کړی وای زه بیا پاڅېدم او دا ځل چغی می ووهل.

— احرار زما پر سر قسم بس که.

لاس یې نور حرکت و نه کړو او یوازې د مجسمې په څېر ولاړ و، ډېر ګډوډ و، ویښتان یې په مخ ښوره و او

لاسونه يې په وينو لړلي وو. زه ويريدم چې هغه به بیا ځان ته زيان ورسوي، له همدې امله ځان مې احرار ته ورسول او د مات شوي شیشې په پام کې نه نیولو پرته یې په غیږه کې مې پناه واخیستل.

کېدای شي زه ورسره بد چلند وکړم، کېدای شي غوسه شم، کېدای شي سمې خبرې ونه وایم، خو کله چې وېرېدم، ما پرته له احرار څخه چې زما زنهار وو نور سوک نه درلود که هغه پخپله هم د دې وېرې رامنځته کوونکې وي، د څو شیبو وروسته، د هغه لاسونه زما په شاوخوا کې ولګول شول، چې زما ژړا نور هم زیاته شوه هغه غوښتل چې ما پریږدي، مګر ما هغه ته اجازه ورنکړه.

احرار- آیت خوشي مې که دلته ټول شیشه توټی دی زخمي کیږي.

د نه په شان مې سر وخوځول او خپل لاسونه مې چی تر هغه چاپیر کړي وه تینګ تره ونیول احساس مې کول که خوشي کم بیا هم ځان ته زيان رسوي.

هغه وپوهیدی چې زه ډېر ډار شوي یم ځکه چې هغه زه له ځمکه څخه پورته کړم

او بالکون ته لاړو او هلته دیوال په دیوال یې تکیه ووهل او کیناست او زه لاهم د هغه په غیږه کی وم لکه ماشوم چې د شپې په خوب کې ډاریږي او پناه غواړي. د مور په غيږ کې زه هم د هغه په غیږه کی مې پناه وړې وه هغه زما په سر خپله زنه کیښوده او کرار یې وویل: ډیره وډار شوی ؟

ما خپل سر د هغه سینې ته فشار ورکړو. چې هغه بیا کرار وویل: ما وبخښه.

ما په غوسه وویل: ته نور خپل ځان ته زیان نه رسوئ؟

احرار- نه رسوم.

— ژمنه ده ؟

احرار- ژمنه ده د حرار هر څه. ( یعنی د احرار ټول سرمایه مال او دولت هههههه )

— نو زه تاته بخښنه کوم.

د هغه ښکلې موسکا مې تصور کړه، خو د سر د پورته کولو جرئت مې نه درلود، احرار له دې څو شېبو راهیسې چوپتیا ماته کړه. او ویې ویل: آیت مې قسم خورم، زما مطلب دا نه و چې تا ته زیان ورسوم، اصلان زه هر چاته زیان ورسوم خو تاته نشم در رسه ولې.

ژر سر مې پورته کی او هغه د خبرو منځه کی وغورځېدلم او ومې ویل: او که زه په دې نړۍ کې یوازې یو کس ته پناه ویسم هغه یوازینی کس ته یی احرار، زما خپل د وینو شریک زما د وژلو هڅه کوله خو تا بیا هم وژغورلم زما د درواغ ویلو با وجود تا بیا هم ماته پناه راکړه، زه نه پوهیږم چې هغه څه خبری وو چې ما وویل، خو قسم خورم زما د دې خبرو مخاطب هر سوک کیداشی پرته له تا.زه تر اخر عمر ستا او ستا د کارو احسان منده یم، نو په دی خبرو سره ما نور مه شرموه.

دا لومړی ځل و چې د احرار په مخ کې مې د خپلو احساساتو خبره وکړه، خو که معلومه شوه څه به کېږي؟ پریږده چی پوه شی زه سومره د هغه او د کارو څخه مننذوي یم پریږده چی پوه شي آیت ناشکري نه کړی

پرېږده چې پوه شی هغه د آیت پناه ګاه (زنهار) دی احرار خپل لاس زما و مخ ته نږدې کړو او لمس کی

او ویې ویل:هغه د مار نیش چیرته لاړ؟ او دا خوږه ژبه دی تا دا ټول وخت چیرته پټ کړی وه ؟

کله چې ما د هغه لاسونه له وینو ډک ولیدل، زه په چټکۍ سره پاڅیدم او پانسما سره بیرته راستنه شوم.ما د هغه لاسونه ونیول او په پانسمان کولو می پیل وکړی

او د زخمونو په لیدلو سره زما مخ هره شیبه ټول کیده او تندی مې تروش کیده، مګر هغه جناب خندا پر شوندو درلود

احرار- و دی نه ویل چې دا خوږه ژبه دې چیرته پټه کړې؟

ما په غوسه وویل: ستا لپاره، هغه د مار نیش ښه دي وګورئ چې خپل د لاسونو سره دی څه وکړل؟

زما په خبرو د احرار موسکا نوره هم ژوره شوه او ویې ویل: ته زما د زخم په لیدلو سره خفه کیږی؟

– نه صاحب، زه انسان نه یم، ډبره یم، ولې خفه شم ؟ برعکس، زه خوشحاله کیږم

احرار دا ځل په لوړ غږ وخندل تر څو زه نور هم غوسه شم، د هغه پدی ریشخندی ما په غوسه باندی پخته په الکول باندی لنده کړه او د هغه په زخم باندی مې په زوره کیخودل چې د هغه د اخ غږ پورته شوو.

احرار- آخخخ، وحشي درد کوی.

– ایيی رښتیا درد هم کوی؟؟ ښه شوو چی درد یی وکړو چی نور ته اوسیږی او داسي بیځایه کار ونکړی.

کله چې پانسمان پای ته ورسیدې، هغه خپل سر زما په پښو کېښود،

– خیرت دی ښاغلی، زما پښوی بالښتونه دي؟ پورته شه، هله ؟

احرار مظلوم راته وکتل او ویې ویل: نه کیږی ته نن زما مراعت وکړی؟

د هغه په خبری ماته خندا راغله خو ما خپل خندا کنټرول کړل او په کلک مې وویل: نه، نکیږی پورته شه.

احرار- آخخخ زما لاس...

ما د هغه سر په کرار ووهلو او ومې ویل: مکاره تمثیل مکوه یوازې د پنځو دقیقو لپاره سمده؟

احرار خپل سر د ماشومانو په څیر وخوځاوه.

احرار- آیت.

– هاا؟

احرار په لاس باندی خپل و سر ته اشاره وکړه، او زه وپوهیدم چې هغه څه غواړي، نو پرته له دې چې کوم خبره وکړی خپل ګوتې می د هغه تور وریښمین ویښتو کې وغځولې احرار به تل خپل سر زما په پښو کې کیښودل او

رانه غوښتل يې ترڅو ويښتان يی ورته وموښم او ناز ورکړم دروغ څه له ووايم ، ما هم ډير خوښيدل.

احرار خپل سترګې وتړلې چې ما کرار وويل: احرار؟

احرار- هوم ؟

– حرير ډېر ښکلی ده کنه؟

احرار- هوم خو ته ورڅخه زياته ښکلۍ يې.

زه پوهيدم چې هغه زما د خوشحاله ولو لپاره داسی وايې نو په خندا مې وويل: ستا د لاسه احرار..

زما په خندا احرار خپل سترګې خلاصې کړې او په کلکه يې وويل: ته ولې خندل؟ ټوکه خو می نده کړی ؟

– دا له ټوکو څخه هم کم نه و، يو ړوند هم پوهيږي چې د ښکلا په بحث کې زه ځمکه او حرير  د اسمان په څېر ده.

احرارخپل وريځی سره يو ځای کړل او په تروش تندی وويل: تا ته چا دا بی بکواس او بيځايه خبری کړې؟

– چا ته اړتيا نشته چې څه ووايی زه خپل سترګې لرم، او هوړو د حرير ښکلا حتی د اوو پردو تر شا هم د ليدلو قابل ده داسې چې هر سړی وربانديی مئين کيږي.

احرار- نو ته د ښکلا په ريښتينې معنا نه پوهيږی.

– مګر ښکلا هم معنا لری؟

احرار- آيت می ښکلا د انسان د خوشالۍ حد دی، يعنې که يو څوک درته خوښ وي د زره؛

نو ښکلا په دوه ډوله ده:

ظاهري ښکلا

او باطني ښکلا.

ظاهري ښکلا صرف د ليدونکو سترګو او خوښی باندي تړاو لری..

– يعنی که کتونکي تا ښکلي ويني نو ته ښکلی يی او که بدرنګ وګوری نو ته بدرنګ يی يعنی داسی؟

احرار- بلکل همداسی د مثال په توګه حرير د يو کس به شنی سترګې خوښيږی نو د هغه کس لپاره به حرير ډير ښکلی ښکاري، خو د يو کس به بيا توری سترګی خوښيږی نو د هغه لپاره به حرير ښکلی نه ښکاری.

– ښه... يعنی دا وايی چې دا د هغه چا لپاره ممکنه نه ده چې تورې سترګې خوښوي

حرير باندي مئين شی ؟

احرار- نه، زه دا نه وایم ځکه چې مینه د ظاهري ښکلا سره هیڅ تړاو نلري، ظاهري ښکلا کولی شي لیدونکي یوازې په لومړي نظر او علاقه کې جذب کړي او علاقه منځ ته راوړی، خو ډېرمنه اوسه چې دا هم دایمي نده، ځکه کله چې خبره میني او محبت ته راشی نو مینه او محبت د یو کس ظاهر او ښایست ته نګوری اصلا مینه هغه ده چې بی دلیله وشی او د میني لپاره باطنی ښکلا مهمه ده.

— نو باطني ښکلا څه ډول ده؟

احرار- باطني ښکلا د مخ سره هیڅ تړاو نلري او بیرته راګرځې د هغه کس اعمال او کارونو ته او د هغه سره دی مینه پیدا کیږی.

— یعني که انسان نیک اعمال ولري، باطني ښکلا لري ایا نو د هغه سره مینه لري؟

احرار- ته زما په خبره په سم توګه ونه پوهیدلې، ما وویل اعمال مطلب مې نیک کار نه وو اصلا پوهیږی آیت مینه هیڅ دلیل نلري..که څوک د مخ او ښکلا سره مینه ولري، نو هغه یوازې د څو وخت مینه ده ځکه د مخ ښکلا له منځه ځي، مینه هم ختمیږي،او که څوک د یو چا په ښه عمل سره مینه وکړي، دا ممکنه ده چې هغه په حقیقت کې مینه نه وي، بلکې درناوی وي، او که چیرې هغه یو څه بد ووینې، نو درناوی به یې له لاسه ورکړي..

ـ ظاهری ښکلا د مخ سره تړاو لري، نو باطني ښکلا د نیکو اعمال سره تړاو نلری

نو څه سره تړاو لري؟

احرار- لکه څنګه چې ما په پیل کې وویل،ظاهري ښکلا د انسان د خوښۍ درجه ده، باطني ښکلا هم د انسان د عمل د خوښۍ درجه ده، مګر دا عملونه تل ښه نه وي.دودونه او رواجونه ممکن سم نه وي، مګر بیا هم باید ستاسو لپاره زړه راښکونکي او خوندور وي د باطني ښکلا معنی دا ده چې ټول سلوک او عمل یو شان وي که ته یو کس خوښ وي نو تاته به د هغه بد کار هم ښه ښکاری او ته د هغه کس عیب نه وینې، فکر کوم بیا هم زما د خبرو په مطلب پوهه نشوې.

— نه زه ډیر ښه هم پوهه شوم دا پدې معنا ده چې مینه د ظاهر او باطن سره تړاو نلری همداسی بی دلیله کیږی او کله چی انسان مین شې نو د مقابل کس ښه، بد، ښکلا، بدرنګر او هیس ورته ارزښت نلری او په نظر کې نه راځی. او د هغه کس ښه او بد دواړه خوښ کوی.نو باطني ښکلا مینه ده، ځکه چې دا هیڅ دلیل نلري.

احرار- هو مقصد مې همدا مینه بې دلیل ده یو نفر شاید د ټولو له نظر خراب وی خو تاته هغه ښکلې ښکاری او یو نفر شاید بیحد ښکلی وی خو ځکه چی ستا زړ خوښ شوی نده هغه تا ته بد ښکاری.

په چوپتیا کې مې د هغه خبرو ته غوږ نیولی وو، چې څومره ښکلې مینه یې بیان کړې وه، زما په نظر هم رښتینې مینه بې له کوم دلیل څخه ده.

احرار- ایت..

د احرار په غږ مې وروکتل چې هغه وویل: هیڅکله بدلون مه کوۀ، تل هم دغه آیت پاتې شه.

— هغه څنګه؟

احرار- همداسې پاک او بې له کوم تکبر او غرور څخه.

د احرار خبرو ته حیرانه شوم چې هغه بیا وویل: دا عمر او ژوند له چلونو څخه ډک دی،خلکو یوازې تمثیل زده کړې.د مهربانۍ تمثیل کوی، د انسانیت تمثیل کوی، د دوستۍ تمثیل کوی، د مینې تمثیل کوی.د یو نر توب او با غیرت کس تمثیل کوی ، خو ته پوهېږې چې زما زیاتره له څه شي څخه کرکه راځي؟ دا چې دوی یوازې د یو فرصت په لټه کې دي چې تاته په خورا بده طریقه ضربه ووهی، د دوی فکرونه د ځنګل د حیواناتو پشان دی او یوازې یو قانون لری هرسومره چې کولی شی او توان لری د نورو کسانو ژوند، مال، او عزت باندی برید وکړئ او د دهغوی وینې وڅښئ..

پدی دنیا کې یا باید ښکاری اوسیږی یا هم لومه او بزه د نور ښکار کونکو لپاره د شاعر په وینا:

# دل من به شیشه سوزد

همه رنگ و می  فروشند

همه جا دوکان رنگ است

همه سنگ می فروشند..

هغه صحیح ویل په اوس وخت کې رښتین ولې د الماسو او سرو زرو څخه ډیر کم یابه وه هغه ماته په ژوره توګه وکتل او ویې ویل: خو آیت ته ډیر پاکه یی ، ته په دې ځنګل کې، د دې ښکاریانو په منځ کې، چې د یو بل د وینې تږي دي، ته د چشمې په څیر روښان او پاکه یی . هم دهغه سی پاته شه مه پریږدئ دا خلګ په دی ملوث نیت درنیږدی شي هیس وخت دی لوبه کي مه را یوځای کیږه.

زه حیران شوم لدی چې احرار څنګه ما پاک ګڼی؟

له شرمه مې سر ټیټ کړو او کرار مې وویل: خو احرار زه دومره هم پاک نه یم، تا هېر کړې، چې ما په میاشتو میاشتو تاسو ته دروغ وویل.

ارار خپل خندا کنټرول کړل او کرار یې وویل: ته دومره هم هوښیاره نه یې چې زما څخه خپل راز پټ وساتې میرمن آیت زه ډاکټر یم،او په یو نظر سره کولی شم ووایم چې څوک ناروغ دی او څوک ناروغ نه دی!

په بیحد حیرت می وروکتل او په بنده بنده ژبه می وویل: یعنی ته ......... ته له اول څخه خبر وې چې ما...

احرار- هو، زه له اولې ورځې پوهېدم چې ته هر څه په یاد لرې.

— نو ولې دې د نه پوهېدنې تمثیل کول؟

احرار- ځکه چې زه ډاډه وم چې ته د دې لپاره دلیل لرئ او هغه ورځ چې ته چمتو شوې نو ته به هرڅه رښتیا وو ایی.

زه نه پوهیږم چې زه باید د دروغ ویلو لپاره وشرمیږم یا د دی رقم ملګري درلودلو لپاره مننه وکړم، پاڅیدم او د احرار په مرسته، کوټه مو له ماتو شیشو څخه خالي کړه او د شیشې له لرې کولو او د شپې د خیر په ویلو سره

خپلې کوټې ته لاړم او ویده شوم.بله ورځ کاکا حمید او کریم خان د میني د ماما کور ته ورغلل او خبره یې را پورته کړه، خو د حیرانتیا خبره داده چې د میناګي ماما نه یوازې دا چې مخالفت یې ونه کړ، بلکې له دې پرېکړې خوښ هم وو.

په حقیقت کې د هغې زوی له بلې نجلۍ سره مینه درلوده او دې واده ته یې رضایت نه و ورکړی او یوازې د کورنۍ د مجبوریت له امله یې له دې واده سره موافقه کړې وه او د میني ماما نه پوهیده چې دا خبره څنګه له کریم خان سره شریکه کړي، خو اوس چې دوی پخپله دا مسله څرګنده کړه او دومره شناخت یی چې د لالا اسد او د مشرف کورنۍ سره یی درلود له دې واده سره د رضایت په اعلانولو خوشحالي وکړل، د کور له دروازو او دېوالونو څخه خوښۍ راتویدل.

د دواړو کورنیو په توافق سره د کوژده نیټه څلور ورځې وروسته و ټاکل شوه او په همدې ورځ د کوژدې د مراسم چمتووالی پیل شول.د ډېر کار له امله کاکا حمید هر چا ته ځانګړي مسؤولیتونه سپارلي وو او زما مسولیت هم د پېرلو لپاره بازار ته د مېرمنو د وړلو او د ناوې کور ته د پېرودلو د لېږد مسوولیت زما په غاړه وو. په دې ډول درې ورځې تېرې شوې او ټاکل شوې وه چې سبا شپه محفل جوړ شي او کار تقریباً پای ته ورسېد او ټول د سبا شپې لپاره په جوش او خروش کې وو. په سالون کې مو هغه ډالۍ تیارې کړې وې چې د زوم د کورنۍ له خوا د ناوې کورنۍ ته ورکول کېدې، کله چې د دروازې زنګ ووهل شو، ټولو یو بل ته په حیرانتیا سره وکتل، اسد وویل: مورې، تاسو څوک دعوت کړې وو؟

اسیه خاله- نه، زویه.. ګیسو لوری هله دروازه خلاص که.

ګیسو دروازې ته ورغله او څو شېبې وروسته بېرته سالون ته راغله.

اسد لالا- ګیسو څه شوي؟ ولې ستا رنګه پریدلی جلی ؟

ګیسو- خان صاحب هغه ........ هغه نارینه له څو پولیسو سره راغلل..

اسد لالا- کوم نارینه؟

د دی څخه مخکې چې لالا اسد کوم بله خبره وکړی، جاوید مراد مصور او حاجي قدیر چې اوس پوهیدم د جاوید پلار دی او کاکا می هغه د پوښتنی کولو څخه منع کړو د هغوی شا ته څو پلیس افسران هم صالون ته راننوتل، د هغوی په لیدو مې پښې بیا کمزورې شوې! اوس زه د دې اونۍ د چوپتیا په علت پوه شوم ځکه چې زه له اتلس کلونو څخه کم عمر وم او د قانون له مخې زما ساتونکی زما کاکا  و، دوی کولی شي ما ونیسي، نو له همدې امله دوی له پولیسو سره راغلل ترڅو څوک د دوی په لاره کې خنډ نشي.

د کاکا حمید په اشاره زه، خاله آسیه او خاله آمنه له نجونو سره دننه لاړو، خو موږ هر څه په بشپړه توګه لیدلای شو، حاجي قدیر حمید کاک ته وویل: سلام، حمید خان، ته د ناستې بلنه نه راکوې؟ میلمه پالنه دی هېره کړی که څنګه؟

حمید کاکا- حاجي قدیر که څه هم زما کور ته زما دښمن هم ننوځي، زه د دوی  درناوی په دواړو سترګو کوم ، خو د نامرد او بیغیرت مېلمه پالنه زما په عزت او وینه کې نشته.

جاوید په سور شوي مخ د کاکا حمید خواته راغې او ویې ویل: خپل خبرو ته دی پام کوه کنه...

جاویدلا تر اوسه کاکا حمید ته نه و رسېدلی چې احرار یې مخې ته ودرېد او ویې ویل: کنه څه؟ ها؟ خپل لاس او پښې دی در ټول کوه.

حاجی قدیر- ستا زوی لکه چې حمید خان تر اوسه د میلمه په عزت نه پوهیږی؟

کاکا حمید په لوړ سر وویل: حاجي قدیر، زما زامنو شرافت او احترام دواړه ښه زده کړي دي او د میلمه په عزت هم پوهیږی، خو غیرت یې په وینو کې جریان لری، نه بیغرتی لکه چې ستا د زوی په وینو کېده..

د حاجي قدیر په څېره کې غوسه ښکاره شوه او بیا یې پولیسو ته وویل: خپل بی غیرتی او بی ناموسی پرموږ مه تړی آمر صیب دوی بی ناموس خلکو د دی بیچاره سړی وریره به زوره راتښته ولې او دلته یې ساتلې ده.

زما کاکا د تل په څیر ځان په مظلومیت ووهلو او ویې ویل: آمر صاحب دوی زما وریره وتښتوله او دې کور ته یې راوستله.

لالا اسد په غوسه وویل: د دی سپینې ږیره څخه دی وشرمېږه د څه شئ تښتول؟

خو اصیل د لالا اسد مخ ونیول چې مخکې لاړ نه شي.

اصیل- آمر صاحب، موږ څوک نه دي تښتولی، دوی دروغ وایي.

حاجی قدیر- آمر صاحب، زه ولې دروغ ووایم؟ دوی زما ناوی تښتېولی او دی کور ته یې راوری ده!

مخکې له دې چې بحث زیات شي، افسر حمید کاکا ته مخ کړو او ویې ویل:ایا د دې سړي وریره ستا په کور کې دی؟

حمید کاکا- هو،خوو...

پولیس افسر- حمید خان خو او مو نلری جلی ته غږ وکړه چی راشي.

زه بیا له وېرې ولړزیدم چې کاکا حمید اصیل ته اشاره وکړه او اصیل پخلنځي ته راغی او ما ته یې وویل: آیت راځه زما سره.

زه پوهیدم چې زه باید لاړ شم، نو زه هم اصیل

تر شاه روانه شوم کله چې زه سالون ته ننوتم،

زما کاکا زما خوا ته راغی،خو خپل لاس می مخته ونیول ځکه فکر می وکړل بیا هم راغلي چي ما وواهې په دروغجنی مظلومیت سره مخ افسر ته کړو او ویې ویل: ویني آمر صاحب چي زما بیچاره لور یې په زوره راوړې حتا خپل د کاکا څخه لا ویریږي.

زما باور نه راتلو چې زما کاکا دومره سپک شوی و چې هغه د تمساح پشان د دروغو اوښکو تویه وې او د دروغو مظلوم نمایی کولي کاکا مې زما خوا ته رانږدی شو او په دروغجنه مهربانې وویل: نور د وېرې اړتیا نشته، وګوره ستا کاکا راغلی دی، تاته هېڅ څوک ضرر نه شي رسولی، کور ته راځه، موږ خپل کور ته ځو، ټول ستا په انتظار

دي،

ستا د کاکا ښځه هره ورځ ژاړي، زینب تل تا یادوي د کاکا ګراني راځه..

ما د هغه لاس شاته وغورځاوه او په غوسه مې وویل: زه له تا سره هیڅ ځای نه ځم، له دې ځایه لاړ شه.

مصور په غوسه ما ته رانږدې شو او خپل غړ یې داسې ښکته کړو چی یوازی موږ دواړه واورو او ویې ویل:بیړه وکړه، چي ځو کورته دومره سپکاوی بس دی.

مصور غوښتل زما لاس ونیسي خو مخکې له دې چې ماته راورسېږي ودریدو !

سترګې مې پورته کړی او احرار مې ولیدو

احرار- لکه چې وا دې نه وریدو ? ویل نه ځم ! تر څو خپله رضایت ونلری هیڅ څوګ یې د وړلو حق نه لري !

مصور- هغه تر اوسه لا کوچنۍ ده او پریکړه نشي کولای هر رقم شي بیایم یې څه په خوښي څه په جبر !

احرار مې لاس ونیوه او زه یې خپل شاته پټه کړم او ویې ویل: زه هم وګورم هغه نر څوک دی چې په جبر یې یوسي؟

د جاوید غږ پورته شو.

جاوید- آمر صیب په کوم کتاب کې راغلی چې کوچنیان دې خپله پریکړه وکړي ?

ماشوم یې څه په پریکړې ?  او بیا دوی په کوم حق غواړي دا جنۍ په د ې کور کې وساتي ? دا جنۍ دوی سره څه اړیکه لري ?

پولیس افسر حمید تره ته مخ واړوه او ویې ویل: جاوید خان سم وایي تاسو د دې جنۍ د ساتلو حق نلری ځکه دې جنۍ سره اړیکه نه لرئ ! او ته جلۍ جانې تر څو دې قانوني سن ته ونه رسېږي پریکړه نیوونکې دې کاکا دی نو څه وغواړې یا ونغواړې باید دوی سره لاړه شی !

مصور زما خوا ته راغی چی د ډېر ډار زما زړه چودلو ته نږدی شو، له ځان سره مې ژمنه وکړه که نن شپه له دې دروازې ووتم خپل ځان رب ته وسپارم او د خپل مور او پلار څنګ ته لاړه شم مګر اجازه نه ورکوم د دې بې غیرتانو لاس ماته راورسېږي ! هغوی یوازې کولای شي د آیت جسد ولري ! له ډېر ډار نه مې بی ارادی د احرار مټه ونیوله !لا مصور ماته نه وو رسیدلې چې د احرار خبرې ټول چپ کړل.

احرار- چا ویلي موږ له دې جنۍ سره اړیکه نلرو ?

افسر وویل: تاسو له دې جنۍ سره اړیکه لرئ؟

احرار- هو اړیکه لرو !

مصور وویل:دروغ وایي آمر صیب موږ دا کورنۍ هیڅ نه پیژنو.

دا ځل مراد وویل: ریښتیا وایي آمر صیب مور بیچاره خلک له دوی پیسه دارو خلکو سره به څه اړیکه ولرو ؟

افسر احرار ته مخ واړوه.

افسر- دوی خو وایي تاسو نه پیژني نو څه اړیکه ورسره لرئ ؟

احرار- ما کله وویل دوی سره اړیکه لرم ؟ زه فقط آیت سره اړیکه لرم !

جاوید په ګنګس انداز وویل: معما مه وایه ولې د ټولو وخت ضایع کوې ؟

افسر- جاوید خان یوه دقیقه ! ښه احرار خان ووایه دې جنۍ سره څه اړیکه لرې ؟

احرار سر پورته و نیو او په لوړ او صاف غږ یې وویل: آیت زما شرعي میرمن ده !

چوپتیا فقط چوپتیا...میرمن ??? زه ??? د احرار شرعي میرمن ??? خدایه سم می واوریدل ?? دا خوب دی که ویښه ?? بد خوب دی که خیال ?? د مصور په چیغو چې د احرار ګریوان یې نیولی وو په هوښ راغلم.

مصور- دروغ دی لعنتي دروغ وایې امکان نلري نه امکان نلري ته دروغ وایې لعنتي دروغ وایيیي !!

احرار په کامله ارامتیا د مصور لاسونه له خپل ګریوان نه لرې کړل او ویې ویل: ته همداسې فکر وکړه !

جاوید افسر ته مخ واړوه او ویې ویل: آمر صیب دروغ وایي کومه نکاح ? فقط غواړې د جنۍ د وړلو خنډ شي !!

افسر احرار ته مخ کړو.

افسر- که نکاح مو کړې نکاح خط مو راوړئ !!

احرار- آمر صیب مور په کور کې نکاح کړئ تر اوسه رسمي کړې مو نه ده.

افسر- ولې مو رسمي نکاح نه ده کړئ?

احرار- ځکه د آیت حالت ښه نه وو!

د افسر له څیرې ښکاریده چې باور یې نه دی کړی چې احرار وویل: که مو باور نه دی شوی له انجلۍ پوښتنه وکړئ !!

افسر هم له خدایه غوښتل ماته یې مخ واړوه او ویې پوښتل: جنۍ ریښتیا ووایه ? ته د دې هلک ښځه یې ?

اوس چې مې بچ کیدو لپاره یو رسۍ موندلی وه نه کیدو چې همداسې پرېږدم.

– هو مور نکاح کړې !

افسر سر وښوروه او ویې ویل: امم ښه نو څه ووایم نیکمرغه شئ !

مراد په ما حمله کوله چې احرار یې مخ ته ودریدو.

مراد- لعنت په تا آیت لعنت په تا چې مورِ ته دې عزت پرې نه ښودو بې شرمې نجلۍ.

تره مې هم په لعنت ویلو پیل وکړو

کاکا- هغه کوم شومه ورځ وه چې تا بې حیا زما په کور کې پښه کېښوده ? تا بدبختی پلار او مور دې مړه کړل زما کور دې هم تباه کړ الهي ته هم تباه شئ !!! کاش هماغه ورځ دې مور او پلار سره په سیند کې ډوبه شوی وای خو دا ورځ مو نه لیدلی !!!!!

بیا هم سترګې مې له اوښکو ډکې شوې د حقارت حس مې کوه , احرار په غصې چیغه کړه !

احرار- بنده کړه خوله دې ! که یو ځل بیا مې د میرمن خلاف یوه خبره واورم بیا له ځانه ګله وکړئ ! زه شکر وباسه چې د آیت تره یې کنه همدلته مې ژوندی دفن کولې ! اوس هم زما له کوره ورک شی، ددی وروسته ستاسو یو نفر لا خپل د ښځې نږدې ونه وینم.

مصور له ټولو لومړۍ صالون پرېښودو او افسر وویل: دا جنۍ د احرار خان میرمن ده او له تاسو نه یو هم دې ته د نږدې کیدو حق نلری اوس هم لاړ شو همدومره مزاحمت بس دی !

تره مې په لعنت ویلو لاړ او مراد هم تر شا یې جاوید او پلار یې په نفرت ډکو سترګو لاړل،افسر مخکې له تګ نه حمید تره ته مخ کړو او ویې ویل: حمید خان بخشش دې وي چې په دې وخت دې شپې کې مزاحم شو تاسو پوهېږې مورِ مامور یو او معذور.

حمید کاکا- هیله کوم امر صیب تاسو مو دنده تر سره کړه.

افسر اصیل او اسد ته لاس ورکړ احرار ته راورسیدو.

افسر- احرار خان بیا هم مبارک دې وي.

احرار- ژوندی اوسې امر صیب.

افسر- اوس ستا او د حمید خان په اعتبار څه نه وایم مګر نوی اونۍ راځم او تاسو باید رسمي نکاح خط په لاس ولرئ.

احرار سره وښوروه او افسر لاړ اصیل ټول ناستې ته وبلل او نور هم راغلل.

آسیه ترور وویل: احراره زویه ولې دې داسې وویل ?

احرار- مورې بله لار نه وه که مې داسې نه وای کړی هغو بیغیرتو ایت ځان سره بوتله او مورِ هم هیڅ نشو کولای.

اسد په اندیښنې وویل: نن شپه وژغورل شوه خو که بیا راشي بیا څه ? احراره افسر وویل بله اونۍ راځي او

کله چې راشي او رسمي نکاح خط ونه ويني پوهېږی څه به کېږي ؟ ايت يې کورنۍ ته سپاری او تا هم زنداني کوي !!

احرار په ارامتيا وويل: داسې څه نه کېږي

اسد لالا- څنګه نه کېږي څه لری په سر کې دې ؟

احرار- نکاح کوو !

اصيل- ته څه وايې احراره ؟

احرار- نکاح کوو اصيله هيڅ بله لار نه لرو

اصيل- مګر دا ...........

حميد تره د اصيل خبره قطع کړه او ويې ويل: احرار ريښتيا وايي بهترينه کار نکاح ده که نکاح وکړي نور د ايت سرپرستي د احرار په لاس کېږي !!

او مخ يې ماته واړو.

حيد کاکا- لورې پرته له نکاح موږ ستا ملاتړ نشو کولی مګر وروسته له نکاح ته زموږ د ملاتړ لاندې يې.

اسد لالا وويل:ايت ستا څه نظر دی ؟

– زه....زه به تل ستاسو مننداويه وم مګر نغواړم تر دې ډېر تاسو ته د سر درد لامل شم.

اسد لالا- اخر ځل دې وي داسې خبرې کوې ! ته او ايمان ماته توپير نلری پوهه شوی

سر مې وښوروه چې حميد تره وويل: سبا شپه د دې دواړو د نکاح خطبه هم وايو اوس هم ويده شی سبا ډېر کار لرو !

مخکې له تګ نه يې لاس زما په سر کېښودو او ويې ويل: تر کومه چې دې کاکا ژوندی ده تاته څوک تاوان نشي رسولی نو په انديښنې مه اوسه پوهه شوی؟ زما هماغه شوخ طبع ايت خوښېږي !!!

د زړه له تله مې د دې کورنيو مهرباني ته موسکا وکړه او ومې ويل: پوهه شوم کاکا.

په هماغه موسکا د خپل اطاق په خوا لاړ او د هغه نه روسته ټولو د صالون څخه لاړل،اخرين کس احرار وو.

—احراره !

احرار- ها ؟

– مننه که نن شپه ته نه وايې نپوهېږم څه به کيدل؟

بيا هم هماغه کتل يې چې په معنا يې نه پوهيدم او د سر په ښورولو يې قناعت وکړو او لاړو...

***

د هينداری دننه جنۍ ته ځير وم ! دا جنۍ څوګ وه ? له ماشومتوبه په مختلف نومونو نومول کيدم.پلار او مور ! مې ايت ويل حميد تره باران , د تره ښځې مې بدبخته جنۍ غږ کوه او کاکا مې يتيم

!!! مګر واقعا زه څوګ وم

— آيت....

.د احرار په غږ له ښيښې لرې او له حمام نه راووتم او د خولې په لور مې لاړم او په سرمې کړه

.احرار- مور مې مې درته غږ کوي

.له احرار سره همقدمه شوم او د اجازې په غوښتلو دننه لاړم

— ترور جانې ماته دې غږ کوه ?

اسيه خاله په هميشني موسکا يې وويل: راځه لورې راځه.

په ننوتلو سره مې  ايمان , ګيسو , امينې ترور او اصيل ته پام شو.

آسيه ترور يو شين اوږد کميس چې بيحد ښکلی وو راته ونيوه او ويې ويل: وګوره دا کميس څنګه دی ?

— ډېر ښکلی دی.

اسيه خاله- خوښ دې شو ?

— هو !

اسيه خاله- ښه نو يو ځل يې واغونده که يې اندازې ستونزه لرله چې اصلاح يې کړم.

څه ?????? دا جامې زما لپاره دي ????

— ايا دا جامې زما لپاره دي ??

اسيه خاله- البته چې ستا لپاره دي

— اړتيا نشته ترورې زه خپله جامې لرم !

اسيه خاله- لورې اوږدې جامې او سينګار د ښځې زيور دی زر شه هله جامې واغونده او بيرته راشه.

جامې مې واخيستې او دننه لاړم مګر ډېره په انديښنې وم اخرين ځل چې مې د انجونو جامې اغوستې وی فقط 9 کاله عمر مې  لرو کالي مې واغوستل  مګر د بيرون تګ جرات مې نه لره.

—ايت زر شه !!

د ایمان په غږ مې اندیښنه لرى او او بیرون راووتم، احرار او اصیل تللي ول او دا یعنې خوش چانسي،ټولو د خبرو خبروپه خبرو په حال کې ول مګر یو دقه زما په لیدو چوپ شول.

– څه شوي ایمان ??? ستونزه لري ???? سم مې ندى اغوستي ????

ایمان- نه بیخي سم دي

– نو بیا ولې داسې ګورى ?

ایمان- ځکه دېره ښکلې ښکارى لیونۍ.

ښکلا ! ما له دې کلمې سره بلدتیا نلرله،اسیه ترور مې څنګ ته راغله او ویې ویل: ماشاءالله نظر نشى ښایسته لور مې !

نپوهیدم څه ځواب ورکم چې ایمان له لاسه ونیولم او هینداری مخې ته یې بوتلم. دا زه وم ??? واقعا زه وم ???? سترګو مې لیدو مګر عقل مې باور نه کوه !په شنه رنګ کې جامې په دېرې غټې لمنې سره چې اوږد والې یې زما د پښو تر بنده وو او پورته یخن او لستوني یې دېر ظریفه ول الحق چې دېرې ښکلي ول.

د ځان په اندازه مې وي جامې. حتى تصور مې هم نه کوه یو ورځ به زه هم دا ښکلی احساس تجربه کړم ما له دې کلمې سره بلدتیا نه لرله او داسې مې ګڼل چې د ښکلا په نوم ما کې څه نشته او نن مې د لومړي ځل لپاره ځان ښکلی ولیده.دروغ ولې روسته له دومره کلونو مې په دې جامو د جنى اوسیدو حس وکو !

ایمان په خندا وویل: اوس نو سمه ده چې ښکلى شوى یې جامې دې بدلې کړه چې سیګارتون ته ځو هله.

ما خپل جامې بدلې کړې او دوى مې سینګارتون ته ویورل، که څه هم دوى دېر ټینګار وکړ چې زه هم د دوى سره سینګارتون ته لاړه شم، خو ما انکار وکړ او ورته مې وویل چې زه باید کور ته لاړه شم.دوى غوښتل چې دننه لاړ شى چې زه د موټر څخه ښکته شوم..

– ایمان.

ایمان- ها؟

هغې ته نږدى ورغلم او په غیږ کې مې ونیول.

ایمان- آیت ښه یې؟

– هو ښه یم.

ایمان- رښتیا ووایه څه پیښ شوى؟

–نه هېڅ څه باید پیښ شى؟

هغه نور مې هم په غیږه کې ونیول او د کور خوا ته روانه شوم، په کور کې هیڅوک نه و، ښځې سنګارتون ته تللې وې.اصیل او اسد هم د ویښتو سالون ته تللى وو.احرار د ناوې او زوم موټر هم د سینګار کولو لپاره وړى و ،

او د موټر سینګار کولو وروسته ، هغه باید اضیل او اسد پسی لاړشی .هو ، دا د هغه څه کولو لپاره مناسب وخت و چې ما په ذهن کې درلود.زه مستقیم خپلې خونې ته لاړم او یو کوچنی بکس چې ما تیره شپه چمتو کړې وه راوخیست.

خپل پیسې مې راواخیستې او په خوندی ځای کې مې کېښودې ، او بیا د بکس سره یوځای له خونی راووتم او د کاکا حمید خونې ته لاړم او د موټر کیلی مې په میز کېښوده. ما غوښتل چې لاندی ښکته شم خو پښی مې د احرار د خونې سره بی حرکت شوی او کوټې ته ننوتلم، دې کوټې کې ما ژوند کول خندل او ژړل زده کړل. دی کوټې کی ما ژوند کول زده کړل. کوټی په ننوتلو ټول خاطرات مې د سترګو په وړاندې راژوندی شول، د میز خوا ته لاړم او قلم او کاغذ مې راواخیست ، زه نشم کولی داسې لاړه شم ، هغه الفاظ او خبری چې تر نن ورځې پورې مې ویلې نشو احرار لپاره مې په کاغذ ولیکل.

په نامه د هغه خدای چې د دواړو جهانونو خالق دی.

سلام د نړۍ په ښه ترینه ملګری، امید لرم چې روغ او جوړ اوسیږی که ته دا لیک لولې نو پدې معنی ده چې زه له تا څخه زرګونه کیلومتره لرې یم ، زه پوهیږم چې ته ډیر غوسه یئ پوهیږم چې ته زما څخه خپه او قهر یې، مګر ته پوهیږئ څه شې دی دا چې ته د قهر او غوسې وخت کې بیحد بدرنګ معلومیږی او زما بدرنګ احرار نګنه خوښیږې، احرار زه و تګ ته مجبوره یم زه نشم کولې خپل د غوره ملګری ژوند په خپلو لاسونو سره خراب کړم. زه پوهیږم چې ته د بل چا سره مینه لرئ.زه بخښنه غواړم ، ما ستا هغه توره کتابچه پرته ستا له اجازې خلاص کړ ، مګر زه قسم خورم ما یوازې یوه پاڼه ولوستل کوم او بس..

زه پوهیږم چې ته دومره ښه یې چې غواړئ د نکاح پر کولو ما د تل لپاره د هغه کسانو څخه وژغورئ چې په نامه زما کاکا او زما کورنې ده، مګر زه نشم کولی.

زه نشم کولی واده وکړم ځکه چې زه پوهیږم چې ستا زړه د بل چا دی او ته د بل چا سره مینه لری. نو ځکه دا نکاح نکوم او د دی ځای څخه ځم ترڅو ته مجبوره نشې خپل د مینی څخه زما لپاره تیر شی له خدایه غواړم خوشحال او بختور ژوند ولری په ډېر درنښت آیت.

زه هېڅ و نه پوهیدم چې څنګه ، مګر تر هغه چې زه خپل ځان ته راغلم ، اوښکو زما مخ او لیک دواړه ډک کړل.ما ژر تر ژره خپلې اوښکې د خپلو لستوڼو سره پاکې کړې او لیک مې په میز باندی کېښود ، د وروستی ځل لپاره د کوټې شاوخوا مېپه احتیاط سره وکتل ترڅو هیڅکله یې هیر نکړم ، که څه هم هیر کول یې ناشونې وه.

— ورور...... ورور..

—ها؟

—ما غوښتل چې مزار ته یو ټیکټ ترلاسه کړم.

— سبا راشه.

— زه نشم کولی ، ورور ، زه باید نن لاړه شم.

— د مزار موټر نیم ساعت دمخه حرکت وکړو او تر سبا پورې بل موټر نه ځی مزار ته.

اوففففف که بد شانسی نوم درلود نو بغیر له کوم شک څخه نوم به یی آیت وه.

خدایه زه باید څه وکړم؟ زه باید چیرته لاړ شم ؟ هغه کور ته بیا نشم تللی.

— د هرات ټیکیټ شته؟

— موږ هرات ته ډیر مسافر نه لرو ، د هغه وروستی موټر پرون ولاړی او بل موټر یې دوه ورځې وروسته حرکت کوي.

لاس مې په خپل مخ تیر کړو او په نا امیدۍ مې وویل: ایا د نن ورځ کوم موټر نه لرئ؟

— نن ورځ ، ډیری موټرونه تللې، یوازې دوه موټر پاتې دی.

په تلوار مې وویل: دا دوه موټرونه چیرته ځی؟

— یو یې بامیان ته ځی او بل یې بدخشان ته.

ما د څو شیبو لپاره فکر وکړو.

— کوم یو لومړی حرکت کوی؟

— د بامیانو موټر د ماسپښین په 12 بجو او د بدخشان موټر یو ساعت وروسته ځی

خدایه ، زه ځان تا ته درسپارم ته راسره مرسته وکړه، خپل فکرونه مې لرط کړل او ومې ویل: د بدخشان ټیکټ په څو دی؟

— 700 افغانۍ.

ما پیسې ورکړې او ټیکټ مې راوخیست او موټر ته پورته شوم، شاوخوا یو نیم ساعت تیر شو.

— ورور تا خو ویل نیم ساعت کې حرکت کوی اوس هغه دی یو نیم ساعت تیر شو.

— خوری زه خو خالې موټر بدخشان ته ورلې نشم نیم ساعت صبر وکړی ترڅو موټر ډک شې ولې دومره تلوار لرې؟

نیم ساعت نور هم تیر شو او موټر حرکت وکړو ما خپل سر په ښیښی تکیه کړو، او خپل په خاطراتو کې غرق شوم نه پوهیږم سومره وخت به تیر شوی وو چې یو چا زما پر اوږی لاس کیخود! کله چې ور ومې کتل نو یو د عمر څخه پخه ښځه وه.

ښځه- ولې ژاړی لوری؟

ژر مې خپل اوښکې پاکې کړې او ومې ویل: هېڅ نشته خاله جانې یوڅه مې زړه نېولې وو.

هغه ښځې په ځېر راوکتل او ویې ویل: ما دا ویښتیان په هوا کې ندې سپین کړې، د انسان زړه بې دلیله نه تنګ کېږي.

ژوره ساه مې واخیستل او ومې ویل: تاسو سم وایست خاله تاسو سم وایست.

ښځه- لور جانې د بدخشان نه رامعلومیږی.

— هو خاله جانۍ زه د کابل یم.

ښځه- نو ولې بدخشان ته روانه یې؟ ایا کورنې دی هلته ده؟

— نه د ځینې کارونو لپاره هلته ځم.

ښځه- یوازی یې؟

— هو.

ښځې خپل سر وښوره وو او چوپه شوه، د دری ساعتونو وروسته موټر د ډوډی خوړلو لپاره و درېده، زه هم ښکته شوم او لږ د موټر څخه لری شوم چې د یو خاموش ځای څخه مې د یو جنۍ غږ تر غوږ شو.

— زما د لاری څخه لری شه.

د غږ په اوریدو د هغه خوا ته په کتو شوم او د موټر څخه یو څه لری یو هلک مې تر سترګو شو چې د یوه جنۍ مخه یې نیولې وه، د همدی واټن څخه د جنۍ په څهره کې مې ویره لیدلی شوه.

— زما د مخ څخه لرې شه.

هلک په مردار خندا وویل: که لاره پرینږدم څه کوی؟

جنۍ په ډار باندی چغی وهل پیل کړل: موری.... موری....

هلک- مور څه کوی ښکلی نانځکی؟ ما ته وګوره دومره هم بدرنګه نه یم راځه خوشحال کوم دی.

هلک خپل د خبری سره سم غوښتل د جنۍ خوا ته نږدی شې، چې ما د ځمکې څخه یو غټ لرګې راواخیست او د هغوی خوا ته ورغلم، هلک د جنۍ لاس نیولې وو او جنۍ په چغو خپل و مور ته ناری وهل د شالخوا مې په کلکه باندی هلک په لرګی باندې وواهه داسی چې د هلک چغه پورته شوه او د جنۍ لاس یې خوشې کړو.

هلک- اخخخخ

جنۍ په تلوار زما خو اته راغله او زما و شاته پټه شوه.

— څه وشو؟ د انجونو پعذاب کول ډیر خوند لری؟

هلک په غوسې سره لځایه پاسیده او ویې ویل: په تا اړه نلری ژر لدی ځایه ورکه شه.

– که لاړه نشم څه کوی؟

هلک- که خپل ځان درباندی ګران وی نو رنګ دی ورک کوه.

په ریشخند خندا مې وویل: امممم خو پر ما باندی ځان ندی ګران دا نو به څنګه شې؟

هلک په غوسه باندی زما خوا ته راغی خو ما تلوار وکړو او په تول زور می بیا په لرګی وواهه او د هغه د ولیدو سره سم زما وهل شروع شول، داسی می په سر سر وهه لکه چې همدغه زما د تول ژوند د تباه کولو ملامت دی زړه مې ډک وو او د ده پر وهلو مې ځان خالي کاوه.

جنۍ- بس دی مړ دې کړو.

د جنۍ په غږ مې تازه هغه هلک ته فکر شو او لرګې مې یوې خوا ته ختا کړو او ومې ویل: زما پسی راځه.

جنۍ زما سره یوځای روانه شوه او د موټر خوا ته ورغلو.

– مور دې چیرته ده؟

– سارا.....سارا... لوری چیرته یې؟

شاته وګرځیدم او همغه د عمر پخه ښځه مې ولیده، د هغې به لیدو جنۍ په تلوار هغې خو ته ورغله او خپل ځان یې د هغې په غیږه کې اچوه.

ښځې په ورخطایی وویل: څه شوی؟ ګرانې لوری ښه یې؟

جنۍ بیحد ویریدلی وه او د خبرو لځایه یوازی ژړل چی ما وویل: څه ندی شوی خاله جانې یوازی لږ ویریدلې.

خاله په ویری وویل: ولې ډاریدلی یی ګرانی لور څه شوی؟

جنۍ- موری یو هلک غوښتل ما پعذاب کړی خو دی زه وژغورلم.

خاله په حیرت او ویری باندی خپل لاس خپل په مخ وواهه او ویې ویل: خاوری دی زما پ سر شه دا ته څه وایې؟

– د اندیښنی کومه خبره نشته خاله جانې هر څه اوس ښه دی.

زما په غږ خاله په قدرمند انداز راوکتل او ویې ویل: خدای دی خیر در نصیب کړه لوری تا زما د لور سره مرسته وکړل خدای دی ستا سر مرسته وکړی خپل آرمانو ته ورسیږی.

سر مې وښوره او ومې ویل: کومه خبره نده دنده مې وه، او هووو ته هم نور خبل د مور څخه مه جلا کیږه

خپل د خبری د خلاصیدو سره سم مې غوښتل چې د هغه ځای څخه لاړه شم چې خاله وویل: ته هم یوازی یې لوری راځه زموږ سره ډوډی وخوره.

د سهار څخه مې هېڅ نه وه خوړلې او د رښتيا هم وږی وم، خو شرم وو په يو ست ورشم او ډوډی وخروم نو ځکه مې وويل: نوش جان مو شه زه مزاحمت نکوم تاسو په راحت فکر خپل ډوډی وخوری.

خاله- د څه مزاحمت لوری خوشحالیږم زموږ سره ډوډی وخوری.

زړه نا زړه وم چې سارا وويل: زما د مور د لاس ډوډی زيات خوندوره ده وه يې نخوری تاون کوې.

نور مې انکار ونکړو او يو کونج ته کيناستو د ډوډی په خوړلو چې خاله وويل: لوری مور او پلار دی چيرته دی؟

— کله چې ماشومه وم مور او پلار مې وفات شول.

خاله- اه خدای دی وبخښې لوری خور يا ورور لری؟

— نه زه يو اولاد وم.

خاله- اه پر دی ژوند چې پر هيڅا رحم نکوی.

ما خپل سر لاندی اچولې وو چې خاله وويل: زه هم پدی نړۍ کې يوازی همدا يوه لور لرم.

— خدای درته وساتې.

خاله- امين خدای دی ټول ځوانان سلامت وساتې.

ډوډی خلاصه شوه او ټول موټرونو ته پورته شو، د لږ ځنډ وروسته موټر حرکت وکړو دا ځل سارا هم زما و څنګ ته راغله او زما او خپل د مور څنګ مې کيناسته.

په ټوله لار د خاله سره چې اوس بوهیدم نوم يې حليمه وه خبری او مجلس مې وکړو. موږ انسان د ستونزی او درد وقت کې ټول خلک لياده باسو او فکر کو دا ستونزه او مشکل يوازی پر موږ راغلې او نور خلک خوشحاله دی. خو دا غلط فکر دی شته داسی کسان لکه خاله حليمه چې ددی دومره ستونزو او مشکلاتو با وجود تر اوسه خاندی او و دی ژوند ته اميد لری.

خاله حليمه لس کاله مخکې خپل دوه ځوان زمان او خپل خاوند يې له لاسه ورکړی وو او هغه وخت کې د سارا عمر د نهه کالو وه، حليمه خاله له همغه وخت څخه د خياطی پر کولو او د خلکو د کورنو به پاک کولو خپل ژوند مخکې وړې او سارا يې د دومره بدبختيانو سره لويه کړه هغوی د بدخشان ولايت په يو کوچنی کلي کې ژوند کاوه اوس هم هغوې د خاله حليمه د ورارە د واده لپاره د څو ورځو لپاره کابل ته راغلې وه او اوس بيرته خپل کور ته روان وه. خاله حليمه خپل د ستونزو او مشکلاتو په اړه غږيده دا چې بغير له کوم سرپرست څخه د کور کارونه کوی او پدی عمر مجبوره ده د خلکو کورنه پاک کړی ترڅو يوه ګوله حلال رزق پيدا کړی. او د رښتيا هم سخت ژوند يې درلود.

شپه راغله او ټول ويده شول بغير زما څخهچ هر سومره چې کوښښ مې کاوه کوم موضوع ته فکر ونکړم خو نه کېدل، هر موضوع او خبری ته چې فکر می کاوه اخيره يې په احراره خلاصيده.

احرار څه کار کوی اوس؟

احرار په محفل کیدی؟

احرار ډوډی خوړلې کنه؟

احرار به نه وي نا راحته شوي ؟

احرار خو به زما نه کتو ته متوجه شوي نه وي ؟

په همدي فکرونو سره مي شپه سهار کړه او زه بدخشان ته

له موټر نه ښکته شوم بکس می راواخیست چي سارا وویل:آیت ته چیرته ځي؟

چیرته تلم ؟ اصلاً ما چیرته د تلو ځای درلودو؟ نه بلکل نه !

– نه پوهیږم !

حلیمي خاله په حیرانۍ وپوښتل: لوري څنګه نه پوهیږي ؟

– خاله جانې رښتیا ووایم دا اول ځل دي چي زه بدخشان ته راځم زه نه دلته څوک پیژنم نه هم کوم ځای کی بلده یم.

خاله- ښه لوري اوس نو څه کوي ؟

–اوس خو باید یوه مسافرخانه پیدا کم.

تازه مي ذهن ته راغلل چي حلیمه خاله او سارا د همدي ځای دی نو هغوی کولی شی ماسره مرسته وکړي.

– خاله جانې تاسي چي دلته ښه بلد یی که په تکلیف کیږی نه ما ته خو یوه ښه مسافرخانه راوښایه.

خاله- نه لوري د څشي تکلیف خو د یوي پیغلی پاتي کیدل یوازي مسافر خانه کي ښه ندي.

حق د حلیمي خاله سره وو.

– صحیح وایی خاله جانې خو زه چیرته د تلو لپاره ځای نلرم او تاسو مه خفه کیږي زه له خپل ځان څخه ساتنه کولی شم.

حلیمي خاله پس له یو څو دقو خاموش کولو وروسته یی وویل:

خاله- وګوره لورجانې که چیرته غواړي زموږ کورته راسره لاړه شه.

– ژوندی اوسی خاله جانې تاسو مزاحمه کیږم نه.

خاله- د څه شي مزاحمت ستاسو قدمونه زموږ په لیمو دي.

تر څو ما غوښتل جواب ورکړم سارا وویل: آیت خیر دی لطفاً راځه مور سره راځه.

– خو..

خاله- خو او مو نلري لورکي اجازه نه ورکوم چي یوازي مسافر خانه کي پاتي شي.

سارا- مور مي رښتیا وایی تصمیم ونیول شو ته به له مور سره ځي.

زړه نا زړه له هغوی سره یو ځای شوم،د حلیمي خاله دوی کور له ښاره یو څه لري وو همدي لپاره تکسي کي وختلو دوه ساعته کیدل چي تقریباً له ښاره ووتوو چي یو ښایسته او بهترینه کلي ته داخل شوو

دومره ښایسته وو چي انسان فکر کوو چي جنت کي یم، یوازي یو شی چي سترګو سترګو ته کیدل هغه شنه ځایونه او سر سبزي وه موتر د یوي کوچني کور مخي ته ودرید ،پیاده شولو او بکسو سره کورته داخل شوو کوچني کور خو ډیر ښایسته او شین یعنی سر سبزدوه اطاقه یوه کوچني آشپزخانه او یوه باغچه چي ګلانو او ډول ډول میوو پوښلي ، یو داسي کور وو د زیاتي ستړیا په خاطر له ټولو مي سترګي پټي کړي او د خوب نړۍ ته مي ځان یوړو، د یو چا لاس باندي د خوب څخه را ویښه شوم..

– ایمان پریمیږده چي ویده شم اوففففف

سارا- ایمان ؟ ایمان څوک دی ؟

سترګي مي چي خلاصي کړي تکنو د سارا له حیرانو سترګو سره مخ شوم، داسي می و انګیرله او یو څو لحظو لپاره مي دا هیر کړل چي زه نور په مانۍ کي نه وم او دغه لاس د ایمان لاس ندی.

سارا- هي چیرته لاړي ؟ ومي پوښتل ایمان څوک دي ؟

د ایمان یاد راوړو سره مي په شوندو خندا ځاي ونیو او ومې ویل: ایمان هغه خور مي ده چي خدای ﷻ مور د دوو پلرو او دوو مورګانو څخه وزیږولو اما د یوي ښی خورکي څخه راته نږدي او ګرانه وه او ماته یی نږدي کړه.

سارا- ښه نو پورته شه وګوره شپه ده.

بیرون ته می وکتل ټولو ځایو کي تیاره وه

– وااااه ولي د زر نه ویښولم؟

سارا- زه هم ویده وم تازه جګه شوم.

– نو بیا حلیمه خاله چیرته ده؟

سارا- آشپزخانه کې د شپي دودی تیاروي.

د حلیمي خاله غږ پورته شو: انجونو...

دواړه آشپزخاني ته لاړو

– سلام علیکم خاله جانې.

خاله- ع سلام لوري له خوب پاڅیدي !

– هو ولي مو زر له خوبه پا نځولم ؟

خاله- لوري ته ستړي وي ! خبري کول پریږده دسترخوان هوار کړه حتمن به دير وږي شوي وي؟

دستر خوان مي هوار کړو او ډوډي راوړل شوه او رښتیا هم د ژوند هغه خوشمزه ترینه ډوډۍ مې وه،پس د ډوډۍ خوړلو وروسته مي سارا سره لوښو مينځلو کي برخه واخیست او هيل( يلدانه) لرونکي چاى مي دم کي او يوي ساده کيسي سره مي د حليمي خاله او سارا سره شروع وکړه.

سترګي مې د ديوال باندي راځوړند تصوير ته شو،حليمه خاله له يو کوچني ماشوم سره يو سړي او دوه ځوانانو سره د خندلو حالت کي يو چهار چوکات کي وليدل

– خاله دغه کوچني څوک ده ؟

خاله- دا د سارا د کوچني والي تصوير دي !

– نو بيا دغه سړی او هلکان څوک دي ؟

د دواړو له شوندو خندا لري شوه او له نسبتاً اوږده خاموشب وروسته سارا وويل:  هغه سړی مي پلار دي او هغه دوه هلکان جاهد او زاهد هغه مي وروڼه دي !

– څنګه مو هغوی له لاسه ورکړل ؟

د دواړو صورتو کي غم مي وليد او تازه خپلي غلطي ته متوجه شوم.

– ښښنه غواړم نه مي غوښتل چي تاسي ناراحته کړم.

خاله- هيڅ خبره نده لوري !

حليمي خاله يو اوږد آسويلي وويست او ویې ویل: موږ ډیر ښه ژوند درلودي مګر ډيري پيسی مو نه درلودي خو بيا هم خوشحاله وو! خاوند مي چي يوه کوچنی باغ ورڅخه د پلار څخه يی ورته په ميراث پاتي وو باغواني کوله او زامنو مي هم مرسته ورسره کوله ژوند سره له هغو لوړو ټيټو سره روانه وه تر دي چي زامنو مي د ښوونځی څخه فارغ شول ! هغوی دواړه غبورګوني وو، او دواړه يو ځاي له ښوونځی څخه فارغ شول هغه شپه ټول خوشحال وو او د دوي راتلونکي په اړه مو خبري کولي !!

– حليمي ته خو يی ويني زمريان زامن مي فارغ شول ! خدای د راته دومره عمر راکړی چي دوی په سپينه چپنه (داکترانو ) يی په ځان ووينم نور هيڅ آرمان نه لرم

زاهد وويل: نه پلارجانه زه نه غواړم طب ووایم.

خاله- د ذاهد پلار جانه زوی می ښه وایی ! حسن زموږ د ماما زوي مو هیر کړو ؟

هغه هم داکتر شوو اما تر څو یی درسونه خلاصیدل ټول ویښته یی تویی شول زما زامن به انجینري وایی او انجینر به جوړیږي له خیر سره.

مور جانې مګم خپله دې نه ویل چې هیواد د مور حیثیت لري ؟ او نن چې زموږ مور موږ ته اړتیا لري نو کمک ته یې ورنشو ؟

— خو .........

— خو نلري مورې نن هیواد له انجنیر او ډاکټر نه زیاد ساتونکو ته اړتیا لري ! او هو موږ له مرګه نه یرېږو ! د هیواد په لار کې د شهادت جام څکلو نه غټ ویاړ شته ؟

د ساره پلار دواړه غېږ کې ونیول او ویې ویل:حلیمې زامن مې لویان شوي خدای نه زر ځلې شکر ګرازه یم د داسې باغیرته زامنو په لرلو !!!

زما د مخالفت باوجود جاهد او زاهد د ملي اردو غړیتوب کې نوم لیکنه وکړه او په میاشتو لری والي له کوره او سختو تمریناتو بلاخره ملي اردو کې شامل شول !!! په لومړیتوب کې مخالفه وم خو کرار کرار زه هم رضا شوم ! دو کاله همداسې تیر شول ساره غټه شوه او زامن مې زړور ساتوونکې شول •

— د ساره پلاره !!!

— ها ؟

— پرون ولید خان کره تللې وم •

— ښه ول ؟

— هو شکر ښه ول سلام یې ویل.

—علیک سلام.

— ندا او یلدا دې په یاد دي ؟

— کومه ندا او یلدا ؟

— د ولید خان لوڼې ښایم !

— هماغه وړوکې انجونې چې زموږ په پټیو کې به یې لوبې کولې ؟

— هو هماغه خو نور وړوکې نه دي غټې شوي هغه هم څه غټ توب !!!

— څنګه ؟

– ماشاالله لکه سپوږمۍ ښکلي شوي ! هم خیاطي کوي او هم مری ګنډي (مهره دوزی) همدا نن کال له ښوونځي فارغه شول ! پوهېږئ مور یې یو ځل هم پورته نشوه ناسته وه مګر داسې دستر خوان یې تیار کړی وو چې مه وایه ! ډوډۍ دومره خوندوره وه چې څه نه وو پاتې ګوتې مې ورسره وخورم !! له حیا خو یې هیڅ وایه مه !

– ماشاالله رب دې وساتي !

– امین ! پوهېږې د حاجي فرید ښځې د خپل زوی ډېر تعریف کوه , ویل یې زوی یې تازه ښار کې زده کړې خلاصې کړي او ګواکې د واده پریکړه لري !

– واضحه خبره وکړه اصلي موضوع ووایه.

– توبه ستا له لاسه اصلي موضوع څه ?

لوړ اواز یې وخندل او ویې ویل: زه ستا پوټکی چرمګري کې پیژنم ! یو څه نه یو څه په زړه کې لری؟

– وګوره د ساره پلاره په دې وخت کې د ښې جنۍ پیدا کول سخت دي زامن مې ځوانان شوي او شکر دنده هم لري او لاس مې هم چلېږي !اله ندا او یلدا نه ښه نشو پیدا کولای که دې اجازه وي له مور سره یې خبرې وکړم او مرکه ورشو !!

– ریښتیا وایې ښځې !! ولید خان با شرفه سړی دی مګر د هلکانو نظر هم مهمه دی ورسره خبرې وکړه وګوره څه نظر لري !!

– ته اندیښنه مکوه ما ورسره خبرې وکړې ویل هر رقم چې تاسو ته ښه ښکاري ! مګر له څیرو یې ښکاریدل چې خوښ دي !

– ښه نو ټول کارونه دې خلاص کړي هههههههه

– له پخوا یې ویلي په ښه کار کې بیړه وکړې اوس ووایه څه نظر لری !

– ښځې ته خو پوهېږې زه او ولید خان له ماشوتوبه ملګري یو څوګ ښه د ولید خان له لوڼو نه؟

– یعنې رضایت لری؟

– سبا مرکه ورشه او زه هم ولید خان سره غږېږم هر څه خیر وي.

– امین.

د هغې ورځې په سبا جاهد او زاهد د یو نظامي عملیات لپاره کندز ولایت ته لاړل او موږ هم د مرکې په کارو بوخت شوو،ولید خان د څو کلنی ملګرتیا په خاطر په هماغه اوله مرکه کې هو کړه !!! خوښۍ د کور له دیوال او ور نه راخوټیده !! زاهد او جاهد اخر د اونۍ راتلل او داسې مو وعده وکړه چې هماغه شپه چې زامن مې راځي د ولید خان د لوڼو شیریني راوړو !!بلاخره اخر د اونۍ شو او زړه کې مې یوه بل شان اندیښنه وه خو شیطان ته

مې لعنت وویل او د کارونو په کولو بوخته شوم !!! شپه شوه مور ولید خان کور ته لاړو مګر شکر هر څه په خیر وشول بیرته کور ته راغلو

مګر له زاهد او جاهد نه هیڅ خبر نه وو او موبایلونه یې هم بند ول مګر په دې فکر چې شاید انټن به پرې نه وي ځان ته مې تسلي ورکوله.ځوانان ټول په ګډا بوخت ول او ټول ځای خوښي نیولی وو، ساعت له یوې تیر شو مګر جاهد او زاهد رانغلل او لړ لړ اندیښنه د ټولو په څیرو کې ښکاریده !!

هیڅ داسې نه وو شوي چې زامن مې ما بې خبره پرېږدي او همدې خبرې مې زړه کې ډار ډېروه !! د موټرونو تم ځای ته لاړو مګر هغوی ویل نن یې جاهد او زاهد نه دي لیدلي په ډېرو کوښښونه مې یوه شمیره د پایګاه وموندله مګر جواب یې رانکړ هرې دروازې ته لاړو مګر له زامنو مې هیڅ خبر نه وو!!! د سارا پلار نور زړه طاقت ونکړو او خپله د کندز خواته روان شو، حلیمه خاله خپل د خبرو دی ځای کی چوپه شوه او بیایې په ژړا وویل: هغه لاړو او بیرته رانغلو یوه ورځ د هغه د تلو څخه تیره شوه خو هیڅ خبر د هغه څخه مور ته رانغلو.

هغه شپه ما په ژړا او د خدای څخه په دعا غوښتلو سهار کړه تر دی چې هغه بد مرغه ورځ را ورسیده! د ماسپښین دوه بجې وې، سارا ته مې ډوډۍ ورکړه او تازه مې هغه ویده کړه، د ماسپښین لمونځ مې کولو چې دروازه وټکول شوه،په دی فکر چې هغه بیرته راغلې،او خدای پاک زما دعا واوریده، په چټکۍ سره د دروازې خوا ته مې ځان ورسوه.

—څوک یې؟

—نوید یم.

نوید د زاهد او جاهد همکار ملګری و، چې په دې ماموریت کې یې یوازې هغوی سره تللی و، خو نوید ولې د دروازې شاته و؟ زامنو مې ولې دروازه ونه ټکوله؟ د وجود څخه مې یو غږ واوریدل، د زړه ضربان اخر حد ته ورسیدل،لاسونه او پښې مې د حرکت کولو توان نه درلوده.

نوید- حلیمې ترور، دروازه خلاصه کړه

کاش چې هغه دروازه د تل لپاره بنده پاتې وای،

کاش چې مړه شوی وی خو دغه صحنه مې نه وی لیدلې، کاش چې لاسونه مې خپل مات کړی وای او دروازه مې خلاصه کړی نه وای.

نوید—سلام، حلیمه ترور،

حلیمه- نوید جاهد او زاهد چیرته دي؟

نوید-  ترور،  هغه ....... ما او....... جاهد.....

چیغې مې کړې او له ګریوان څخه مې  ونیول،

حلیمه- جاهد باندې څه؟ ووایه څه شوی، جاهد او زاهد چیرته دي؟؟؟

نوید- تروری، یوه اونۍ مخکې د ماموریت پای ته رسولو وروسته مونږ غوښتل چې بیرته کور ته راستانه شو هغه.......

حلیمه- هغه څه؟؟؟

نوید- زمونږ په پایګاه باندی برید وشو!ما او زاهد له پایګاه څخه بهر وو خو جاهد هلته نه وو، هر څومره مې د هغه د درولو هڅه وکړه، خو زاهد زما خبره ونه منله او بېرته د پایګاه ته دننه شو.

نور نشو کولې چې کیسې ته دوام ورکړې سترګو نظر مې په هغه سترګو ولږېدی چې سترګې یې له اوښکو ډکې شوې!

— د دروازې مخې ته درې تابوتونه پراته وو او ټول په کفنونو پوښل شوي وو، نوید مې پرېښود او تابوت خواته ورغلم د کفن ټوټه مې له مخو څخه لرې کړ. نور نه پوهیږم چې څه وشو،یوازی مې سترګو تیاره شوه نور مې هیڅ شي ونه لیده!

حلیمه ترور چوپه خوله پاتې شوه چې سارا دوام ورکړ....

سارا- د ژړا او چیغو په اواز له خوب څخه وپریدم! په ویره سره څو ځلې مې مور ته غږ وکړو خو مور مې نه وه،پاڅیدم او بهر راوتم چې  مور مې په برنډه کې بې هوښه پرته وه او ګاونډیانو په ژاړه سره په مخ باندې ورته اوبه تویولي (اچولې)

خلاصې دروازې ته مې نظر شو د خلکو ګڼه ګوڼه وه او زمونږ دروازې مخه کې ولاړ وو!فکر مې وکړ چې شاید پلار مې له وروڼو سره راغلی وي مور مې هېره کړه، ژر له دروازې څخه بهر ووتم چې..........

سارا سلګې وکړه!

سارا- آیت پلار مې راغلی و! جاهد او زاهد هم راغلی وو، مګر په تابوت کې!!!!!

بیا په سلګو شوه ژړا پرینښوده چې خبره پای ته ورسوي،

سارا-  پلاره مې، بیا زما سر ښکل نکړو.

زاهد ماته خواړه رانکړل جاهد زه په اوږو سپاره نه کړم!!!!!!

زړه مې زر ځله ټوټې شو، هره ټوټه مې له سترګو اوښکې وبهېدې،د ژړا سلګو غږ اوردل کیده، او چا د خبرو توان نه درلود، بالاخره حلیمه ترور دوام ورکړ.

حلیمه- جاهد او زاهد په هغه شپه د شهادت جام وخوړو، زامنو مې د وطن د ازادۍ لپاره خپل ژوند قربان کړ، خو نوید نه وو پریښې چې هغوی خاورې ته وسپاري، ځکه پوهېده چې هغوی غواړې په خپله خاوره کې ابدی ویده شي.

آیت- او کاکا؟

حلیمه- سارا پلار د زړه ستونزه درلوده او په هغه ورځ چې قرارګاه ته رسېدلی و، د خپلو زامنو جسدونو توان ونشو لیدلې چې د زړه حمله په راغله او همهلته خپل روح خدای ته وسپاره!!!

لږ ارامه کیدو وروسته ترور خپلې اوښکې یې پاکې کړې او ماته یې وویل: لوری، تا خپل ژوند په اړه څه دی ونه ویلي؟

ژوره ساه مې واخیسته

آیت- ترور جانۍ زما ژوند د ویلو لپاره هیڅ ښه خاطره تری نه لرم!

حلیمه- لوری، ته ووایه موږ یې اورو!

هر څه مې ورته وویل له مهاجرت نه نیول تر ،یتیم کیدو ، د تره د کور ظلم، بدو ته ورکول او تېښته د حمید کاکا او ترور آسیه او د هغوی مهربانۍ د اصیل ټوکو یې،او د اسد ورور،د ایمان او خویندو او بالاخره له احرار څخه پوری مې ټول وویل!!!

او احرار چې په همدې یوې ورځ کې د زرګونو کلونو په څیر ورپسي خفه شوي وم!

حلیمه ترور راته وویل: له هغې شپې چې تا په موټر په شیشه سر ایښې او په ژړا وې، پوه شوم چې ستا غم هم ژور دی! خو ته نور یوازې نه یې،له نن ورځې نه زه یوه لور نه بلکې دوه لوڼې لرم!!!

د خپلو د خبرو په تعقیب، موږ دواړه په غیږ کې ونیولو او د هغه په غیږه کې مې وژړل!

ومې ژړل  د خپل غمونو لپاره

د غصو لپاره

د دردونو لپاره

د افسوس لپاره

د زړه تنګون لپاره

د اندیښنو په لپاره.

دومره مو وژړل چې نور مو په سترګو کې اوښکې پاتې نه شوې

شپه  سباه شوه خو موږ یو ته خوب رانغلو

خو موږ ټول د زړونو په چوپتیا د خپلو زړه ته نږدی کسانو په غم کې ناست وو چې نور هیڅ دلته نه وو زموږ د سترګو هره برخه خاموشه وه، زموږ دننه په وجود کې یو طوفان راغی او هغه څه چې زموږ په وړاندې وو هرڅه له منځه یوسي د اذان له اورېدو وروسته موږ ټول پاڅېدلو او له اودس کولو وروسته مو د خپل خالق درګاه ته پناه یوړه.د راز او اړتیا وروسته، موږ لږ آرام شو او سترګې مو پټې شوې!

حلیمه- نجونې، پاځېږي، نور څومره وخت پوري ویده کیږې،ماسپښین دی!

د حلیمې د ترور غږ په اورېدو له خوبه پاځېدم، خو ساره بیا کمپلې پر سر وغورځوله.

ساره-اوه، مورې، پرېږده چې ویده شم!

حلیمه- یوولس بجې دي، څومره وخته پوري ویده کیږې، پاځېږه، نجلۍ،زر شه هله.

ساره- یو ساعت لپاره نوره هم ویده کیږم،موری

حلیمه- ساره ته په ښیګڼې نه پوهېږې، هله پاځېږه؟

ساره- هو نه پوهیږم.

حلیمه- نه پوهیږې؟؟

ساره د نه په څیر سر وخوځاوه معنا چې نه پاځیږم ترور ته مې د سترګو په اشاره وویل چې ته ارامه شه او زه هغې خواته نږدې شوم.

آیت- ترور ساره له شی څخه ویره لري؟

حلیمه- زلزله! هغه د زلزلې څخه ډېر ویره لري!

د ساره په سر سره ودریدم او چغې مې کړې

آیت- زلزله، زر کوي زلزله ددددده

لکه د پیري په څیر، په چټکۍ سره پورته شو او په چیغو بهر ووته.

ترور او ما د خندا څخه ضعف وو چې زموږ په خندا بیرته دننه راغله،چې په خندا مې وویل: ساره جانۍ، له خوبه پاځېدې؟

ساره- آیت مرې کوم دي.

په چټکۍ سره وتښتیدم او ساره زما په تعقیب راغله.

ساره- ودرېږه آیت،که ته نره یې، نو ودرېږه!

آیت- له بده مرغه زه یوه نجلۍ یم، سړی نه یم.

ما او هغه د موږک او پیشو په څیر یو بل پسې روان وو او حلیمه ترور خندل

زه د حلیمې ترور تر شاه پټه شوم.

ساره- مورې، لرې شه.

آیت- ترور، مرسته وکړه راسره،دا شیشکه به مې وخوري!

ساره- مورې، ومې ویل اخوا شه.

حلیمه- ته جرائت کولې شې چې آیت ته لاس ورنږدې کړې!

ساره- مورې!!!

حلیمه- مور او درد! حق نه لرې چې ته زما لور ته د لاس ورنږدی کړې!

د پیښې په څیر مې ژبه بهر کړه چې هغه په حیرانتیا وویل: دوه ورځې نه دې شوې چې آیت راغلې،او زه دې خرڅه کړم؟

حلیمه- هو، ما ته خرڅه کړې، اوس بله لور لرم، ته زما په څه درد خوړل کیږې؟؟

حلیمه ترور زه په غېږ کې ونیولم او ساره په مظلومانه مخ باندې راته کتل چې مورې دواړو په لورې غږ وخندل.

په خندا مې وویل:تروری مخ ته یې وګوره.

حلیمه-راشه لیونۍ داسې کیږې چې تا خرڅه کړم ها؟؟

سارا په خندا سره د ترور غیږې ته راغله

حلیمه-  ښه، بس دا بسنه کوې، نور چای  یخ شو.

د سهارنۍ یا (صباناری) وروسته، ترور د خپل خیاطۍ کار ته لاړه

ساره- آیت، ته باغ ته لاړ شه، زه به هم درپسی راځم

آیت- ښه نو ولې یوځای سره لاړنشو؟

ساره- په دومره وخت کې مورې په کابل کې وو، کور ډېر ناپاک شوی دي، نو زه کور پاکوم، ته به ځانته ستړې(خسته) به شې!

آیت- راځه چې یوځای پاک کړو.

ساره- ناا نه کیږې، زه یې پخپله پاکوم.

آیت- یوځای به پاک کړو، داسې به زر ختم شې.

ساره- خو......

آیت- تراوسه درته چا ویلې چې ته زیاتې خبرې کوی؟

ساره_ تر اوسه تاته چا ویلې چې د لویانو درناوی وکړئ؟

آیت- څوک یو لویه ده؟

ځان ته یې اشاره وکړه

ساره- دغه مشره!

آیت- ته زما څخه یوازې یو کال مشره یې نه زیاته!

ساره- که څه یو کال وی، او که یوه میاشت، زه درڅخه مشره یم

آیت_ ومې منل ښه اوس وایه نیا جانۍ چې له کومه ځایه یې پیل کړو؟

مورې دواړه وخندل او بیا مو په کار پیل وکړ

دا یو کوچنی کور و، په یو ساعت کې پاک شو د ډوډۍ چمتو کولو او خوړلو وروسته، ساره وویل:

ساره- مورې، مورې بهر ځو؟

حلیمه- ولې؟

ساره– آیت ته به کلي ور وښایم!

حلیمه- سمه ده، مګر زر به بیرته کور ته راشی،ډیر ځنډ ونکړئ

ساره- په سترګو

حلیمه- د باغ څخه زیات مخکې لاړ نشې

سارا- افففف مورجانی پوی شوم سمده زه خو ماشومه نه یمه!

حلیمه- ته هرڅومره لویه شي ماته ماشومه یی !

سارا- سمده تسلیم !

حلیمه ترور ویده شوه مورې ژر ژر لوښې ومینځل.سارا خپل لوی تکړی پرسرکه ، مه هم خپله خولی ویښتانو باندی منظمه کړه ورته می وویل: لاړشو؟

سارا- هو لاړ شوو.

خو یو دم ودریده عجبیه راته وکتل او ویې ویل:ته همدی جامو که ځی ؟

یوځل می ځانته وکتل او بیا مې وویل: هو کومه ستونزه ده ؟

سارا- هو ستونزه ده؟ آیت دلته کابل ندی دلته کلي ده !

– ښه ؟

سارا- ښه که چیری د جامو سره لاړه شي ستونزه به پیدا شي، ځکه دلته کلي ده موږ انجوني یوازی جامي سر تر پایه او لوی تکرې پرسر کوه دا ستا جامي هلکانو دي!

– سارا اړتیانشته ویریږی زه ښه پوهېږم نورو جواب ځنګه ورکوم نوو آرامه اوسه.

سارا سر وخوځاوه خوو بیا هم څیره کي خفګان اندیښنه ښکاره کیده ..دروازه مو بنده کړه دواړه باندی لارو....څوشیبو اوږد مزل روسته یوی ښایسته چیني ته ورسېدوچینې کی تکی شینی اوبه او شاوخوایی ګلان او ونی وي کولی شوو ووایم لکه خوبونه که داسي ښایسته ځای لیدل کیده.

سارا غږ زما پام ځانته واړولو: څنګه ده ؟

– بدخشان ښکلا څخه می اوریدلي وه خو څشي څه ګورم پورته ښکلا څخه دی !

سارا- هو بدخشان همداسی ښایسته ده انسانانو سترګي ځانته جذب کوي.

دواړه اوبو څنګی کیناستو  پیښی نو اوبه که ښکته کړي. هوا ګرمه وه یخو اوبه احساس زړه راښکونکي وه. شاوخوا می کتلو سترګي مي احرار خوښي ګل باندی وغورځیدی هغه ورځ می یادته راغله باغچه لپاره مو څه ګلان خوښول !

بیامی زړه ونیول شوو ...

سوچونه کي ډوبه وم اوږد باندی می لاس احساس کړو او بیا د سارا غږ چې ویې ویل: آیت ته ژاړی ؟

مخ باندی می لاس ووهه، دا اوښکي کله زما سترګو راوانی شوي؟ هیڅ می ورته پام شوی هم نه وه ؟ ژر ، ژر می اوښکي پاکي کړي

– نا ولی به ژاړم ؟

سارا- آیت موږ ملګري نه یوو ؟

– بلکل ملګري یوو !

سارا- ښه نو څه غم خفګان دي ملګري سره شریک نکړي نو چاسره شریک کوي؟

او بیا مه ټول ژوند لکه ویښتان پشان تار تار درته وویلی!

حق د سارا سره وه همدی دوه ورځو هرڅه باندی پوهیدمه

– سارا هغه ګل ګوري؟

سارا- هو.

– هغه احرار خوښي ګل دی!

سارا عجبیه راوکتل او ویې ویل: احرار باندی ګلان ګران وه ؟

– هو حتا ګلانو باندی دومره حساس وه تل باغچه ګلان احرار په خوښه اخستل کیدل .

سارا- عجبه ده !!

– پوهیږی زه هم یوه ورځ ځان سره وړي وم ! ګلان مو یوځای سره خوښ کړل کلچه حمید کاکا ولیدل وویل: تراوسه می هیڅکله داسي ښایسته باغچه لیدلی نه وه

سارا مسکاه وکړه چې ما په غمجن مسکا وویل: هلته زما یو ګل خوښ شوی وه پرته لدی چې زما پام ورته و شې هغه ګل یې راته اخستي وه .

سارا- رښتیا؟

– هو ! احرار ځینځی کارونه نامعلومه وه !!

څو ساعته مو هلته تیر کړل او بیا کورته راغلوو،شپه شوه بیا خوب نړی ته لاړو ...

یوه اونۍ تیره شوه زه پویه هم نشوم څنګه تیره شوه! دی اونی کی څو څو ځلي می کوښښ وکه دیځایه لاره شم خوو ترور اجازه رانکړه نیپریښودم.....

تل به ویلی زه یوه لور نلرم ، زه دوه لورګانې لرم  هیڅکله اجازه نه درکوم موږ پریدي!!هروخت څه می تللو خبر کوله دواړه به ژړا پیل کوه !!

سهار په شور ماشور سره خوب نا راپاسیدم  پوی شوم میلمانی راغلی کوتي څخه انګر ته لارم مخ لاسونه می پریمنځل پرته کور ته ورغلم د خندا غږ سارا حلیمه ترور ټول کور نیولی وه ...

غوښتل می خپلی ګوتي ته لاره شم حلیمه ترور ماته پام شوو او وېې ویل: آیت راویښه شوی؟

– هو ترور جاني

حلیمه- ښه نو لور جانې دننه راشه !

مجبوری نا کوتي ته ورغلم یوه ښځه چې حلیمه ترور همزولي وه ، دوه انجوني څخه یوی د سارا همزولي وه ، بله هم سارا څخه مشره وه، ورسره مخامخ شوم.

– سلام

هغوی جواب راکه چې حلیمه ترور وویل: سحرجانی وګوره همدا هلک وه ؟

سارا بیا خندا نه شنه شوه خو هغه ښځه او دواړه انجوني په عجبیه انداز راکتل ...

سوالیه پشان می سارا ته وکتل چې پوهه شم ولی دوی خندل؟

سارا- آیت په یاد لري څو ورځي مخکي چیني ته تللی وه ؟

– هو ولی ؟

سارا- هغه ورځ موږ سحر لیدلی وه فکري کاوه ته هلک یی هههههه

فکر می کاوه کوچني جلی څه سحر وه په شرمنده لهجه وویل: زه بخښنه غواړم هغه ورځ چې می تاسو لري څخه ولیدی فکر می وکه هلک یاست!

– ستونزه نشته.

زړه که می وویل ما خو عادت کړی، ته خو اول نفر نه یی چې دا خبره راته کوی.

– سارا تانه هم بخښنه غواړم باور که پوی شوی نه وم !

مخکي لدي چې سارا څه ووایي سحر مشره خور وویل: ولی بخښنه غواړې؟ ستا ګناه خو نده هرچا یوی جلی دي جامو خولی که لیدلی وه فکري کوه حتما هلک دی !

سارا جدی وویل: ثناء جانی دجامو خولی اخستل څه عیب لري؟

ثناء سترګي تاوی کړی وویل: سارا جانی دوه ورځي کابل ته تللی شاید هېر دي اوسي دلته کلي ده هیڅکله جلی داسي جامي نا اغوندئ؟

سارا- نا شاید تاسو کابل ته لاره شي هیر به کړی خو زه نه هیر کوم !

ثنا- معلومداره همدای دلیل ده هلکانو جامو څخه طرفداري کوي؟

په سترګومی سارا پوی کړه څه مه وایه زه جواب ورکم ...

– سلام زه آیت یمه آشنایی ندی خوشحاله شوم !

ثنا- سلام زه هم ثناء یمه خوشحاله شوم

– ثناء یو سوال پوښتنه وکم ؟

ثنا- پوښتنه وکه.

– کله چې ته کابل ته راشي تیاره یی زما جامي پرځان کړی ؟

ثنا- معلومداره ده ناا آخر عمره پوري داسي جامي پرځان کوم نا!!!!

– خو مجبوره یی ځکه کابل کي ټول دا رقم جامي پرځان کوي !

ثناء غوسه شوه او ویې ویل: ماته په نور خلکو څه؟ زه خپلي جامي کومي راباندي ګرانه دی پرځان کوم

– بلکل رښتیا وایی ته هغه جامي پرځان کوي کومه چې ستا خوښیږي، نو بیا ولی نور خلک نشې کولې هغه جامې پر ځان کړی کوم چې خوښیږی؟ ولی ته حاضره نه یی یوی ښار رسم رواج لپاره ځان بدل کړي؟ او بیا توقع لری ستا ښار لپاره ځان بدل کړم؟

ثناء غلی شوه چی ما بیا وویل: ثناء جانی پوهیږي زموږ ښار کی هیڅوک دچا جامو باندي کار نلری تاسو هرڅه خوښیږي کولی شي پرځان کړی ځکه موږ نورو رسم رواجونو ته احترام لرو .

سارا وویل: هو کابل ښار کي هرڅوک خپل رسم رواج چې لري او هر کس خپل خوښی کالی اغوندئ هیڅوک یو بل کار که مداخله نکوی نیم خلک لندی جامي اغوندئ نیم خلک حجاب ، او نیم نور تکړی پرسر کوي! حلیمه ترور مسکاه وکړه پوی شوم زما جوابي خوښ شوی....

سکینه ترور او حلیمه ترور ډیر وخت کیږي ګاوندي دي سحر، ثناء، سکینه ترور لور ګانی وي سحر یو ډیر خوش اخلاقه جلی وه خوو ثناء مغرور جلی وه ..

ماسپښین وروسته خپل کورته لاری موږ هم کارونه باندی بوختی شو، شپی دوډی خوړلو روسته حلیمه ترور ته مې وویل: حلیمه ترور.

حلیمه- ووایه ګرانی

– د کار کولو په اړه ستاسو څه نظر دی؟

حلیمه- هغه څنګه؟

– ځکه غواړم کار وکم.

حلیمه- لوری کوم څشي ته اړتیا لري؟  هرڅه ته اړتیا لري ووایه راته !

– ناا ترور جاني  کوم څته اړتیا نلرم خو غواړم کار وکم !

حلیمه- ته تراوسه ماشومه یی کار کولو وخت دی ندی !

– ترور جاني مګر کار کول هم عمر غواړي؟

حلیمه ترور څوشیبې غلی شوه روسته وویل: لوري پوهیږم ولی غواړي کار وکړي خو اړتیا نشته !

– تروری ته ویلي زه دي لور یمه؟ که رښتیا ما خپله لور ګني ماته اجازه راکه کار وکم ترڅو مرسته درسره وکړم !

حلیمه- خو........

— خو نلري که تاسو ماته مرسته اجازه نه راکوي زه دیځایه ځمم.

حلیمه- توبه ډیره ضدی جلی یی سمده.

په خندا می په غیرږه کې ونیوله

حلیمه- هیبی لوري پریمیده خورږ دی کرم.

سارا هم راغله دوارږه خندا سره مو ترور پعذاب کوله. بیا هم شپه راورسیده زرږه تنګون می پیل شوو مخکي مي شپه خوښیده ...

ستونزو څخه تښتیدلم خو ...... اوس خوب هم رانه آرام اخستی وه لکه چې خوب راسره پردي شوي بیا هم زرږه واری احرار پسی می زرږه تنګ شوي وه !

***

یوه میاشت کیږي دي کلي ته راغلي یمه لږ لږ هرڅه سره عادت شوی وم! حلیمه ترور، سارا ډیره زیاته مینه راکوله هیځکله می پردي توب احساس می نکوه الحق ډیری یو بل سره عادت شوی وه !ځو اونی که می ډیر کوښښ وکه هرځایته کار لپاره لاړم خو کار می پیدا نکړو! حلیمه ترور هم خپلو ملګرو خپلوانو سری خبري وکړي خوو هیڅ کار راته پیدا نشوو، که رښتیا ووایم کار ډیر وه خو څوک حاضر نه وه یوی جلی ته کار ورکړي دي کلي که جلی کار نکوه یوی جلی کار کول ورته عیب ښکاره کیده ...کار می پیدا نکړو حلیمه ترور سره کورکي په مرسته پیل وکه خوو خیاطي پیسی چیرته زیاتي وي ډیری کمی پیسی راتلی. حلیمه ترور هم بوډی شوي وه سترګو دیدی کم شوي وه زمورږ ستونزه هم زیاتیدی..یوه ورځ حلیمه ترور سره زه او سارا خیاطۍ باندی ....مصروفه وه چې دروازه وټکیده

دروازه مې پرانیستل، د یو هلک سره مخ شوم

ـ مهرباني!

ـ تاسې نوي راغلي یاست، د کور پخوانی صاحب چېرته دی؟

ـ د چا سره دې کار دی؟

ـ زه د حلیمې خاله سره کار لرم.

ـ څو شېبې په تمه شئ زه غږ ورته کوم ..

دننه لاړم ..

ـ څوک وو لورې؟

ـ یو هلک ستاسې سره کار لري.

ترور حويلي ته لاړه او څو شېبې وروسته د همهغه هلک سره راغله...

ـ ساره!  ساره! وګوره څوک راغلی؟

ساره د هلک په لېدو څادر سم کړ ، پورته شوه په خوشالي يې سلام ورکړ، هلک هم ډېر په ادب ددې د سلام ځواب ورکړ او کښېناست،  پوهه شوم چې دا هلک نزدې اړيکه د حليمې ترور سره درلود.

حليمې ترور وويل:

ـ ساره! څه چای راوړه لالا دې حتمن ستړی شوی..

ـ  نه نه زحمت مه باسئ

ـ هېڅ زحمت ندی لالا دستي يې راوړم..

زه هم ساره پسې پخلنځي ته لاړم.

پخلنځي کې په چای تیارولو بوخت وو...

ـ ساره! دا څوک دی؟

ـ جمال لالا د وحيد اکا زوی دی.

ـ ښه وحيد اکا څوک دی؟

ـ وحيد اکا زما د پلار نزدې ملګری وو..

سر مې وښوراوه..

ـ معلومېږي چې ډېري نژدې اړيکې مو لرئ..

ـ هممم ډېري...

مخ يې غمژن شو..

ـ پوهېږې آيت کله چې مې پلار او ورورنه د لاسه ورکړه د ډېرو ستونزو سره مخ شو، هيچا زموږ سره مرسته ونکړه ان زما اکاګانو او ماماګانو، هغه وخت او وروسته له هغه هم وحيد اکا زموږ سره مرسته وکړه او د مرګ وروسته يې جمال لالا موږ يوازې پرې نښودو.

يعنی اوس هم ښه انسانان شته؟! عجب!

د ساره سره مې چای تیارې کړې او کوټې ته راغلو،  حليمه ترور د هغه هلک سره په خبرو بوخته وه ، جمال چې سترګې پر ما ولګېدې ويې يې وويل:

ـ وبخښئ حليمه ترورې که پوهېدم چې ميلمه لرئ، نه مزاحم کېدلم،

ـ نه زويه د څه مزاحمت؟ قدمونه دې زموږ پر لېمو، او بيا آيت ميلمنه نه ده.

په حيرانتيا يې راکتل چې ساره وويل:

ـ هو لالا ښه ده چې عادت وکړئ ځکه آيت نور زموږ سره ژوند کوي.

هلک ما ته مخ کړ

ـ ښه راغلې.

ـ مننه.

سر يې وخوځوه..

ـ کابل کې ټول ښه وه؟

ـ ښه وه زويه سلامونه يې کول.

ـ عليکم سلام.

ـ لالا ډېر ښه وخت مو تېر کړ

ساره ته مسک شو او ويې ويل:

ـ رښتيا!

ـ هو ستا ځای خالي و.

ـ قسمت مو ته و، ان شاءالله بل وار به لاړ شو.

ـ وعده ده!

ـ هو وعده.

ساره په خبرو بوخته شوه خو جمال يو عاجز هلک و..

جمال مخ ته ترور ته کړ او ويې ويل:

ـ ترورې غوارم يو څه درته ووايم!

ـ خير خو دی زويه!

ـ خير دی که شر نپوهېږم؟!

ـ ووایه څه شوي؟

ـ حشمت اکا خو پېژنې؟

ـ هو پېژنم یې

ـ لکه چې څو ورځې مخکې د دلاور خان کور ته تللی و او فکر کوم هغه ستاسې د باغ اخیستلو تصمیم لري!

ترور په تاسف سر وښوراوه

ـ بلاخره ددې حریص سترګې زموږ په باغ ولګېدلې، پوهېدلم چې دا ورځ به حتمن راشي.

څو شېبو چوپتیا نه وروسته یې په تشویش وویل:

ـ زویه اوس څه وکړم؟

ـ ترور تر کومه ځایه چې زه دلاور خان پېژنم هغه ستاسې د باغ د پیسو نه یو پر دریمه برخه تاسې ته درکوي او ستاسې د باغ ارزښت ډېر لوړ دی، زه وایم دې نه مخکې چې هغه د باغ اخیستلو دپاره مخکښ شي باید باغ په یو ښه ارزښت خرڅ کړو، باغ خو هسې نه هم ستاسې د لاسه ځي خو حداقل په یو ښه رقم یې کړئ ښه به وی.

ـ زه د هغه ارواښاد یادګار څنګه خرڅ کړم او بیا زه دا یو باغ لرم.

ـ حلیمې تروري زه پوهېږم خو دلاور خان خپل تصمیم نیولی او دا وار د کلي په جرګه کې یې حتمن وایي او که داسې وشوه نو موږ به بیا هېڅ نشو کولای.

نور نو چوپه پاتې کیدای نشوم...

ـ نو دا باغ د ترور ندی؟ اخري پریکړه به هم ترور کوي او بیا دا دلاور خان څوک دی؟

ـ دلاور خان زموږ د کلي ملک دی او یو بیشرف، زور چلونکی انسان دی چې ټول ځیني ډارېږي، هیڅوک د هغه مخ کې د خبرو جرئت نلري.

ـ د باغ د ساتلو هېڅ لار نشته؟

ـ نه ځکه هغه باغ کې هېڅوک کار نکوي او په دې چې ځان وښیي چې د یو تنها ښځې او لور سره یې مرسته وکړې باغ په ډېره ټیټه بیه اخلي.

ساره په ډک ستونې وویل:

ـ موږې هغه باغ مې د پلار یادګار دی هغه چاته نه ورکوې همداسې نده؟!

حلیمې ترور د ساره پر سر لاس تېر کړ او ویې ویل:

ـ لورې! دا خلک د انصاف په نوم څه نيېژني ..

ساره اوښکې په بهېدو شوې..

ـ مورې! څه کيږي باغ هغوی ته مه ورکوه!

ټول کور کې چوپتيا خپره شوه.

په هغه فکر چې ذهن ته مې راغلی وو مخ مې جمال ته کړ او ومې ويل :

ـ ښه که څوک هغه باغ کې کار وکړي بيا؟!

جمال يو شېبه چورت کې غرق شو بيا يې وويل:

ـ بيا نو خان نشي کولای چې هغه باغ واخلي، ځکه هغه وخت به هغه باغ د يو کورنۍ د عايداتو يوه لار وي...

او دلاور خان ښه پوهېږي چې که يې د يو کورنۍ د عايداتو په منبع سترگې وترلې خلک به ارام پاتې نه شي.

ــ نو ستونزه څه ده يو باغوان به پيدا کړو!

ـ دقيقاً ستونزه همدا ده دې کلي کې زياتره ځمکې د دلاور خان دي دېرى بزگران او باغوانان هغه ته کار کوي او هغه څوک چې ځمکه او يا هم باغ لري خپل پر ځمکه کار کوي، نو هيڅوک نه تياريږي چې دې باغ کې کار وکړي خصوصاً اوس چې دلاور خان دې باغ ته خوله اچولې هيڅوک نه غواړي د هغه سره دښمني وکړي.

څو شېبې مې فکر وکړ

ـ نو ولې باغوان پيدا کړو ؟!

جمال وويل:

ـ که باغوان نه وي نو څوک به هغه باغ کې کار او کښت وکړي؟

ـ زه يې کوم

د ټولو سترگې و ځلېدې ساره وويل:

ـ آيت ټوکې کوې؟

ـ نه جدي وايم که ترور اجازه راکړي زه هلته کار کوم.

حليمې ترور وويل:

ـ نه لورې هېڅ اړتيا نشته.

ـ ترور يو وار فکر وکړئ داسې به په يو غشي دوه نښانه وولو ، يو خو به باغ د دلاور خان د لاسه خلاص شي،

او بل به ارتیا به نه وي چې باغوان ته پیسې ورکړو او زه به هم د کار خاونده شم نو تر دې ښه به څه وي؟

جمال وویل:

ـ باغواني ډېره سخته ده تا تر اوسه په کوم باغ کې کار کړی؟

ـ هو ما کابل کې خپل د اکا په یو کوچني باغ کې کار کاوه فکر نکوم ډېر فرق به ولري او که فرق هم ولري ستونزه نشته زه یې ژر زده کوم.

ـ لورې جمال ربښتیا وایي باغواني ډېره سخته ده ستا لاسونه د بیل او کولنګ د پورته کولو توان نلري.

زړه کې مې وخندل که ترور وپوهېږي چې دې لاسونو څنګه کارونه کړي نو بیل او کلنګ به هېر کړي.

ـ تروري بې زحمته راحت نشته او بیا کار کولو کې هېڅ شرم نشته.

جمال وویل:

ـ ډاډه یې؟

ـ هو او بیا ساره هم کمک کوي داسې نده ساره!

ساره په خوشالي وویل:

ـ هو هو تاسې تشویش مکوئ مورې یو د بل په مرسته ټول کارونه کوو.

حلیمې ترور چې اوس هم د تشویشه ډک نظر باندې مورې ته کتل ویې ویل:

ـ اه ستاسې نجونو څخه ښه چې اوس تاسې همداسې غواړئ زه څه ویلو ته نلرم.

ساره د ترور مخ ښکل کړ، ترور هم ورته خندل.

جمال د نیم ساعت نه وروسته لاړ.

ډېره ښه هلک و، او دا چې خپل د پلار وحید اکا د مرګ نه وروسته د ساره او ترور سره مرسته کوي خپله دده په شه والي ګواهي ورکوله.

شپه په چوپتیا تېره شوه ټولو د سهار انتظار کاوه هر څه مه مې نه ښکاره کول خو زه هم د سبا دپاره په تشویش وم د یوې نجلۍ باغواني کول هغه په یوه کلي کې...

هر څه که دشپې یو هم ویده شوي نه و خو سهار وختي ګښېناستلو ځکه بعد له لمانځه او سهارنۍ خوړلو ټول باید باغ ته لاړ شو..

ـ ځو..؟

ساره څو شېبې راکتل او بیا یې په لوړ اواز وخندل ...!

ـ څه شوي ولې خاندې؟

ـ هههه ته د همدې جامو سره باغ ته ځې؟

ـ ولې کومه ستونزه ده؟

ـ  هو خود ستونزه شته لیونۍ کوم باغوان دې داسې لیدلی؟

ترور وویل:

ـ ساره لور سم وایي دا جامې دې د باغوانۍ د پاره مناسبې ندي.

ـ تروري زه خو نورې جامې نلرم.

ساره راته وکتل او ویې ویل:

ـ وپوهېـــدلم

ـ څه باندې وپوهېدلې؟

ـ یوه شېبه زه ژر راځم.

دې نه مخکې چې ځواب ورکړم لاړه، شېبه وروسته د یوه جوړه تورو جامو سره راغله او هغه یې ماته ونېولې

ـ دا څه دي؟

ـ د خوراک دپاره دي وی.. نه ګوري جامې دي.

ـ دا د چا جامې دي؟

د حلیمې ترور سترګو کې اوښکې ټولي شوې او ویې ویل: دا د جاهد جامې دي خپل په لاس مې ورته ګنډلي وې خو یو وار یې هم وانغوستلې .

ـ ساره زه دا جامې نشم اغوستلای

ـ ولې؟

ـ ترور دا خپل د زوی دپاره جوړې کړې وې زه یې څنګه واغوندم؟!

ترور زما لاسونه خپل په لاسونو کې ونیوله او ویې ویل: دې نه وروسته ته زما زوی یې

زه یې غېږ کې ټینګه ونیولم.....

جامې مې واغوستلې ، لږ غټې وې ساره راته نېژدې شوه او ویې ویل: ښه ده خو یو شی دې کم دی!

بیا هم دنن لاړه او د یو دستمال سره راغله

ــ کښېښنه

کښېښناستلم هغې دستمال داسې راته وتاړه چې حتی یو تا وېښته مې نه معلومېده.

بلاخره باغ ته ورسېدو خو هېڅ باغ ته ورته نه و، یو شاړه ځمکه وه چې یوازې یو څو ونې یې درلودې ، ښکاره چا په کلونو کې هم سر ندی ورښکاره کړی.

د حلیمې د زرو مخالفتونو سره بیا هم هغه پیسې چې مې ساتلي وې د باغ دپاره مې نالان ، تخم او نور د اړتیا وړ شیان مې واخیستل.

دوه اونیو وروسته د جمال او ساره په کمک مو د باغ ټول ضروریات واخیستل او کارونه مو خلاص کړل ، درې واړه د سهار لمانځه وروسته باغ ته تلو سخت کار مو کاوه، تر دې ځایه چې د شپې به چې کور ته راغلو حتی د خبرو کولو توان مو نه درلود.درې واړو په خوشالۍ او رضایت خپل مخامخ صحنې ته کتل، نور نو د هغه شاړې ځمکې او وچو ونو درک نه وو، بلاخره د اوونیو کار کولو وروسته یو باغ د مېو، الbالو، انګور او ناک د ونو ډک زمونږ په وړاندې وو.

یوه ورځ ساره سره د نیالګیو په اوبو ورکولو بوخته وم چې څو سړیان سره دې دوه هلکانو دننه بڼ ته راغلل !

– د دې بڼ بڼواله ته یې ؟

جدي مې وروکتل او ومې ویل: هو.

څو دقیقې یې په حیرانتیا راوکتل او بیا یې وویل: ته جنۍ یې ؟

– کار دې ووایه !

هغه په خندا وویل: له څه وخته انجونې بڼوالي(باغباني) کوي ؟

د هغه په خبره ټولو په خندا پیل وکړو چې ما په تروش تندې وویل: که کار نلرې دروازه هغه پلو ده.

– نرانو ته مو غږ وکړئ زه له ښځو سره خبرې نکوم.

– زه ځانته نر یم بیا نو په سلامت.

هلک غصه شو او ویې ویل: جنۍ ته پوهېږې زه څوک یم ؟

– ګمان وهل یې سخت نه دي یو زور ګویه کس چې د ادب په نوم هیڅ نه لري !

نور یې هم مخ سور شو چې ساره مې په ډار او لرزې لاس ونیوی او اهسته یې وویل: آیت دا د دلاور خان زوی دی !

– ارامه اوسه.

بیا هم د هغه هلک غږ پورته شو او ویې ویل: چا تاسو ته دې ځای ته د راتګ اجازه درکړې ؟

– څوک خپل شخصي ملکیت ته د راتګ لپاره اجازه اخلي ؟

– ژبه دې ډېره اوږده ده خپله یې درته قیچي کوم د دې کلي انجونې له کوره بیرون نه راوځي څه ورسي باغـ....

خبره یې د جمال په غږ نامکمله پاتې شوه !!

– بهروزه خان خیریت خو به وي ؟

جمال ځان موږ ته راورسوه.

– خیریت نشته جماله انجونې له څه وخته د اشپزخانې له ځایه بڼ ته راځي ؟

– ستونزه څه ده ؟

– ستونزه د دې انجونو اوسیدل دي زر تر زره دې کور ته لاړې شي او نور یې دلته و وه نه وینم !!

– موږ هیڅ چېرته نه ځو هر څه چې کوی وکړه !

جمال زما د خبرې په تایید وویل: دا د هغوی شخصي ملکیت دی او هیڅوک نشي کولای هغوی بیرون کړي !

– ښه ده نو دا خبرې دې بیا جرګه کې ووایه.

– سمه ده جرګه کې وینو !!

بهروز مخکې له تګ نه جمال ته مخ کړو او ویې ویل: شکر دې خدای کړه چې دوی دلته ول کنه پښه دې جرګې ته نه رسیده !

جمال غوښتل په هغوی حمله وکړي چې ساره هغه له متې ونیوه او اجازه یې ورنکړه !

بهروز په لورې مې په ارامښت وویل: هر څه د ویلو لپاره لرې جرګه کې ووایه فعلا ښه وخت.

تر سهار چا سترګه پټه نه کړه او سهار با وجود د دې چې زړونه کې مو ډار وه خو ځانونه مو و نه بایلل او جرګې ته لاړو !د کلي ټول زاړه او سپین ږیرې په اضافه د یو درشت اندامه کس چې د مجلس په لوړ سر کې ناست وو چې بهروز او یو بل هلک یې دواړو خوا ناست ول!!!

– ساره هغه کس چې منځ کې ناست دی څوک دی ؟

– هغه دلاور خان دی د کلي ملک او هغه داوړه یې زامن بهروز یې مشر او بهزاد یې کشر

زموږ په ننوتو ساره او ترور مخ پټ کړ مګر زه هماغسې ولاړه وم چې د دلاور خان نظر پر ما ولوید، نه یوازې هغه بلکلې ټولو دا شان را کتل چې د بلې نړۍ موجود یې لیدلی وي !! دلاور خان بهروز ته څه وویل مګر د بهروز په خبرې د هغه رنګ والوت !جرګه پیل شوه بهروز د دلاور خان څنګ نه پاځیدو او هغوی ته مخامخ ودریدو زه جمال او ساره هم د هغه تر څنګ ودریدو چې له سپین ږیرو نه یو وویل:

— بهروز خان خبر څه ده ولې دې جرګې غوښتنه کړې؟

— اصف خان تاسو زموږ مشر یاست ایا زموږ په ټولنه کې د یو جنۍ باغباني ځای لري ؟

— نه نلري.

— پرون زه خبر شوم چې د حلیمې ترور په باغ کې یوه جنۍ باغباني کوي نو ځکه هم زه ورغلم چې دا خبر ورته وکړم مګر دې جنۍ او جمال زه په بې احترامي له باغه وویستم !!!!

زوړ سړي جمال ته مخ کړو او ویې ویل: جماله ولې دې بهروز وباسلو ؟

— آصف خانه تاسو وواياست ایا څوګ دا حق لري چې یو څوګ له خپل شخصي ملکیت ته له ننوتلو منع کړي؟

— نه حق نلري !!

— د اباغ د حلیمې ترور او هغې د لور شخصي ملکیت دی مګر بهروز خان وايي دوی باغ ته د تللو حق نلري !!!

بهروز وویل: آصف خانه ما وویل هغوی نباید له کور راووځي او په کور پاتې شي !!

ومې نشو کړای غلې پاتې شم او ومې ویل: ښه نو ولې نشو کولای له کوره بهر ووځو ؟

— اصف خانه دوی غواړي کلي کې فحشا رایج کړي ! نن دا جونې له کوره راووتې سبا بل کار کوي ! او زموږ لوڼې او خویندې هم هڅوي، کرار کرار هر کار یې چې زړه غوښتو هغه کوي او هیڅوګ به د هغوې په کنترول قادر نشي اصلا که دې جنۍ حیا لرله پرته د خپلو جامو له اغوستو د دومره سړیو مخکې دریده او ژبه یې کوله ؟ که دا د بې حیایي رایج کول نه دي نو څه دي ؟

جمال په غصې او لوړ غږ وویل: بهروزه خبرو ته دې پام کوه ! په کوم حق داسې یو لقب د لویانو تر مخې یوې جنۍ ته ورکوې ؟

— جماله له پخوا یې ویل ریښتیا ویل ترخه دي !!

زوړ سړي ماته مخ کړو او ویې ویل: جنۍ جانې له کومه راغلی یې؟ د دې ځالی خو نه یې !!

— هو زه له کابله راغلې یم

سړي سر وښوروه او ویې ویل: نوم دې څه دی ؟

— آیت

– جنۍ ولې دې خاموشي خپله کړې ؟ که د خپل دفاع لپاره څه نه وايې چې اخري فرمان صادر کړم !

– اتفاقا ډېر څه دې ويلو لپاره لرم مګر اوريدونکي غوږونه نه وينم !!

بهروز غوښتل اور ته پکی ووهي نو ځکه يې وويل: ګورې اصف خان دا جنۍ تر کومه حده بې ح••••••

آصف خان خپل لاس د غلی شه په معنا پورته کړو او ما ته يې وويل: جنۍ ته زموږ په عدالت وباور نلرى ؟

پرته له ځنډ نه په صاف غږ مې وويل: نه نلرم باور.

چوپتيا خوره شوه او همغه سړی بيا وپوښتل: ولې ؟

– ځکه هغه خلک چې دلته دي بې عدالته دي !!!

دلاور خان په غصې پورته شو او ويې ويل: بس ده نور يوه جنۍ راغلې موږ ته بې عدالته وايي او موږ ټول ورته صرف ګورو ؟

آصف خان وويل: دلاور خانه کينه !

– آصف خانه زه دا رزالت نشم منلی يا به دا جنۍ ښنه غواړي يا زه له دې ځايه ځم !

– جنۍ دلاور خان ريښتيا وايي بايد  ښنه وغواړې!

ټولو ته مې مخ کړه

– ښنه غواړم !!

د ټولو حيرانتيا ډېره شوه ځکه زما له کارونو ګيچ شوي ول مګر دلاور خان په شونډو موسکا راغله فکر يې کوه زه وډاره شوم !!!

اصف خان وويل: ښه نو جنۍ زموږ په عدالت ولې باور نلرى ؟

– هغه جرګه کې چې ټول يو رنګه نه دي په عدالت يې څنګه قناعت وکړم ؟

– څه وشو چې فکر دې وکړ دلته ټول يو شان نه دي؟

– که يو شان يو نو کله چې ما تاسو ته بې دليله بې عدالت وويل په ما مو ښنه وغوښته او کله چې زه بې حيا او د فحشا مروج کوونکې خطاب شوم چا غږ پورته نکړ ؟

اصف خان څو لحظو لپاره چپ پاتې شو بيا يې وويل: بهروز خان جنۍ ريښتيا وايي تا پرته له دليله دې جنۍ ته بې حيا او مروج کوونکې د فحشا خطاب وکړو بايد ښنه وغواړې !!!

بهروز دلاور خان ته وکتل او دلاور خان هم په بې نهايته غصې پورته شو !!

— اصف خان ته څه وایې ؟ زما زوی د دلاور خان زوی باید له یوې جنۍ ښښنه وغواړي امکان نلري بهروز ښښنه وغواړي !!!

— دلاور خان دا د جرګې پریکړه ده باید اطاعت شي څه د ملک زوی وي یا هم یوه پردۍ جنې عدالت ټولو ته یو شان ده !!!

دلاور خان په غصه ناکه نظر ماته وکتل او روسته یې بهروز ته اشاره وکړه

بهروز خان چې ډیر فرق یې دلاور خان سرهنه لرلو په کرکې ډک نظر یې راته وکتل

— ښښنه غواړم

ټول حیرانه ول ځکه د بهروز خان ښښنه هیچاته د منلو وړ نه وه

اصف خان ماته راوکتل او ویې ویل: ښه نو جنۍ اوس د دې جرګې په عدالت باور لرې ؟

— هو

— ښه اوس نو ووایه.

— اصف خان زه دا منم چې د ټولنې دود او دستور دا اجازه نه ورکوی چې جنۍ دې له کوره ووځي مګر کوم کور چې نارینه نلري څه ؟ نو ایا د هغه کور ښځې له لوګې مرې شي ؟ تاسې ټول کلونه مخکې د حلیمې ترور د خاوند او زامنو د مرګ شاهد یې وی ایا نه وی ؟

— ولې د کور له دننه کار نکوئ ؟

— حلیمې ترور کلونه خیاطي وکړه او خپله لور یې په یوازیتوب لویه کړه مګر اوس نور توان یې نلري تاسو ووایي اصف خان ایا انصاف دی هغه ښځې چې خپل یو نه بلکې دوه زامن د وطن لار کې قربان کړل نن داسې محکومه شي !!!

— کولای شي باغبان وګوماري !

— اصف خان باغبان معاش ته ضرورت لري او هغه وړوکې باغ دومره ګټه نه کوي چې د یو باغبان معاش هم پکې ورکړو !!!

اصف خان له څو نورو کسانو سره په خبرو بوخت شو او روسته له څو دقیقو یې مورِ ته مخ او په لوړ غږ یې وویل:

— جنۍ ستا خبری یو دم منطقي او پر ځای وه د دی څخه وروسته ته په آزادنه توګه کولې شې هلته کار وکړې او نه بهروز خان او نه بل هېڅوک ستا مخه نشې نیولې او نشې کولې تا په عذاب کړې نو په په راحت خیال خپل کار وکړه.

— ژوندي اوسیږی اصف خان نن ما په دې با عدالته او با انصافه جګړی باور او ایمان راغلو.

– میړانه په نرتوب او جنیست کې نده او تا نن دا خبره ثابت کړه افرین لوری، ستا د د هوښ او ذکاوت ترڅنګ ستا زړه ورتیا او میړانه د زیات( اصف خان د دلاور خان او بهروز خان خوا ته وکتل او خپل خبره یې پوره کړل) سړیانو څخه نرتوب لری افرین دی وې پرتا.

د هغه خبرو وروسته لومړې اصف خان او بیا د لاور خان او زامن یې په غوسه ناک نظرونو د جرګې څخه لاړل، مورږ هم کورته لاړو د هغې ورځې وروسته بغیر د هېڅ ممانعت او نېوکې څخه په باغ باندې کار کول مې پیل کړل د هغه ورځې وروېته د سهار څخه تر ماښام ما او سارا هلته په کار بوخت وو کله ناکله جمال هم زمورږ و مرستی ته راتلې ورځ به په کار کول و تیر کېده او شپه به د حلیمې خاله په کیسې ویلو، د باغ د میو شیانو په خرڅ کولو ښه فایده مورږ ته رارسیده او مورږ نور حلیمه خاله پرینخوده ترڅو کار وکړې.

***

شپږ میاشتې زما د راتګ و دی کلي ته تېر شوی وه شپږ میاشتې، یوه ورځ په باغ کې ونو ته د اوبو ورکولو حال کې وم چې سارا وویل: آیت پرون سحر او ثنا تپې ته تللې وه.

– کومه تپه؟

سارا یه حیرت وویل: مه وایه چې تر اوسه دې تپه نده لېدلې؟

– نه نمې ده لېدلې.

– وه جنی، تا څنګه تپه نده لېدلې؟

– افففف سارا نمې ده لېده نو څه ووایم؟

– یوه تپه ده بېحد ښایسته ده سحر ویل هلته په تګ هغوې ته بیحد خوند ورکړې.

– ښه نو څه وکړم؟

سارا څو شیبې غلی شوه او بیا یې په کراره وویل: آیت سحر ویلی تپه ډېره شنه شوي ده !

– ښه ده.

– سحر ویلي ګلان .....

– بهانه مکوه ښکاره ووایه څه غواړې؟

سارا ځان معصومه ونیولو ،

ـــ غوارم تپې ته لاره شم ما هلته وړې؟

ـــناا!

ـــآیت خیر دی.

ــــخپله لاره شه زه نځم.

ـــ افففف خپله پوهیږې پرته تانه مور ماته اجازه نه راکوي!

ــــبیا مه ځه !!

سارا نوری څه ونه ویل غوسی سره لاره ...

څو ورځې ، سارا ټول خبری د تپې په اړه کولی او زه پوهه شوې وم چې د هغې زړه غواړی هلته لاړه نشې نو پریکړه مې وکړه تر څو هلته لاړي شوو ترور څخه می هم اجازه اخستی وه خوو غوښتل می سارا پعذاب کړم.ډوډی وخوړل شوه خوو سارا خفه وه جمال راغی سارا حیرانه شوه وویل: سلام لالا دلته څنګه راغلې؟

– علیکم سلام آیت خبر رالیږلی وه ماسره کار لري!

ــــسلام جمال ښه راغلی.

ـخوشحاله اوسی .

ـــ جمال که په زحمت کیږي ناا څو ساعته بن (باغ ) ته پام کوي؟

ــــخیرتی ده؟

ــــمورِ تپه  ته ځوو څوک نشته باغ که پاتي شي!!

ــــتاسو لاری شی زه دلته یم.

سارا وویل: مور می څه و نه وایي مورِ خو اجازه اخستی نده !

ــــمه اجازه اخستی ترور څخه هغوی ماته اجازه راکړئ ویلی راته کومه ستونزه نشته  کولی شي  لارشی ،

ـــ رښتیا وایي؟

ــــهوو

سارا په منده راغله غیږي ونیولم

ـــ سارا پریږده مګر نپوهیږی دکارونو می بد راځي؟

ـــــــهههههههه نی کوم

ــــ ښه ده بیا تپه هم نشته !!

زما په خبری سارا ژر خوشی کړم او ویې ویل: لیونی ولی غوسه کیږي صحت ته دی ښه نده !

ــــجمال دا جلی کله غځیږي؟

جمال په خندا وويل: فکر نکوم هغه ورځ به راشي .

ما هم په خندا وويل:  موافقه يم درسره.

سارا زمونږ خبري  تکرار کړي مګر  جالبی څهرو باندی

سارا- فکرنکوم هغه ورځ راشي هههههههه! موافقه يمه!

د سارا پد کار مې بېحدزيات وخندل او وروسته د سارا د پعذاب کولو د تېپي پخوا راواني شوو ، بلاخره تېه ته ورسېدو همدا څه ورسېدو تېپي ښکلا کی ډوبه شوم!

دومره ښايسته حتا کلماتو کي توصيف کولی نشم  !

يوه ديره  جګه  تپه  ، شاوخوايی شنه،  ډومره لوړه تپه وه انسان فکرکاوه وريځو ترمينځ الوزي ، کله چې تپي لاندی ګوري  يوه ښکلي سمندر شاوخواکي ګلان،  ونې  ښايستی انسان سترګو مخته دريږدی،

#آيا زيبنده نيست همچين نقاشي را ؟

الحق که پرسيتدنی  و ستودنی است !

د تپي سرته لارم ژوره ساه می واخسته سترګي مي پتي کړي

کلځه می سترګي پتي کړي احرار می يادته راغی!

نوري می سترګي لوڅي نکړي پتو سترګو می تماشا کوله هغه تپي ناا دوه چنده ښايسته وه ! کاشکی کيدی په پتو سترګو می آخر عمره پوري  هغه می ليدلی شوو !

لاس زما په اوږده کيښودل شوو زه وخوځاولم

ـــــآيت، آيتتت.

سترګي مي  خلاصی کړي

ـــ هاا

ـــځه شوي؟  ته ښه يی ؟

ـــهو ښه يمه

ـــبيا ولی ژاړې؟

لاس می مخته ويسی، خدايه دا اوښکي کوم ځايه شوي؟

ـــما يوازي څو ثانيه می سترګي پتي کړې!

ــــڅو ثانیه ؟ نیم ساعت کیږي سترګي دي پټي کړي او ژاړي دومره ډوبه شوي وی څو ځلي می درته غږ وکه تا غږ نکوه!

دا څه وايي؟ خدایه داسي نا زه لیونی شوی یمه خپله نپوهېږم؟

سارا زما سوچونه ترمینځ راغله وویل: احرار ته دي فکر کوه همداسی ده ؟

بیا می سترګي اوښکو څخه  دګی شوي خو پر شونډو می مسکاه میلمنه شوه،

ج سارا پوهیږی د تپه ښکلا احرار ښکلا کي هیڅ ده زما احرار دومره ښایسته ده هیڅ کوم شی هغه مخکي برابري کولی نشی!!

سارا ژوره ساه واخسته

ــــآیت یو څه ووایم ؟

ـووایه!!!

– احرار ستا څه کیږی؟

ــــمګر نپوهیږی؟

ــــته جواب راکه !

ــــډیر ښه ملګری

ــــخو زه څشي څه ګورم ملګري نده!!

ــــمطلب دی ؟ ملګرتیا نده بیا څه ده ؟

سارا څوشیبې په ځیر ځیر راوکتل

ــــمینه ده !!!!

مینه! مینه! مینه!

دا خبره څو ځلي سر کي مې تکرار شوه،رښتیا زه خپل زړه کي احرار ته څه احساس لرم نپوهېږم؟

– بیځایه خبري مکوه سارا! کومه مینه موږ یوازي ملګري وو !

سارا- څومره نور غواړي ځان ته دوکه ورکړې؟ ماته بیعقلی ګمان مه کوه؟ آیت شپږه میاشتي تیری شوی، شپږ میاشتی خو هر ځلی د احرار په یاد ستا د سترګې د اوښکو ډکي شوې، ګ داسي احرار په یادونو کي ډوبه کیږی چې نړی درنه هیریږی؟  ته احرار لپاره دي خپل ځان هم هیره وی.

سارا داحرار دا خوښيږي...

سارا د احرار دا نخوښيوی...

سارا احرار دا کار کوه....

سارا احرار دغه کار نکوه....

احرار ! احرار!احرار...

هره لحظه، هره ثانیه یوازي همدا نوم ستا پرشونډو دي احرار... احرار ... احرار....

آیت دا که مینه نده نو څه شې ده ؟

غلی شوم ویلو لپاره می څه ندرلودل....

غلی شوم ځکه هغه حیقیت پرخولی را نه ورې! هغه حیقیت ، ربښتیا چې کله یوازي شوم فکر می ورته نکوه اعتراف می نکوه خوو سارا دومره ساده لکه اوبو څلکو غوندي خولی ته راورل...

هو ماته احرار ملګري ناا راته مخته دي !

مه احرار لیونیو په رقم عبادت کوه !

که دا نوم (مینه ) وي بیا زه تر حده کفر (احرار سره مینه لرم )!!!!

سارا یوازي پریښودم او لاره ....

ومی ژړل ، جګ غږ می چیغی وکړي احرار می وغوښته دومره می چیغی وکړي احساس می کوه ستونې مې زخمی شوه

اسمان هم زما پشان وه ماسره یوازي ژړل او فریادی کوه ..

دواره یوځاي ژړل ! خپلي زړه تنګوالي لپاره دومره می وژل! تنهایی لپاره می وژل! هغه ورځ می یوازي وژړل !

احرار ربښتیا ویل اعتراف ډیر سخته دی، خوو نن مه اعتراف وکه ! مینه اعتراف چېچ یو خوا حرکت کیدی! لومړې ورځی پوهیدم احرار ماته حرام دي همدی لپاره حتا یوازي چې وم ذهن کي می ورته فکر نکوه خوو دي زړه سر څه وکړم زما خبره نه اوري؟ یوازي څه چې غواړي هغه ته غوږ نیسي...

#دوست دارم که خودم را ز خودم دور کنم

خود من با خود من در خود من میجنگد.

هغه شپه تر سهار په تبه کې وسوځېدلم داسې لکه چې د دوزخ اور زما پر بدن ښور شوې وې. خو ما د دی سوځېدو سره عادت کړې وو، میاشتې، میاشتې کېدل چې زه داسې سوځېدم پدی اور کې سوځېدل چیرته او د

مينې په اور کې سوځېدل چيرته!

سترګي مې خلاصې کړې بېحد د تږې احساس مې درلود چې خاله مې ولېده هغه ژر زما خوا ته راغله.

حليمه- آيت ښه يې لورى؟

— ښه يم خاله جانې.

حليمه- کوم شې ته اړتيا لرى لور جانې؟

— اوبه...

خاله په تلوار د اوبو ګيلاس زما لاس ته راکړو خو همغسې انديښمن نظر باندې راکتل.

— خاله زه ښه يم باور وکړه.

حليمه- د خداى شکر چې ښه يې لور جانې زه دې و ډاره کړم.

— مه وېرېږه خاله يوازى يو معمولى تبه وه.

خاله- لور جانې ولې ناڅاپه مريضه شوى؟

— نه پوهيږم شايد د باران لاندى وم يخ وهلې يم؟

حليمه خاله په تاسف باندى سر وښوره وو او ويې ويل: زه تاسو دواړو سره څه وکړم؟ ته آرام وکړه زه درته ګرم سوپ راوړم.

د سوپ د خوړلو حال کې وم چې د سارا دروند نظر مې خپل پر ځان احساس کړو.

— څه شوى؟

سارا- ښه يې؟

— هو ښه يم.

سارا- درسته شپه په خوب کېدى خپل مور او پلار ته غږ کولو او ژړل دى.

خاموش شوم چې سارا بياوويل: البته يو بل نوم دى هم بېحد زيات تکرار کولو.

— د چا نوم؟

سارا— احرار....

د زيات شرم څخه مې سر ښکته واچو او خاموش شوم چې سارا زما لاسونه ونيول او ويې ويل: ايت ضرورت نشته و شرميږى تا نه غلا کړې او نه دى هم سوک وژلى ته يوازى مينه شوى يى او بس نو خپل سر پورته ونيسه.

– سارا دا موضوع دی زمونږ دوارو مینځ کې اوسیږی سمده؟

سارا د دلداری راکولو په انداز وویل: ستا راز زما راز دی ایت...

***

نن یو کال او دوه میاشتې زما د راتګ و دی کلي ته تېر شوی، کار مو په باغ کې ژر خلاص شو او د سارا سره یوځای د کور پخوا روانه شوم همدا چې کور ته ننوتلو د څو ښځو سره مخامخ شوم او خاله په تلوار زمونږ خواته راغله او مونږ یې د آشپزخانی خوا ته واستولو ترڅو چای راوړو.

سارا دا ښځې څوک دی؟ –

سارا- یو یې د آصف خان مېرمن ده، او هغه دوه نورې یې لوڼې دي، دریا او میسره. خو هغه درې نورې ښځې نه پېژنم.

کوم آصف خان؟ –

سارا- همغه آصف خان چې زمونږ د څنګ باغ خاوند دی.

هماغه آصف خان چې په جرګه کې و؟ –

سارا– هو، هماغه دی.

– ښه، ولې راغلي دي؟ مخکې مې هغوی دلته نه ولیدلي.

سارا– نه پوهېږم، زه هم حیرانه یم.

– په هر صورت، ژر چای تیار کړه کنه حلیمه سلطان به مونږ دواړه هغه بل دنیا ته ولېږي.

مونږ دواړو وخندل او وروسته له څو شیبو د چای سره خونې ته ننوتو. ټول ډېر په غور مونږ ته کتل لکه مونږ د بلې سیارې اوسېدونکي یو. تقریباً څو ساعته د هغوی او خاله حلیمه له کیسو سره تېر شول چې یوه له هغو ښځو وویل: حلیمه جان، چای مو هم وڅښله، اوس خو زمونږ خوله هم خوږه کړه چې لاړ شو پخیر.

حلیمه خاله مونږ دواړو ته راوکتل او ویې ویل: فریبا جانې سبحان زما خپل د زوی پشان دی راته با غیرت او با حیا زه هېڅ ستونزه نلرم خو باید خپل د لور نظر هم پوښتنه وکړم.

فریبا- حلیمه جانې کله چې پریکړه وکړې لورګانې دی وربانده د خبرو کولو حق نلری، او هو کوم ځای کې تا لیدلی چې د جنۍ څخه د هغه د میړه په اړه پوښتنه وکړی؟

اوس پوهه شوم دوی د سارا د غوښتلو لپاره راغلې وه خپل ستونې مې صاف کړو باید خبری مې کړې وایې دا څه معنا چې د انجلۍ څخه پوښتنه نشې کولې او خوښ او ناخوښ نشې ویلی؟

– خاله ولې باید د انجلۍ څخه پوښتنه ونشې؟ مګر د همغه جنۍ د ژوند خبره نده؟

حلیمه خاله زما د خبری د تایید لپاره وویل: فریبا جانې ایت سم وایې ږور او زماني بدلون کړې د اوس وخت انجونۍ تعلیم یافته او هوښیاری دی او خپل بریکړه کولې شی.

فریبا زما خوا ته راوکتل او په طعنه امیز توګه یې وویل: رښتیا وایې حلیمه جانې زموږ د وخت انجونۍ چیرته وه او د اوس وخت انجونۍ....

— په هر صورت اخری پریکړه د سارا ده او هېڅوک حق نلري د هغې د ژوند په اړه پریکړه وکړې.

ناڅاپه، ټولو یو له بلی سره خبرې پیل کړې، او یوه له هغو ښځو څخه چې زیات په حیرانتیا کې وه وویل:

– حلیمه، خوږ، تر اوسه پورې دی ویل چې،د لور نظر راته مهم دی،اوس یې خور پرېکړه به نیسې؟

همغه ښځې چې فریبا نومېده ماته مخ کړه

—انجلۍ جانۍ چې خپله پریکړه نشې کولی نو ولې دی خور باید  پریکړه وکړي؟ مګر دی کور مشره لور سارا نده؟؟

په حیرانتیا مې وویل:

آیت- البته، چې ساره باید د موضوع په اړه پریکړه وکړي. د هغه ژوند او راتلونکی دی!

د ټولو په مخ باندی حیرانتیا زیاته شوه

— سارا؟  زما په اند غلطه پوهه شوی یې، موږ د آیت د مرکې (خاستګاری)لپاره راغلي یو، نه دی ساره لپاره!!!

دی څه وویل؟؟د چا لپاره مرکه (خاستګاری) کوی؟؟آیت؟؟؟؟حلیمه ترور هم حیرانه شوه

حلیمه- آیت؟

—هو، حلیمې، رښتیا زما زوی آیت لیدلی او خوښه یې کړې ده که ته رضایت...

دومره مې  غوسه زیاته شوه چې ما په خپلو کړنو کنټرول نه درلود او اجازه مې ورنه کړه چې خپله خبره پای ته ورسوي.

آیت- نه، زه رضایت نه لرم او هیڅکله به ونه لرم!واده لپاره زه هیڅ پریکړه نه لرم

زموږ مېلمانه یاست، .......خو دې کور ته په بل عنوان باندې مه راننوځې!

د خبرو پای ته رسولو وروسته، زه پاڅیدم او مستقیم تپی ته لاړم، او ساره زما په تعقیب راغله

ساره- آیت ښه یې؟

آیت- ښه نه یم، ساره، دا نو څنګه جرائت دی؟ دوی په کوم حق دې موضوع سره کور ته راننوځي؟

ساره- آیت، ارام شه! اصلاً ته ولې غوسه کیږې؟ ګوره، ته یوه ځوانه نجلۍ یې، ولې طبیعي نه ده چې دوی تا

باندې مرکه وکړي؟؟ دوی خو تا اوس په زوره نه وړئ دوی یوازې مرکه وکړه!

آیت- ساره، دوی حق نه لري چې ما باندې مرکه وکړي، دوی په کوم حق مرکه  کوي؟

ساره- ته احمق یې تر څه وخت پورې د احرار په پښو کې ځان اچوې؟

غلی شوم.

ساره- ایت مه کوه داسې! افسوس په دی ځوانۍ مه کوه؟ احرار له بل چا سره مینه لري، ته ترڅو د هغه له یادونو او خاطراتو سره ژوند کوئ؟

آیت- تر څو چې خدای زما روح زما بدن څخه نه وی ویستلې! تر څو چې د وینې وروستی څاڅکی زما په زړه کې وي او تر څو مې دا زړه  درزیږی!!!

ساره یوازې راته کتل داسې لکه د الفاظو د ویلو توان له لاسه ورکړی وی، تپه ماته سکون راکولو، شاید دې تپې ښکلا کې د احرار ښکلا وینم!

بې له څه ویلو مې خپلې لارې ته دوام ورکړ تپی ته لاړم او د تل په څېر په هماغه تیږه کیناستم او اوښکې مې تویولې او ځا  سره لګیا شوم: حرار سارا پوښتنه کوي چې ولې واده نه کوې؟کله چې زما روح ستا په بند کې وی نو زه څنګه کولې شم واده وکړم؟هغه نه پوهیږي چې آیت ستا ده! په دې ځوانۍ د افسوس ځای نه دی؟ ؟هو! کومه ځوانۍ؟ګورې چې زه دی څنګه رسوا کړمه؟ ګورې چې زه په کوم حالت ته رسیدلې یم؟ ګورې چې آیت کوم ځای ته رسیدلی؟مګر پوهیږئ چې دا څه دي؟ زه ستا په لاره کې د هر څه څخه ډیر مینه لرم!

احرار، زه ستا غم به یو زره د نړۍ په ټولو خوښیو بدله نکړم! زه ستا یادونه د یوې شیبې لپاره د ټولو حقایقو سره به  بدل نکړم! احرار، یوازې ستا یادونه زما د ټول عمر د ساه اخیستو  لپاره کافي دي! مېرمن فریبا څو ځلی بیا مرکه راغلل، خو زما له سخت مخالفت سره مخ شو حلیمه ترور هم دې اړیکې ته ډېره لیواله وه، خو بیا هم هغې زما ملاتړ وکړ!له هغې ورځې وروسته ساره هم د واده خبره نه کولې او برعکس تل زما تر څنګ ولاړه وه! ورځې په اونیو او اونۍ په میاشتو او میاشتې په کال بدلې شوې

#دوه کاله بعد!!!!

هو، دوه کاله کېږي چې دی کلي ته راغلی یم، دوه کاله کېږي چې  احرار له لیدو تیر شوی.دوه کاله تېر شو او ما هره شپه به مې د هغه په یادولو د بالښت سر کېښود او سهار به مې د هغه په یادلو له خوبه پاڅېدم دوه کاله لري والې، چې په ظاهره کې دوه کاله ښکاري، مګر زما لپاره دا د زرګونو کلونو په څیر و په دې دوو کلونو کې مې د احرار په اړه لږ هم خبر نه درلوده،ریشتیا ډېر خلک کابل ته تلل او  راتلل، خو ما دې جرائت نشو کولې چې له یو چا دی احرار  پوښتنه وکړم! حلیمه ترور او ساره پرته، هیڅوک نه پوهېدل چې زه څوک یم، حتی جمال، ثنا او سحر چې د ساره تر ټولو ښه ملګري وو!د حلیمه ترور او ساره څخه ډېره مننِدویه یم،  دوه کالو په تیریدو مورې د یوې کورنۍ په څیر وو..

ما هیڅ د کمبودی احساس نه دی کړئ، حلیمه ترور راته مورتوب وکړ او ساره راسره خورتوب وکړ!

ساره- آیت آیتتتتتتتت

د سارا غږ زه د دې دوو کلونو له یادونو څخه راوویستم

آیت- ته ولې چیغې وهې؟

کله چې مې د ګاونډي زوی سیاوش ولید، چې شاوخوا اته کلن و، نو پوه شوم، چې دا حلیمه ترور رالیږلې دی ځکه کله چې به ساره په کور کې نه وه، نو تررور به سیاوش رالیږه.

—سلام آیت تروری

آیت-ع سلام ګرانه

حلیمه وویل: ژر کور ته راشې.

ساره د پریشانې په توګه ماته راوکتل او وویل: سیاوش جانه کور کې خیرت وو.

- هو، ساره ترور خیریت وه.

ساره- نو ولې بي بي جان وویل چې باید موږ زر لاړ شوو کور ته

سیاوش خپل اوږه د نه پوهیدو په څیر وښورول

ساره زما مخکې نور خبرو کولو لګیا شوه

ساره- څه به شوی وي؟ ولې مور موږ زر وغوښتو؟

آیت- د اوس لپاره، راځه کور ته لاړ لاړ شو،کور کې به پوه شو څه چل شوي!

د سیاوش سره موږ دری واړه د کور په لور روان شو، کور ته ورسیدو، خو ترور په کور کې نه وه

آیت– حلیمه ترور

ترور له حویلی څخه غږ وکړ

حلیمه- زه دلته یم!

له ساره سره یوځای حویلی ته لاړم

- سلام

حلیمه- علیکم سلام پخیر راغلې؟

- صحتمنده اوسئ، څنګه دی موږ د راوغوښتلو خیرت دی

حلیمه- هو خیریت دی نن شپه میلمانه لرو!

ساره په حیرانۍ پوښتنه وکړه

ساره- څوک راځي مورې؟

حلیمه- فرهاد ماما زوی دی راځي!

سارا په خوښۍ سر وویل:

ساره- رښتیا وایې مورې فرهاد لالا راځي؟

حلیمه- هو

ساره- وایییییی خدایه، شکر

حلیمه- ښه، نجونو، زر شه، مورې ډیر کار لرو!

آیت– حلیمه سلطانه زه څه وکړم؟

حلیمه- آیت جانۍ ته بازار ته لاړ شه

آیت- په سترګو هر څه ته چې اړتیا لرئ راته ولیکئ

ساره وویل:

ساره- ما هم له ځانه سره ویسه

آیت- اړتیا نشته ته د حلیمه ترور سره مرسته وکړه، زه سواده اخلم زر بیرته راځم

ساره- خیر دی، آیت خیر دی څه کیږي؟ ما هم له ځان سره ویسه؟

حلیمه ترور وویل:

حلیمه- پرېږده آیت جانۍ چې لاړه شي

آیت- خو ته ترور......

حلیمه- لورې پرېږده، کنۍ ستا دی راستانیدو پورې به ما لیونی کړي، او همداسې مې هم کار زیات دی!

ساره ته مې مخ کړ او ومې ویل:

آیت- که په پنځو دقیقو کې رانغلې زه درنه ځم

ساره په خوشحالۍ خپلې کوټې په لور لاړه او بیا د سودا لیست اخیستو وروسته د بازار ته لاړو

شاو خوا یو ساعت تیر شو

ساره-آیت ختم شو؟

آیت- نه

ساره- اوفف ستړی شوم!

آیت- اوبخښه زما شهزادگۍ،غواړې چې روان تخت دلته درته کیدم؟

ساره په مسخره ډول وویل:

ساره- هههههه زیات مې وخندل!

بلاخره سودا پای ته ورسیده

ساره- آیتت آیتتتتتتت

آیت- څه وشو؟

ساره- هلته وگوره ایسکریم!خیر دی زما لپاره ایسکریم واخله!

آیت- زیات ناوخته شوي،ترور ځانته ده بیا درته کوم بل ورځ واخلم،سمه ده؟

ساره- نه،ترڅو چې ما ایسکریم نه وی خوړلې زه نه ځم!

لاس مې د پریشانۍ په څیر په سر کیښود ومې ویل:

آیت- ساره مگر ته ماشومه یې؟

ساره-  زه آیسکریم غواړم!

ساره کله کله د ماشوم په څېر ضد کاوه، پوه شوم چې بحث بې گټې دی، له همدې امله د هغې لپاره د آیسکریم اخیستلو ته ورغلم، کله چې مو ثنا او سحر مخ شو، سلام مو وکړ،چې ثناء وویل:

ثناء- څنگه باغ ته نه یې تللې؟

ساره- نن شپه مېلمانه لرو، باید له مور سره مې مرسته وکړو

ثناء- څوک دی؟

ساره– فرهاد لالا!

ثناء  په چټکۍ سره وویل:

ثناء- رشتیا وایې؟ فرهاد له کابله راغلې؟

ساره- هو، نن راغلو!

ثناء یوازې سر وخوځاوه او نوره غلې پاتې شوه، له څو شېبو وروسته خدای پامانې وکړ او دواړه لاړل او موږ د آیسکریم اخیستلو وروسته کور ته لاړو، خو ترور ډېر کارونه سرته رسولي وو! فرهاد لالا ډېر ښه هلک و، مخکې هم څو ځلې د حلیمې ترور او ساره د لیدلو لپاره بدخشان ته راغلې وو او همدې امله مو یو بل سره پیژندګلوی شوی وه حلیمه ترور او ساره له ټولو نه د فرهاد لالا سره مینه لرله او تل به یې په اړه خبرې کولې! بالاخره شپه راورسیده او هر څه چمتو شول، کله چې د دروازې زنګ وهل شو موږ ټول د هغه ښه راغلاست لپاره دروازې خواته ورغلو.

ساره لومړی دروازه خلاصه کړه او ځان یې د فرهاد په غیږ کې واچوله او ژرا ته یی پیل کړو او ویې ویل: لالا، زړه می ډیر درته تنګ شوی وو درته.

فرهاد د سارا سر ښکل کړو او ویې ویل: زما خوری زما هم دیر یادیدلی.

سارا- چی زړه دی راته تنګ وو نو دا یو کال چیرته ویی ؟

فرهاد- ما نشو کولی ګرانې راسم دیر کارونه می درلود، مګر وګوره اوس خو راغلی یم

سارا- ریښتیا، سنګه وو ماما جان میرمن ماما تول ښه وو ماما ارشاد او کورنی هغه هم هم تول ښه وو؟

خاله وویل: انجلۍ، اجازه ورکه چی راشی ، زما زوی ستړی شوی دی.

ساره ژر وویل: لالا زه بخښنه غواړم راشی دننه.

د سلام او ستړی مشی کولو وروسته، موږ ټول دننه لاړو کیناستو چی خاله وویل: انجونو اول ډوډی تیار کړې چې وخورو وروسته بیا قصی کو لالا مو ستړي دی.

سارا- په دواړو سترګو موږ جانی

ډوډۍ وخوړل شوه او د چای وخت شو.

خاله- فرهاد زویه، په کور کې تول ښه وه؟

فرهاد- شکر عمه جانی ټول ښه وه سلامونه یی ویل.

خاله- علیکم سلام د کاکا ارشاد څخه دی احوال لری ، ښه وه ؟

فرهاد- هو څو ورځې وړاندې راغلی وو شکر ستاسو د دعاګانو سره ښه وه.

خاله- زویه، ته څنګه بدخشان ته راغلې؟ ستاسو مور وویل چې ستا کارونه ډېر دی.

لالا فرهاد هو په توګه سر وخوځاوه او ویې ویل: اوس هم دلته د کار لپاره راغلي یم

خاله- د کار لپاره؟

فرهاد- هو.

خاله- څه کار زویه ؟

فرهاد- د خپل ریس زوی سره راغلی یم.

مورې ټول ذهن ته سوال راغی چې ساره وویل: لالا ستا د ریس زوی دلته څه کوي؟

فرهاد- پلار یې غوښتل چې زوی یې داسې ځای ته ولاړ شي چې هر څه یې هېر شي او ما هم دا ځای ورته پشنهاد ورکړو هغوی هم ومنل او راغو.

دا ځل ما وویل: هغه باید څه هیر کړي؟

فرهاد- پرېږده کیسه یې اوږده ده.

— مورې هم ډیر وخت لرو.

لالا فرهاد ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: زما د ریس زوی څو کاله مخکې له یوې نجلۍ سره کوژده وکړه، خو هغه نجلۍ وتښتېده

دا هلک یی پریخودل او دا هم له هغه وخت راهیسې یوازې د هغې نجلۍ په لټه کې ده، خو هېڅوک له هغه خبر نلری ، لکه څنګه چې اوبه شوی ویی او ځمکې ته ننوتلی وی.

— نو دا نجلۍ ولې وتښتېده؟

فرهاد- زه هم حیران شوم، دا هلک دیر ښکلی دی دیر پیسه دار هم دی، خو خدای مه کړه چې پیدا یې نه شي، ځکه که یې نجلۍ پیدا کړه، فکر نه کوم چې ژوندي به یې پرېږدي؟

زړه مې هغه نجلۍ ته خفه شوو او هغه ورځې مې را په یاد شوې چې ما باندې تیر شوی وه ، اصلان دا سنګه مینه ده یو عاشق سنګه کولای شي خپله مینه ووژني؟ آه خدایه، تاسو ګورئ چې د مینې سپیڅلی نوم څنګه بدنام کیږی؟

فرهاد- خو پلار یې نور د خپل زوی غم نه شو زغملای، نو له ما څخه یې وغوښتل چې داسې ځای ته بوځم چې هر څه یې هېر ش.

ما هم وویل کوم ځای بهتر له بدخشان نه.

خاله وویل: ښه دی ورکړل زویه نو اوس ستاسو د مشر زوی چیرته دی؟ ولې له ځان سره  دی رانوړی؟

فرهاد- عمه جانی ریس می چی خبر شوو دی کلي ته رازم او د هغه زاړه ملګري په دې کلي کې اوسیږي هغه ته یی زنګ ووهل او زامن یې هم د هغه د ملګري کور ته لاړل.

ساره وویل: زامن یی ؟ مګر څو کسان دی؟

فرهاد- دوه.

خاله حلیمه وویل: ستاسو د ریس د ملګري نوم څه دی؟

فرهاد- اصف خان.

حلیمه- اصف خان؟

فرهاد- هو، اصف خان، تاسو یی پیژنې؟

حلیمه- زویه دا یو کوچنی کلی دی، دلته ټول یو بل پیژني.

لالا فرهاد سر وخوځاوه، او نورڅه یی ونه ویلی شپه تیره شوه تول د خوب دنیا ته تللی ولارو.. دوه اونۍ تېرې شوې چې لالا فرهاد بدخشان ته راغلی وو، د ورځې یی د خپل ریس زامن د بدخشان چاپېریال لیدو ته وړل او شپې له موږ سره تېرول

عجیبه خوبونه مې لیدل او د دې خوبونو لیدل زما زړه په ګډوډۍ کې ډوب کړو.

لکه چې یو ارزښتمن څیز مې له لاسه ورکړی وي، خو د تېرو څو ورځو ګډوډ خوبو په کتو نن ډېر ارام وم، سترګې مې وتړلې او د اوبو اواز مې اورېدل

تازه هوا زما پوزې ته یو خوندور بوی راوړې چې د سحر غږ راغی.

سحر- آیتتت سارااااا

ما خپلې سترګې خلاصې کړې او د دوی په لور لاړم کله چې ما ولیدل چې دوی دواړه له سارا سره خبرې کوی چې زما په لېدو ثنا وویل: سلام آیت سنګه یی ښه یی؟

— علیک سلام شکر دی خپله ښه یې سکینه خاله سنګه ده ؟

ثنا- شکر هغه هم ښه ده مننه ژوندي وسیو

ساره وویل: څنګه مو موږ در یاد شو؟

سحر- د دریا دیدن ته تللي وو، بیا موږ وویل چې تاسو هم وګورو.

دریا د آصف خان وړه لور ده او ویلی شم چې هغه د دې کلي تر ټولو ښکلې او نازولي جلی ده، او په عین حال کې د ثنا ملګرې هم وه دریا دیر ملګري نه درلود خو تولو غوښتل دی سره ملګري وسی خو دا دومړه مغروره وه چې هیس سوک یی خپل د ملګرتیا لایق نه لیدل

— شهزادګی دریا څنګه وه ؟

ساره هم د دریا د ډیر غرور نه بیزار شوي وه.

سحر- هو ښه وه که رښتیا ووایم بی حد ښه وه.

د سحر په دی خبرې زه او ساره حیران پاتي شوو او ومو ویل: هغه نو څنګه؟؟

سحر- داسې مه وایست چې خبرونه مو نه دی اورېدلی!!

– کوم خبر؟

سحر- تاسو ټوله ورځ او شپه په دې باغ کې تېروې، له هر څه نه ناخبر یاست.

ساره په بي حوصله ګي وویل: اوووف سحر وایی که یا ؟

سحر خپل غږ ښکته کړو او ویې ویل: د کابل د هغو مېلمنو په اړه به مو اورېدلي وي چې له لالا فرهاد سره راغلي وو؟

سارا- هو، لالا فرهاد وویل.

سحر- نو ایا تاسو دوی لیدلي؟

ساره او ما یو بل ته وکتل نه او بیا ما وویل: نه موږ هغوی ندی لیدلی.

سحر- آیت، دواړه ورونه ډېر ښکلي دي، خو مشر ورور!!! واه، ساره دومره ښکلې ده چې پوښتنه مه کوه، هغه د (سپوږمۍ) په څیر ده، حتی د سمندر ښکلا هم د دی ښکلا څخه هیس نده.تاسو باور کیږی چی دا دومره ښکلی دی؟

ما د هغه هلک لپاره ښه احساس نه درلود ځکه چې لالا فرهاد ویلي وو چې دوی که هغه انجلۍ پیدا کړی نو وژني، دا څنګه مینه کیدی شي؟ زه د هغو خلکو څخه کرکه لرم چې د مینې مقدس نوم څخه غلط استفاده کوي.

ما په جدي توګه وویل: سحر بده ده، د خلکو د زوی په اړه داسې خبرې مه کوه.

سحر- اوووف، آیت خدای دی د خپل مالک لپاره وساتئ، غواری اصلي کیسه واورئ؟

– نور څه شوي دي؟

سحر- میرمن دریا همغه مغرور جلی چی حتا سوک یی خپل د یو نظر لایق نه لیدل اوس لکه د لیونی پشان په هغه هلک باندي مینه شوي ده.

له حیرت څخه په ډک غږ ما او سارا وویل: څه شې؟؟؟

سحر- هو په ولا چی همدا رقم خبره ده.

ساره وویل: آیا ته هغه زموږ مغروره دریا ښایې؟ نه دا نا ممکنه ده...

دا ځل ثنا مخکی شوه او ویې ویل: ما هم له شاوخوا څخه واورېدل، خو باور می نه راتی، له همدې امله د دریا لیدو ته لاړم چې د دې خبرې حقیقت معلوم کړم خو داسې درواغ نه وو، دریا د هغه هلک د لیدو سره داسې بی اختیاره شوی وه چی هیس پوښتنه مکوه دا رقم هغه هلک ته کتل چې هر لیدونکي یې کولی شي د دریا مینه ووینې.

ما په په بی صبرې سره وپوښتل: هغه هلک څنګه ؟

ثنا- هغه هلک په بله نړۍ کې روان و، حتی د دریا کتلو ته هم پام نه وو.

سحر ادامه ورکړه: که ما په خوب کې هم داسې څه لیدلي وای، باور به مې نه کاوه، خو نن دریا رښتیا هم د هغه هلک په مینه کې ډوب شوی و، خو هلک یو ځل هم ورته ونه کتل، داسی لکه چی دریا هلته بیخی شتون نه لری.

– زه باور نشم کولی.

ثنا- په کلي کې هر څوک د دوی په اړه خبرې کوي، عجیبه ده تاسو ندی اوریدلی.

ساره ژوره ساه واخیستله او ویې ویل: موږ په دې باغ او کارونو بوخت یو، له دنیا نه خبر یو.

ما هم ژوره ساه واخیسته او ومې ویل: ښه ده چی نه یو خبر، دا خبری بس کی د هر چا ژوند په خپل ځان پورې اړه لري، په هر حال کې د نورو تر شا خبرې کول ښه کار نه دی.

ثنا غوسه شوه او ویې ویل: افففففف موږ خو څوک ندی وژلی یو څو دقیقه مو خبری وکړې.

– ثنا که ته د دریا پر ځای ویی، ایا ستا تر شا څوک ستا پر اړه داسې خبرې وکړي؟بل مینه د یو چا په اراده کې نه ده، نو دریا ګناه نشته.

ثنا- سمه ده، پروفیسر صاحب، بیا مه شروع کوئ.

ما په خواشینۍ سر وښوراوه، ثنا او سحر لاړل او موږ هم کور ته لاړو، شپه شوه، ډوډۍ وخوړل شوه، لالا فرهاد وویل: عمه جانی موږ به یوه یا دوو ورځی بعد کابل ته ځو.

سارا په خواښینی سره وویل: ولې ځې، لالا، مه ځه.

فرهاد- د لالا خوږې خپله خو پوهیږئ چې پریکړه زما په لاس کې نه ده او د حیرانتیا خبره دلته ده چې هغه په دې څو اونیو کې دلته څنګه طاقت راوړی؟

خاله حلیمه وویل: هر څه چې مو په خیر ویی زویه.

بله ورځ له ساره سره غونډۍ ته لاړو، دې غونډۍ زما په رګونو کې یو عجیبه سکون راښکاره کړ، سحر، ثنا جمال او د جمال خور یاسمین هم راغله، خو کله چې موږ ننوتلو، سبحان او دریا سره مخامخ شو.هیڅ کله می دی خور او ورور څخه خوښ نه راتله، تل د غرور نه دک وه د دریا بی حد مغرور او د سبحان دا ځېر کتل د زغم وړ نه وه د دې دوو کلونو په اوږدو کې، زما د اعتراض سره سره، سبحان بیا مرکه راستولو ته دوام ورکړ، تر څو یوه ورځ چې زه باغ ته روان وم، زما لار یې ونیوله.

— ایت...

شاته راوګرځېدم د سبحان سره مخامخ شوم .

سبحان- سلام.

— علیکم سلام.

سبحان- ایا مورِ کولی شو خبرې وکړو که تاسو وخت لرئ؟

— اورم.

سبحان- دلته؟

— هو همدلته.

سبحان ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: آیت ...........هه هغه ...

— اصلي موضوع ته ځه، زه کار لرم، زه باید ژر لاړه شم.

سبحان- ولې زما مرکه نه مني؟ زه څه کم لرم ؟ موټر،کور، ښکلا، پیسې څه شی کم لرم ؟

— ته هیڅ کمی نه لرې خو زه نه غواړم واده وکړم.

سبحان- زه به ستا انتظار کوم، هرکله چې ته تیار شې واده به وکوو.

— هیڅ اړتیا نشته ځکه چې زه هیڅکله واده نه کوم، ته هم ښه دی خپل ژوند ته ورسیږې .

زما د خبرې پای ته رسیدو وروسته ما غوښتل چې لاړه شم، خو هغه زما مخه ونیوله او ویې ویل:ماته وګوره آیت.... زه تا سره مینه لرم، ته ولې نه پوهېږې؟ له لومړۍ ورځې راهیسې چې ما په جرګه کې ته ولیدلی تاسو زما له ذهن څخه نه وځی، زه له ستا پرته ژوند نه شم کولی.

ما په غوسه وویل: اول خو ته څه حق لرې چې زما نوم په خپله ژبه وکاروه؟ دوهم، زما په ژوند کې ستا د مینې لپاره ځای نشته، خپل وخت مه ضایع کوه او خپل ژوند ته لاړ شه، زه ډاډه یم چې هیڅ نجلۍ به تا رد نه کړي او دا به وروستی ځل وي چی تاسو زما مخه نیسي.

ما د هغه خبرو ته نور غوږ ونه نیوه، خو هغه زما له شا څخه چیغې وهلې.

سبحان- لاړ شه، مګر پوه شه چې زه له تا سره مینه لرم او زه به د خپل ژوند تر پایه له تا څخه لاس وانخلم.

زما د لاس په خوځه ولو سره زه د هغې ورځې له فکر څخه راووتلم.

سارا- ایت.

— هاا.

سارا- چیرته غرق یی راځه چی سترې مشې وکوو.

– ساره، ته لاړ شه، زه نه ځم.

سارا- آیت بد ده ولا چی بد ده.

– زه نه ځم، پخپله لاړ شه.

سارا- ما وویل واده ورسره وکه ؟ یو سلام کوو بس.

– افففف ساره

ساره- سارا بی ساره زه لویه یم درنه شابه زما خبره ومنه.

زه مجبور شوم چې لاړ شم او هغوی ته سلام ووایم، دوی ټول په خبرو بوخت وو، خو د سبحان نظر راته دومره دردونکی و، چې غوښتل مې هره شیبه د هغه سترگی د کاسه څخه وباسم ، خو احترام چی می آصف خان ته درلود اجازه نه راکول آخر صبر می ختم شوو ، ما نور نور نشو زغملی او زه پاڅیدم چې ساره وویل: ایت چیرته ځئ؟

– زه لږ قدم ووهم .

سارا- صبر وکړه زه هم راځم.

– نه، تاسو خبرې وکړئ، زه به پخپله ځم.

سارا- سهی دی هر رقم چی راحته یی.

دوی می یوازې پریښودل، زه د معمول په څیر د غونډۍ لوړې برخې ته لاړم، د لارې په مینځ کې، ما خپل غاړگی راوویستلې او د خپلو لاسونو په مینځ کې می تینګه ونیوله دا کار لږ ماته آرامتیا راکړل خو زما همیشگی پر ځای په هغه توره ډبره بل څوک ناست وو هغه کس تور جامی اغوستې وه او خپل په شاوخوا یې تور پټوپیچلي وو ، خو دا چې هغه شا زما خواته وه ، د هغه مخ نه معلومیدل، خو ما داسې سرې نه و لیدلی کلي مخکې.زه نږدې شوم او د هر گام نږدې کیدو سره ما نور هم ډېر عجیب احساس کول.هردقیقه زیات کیدل خو په علت یې نه پوهېدم، ورو ورو باران ورېده، زه له هغه سرې څخه یو قدم لیرې ولاړ وم، له ځانه سره مې وویل، ته څه وایې، څه دلیل؟ ایا دا ستا شخصي ملک دی چې بل سوک نشی کولای کښینی ؟

ما غوښتل بیرته شاته لاړ شم کله چې زما غارگی زما له لاس څخه وولیدل او په لوړ غږ سره په ډبرې باندې ومونښتل زه ښکته شوم او هغه می راواخستل بیرته چی سر می پورته کړو هغه......................

_آ.............آیت

یو ځل هر څه ودریدل !

ځمکه نوره نه گرځیده !

د ساعت عقربي ولاړي وي!

باران هم نور و نه اوریدو !

مرغی له ساز او خوند او سندرو څخه لری شوی

آیت نوره ساه نشوی اخستی !

زما په فکر محشر ورځ او وخت راغلي وو چي بی غیر زما څخه بل هیڅا نه حس کوله ! داسی ول چی عزرائیل زما څخه دغه روح څخه قصور اخلی، فقط ولاړه وم او کتل می ورته ! څو لحظی می ځان سره دا وویل چی شاید زما سترګي ماته چل راکوي مګر داسی نه وه !

خپله وه هو بلکل خپله وه !!!!

هماغه خرمایی سترګي...

هماغه تور ویښتان ...

هماغه جګ قد..

آیا دا ممکن وه چي زه د هغي پیژندلو کي غلطی وکړم ؟

اما دا ممکن وه چي روح خپل جسم و نه پیژني ؟

مګر دا ممکن ده چی د زړه ضربان هغه و نه پیژني ؟

مګر دا ممکن  ده چی عطر او خوشبویی د خپل ګل څوک ونه پیژنی

مګر دا ممکن ده چي میین  خپله میینه  ونه بیژني ؟ ؟ ؟

– احر............احرارررر!!!!!!

چوپ شو او زه هم چوپه شوم خو بیا مي هم زړه نه دریدو او له سترګو می د اوښکو سیلاب په بهیدو شو !! اوښکی وی چی ټول مخ مي یی نیولی،وو او یو سیل یا سیلاب پکی روان وو هغه اوس له ما څخه لری نه وو !

زما دواړو دنیاوو اوښکی پریښودي او د ځمکی خواته یی چوپتیا اختیار کړه !

احرار مي !!مینه مي !!هغه احرار چي آیت به یی د یوي خندا لپاره زرهااوو ځلی ځان قربان کېدله.هغه احرار چي آیت به یی د خوشحالی لپاره پخپل ځان هم رحم و نه کړو نن ورځ یی اخلی ؟

خدایه څه وکړم !!!

خدایه دغه زړه ددي ټولو اندیښنو دومره طاقت نه لری چی د احرار اوښکی د ووینی

داسی می حس کولو چي یو تصور کی یم

آه ......آه له دغو سترګو چي حیا به یی هیرولو ته سپارلی وه اوفقط به یی ورته کتل کاش وخت ودریږی او یوازی زه ورته وګورم، هر څومره دا دا ټولی خاورینی سترګی چی زما وی بیا هم ناممکن وو بیا هم د ګټی اخیستنی ورڼ نه وه . یوي ثانیه لپاره یی خرمایی سترګی وتړي او په ژور او داسی فکر سره چی هغه اوس هم تصور کړي مګر زر یی بیرته سترګي وتړي او پس له نسبتاً اوږده د خبرو کولو پیل یی داسی وکړو.

احرار- زه دي د دردونو مېنځ کي خوشي کړم او ولاړی، و دي لېده زما د زړه سره دي څه کارونه وکړل او ولاړی؟ ما په ټول روح او نفس ستاسره زړه وتړو خو تا زړه راڅخه جلا کړو او ولاړی...

پښی می سستي شوی

او احساس می وکړو چي ځمکه می پښو لاندی نیشته !

په زرهاو مړه کولو سره مي وویل:مجبوره وم !

احرار- څه ته مجبوره وي ای بی وفاااا؟؟؟

اوښکو می د تویولو اراده نه درلوده.

— که چیرته نه وایی تلی نو ژوند دی تباه کیدو، زه ...... زه پوهیږم ته ... ...عا.....

احرار پرینښودم خبره می پوره شی او ویې ویل: زه مېین شوی یم ؟ مګر ما درته ونه ویل چي کتابچه باندی لاس مه وهه؟ و د لیدل چی دی کتابچی څه وکړل !

خپل سر مي وخوځوو او ومې ویل: ومی ویل ! ستا اظهار او قبولیت مي وویل مګر قسم کوم فقط مي یوه صفحه وویلو زیات نه !

احرار مخ آسمان طرف ته کړو ژور آسویلی یی ویستو داسې مې ګمان وکړو چې ساه  او اکسیجن یې کم راوړ..

احرار- کله چي دې وویل نو بیا ولي دی یوه صفحه وویل؟ تل هغه څه چي باید و نه وایی ... وایی...مګر چي کوم څه د ویلو وي هغه بیا نه وایی، ولی ؟

کرار کرار یی کتل او په قهر کیدو دا ځل په غوسه یې وویل: د څو خطونه پر ویلو لاړې؟ ستا په نظر ژوند هندی فلم دی؟ په هغه کوچني مغز سره دی یو ځل هم فکر ونکړو؟ تا غوښتل ما خپل پر ګمان د خطر وساتی خو وګوره زه دی ویجاړ کړم پوهیږی وران دی کړم و ګوره احمقی جلی.. یو ځل خو به دی زما لعنتي څخه پوښتنه کړې وایې بیا به وروسته تللی وایې !

ګنګس او ورخطا شوي وم او هغه وخت مي مغز هیڅ کار نه کولو ! دا ځل د احرار چغې او فریادونه نور هم زور واخیست: آیت جواب راکړه ولی دی ما ته و نه ویل؟ ولی ما ته د ویلو بغیر لاړې؟ یو ځل خو به د زما څخه پوښتنه کړی وایې، ولی لاړي ولی لاړي هاا؟

نور مي صبر او حوصله نه وه او ما هم همداسی په چغو او فریاد وویل: ځکه زه پرتا  می........

– پاپا...

زما خبرې يو کوچنۍ ماشوم غږ پرې کړل،راوګرځېدم چي يو کوچني ماشوم او يوه ښايسته جلۍ چي د احرار خواته راتلل و مې لېدل! کوچني جلۍ چي تازه د دوو کالو په نظر راتله او تازه يې لږ لږ خبري زده کړې وي او په لار روانه وه خپل ځان يې احرار خواته ورسوو..

او احرار هم غېږ کي ونيوله او په مهربانۍ او ريشخندي او مستۍ ورسره مصروف شو او هغه جلۍ مطلب هغه د کوچني جلۍ مور هم د احرار او دغي کوچنۍ جلۍ خوا کي ودريده !

احرار- جان د پاپا خوږې لورجاني..

يعني دا ماشوم د احرار ........

داسې احساس مې وکړو چي څوک مي توره يا شميشر باندي په زړه وهي او زړه مي يې زرګونه ټوټې ټوټې کوي... خدايه ! ته راته توانايي او قدرت راکړه..

پس له څو دقيقو مي اوښکي پاکي کړې، او په ظاهري خندا سره مي چي باطن کي له زرګونه اوښکو څخه سخته وه ومې ويل: تبريک همراه شيريني خداى د مور او پلار تر سيوري لاندې نيک او صالحه لويه کړي.

احرار- آمين ، ثم آمين ..

د کوچني جلۍ خواته مي وکتل او ومې ويل: د مور په څير يې ښکلې ده !

احرار په مسکا سره خپل سر وښورو چې ما وويل: نوم يې څه دي ؟

دوه کاله تير شوي وو خو بيا هم د احرار کتو بدلون نه وو کړې بيا هم همغه ژور کتل او نظر!

احرار- اممم فکر وکړه يا تخميني ووايه ؟

اوږې مي پورته واچولي او ومې ويل: خپله يې ووايه ..

غمجن مسکا يې په شوندو ښوره شوه او کرار يې وويل:آيت! آيت نوميږي .

شوندي مي وچيچلې تر څو مي د اوښکو د منع کيدو سبب شي هيڅ باور مي نه کيدو چي احرار د خپلې لور باندي زما نوم کيږدي ! جلۍ ډيره احرار ته ورته وه

صرف فرق يې سترګو کي وو چي فقط سترګى يې همغه جلۍ په رقم چې د احرار خوا کي لکه دغره ولاړه وه دريايى وي نه توري،لاس مي جلۍ باندې کش کړو ،او په هغه غږ سره چي له کينې ډک وو ومې ويل : خداى ج د وساتى فقط به دعا ورته کوم چي بخت يې هم د آيت په رقم نه وي !

دا ځل د خپلو اوښکو مخه و نه شوى نيولى ولى مخکى لدى چې هغه مى اوښکى ووينى،زر مى په بيړه سره هغه ځاى پريخودو، خپلى پناهګا چي باغ کي وه ورغلم او په زوره زوره مي وژړل زړه مي بى غير د ژړلو نور څه نه غوښتل !نه پوهيږم څومره مي د باران لاندي ناسته وم او ژړل مي شايد په دقيقو يا هم ساعتونو باندى !

زړه د سوزیدو حال کي وو هغه هم په ډیر غم او خفګان سره !داسی مي احساس کولو چي هیڅ روح مي د ځان کي نه وي فقط یو مړي دلته موجود دي نه آیت ..

د ډیر ژړا وروسته ځان سره مي وویل چي آیت ته ولي ژاړې مګر همدا تا نه غوښتل چي احرار د خپلي میني ته ورسیږي نو باید خوشحاله اوسي !

هو بلکل خپلي غوښتني ته ورسیدم اما لدي بی مالکه زړه سره څه وکړم ? څه وکړم چي هیڅ خبره زما نه اوري ؟ تل مي له ځان سره فکر کولو چي احرار د واده کړي وی حتی خیال او تصور یی هم ناممکن وو چي زما لپاره د دومره مرګوني تمام شي !

اما که هغه خوشحاله وي نو بیا څه ضرورت دي چی دا یوه سره ټوټه غوښه د سیني کی وسوزی ! څه ضرورت دی ؟ که چیرته د احرار په خوشحالی سوزی آیت ده ،آیت په خوشحالی سره د عشق یا مینی شور ته حتمن رسیږي او تر هغی چي خپل آزل پوری به هم ورسیږي.

د محترم آریا صیب په خبره.

#مینه  یعنی دومره باید زړور و اوسي چي د خپل ځان د ګرمولو لپاره جنګل او ونو پسي وګرځي او د سوزیدو خواته لاړشي او همدا سوزیدل ورته ښه او بهتره

پسي وګرځي او د سوزیدو خواته لاړشي او همدا سوزیدل ورته ښه او بهتره ښکاری (نه د مینی او عشق اور ) چي په زرګونه ورځي ژوند څخه بهتره دي

که چیرته د احرار په خوشحالی سره آیت سوزیږي نو پریږده یی وسوزیږي..

— تیښته ستا لپاره لکه چې عادت شوي ده همداسي ده کنه؟

د احرار غږ دلته ؟ پورته می وکتل.

خدایه داسي خو به نه وي چي لیوني شوي یم ؟

له اوله چندان ښه عقل ولاکه مې درلود خو اوس لکه چې بیخی نلرم.شاته مي وکتل خپله وو دا ځای یی له کومه پیدا کړم؟

— ولی دلته راغلی ؟

احرار نږدی راغی او ویې ویل: یو نیمګړی کار لرم تر څو هغه تکمیل نه کړم هېڅ ځای هم نه ځم.

— میرمن او لور د درته منتظر دي ورشه هله.

احرار- ولی د ژړلي ؟

لعنت ! زر مي اوښکي پاکي کړې.

– په سترګو کې می،یو شی ننوتلی وو.

احرار یو قدمی کی ماته نږدی راغلو.

احرار- څه شې ننوتلی وو؟

زړه درزا مې دومره زیاته وه چی نشوی می کولی څه پری واورم او سترګو ته می یی و نه کتل ځکه اوس احرار زما نه وه ، لیدلی پرته غم خفګان بل څه نه وه !!

احرار- آیت ولی خپل نظر رانه غلا کوی؟ ولی نه راګوی؟

– احرار ورشه میرمن دې پتمه......

احرار- تاته چا وویل چې هغه زما میرمن ده ؟

سترګي مي ناڅاپه پورته شوي .

احرار- هغه زما میرمن نده !

– بیا ولی ماشوم درته پاپا غږ کوه ؟

احرار- هغه ماشوم د اسد لور ده ځکه خبرو باندې نوی پیل کړې نشی کولی کاکا ووایې همدی لپاره ماته پاپا غږ کوي، اسد او مینه همدا نن ورځ دلته راغلل !

خدایه، خدایه ولی می ژر قضاوت وکه ؟ احساس می وکه وینه می رګونو کی بیا جریان پیدا که.

– ښه نو ستا میرمن چیرته ده ؟

احرار- مګر ما واده کړې چې میرمن ولرم ؟

دا څه ؟؟؟؟ احرار واده کړې ندی ، ولی نوو ؟؟؟

– تا واده ندی کړې؟ ولی نوو؟

احرار ژور راوکتل داسې چې ټول بدن مې ولړزیده او هغه کرار وویل: ناوی نشته  څنګه واده وکم ؟

– یعنی څه ناوی نشته ؟ تاسو څه ورباندې مین وې چیرته ده ؟

احرار- وتښتېده؟ یوه ورځ مخکې له واده څخه وتښتېده!

داڅه خدایه؟؟ ما د احرار د نیکمرغې او خوشحالی لپاره دوکاله عذاب اوباسه خو هغی جلی احرار پریښودو؟ زړه کې می هغه جلی ته کرکه راغله !اوس باید احرار ته ډاډګیرنه ورکړم اندیښمن نظر باندی مې وروکتل او ومی ویل: احرار هرڅه ښه کیږی  هغی جلی ته لاسه ورکړې یی تاوانې کړې ته خفه مه کیږه انشاءالله پیدا به یې کړو.

احرار وخندل! قسم پخدای سترګي هم وخندل خو په شونډو خندا خوره نکړه او جدی توګه یې وویل: اړتیا نشته پیدا یې کړو.

— ولی ؟

احرار- ځکه هغه می پیدا کړه.

په حیرت مې وویل: هغه دې پیدا کړه؟ هغه چیرته ده ؟

د احرار خبرې ستونې کې غوټه غوټه کېدې،لکه د هغه چې څه غواړي ووایي ډېــر ستونزمن و، خو وروسته د څو شېبو نه په خبرو راغی او ویې ویل: سترګو مخته می ولاړه ده !!!!

څه؟؟؟ څشي؟؟؟؟احرار څه وایي؟؟؟ سترګو مخته می ولاړه ده ؟؟؟

خدایه ،خدایه ، خدایه دا څه ؟؟؟ هغه جلی زه یمه........... ناا ناا امکان نلري احرار ما باندی مین وي!!!!مړی اوبه می په سختي تیري کړې ګژبه می بنده شوي وه یوازي می سترګي کاسه څخه راوتی وه ورته وکتل می، خبرو توان می نه درلوده په سختي می ژبه خلاصه کړه په بنده بنده ژبه می وویل: تا ..... تاسو څه وایي؟؟؟ زما پام ورته نشوو ...... تاسو څه ویلي؟؟؟

احرار- آیت ولی نپوهیږی ؟

غلی شوم ...

احرار- زه دربانديې مین یم آیت تاسره مینه لرم هغه هم لیونوپشانننننن!!!!

ژر می سترګي بندي کړي سر می ایخوا دیخواته وخوځاوه خوب ته اړتیا نشته هرڅه حقیقت لري هرڅه رښتیا دي !

لاسونه می د احرار د لاسونه څخه جلا کول خو پرینښودم.

— پریږده..و

احرار- ولی پریږدم؟ زه تا سره مینه لرم..

نا نباید داسي کیدل ! نا نا نا خدایه !!!

— زه نلرم!!

د احرار لاسونی سست شول خو زړه نا زړه یې وویل: دروغ وایي آیت ته هم راسره مینه لري دروغ مه وایه!

خدایه توان راکړه !

ژر می لاسونه د احرار له لاسونو څخه جلا کړل..

– نلرم کومه مینه؟ ته یوازي زما ملګري وی ځنګه دي داسي فکر وکړو تانه کرکه لرم کرکه ! مه فکر کوه نورو خلکو سره توپیر لري خو پوهیږي څه دي؟ ته هم جاوید، مصور سره توپیر نلري! ټول یوشان یی ! کرکه لرم هر سړی وي! که چیری لږ غرور ولري زما مخته نور رانشي احرارخان مشرف !!!

اه زما احراره ته می ځنګه هغوی دوه لیونو سره برابر کړې ؟ لعنت په ما وی لعنت یوازي می منډي وهلي دومره می منډه ووهلی احرار رانه ورک شوو، کله چې ځانته راغلم کور مخته ولاړه وم خو ځلي می ژوره ساه واخسته که ترور داسي زه لیدلم اندیښمنه کیده نو لږ می صبر وکه روسته می دروازه تک تک کړه ...

خاله- څوک یی ؟

– زه یمه ترور جاني آیت

زما په لیدلوی ترور رنګ والوته...

خاله- زما آیت لوري څه شوي ګرانی؟

– زه ښه یمه.

خاله- ولی د رنګ تښتیدلي هیڅ ښه نښکاری ؟

نیږدي راغله لاسي زما په تندي کیښودو..

خاله- تاته می څو ځلي وویل باران لاندي مه دریږه وګوره تبه لري!

دواړه کوټي ته ننوتلو زه په لاره تللی نشوم ترور لاره یوه جوړه جامو سره راغله ...

خاله- لومړی جامي بدلی کړه وګوره اوبو که دوبه یی هله لور جانی.

خپلي جامي مې بدلی کړه او همغلته ځملاستم....

– خاله.

خاله- ووایه ګرانی ؟

– یخنی می کیږي!

تروی یوه غټه کمپله راباندي واچوه یخني احساس می درلوده د وږي میاشت کی سترګي مي وتړلی!

– آیتنت آیت جانی پورته شه هله لورجانې

سترګي مي لوځي کړي سوپ سره څنګ کي ناسته وه سارا هم اندیښنه راکتل

سارا- آیت ښه یی ؟

سر می وخوځاوه ورته سارا په مرسته پورته شوم، ترور په زوره سوپ راکه موږي یوازي پریښودو پخلنځلی لاره

...

سارا- آیت څشي شوي یو دم؟  ته خو ښه وي ولی داسی شوي؟

زړه می ډیر نري شوي وه ، په ژړا مي پیل وکړل...

سارا- آیت وواېه څه شوي زما پرسر قسم د وي  وواېه؟  هغه رزیل سبحان کوم کار کړی ، آیت وواېه؟

سرمی وخوځاوه یعنی نااا

سارا- بیا څه شوي؟

– سا....سارا نن ورځ تپه ...... تپي سرته تللی وم خو یو کس هلته زما پر ځای........ ناست وه پوهیږي څوک وه ؟

سارا- څوک وه ؟

– هغه وه

سارا- څوک وه وواېه؟

– احرار ..

سارا- آیت ته څه وایي امکان نلري

ژړا می زیاته شوه په سلګوی شوم

– سارا په ......  خدای والا خپله احرار وه ! احرار

سارا حیرانتیا دوه چنده وه

سارا- ښه بیا څه وشو؟

زه او سارا لکه دوه خویندي وو او هېڅ شې زموږ ترمنځ پټ نه وه که چیری وړي،  وړي خبري هم اوسېدلي هغه زما ټول ژوند خبره وه حتا حیاء زما ماشوم توپ ملګري وه دومره راته نیږدي نه وه ...نن ورځ احرار سره مخامخ کیدل پیښه می ټوله ورته وویل احرار زما لاسونه ونیول ..

سارا حیرانه پاتی وه څه ویلي نشول څو شیبې وروسته وویل: آیت ته بیعقله یی ؟ ولی دی ورته وویل مینه ورسره نلري ؟ ولی خفه یی ؟ احرار مینه ته یی  بیعقلیییی؟  خپله هم لیونو په رقم مینه ورسره لري  ولی ځان سره احرار سره ظلم کوي؟

– سارا زما احرار ترمینځه بېحد لری والې دی د ځمکې تر آسمانه..

سارا- آیت څه لرې والی ؟ احرار پتا مین دی باور منده یمه او پوهیږم د خبرو ته ارزښت نه ورکوي !

– کورني څه ؟ تولنه څه ؟ سارا احرار شتمني کورني څخه دی هغه بهرني هیواد کي زده کړي غټ روغتون کابل ښار کي داکتر دي؟  او زه څه ؟ زه یوه یتیمه انجلی یمه ټول عمر می خدمتګاري،  موټر چلوونکي او باغبانی کي تیرشوی ! یوه تښتېدلي جلی یمه هیچا ونغوښتلم آخر هم لکه یوه بی ارزښته شي معامله شوم !

په سلګو سلګو می وویل: سارا خفګان ماسره سوځای شوي ملګري شوی د ماشوم توپ نا خفګان سره لویه شوي یمه خوو احرار ! سارا احرار غم خفګان ماته مرګ دی ! لکه دوزخ آور پشان می سوځوي

تراوسه می سوچ کوه احرار نیکمرغه دی اوس دخبرو آوریدلو سره پوی شوم دا موضوع.....په سلګو سلګوی مې ژړل د هغه خبرو زما آرامتیا رانه واخسته کلک سوک خپل زړه مې ووهه او په ژړا مې وویل: سارا سوځیږي، زړه می سوځیږي آور اخستی !

سارا غیږي ونیولم ډواره ژړل سارا ما ته ژړل اوما احرار ته!!!

سارا سره می خبرو کولو لږ ښه شوم ! ګولی خوړلم سره می ښه لږ شوم او ودیده شوم !!

سترګي مي پرانستلی هیڅ حال می ښه نه وه رېیدلم سارا دستمال لوند کوه په تندي راته کیښوده حلیمه ترور په ژړا دعا کوله غوښتل می ووایم ښه یمه خبرو کولو توان می ندرلوده!!

ترور لاسي زما پرتندي کیښودو....

خاله- سارا پورته شه آیت تبه راکښته کیږي نا باید کلنیک ته ورشو !!

سارا- موری یاد څه دی وتلي؟  کلینک بند دي داکتر دوه ورځه مخکي کابل ته تللی

تراوسه یوه اونی کیږی راغلي ندی! موری اوس څه وکړو؟

خاله- خدایه لور می پتا سپارم بیا کولی نشمه اولاد زخم وزغم دریم اولاد لاس ورکولو زغملی نشمه ...

داسي حالت کې وم چې نه ویده وم نه ویښه وم یو ځل بد خوب لیدل یوځل می ژړل کله می حلیمه ترور ژړا اوریدله!! ناڅاپه لاس می پرسرکیښودل شوو ! خو ترور نه وه  سارا هم نه وه دا ځلی کله چې می سترګي لوڅي کړي احرار وه سترګو مخته می احرار ولید..

– احرار .....خپله یې احرار؟؟ نه ته بیا خوب یی ؟ څه کیږی راویښه نشم ؟ څه کیږی آخر عمره پوري همدی خوب خیال کي پاتي شم؟؟

احرار یوازي چوپتیا اختیاره کړې وه.

– احرار مه ځه رانه څه کیږی رانه مه ځه !

احرار اوښکي راته پاکي کړي او ویې ویل:هیششش مه ژاړه، د احرار ژونده زه درنه نځم چیرته لاړشم زما ټول ژوند ته یې لیونی..

بیا می هم وژړل.

احرار- زما نرۍ ژاړه مه کوه ، ستا د هر اوښکي څاڅکي  زما زړه سوځوي...

خو زما اوښکي زما کنټرول کې نه وه. اصلا هېڅ شې مې کنټرول کې نه وو

نه ژړا

نه خبري!

– دادوه کاله چیرته وي؟ چیرته وي احرار کله چې  می هره شپه ژړل؟ چیرته وي  کله چې هره شیبه مې زړه درد کا وه او د آور لمپو که سوځیده ؟ چیرته وي  هره ثانیه مره کیدم چیرته وي  احرارر ؟

احرار- وګوره راغلم ؟

احرار ولی زه په خدای ګرانه نه یمه؟ ولی هر څوک ما پعذابه کوی مګر مه تراوسه چاته ضرر رسولي دی ؟په ځان نپوهیدم هرڅه می ویلی احرار غیرې ونیولم...

– پوهیږی احرار کله چې  ښونځي نمرات می زینب څخه ښه شوی کاکا ښځه می جوش آوبه زما پړلاسونه تویکړی ! کله چې حسنات خپلو ملګرو سره تلله مابه وهل خوړل ځکه کاکا ښځي به می ویل آیت ضد کړې ژاړې حسنات باندی وړې ده.اوو.... کله چې مراد هغه جلی وتښتوله زه هغی بدل می بَد ورکول شوم احرار زه !!!

احرار لاسونو حلقه نوره هم کلکه شوه او په کرار غږ یې وویل: هرڅه خلاص شول د احرار ژونده ، قسم خورم ترڅو زما سینه کي ساه راوانه اوسیږی اجازه نه ورکوم تاته څوک نیږدي شي! کله دیوال پشان درسره دریږم قسم درکوم!

– احرار ته هم رانه ځی؟ ته هم مور پلار پشان می یوازي پریږدي ؟

احرار- نه ځم هیڅ ځایته نځم ...

– قول راکړه ؟

احرار- اې زما د زړه مالکۍ زه له تا څخه چیرته تښتیدلی شم؟

سترګې مې وترلې او نور هیڅ احساس مې و نشو کړې. پر مخ مې د لمر په لګېدو

سترګې مې خلاصې کړې، پر تندي مې لاس کېښود، خو د تبې او درد کومه نښه نه وه،پاڅیدم بهر ته لاړم خو حلیمه او ساره مې په کور کې وه لېدل ساعت ته مې وکتل چې د غرمې یوولس بجې ښودل، دا پدې معنا ده چې زه په هغه حالت کې اوولس ساعته وم!!! حویلی ته ورغلم هلته مې حلیمه او سارا ترسترګو شول چې دواړه د سهار ناری پشان یو څه تیاروي،

- سهار پخیر.

زما په لېدو حلیمه خاله خپه شوه او زما خواته راغله.

خاله- ته ولې پورته شوې؟ ته لا تر اوسه په بشپړه توګه روغه شوی نه یې!

– حلیمه سلطان، زه بالکل ښه یم، وګوره.

هغه زما په تندي لاس کېښود او ویې ویل: د خدای شکر دی زر ځله د خدای شکر دی.

ما مسکا وکړل او هغې زما تندي ښکل کړه.

خاله- خدای ته مورې ته یوځل بیا راوبخښلې.

- بخښنه کوی پرون شپه مې زیات تاسو په تکلیف کړې.

خاله کرار په سر ووهلم او ویې ویل: بیا داسې ونه وایې کنه وهم دی.

پخندا مې وویل: اخخخخ په سترګو.

خاله- خدای دی د هغه ډاکټر څخه هم راضی شی او جنتونه ورنصیب کړې.

په حیرت مې وویل: ډاکټر خو کابل ته تللې وو تاسو سوک یاده وې؟

خاله- د فرهاد د رئیس زوی چی له کابل څخه راغلې ډاکتر دی پرون شپه چې ستا حالت زیات خراب شول مورې فرهاد ته خبر ورکړو او د هغه همدا ملګری خدای دی ورته خیر ورکړې په همغه نیمه شپه کی راغلو پداسی حال چې مورې یې نه پیژندو خو بیا هم مرسته یې وکړل که هغه نه وایې راغلې خدای خبر څه به شوی وایې.

خاله کور ته ننوتل او زه د سارا خوا ته ورغلم او ومې ویل: څه شې تیاره وې؟

سارا- منتو.

– ضرورت نشته زما لپاره زحمت وباسی او هو مریض انسان ته خلک سوپ پخه وی نه منتو..

سارا په ریشخند وخندل او ویې ویل: مریض انسان ته خلک سوپ پخه وی نه منتو... ډیره مه خوشحاله کیږه دا و تاته نه پخه وم.

– نو چاته یې پخه وی؟

سارا- د کابل څخه راغلې میلمنو ته.

– څه؟

سارا- هغه ډاکتر نیمه شپه دلته راغلو او تر سهار ستا وسر ته ولاړ وو او پر تا یې پام کاوه، پوهیږی کله چې لومړی ته ولېدی نو زیات حېرت یې وکړو او ورختا شو داسې پر تا پاملرنه وکړه چې ما فکر وکړو چې شاید تا بیژنی خو وروسته مې ځان شره وویل چې دا ناممکنه خبره ده هغه ټوله شپه ستا د سر سره تیره کړل، ادی هم ددی لپاره چې هغه زیات زحمت وباسه هغه ته د ډوډی بلنه ورکړه ترڅو زمونږ میلمانه شې ما فکر کوو چې نه به ووایې خو باور به دی ونشی هغه به بیحد خوشحالی ومنل او ویل یې ضرور راځو.

– میمله د خدای دوست دی ووایه زه څه وکړم؟

سارا- ته ارام وکړه کار زیاد ندی پاتی نور مخ په خلاصیدو دي.

– د اناګانو پشان خبری مه کوه ډېر می ارام وکړو نور د زیات ارام کولو څخه ستړی شوم.

خاله انګړ ته راغله او ویې ویل: لوری سارا سم وایې ته باید آرام وکړی.

– حلیمه سلطانی که داسی رفتار زما سره وکړی نو د رښتیا مریضه کیږم.

نور چا څه ونه ویل او هم ورسره مرسته وکړل کارونه مخ پر خلاصیدو وه چې خاله وویل: آیت!

– ها خاله جانې؟

خاله- لاړه شه د باغ څخه یو څه تازه میوه راوړه.

– په دواړو سترګو..

باغ ته لاړم او میوه مې را توله کړل د کوم وخت څخه چې کلې ته راغلې وم تل مې د نارینو پشان کالې اچول میوې مې خپل د کمیس په لمنه کې واچوال او کور خوا ته روانه شوم کله چې ورسیدم نو میلمانه تر اوسه نه وه راغلې کله چې میوه مې د لمنې څخه بهر کړل نو ټول کالې مې خیرن شوی وه.

خاله- وای کالو ته دی وګوره شابه ورځه خپل کالې بدل کړه تر څو چی میلمانه ندی راغلې.

– سمده.

د کوټې خواته مې غوښتل لاړه شم چې سارا راغږ کړل: آیت هغه سبینه جوړه کالې مې درته اتو کړې همغه واچوه.

– سمده.

خپل کالې مې بدل کړل او د هېندار خوا ته لاړم چې نظر مې خپل پر ویښتو ولګېده چې اوس تر ملا پوری را رسیدلې وه او پت کول یې بیحد سخته کار وو، تک تور وریښمین ویښته، لومړی ځل وو چې د مور او پلار د مرګ وروسته مې ویښتیان دومره غټ شوی وه او سبب یې یواځې احرار وو احرار تل ویل پریږده ویښتیان دی زیات شې او ما هم د هغه په خبری عمل وکړو او پدی دوه کلونو کې خپل ویښتیان مې لنډ نکړل. خپل ویښتیان مې لومړی وتړل بیا مې د کالو لاندی کړل او په سر مې پټو وتړه چې پام مې شو د لستوڼې یوه تڼې مې ختا شوی هغه تڼې په لاس د کوټې څخه ووتلم.

– سارا وګوره دا زما د لستوڼې تڼې ختا شوی دا راته ګن....

د مخامخ صحنې په لیدو خبره مې په خوله کې وچه شول.

اسد، مینه، اصیل او احرار ټول په کوټه کې ناست وو، خو کله چې یې زه ولیدلم، نو ټول پاڅېدل خو د هیچا په مخ باندې هیڅ حیرانتیا نه وه، لکه چې پوهېدل چې زه دلته یم!

اسد- ته څنګه خور یې چې خپل ورور دې هېره کړو؟

زه لالا اسد ته نږدې لاړم ځکه چې بیحد مې زړه ورته تنګ وو.

– لالا اسد!

لالا اسد خپل لاس زما په سر کېښود چې مینه را نږدې شوه او زه یې په غېږ کې ونیولم او په ژړا یې پیل وکړو.

– هیسس مېنه، ارام شه.

مینه- ته چیرته وې؟ ها ته چیرته وې بیخې دی مورې ته زړه تنګ نشو؟

خپل اوښکې مې پاکې کړې او ومې ویل: ولې مې زړه نه وو تنګ شوی هره ورځ او هره دقیقه مې تاسو یاده ولې.

اصیل وویل: سلام خرګوش

ما د ژړا په وخت کې وخندل او ومې ویل: سلام بیزو.

هغه هم وخندل، تازه زما فکر سبحان دریا لالا فرهاد او هماغه نجلۍ چې پرون مې له هماغه ماشوم سره لیدلې وه وشو، ما ټولو ته سلام وویل چې مینه وویل: آیت راوړه.

نجلۍ ایت د مینه په غېږ کې کېښود او مینه هغه انجلې ته په کتلو ما ته وویل: دا زما د خاله لور رخشانه ده.

– ښه راغلاست.

رخشانې وویل: خوشحال اوسئ

دا ځل لالا اسد دوام وکړو او ویې ویل: ایت دا هم ستا وریره.

– کولی شم غېږ کې ونیسم؟

مینه په خندا سره آیت زما خواته ونیو او ویې ویل: مورې ستا نوم پرې کېښود، ایت!

– د مور او پلار تر سیوري لاندې دې رالویه شي، خدای دې درته وساتې.

مینه- پوهېږې آیت ټول وایي چې دا ستا په څېر ښکاري! هم په څېره کې او هم په خوږه خبرو کې.

مورې ټول وخندل چې زما سترګې په احرار ته ولګېدی خو هغه ژر سترګې پټې کړې تر څو چې زما مخامخ نظر ونګوری.عجیبه احساس مې کاوه، ښایي ځکه اوس مې د احرار د هغه نظرونو او کتلو پر معنا پوهیدم، د حلیمې خاله غږ د ټولو پام ځانته واړه وو.

خاله- لوری تاسو یو بل پیژنئ؟

– حلیمه خاله، دا هماغه کورنۍ ده چې ما درته وویل، د تره حمید کورنۍ! د حمید تره مشر زوی اسد او مینه،

لور یې احرار، دویم زوی، اصیل کشر زوی او د مشرف د کورنۍ تر ټولو ځوان غړی او کوچنۍ ایت د دوی دکورنی کوچنی ترینه غړی.

حلیمې خاله په همغه مهربانی وویل: تاسو ټولو ته ښه راغلاست وایو پخیر راغلی.

ټول ناست وو چې احرار په سړه خوله وویل: ته ښه یې؟

ما خپل سر وښوراوه، زه پوهیدم چې هغه په غوسه دی او هغه حق هم درلود چې غوسه اوسیږی.

خاله- احرار زوی، زه به څنګه ستا دا نیکی جبران کړم؟ که ته تېره شپه نه وې، خدای خبر څه به شوي وای!

احرار- داسې مه وایست دا یو وظیفه وه خاله جانې.

خاله- له خدایه غواړم چې ستا ټول ارمانونه پوره شي!

احرار په زړه پورې وخندل او ویې ویل: امین، امین خاله جانې ان شاءالله.

خاله- انجونو میوه راوړی.

موږ له سارا سره پاڅیدو او پخلنځي ته لاړو او د میوو کځوړې سره چې ما له باغ څخه راوړې بیرته راغلو، ساره ټولو ته مېوه وړاندې کړه، خو کله چې احرار ته ورسیده نو هغه وانخیسته او ویې ویل: مننه زه یې نخورم.

سارا په شیطنت وویل: پښیمانه به شې که وخوری ځکه دا زموږ د خپل باغ میوه ده او دا ټول ایت په خپلو لاسونو کرلې او راوړی.

افففف، سارااا په زړه کې مې ښه کنځل ورته وکړل چې ټولو په حیرانتیا ماته راوکتل او اسد لالا وویل: رښتیا؟

ما د هو په معنا سر وخوځاوه، خو د لالا اسد د تندی تر منځ یوه غوټه راښکاره شوه او په قهر یې وویل:آیت ته .......... ته باغبانې کوې؟

— هو لالا زه د حلیمې په باغ کې باغداري کوم!

اسد- باغداري ستا لپاره ستونزمنه نه ده؟

— نه، لالا، برعکس زما کار ډېر خوښېږي.

لالا اسد سر وخوځاوه، خو د احرار په څېره کې غوسه څرګنده شوه، ډوډۍ او چای هم وخوړل شو چې دریا وویل: هوا ډېره ګرمه ده څه نظر لرې لاړشو چنې ته؟

— ښه ده خبره ده.

د ټولو په موافقه، موږ د چنې خوا ته لاړو، د چنې په لیدو، هرڅوک د هغې ښکلا ته حیران شول ټول د چنې په شاوخوا کې ناست وو، خو دریا د احرار لوري ته راښکته شوه او د هغه جوخت کېناسته! د ورځې په اوږدو کې

به يې هم له احرار سره په هره ممکنه عذر خبرې کولې، خو احرار به ورسره ډېرې خبرې نه کولې او يوازې به يې په سر يا هو يا نه ځواب ورکول!

د ټولو خبرې مې په مغزو کې را وګرځيدلې"زما د بادار زوی څو کاله مخکې له يوې نجلۍ سره کوژده کړې وه، خو هغه نجلۍ يې پرېښوده او وتښتېده! له هغه وخت راهيسې هغه يوازې د هغې نجلۍ په لټه کې دی، خو هيچا هغه نه ده لېدلې لکه څنګه چې اوبه شوې ويې او د ځمکې تل ته تللې وی"

"آيت، دواړه وروڼه ډېر ښکلي دي، خو مشر ورور يې!!! ساره دومره ښکلې ده چې پوښتنه مه کوه! هغه د سپوږمۍ په څېر دی، حتی د بحر ښکلا هم د دې هلک د ښکلا په پرتله هيڅ نه ده. تاسو باور لرئ؟"

" دا مغروره ميرمن دريا، چې د خپل نظر ورې څوک يې هم نه وو ليدلي، د دې هلک لپاره د ليوني په څېر ليونۍ شوی"

نو هغه څوک چې دريا ورباندی مينه شوی احرار دی! زه حيران نشوم ځکه دريا سمه ده، آخر دا ممکنه ده چې احرار سوک ووينې او مين نشې ورباندی؟ نه دا ممکنه نده! د حضرت مولانا په وينا:

ولې دوی ستا په ليدلو ايمان نه پيدا کوي؟

هغه کافر دی چې تا ووينې او ملحد نه شي!

اصيل زما څنګ ته کېناست او ويې ويل: رېښتيا، رېښتيا ووايه، زما پسی دی زړه نه وو تنګ شوی؟

ما وخندل او سر مې د هو پشان وخوځاوه، چې هغه په خندا وويل: زما زړه هم درپسی تنګ شوی وو..

دا ځل مورې دواړه وخندل

— کور کې خيرت وو؟ ټول ښه وه؟ کاکا حميد، آسيه خاله، ايمان؟

اصيل- دوی ښه دي، مګر دوی تل تا يادوي! زما مور اوس هم هرکله چې ستا نوم راځي ژاړي!

غم مې زړه ډک کړو او ومې ويل: زه يې هم ډېر يادوم.

اصيل- خو ايمان له تا ناراضه ده! ځکه چې ته لاړې او هغه دی يوازې پريښودل.

ما ژوره ساه واخيسته او ومې ويل:

ـــ زه مجبوره وم اصيل.

اصيل- تا څه مجبوريت درلودو؟

— ويلې نشم.

اصيل- ولې آيت؟ دا څنګه مجبوری ده چې ته يې نشي ويلې؟

— يو راز چې ورباندې پوې نشې غوره ده.

هغه چوپ پاتې شو..

— آمنیه خاله، سمیع تر او ګیسو په اړه څه؟

اصیل- هغوی هم ښه دي، رښتیا هم، آمنه خاله ترټولو ډېره تا یاده وی.

په شونډو مې موسکا راغله.

اصیل- ښه راته ووایه چې ژوند دې څنګه دی؟

— ښه ده مورې له سارا سره په باغ کې کار کو او د محصولاتو په پلورلو سره ژوند تېره وو.

هغه څه ونه ویل، مګر هغه ډېر په عجیب نظر راته کتل.

— ته ولې داسې راګورې؟

اصیل— رښتیا ووایم، ما بیخی فکر هم نه کاوه چې یوه ورځ به بیا زه تا ووینم!

— ولې؟

هغه د څو شیبو لپاره چوپ شو او بیایې وویل: ځکه چې مورې فکر کاوه چې ته مړه شوې یې!!

د حیرت څخه هک حیرانه شوم او په بند، بند ژبه مې وویل: څه؟؟؟ مرګ؟؟؟

اصیل لږ خاموش شوو داسې ښکاریده چې د تیرو ورځو یادونه خورا دردناکه وه.

اصیل- په هغه ورځ چې ته لاړې، احرار لالا راته زنګ وواهه، خو هغه ډېر خفه و..

اصیل- سلام لالا..

احرار- اصیل..... آیت..... اصیل ایت نشته.

اصیل— څه معنا چې نشته؟

احرار- زه نه پوهیږم، زه نه پوهیږم، زه نه پوهیږم، خو هغه نشته.

اصیل- ته ډاډمن یې چې نشته؟

احرار- هو، مبایل یې بند دی، ټولو ته مې زنګ وواهه، خو هېڅ ځای نشته!

اصیل- لالا، آرام اوسیږه.

احرار- اصیل، زه به څنګه ارام شم؟ که جاوید او تره یې ځان سره وړی وی؟ که دوی آیت ته زیان ورسوی بیا؟

اصیل- لالا، ته چیرته یې؟

احرار- زه کور ته ځم، ښايي هلته وي.

اصيل- سمه ده زه به هم ژر راشم!

ما دا په خپل وروستي ځواک سره په تلوار ځان کور ته ورسه وو.

– آيت..... آيت... لالا.... لالا .....لالا.....

هېڅ غږ مې ونه وريدو، فکر مې وکړ چې په کور کې څوک نشته، خو د لالا موټر مې وليد او خپلې کوټې ته لاړم.هغه د خپل بسترې څنگ ته ناست و او په لاس کې يې يو کاغذ درلود!

اصيل- لالا څه شوي؟ آيا آيت مو پيدا کړه؟

احرار- اصيل ايت لاړه او زه يې پريښودلم.

اصيل- لالا، دا ممکنه نه ده، ته څه وايې؟

ما د هغه له لاس څخه کاغذ واخيست او ستا ليک مې ولوست، له پيله پوه شوم چې لالا له تا سره مينه لري، خو هغه شپه چې هغه وويل چې زه له تا سره واده کول غواړم، پلار مې لالا ته وويل چې د تا د ژغورلو لپاره له تا سره واده ته اړتيا نشته. دوی به بله لاره ومومي! خو هغه شپه لالا په خپله مينه اقرار وکړ او ويې ويل چې له تا سره به واده وکړي ځکه چې له تاسره مينه لري!

عه زما خدايه، ايا ټول دوه کاله دمخه په دې خبرو خبر وه؟ هغه څه چې ما فکر کاوه يو راز دی!

اصيل دوام ورکړو او ويې ويل: ستا د ليک له لوستلو وروسته مې غږ پورته کړو او ومې ويل چې موږ بايد تا پيدا کړو او غلط فهمۍ مو حل کړو.

له لالا سره مو هر ځای ته چې فکر يې کاوه، لاړو، خو خبر نه شو، د جاويد او کاکا کور ته هم لاړو، خو بيا مو هم پيدا نکړې او مايوسه شو..

اصيل- لالا هر ځای مو وکتو خو هغه نشته.

احرار- اصيل...... اصيل يو ځل هغې ويلې وه چې خپل د خاله کور مزار ته به ځي او له هغه ځايه به ايران ته ځي!

موږ نېغ په نېغه سټېشن ته ولاړو، کله چې لالا اسد ته خبر شو، ژر يې د مينه لاس ونيو او موږ سره يوځای شول، د شپې يوولس بجې وې چې د موټر سټيشن ته ورسيدو، خو له ګڼو خلکو سره مخ شو!د زرو ستونزو سره موږ هغه ځای ته ورسيدو چيرې چې ټکټونه پلورل کيدل..

احرار- وروره...

– ها؟؟

احرار- تا دا نجلۍ دلته نه ده لیدلې؟

— ته دلته حالت نه ګورې؟ سبا راشه!

احرار په غوسه شو او په هغه سړي یې برید وکړ او له ګریوان څخه یې ونیو.

احرار- په غور سره وګوره دا نجلۍ دی دلته لیدلې که نه؟

وېرېدلي سړي انځور ته په غور سره وکتل او ویې ویل: هو، هغه نن راغلی!

احرار- ښه؟

سړی- زما په اند هغه مزار ته ټکټ غوښتل!

احرار د ستیشن له کارکونکو څخه وغوښتل چې بهر لاړ شي، خو د خلکو ګڼه ګوڼه ډېره وه.

اصیل- وروره دلته څه شوي؟ ولې دومره ګڼه ګوڼه ده؟ ولې ټول ژاړي؟

— وروره نن یو موټر د سالنګ له دره څخه ښکته غورځېدلی او حتی یو نفر لا ورڅخه ژوندی ندی پاتې شوی او ټول مړه شوی! دا دهغه کسانو کورنی ده.

د سالنګ دره د کلمې په اورېدلو موږ ټولو وحشت وکړو، ځکه چې د مزار موټرونه هم له دې دره تېرېږي! احرار په ویره او تشویش سره وویل: موټر چیرته روان وو؟

— هغه مزار ته روان وو، وروره!

احرار په خپلو پښو ولاړ نه شو او په ځمکه ولوېدی،هغه شپه د خوښۍ پر ځای زموږ په کور مې ماتم جوړ شو،له هغې ورځې را په دې خوا زموږ کور خوشالي ونه لیده، برعکس یوازې غم زموږ دروازه ټکوله! د دې خبر په اورېدو سره مې مور باندی حمله راغله او له هماغه ورځې ناروغه شوه! پلار مې هر څه پرېښود او یوازې د مور پالنه یې وکړه!ایمان فرانسې ته لاړل او هلته اوسیږی لالا اسد او ما کار پیدا کړو..

د داسې اوښکو سره چې نه مې شوای کنټرول کولی، پوښتنه مې وکړل:

— او... او احرار؟

اصیل یوې ناڅرګندې نقطې ته ځېر شو او کرار یې وویل: احرار ستا مرګ نشوای منلی. هر وخت یې ویل" آیت ما نه پریږدي، هغه نشي کولی چې ما یوازی پریږدي!).

هماغه شپه مقبرې ته لاړ او ستا تش ځای یې وموند. کله یې چې ولیدل ته هلته نه یې، هرات ته لاړ. وروسته نیمروز ته، شاوخوا درې څلور میاشتې همداسې تېره شوه. کله یې چې ستا شتون په افغانستان کې بې هېلې کړ، ایران ته لاړ او ټول ایران یې د پلټنې لاندې ونیو. حتی ستا د پلار ملګری یې پیدا کړ، خو ته لا هم نه وې!

له شپږو میاشتو وروسته په ایران کې، د پلار په غوښتنه کابل ته ستون شو، خو یوازې دوه میاشتې یې په کابل کې دوام وکړ. له دوه میاشتو وروسته ترکیې ته لاړ!

شاوخوا اته میاشتې یې په ترکیه او یونان کې تېرې کړې. له ټولو پولیسو او حتی د سرحدي قاچاقبرانو نه یې ستا په اړه پوښتنه وکړه، خو هیڅ خبر نه و! رښتیا ووایم موږ ټول ستا مرګ منلی و او فکر مو کاوه چې احرار به هم څو ورځې ستا په لټه کې وي او بیا به دا ومني، خو داسې ونه شول! احرار هیڅکله ستا نه شتون ونه مانه!

زموږ ټول صبر نور په ختمېدو و. له یوې خوا د ایمان نه شتون، او له بلې خوا د لالا ناڅرګند حالت زموږ ژوند په ټوټه ټوټه کړو، په ځانګړې توګه زموږ مور!

څلور میاشتې وړاندې پلار مې دواړه کابل ته وغوښتل او نور یې اجازه ورنکړه چې لاړ شي، له هغه ورځې راهیسې د مور مې ناروغي تر یوه حده ښه شوه، که څه هم موږ لا هم خوشحاله نه وو، خو د مور لپاره مو ځان خوشحاله ښودلو!

د دې پیښو باور زما له وس څخه وتلی و. زما ټولې اټکلونه ګډوډ شول. ما د احرار د خوشبختۍ لپاره هغه پرېښود، خو هر څه سرچپه شول! ما په ناپوهۍ کې د دې کورنۍ سره لوی ظلم وکړ!!!!

اصیل- د دې دوو کلونو یوازینۍ ښه پیښه د لالا اسد او مینې واده و، چې څلور میاشتې وروسته له تګ څخه پېښ شو!

هغوی نه غوښتل په داسې حالت کې واده وکړي، خو پلار مې وویل چې دا واده به د مور مې حالت ښه کړي، او وروسته د دوی د لور زیږون زموږ په شونډو بیا مسکا راوسته! مینه او لالا اسد ستا په یاد خپل لور ته آیت نوم ورکړ، او دا احرار ډېره په آیت پورې وتړله، تر دې حده چې لالا اسد ته پاپا نه وایي، بلکه احرار ته وایي!

ایمان هم یو میاشت وروسته له فرانسې نه په راګرځېدو سره د مدثر سره نامزاد شو!

ما خپلې اوښکې پاکې کړې او ومې خندل. بالاخره د دې ټولو خپګانونو په منځ کې یو ښه خبر مې واورېده.

— رښتیا؟

اصیل- هو، درې میاشتې یې له نامزادۍ تېرې شوې!

— نو ته څنګه؟

اصیل- لا مو کومه ناوې نده پیدا کړې.

موږ دواړو د ژړا په منځ کې وخندل. شرمنده سر مې ټیټ کړ.

— اصیل زه... زه بښنه غواړم! ما یوازې ستاسو د خوشبختۍ لپاره هغه ځای پرېښود. قسم خورم!

اصیل- ششش، لیونۍ مه ژاړه، ته هېڅ ګناه نه لرې!

— څنګه هېڅ ګناه نه لرم؟ دا ټول زما ګناه ده!

اصیل- هه، خرګوش! ته هېڅ ګناه نه لرې. دا قسمت و!

اسد- خرگوش او بیزو، د چا غیبت کوئ؟

لالا اسد و. ژر مې خپلې اوښکې پاکې کړې.

— څه غیبت، لالا، موږ یوازې خبرې کولې!

اسد- ټوکې کوم، جان لالا!

لالا اسد او اصیل په خبرو کې بوخت شول، چې ساره په غوسه زما څنګ ته کېناسته.

— څه شوي؟ ولې په غوسه یې؟

هغې مخې ته اشاره وکړه، او د هغې د نظر تعقیبولو سره مې احرار او رخشانه ولیدل چې دواړه په خندا خبرې کول..

سارا- دا بې حیا نجلۍ وګوره، څنګه جوخت ورسره ناسته ده، ته همداسې ناست او ننداره وکړه. دا نجلۍ به څو ورځې وروسته ورسره نکاح هم وکړي او بچیان به هم ورڅخه راوړي.

زما په دننه کې شور و، خو په ارامه مې وویل: ماته څه؟ دوی دې یو ځای سپین ږیري شي!

مخکې له دې چې ساره څه ووایي، زه پاڅېدم.

— زه ځم لږ چکر ووهم!

کله چې له هغه ځایه لېرې شوم، په یوه ډبره کېناستم. ډېره په غوسه وم. حقیقت دا دی چې ما عادت درلود چې تل انجونې د احرار خوا ته لاړشي او احرار هغوی ته تندې تروش کړې نه دا چې ورسره وخاندی او خبری وکړی، لومړی ځل و چې ما ولیدل احرار له یوې نجلۍ سره داسې خبرې کوي او خندل یې !ساعت ته مې وکتل او پوه شوم چې شاوخوا یوه ساعت کېږي چې دلته یم!

ــــ اوففففف، یقیناً احرار به ډېر اندېښمن او په غوسه وي.

د خپلو اوږو د پورته کولو سره مې خپل ځان ته ځواب ورکړ:

ــــ پرېږده اندېښمن شي، ماته څه؟

ما په قصدي توګه بله یوه ساعت هلته ناست پاتې شوم، او بیا د چینې پر لور روانه شوم.کله چې دوی ته ولېدم نو لالا اسد، ساره، مینه او اصیل ټول اندېښمن زما لور ته راغلل، خو احرار نه!

اسد) آیت، ته چېرې وې؟ دوه ساعته کېږي چې لاړه یې، نه وایې چې دلته ټول ستا په اندېښنه کې یو؟

اصیل- لالا اسد سم وایي، ته ولی دومره بې فکره یې؟

ما د احرار په لټه شاوخوا وکتل او په تعجب سره مې ولیدل چې لا هم له رخشانه سره په خوښۍ خبرې کوي!

ساره وویل: ته نه پوهېږې دلته ډېر لیوان شته؟ ولې یوازې ځې؟

احرار غږ کړ: تاسو په ناحقه تشویش کوئ. ما نه وویل چې خپله راځي، د اندېښنې ځای نشته!

ما په بې باورۍ احرار ته وکتل. دا واقعاً زما احرار و؟ هغه بیا د رخشانه سره په خبرو کولو بوخت شو.

— احرار سم وایي، د اندیښنې ځای نشته، بس لږ مې قدم واهه!

مینه زما لاس ونیوه او د چنې څنډې ته یې بوتلم او هلته یې کښېنولم او خبرې یې پیل کړې! ظاهراً د مینې خبرو ته مې غوږ نیولې وو اصل کې خو ټول فکر مې د احرار او رخشانه په لوري و. رخشانه ډېر په ناز او نخرو خبرې کولې او احرار هم ډېر په دقت سره اورېدې چې ناڅاپه یې وویل: احرار، لطفاً یو څه ووایه بل وخت. نه، احرار، همدا اوس یې ووایه، لطفاً.

اصیل وویل: لالا، یو ترنم وکړه.

ټول غلي شول او احرار وویل:

بشنو از نی چون حکایت می‌کند وز جدایی‌ها شکایت می‌کند

ای نی نواه یی جاویدان ای نی نواه یی جاویدان

کز نیستان تا مرا ببریده‌اند در نفیرم مرد و زن نالیده‌اند

سینه خواهم شرحه شرحه از فراق تا بگویم شرح درد اشتیاق

هر کسی کو دور ماند از اصل خویش باز جوید روزگار وصل خویش

آتش عشق است کاندر نی فتاد سوزش عشق است کاندر می فتاد

هر کسی از ظن خود شد یار من از درون من نجست اسرار من

سر من از نالهٔ من دور نیست لیک چشم و گوش را آن نور نیست

بشنو از نی چون حکایت می‌کند وز جدایی‌ها شکایت می‌کند

آه، احرار! آه، داسې یې وویل چې ټول یې بل ځای ته یووړل! ټولو چکچکې وکړې او د څو شېبو وروسته ساره وویل: آیت، لاړ شو؟

اصیل ژر وویل: لا وختي دی!

— نه، هوا توروالي ته روانه ده، خاله به اندېښمنه شي. خدای پامان.

ټولو پاڅېدل او خدای په امانې یې وکړه، پرته له احرار!

سبحان وویل: ناوخته دی، زه به مو ورسوم!

— ارتيا نشته، مورې خپله ځو.

سبحان- آيت وګوره، هوا تياره ده.

— اندېښنه مه کوه، زه خپله د ځان ساتنه کولی شم!

او له ساره سره مو ځای پرېښود.

يو هفته تېر شوه، لالا اسد او اصيل هره ورځ له مينې او کوچنۍ آيت سره زما ليدو ته راتلل، خو احرار مې حتی يو ځل هم ونه ليد! احرار ډېر مغرور و او پوهېدم چې د هغو الفاظو او خبرو بدله به له ما څخه اخلي، خو بدله يې ډېره سخته وه، ډېر له هغه څه چې فکر مې کاوه! تر لېونۍکېدو مې څه پاتې نه وو، له ټولو سره مې جګړه کوله، د خبرو حوصله مې نه لرله، او په دې منځ کې يوازې ساره وه چې زما درد يې درک کاوه.يوه ورځ مې باغ ته مخه کړه چې له لرې مې احرار او اصيل وليدل، خو کله چې زما خوا ته د هغه پام شو، سر يې ښکته کړ او سترګې يې پټې کړې!

آه، چې کله مې وليد، ملا مې ماته شوه! زما احرار چېرته او دا انسان او شخص چېرته؟

— سلام اصيل

اصيل- سلام آيت، څنګه يې؟

— شکر دی.

احرار وچ او بې روح لهجه باندې وويل: اصيل، زه ستا په انتظار يم، ژر راځه!

کله چې د هغه خبرې پای ته ورسېدی نو هغه زما له خوا تېر شو، مګر ما نشو زغملی، زه په دې خبره پښيمانه شوم، نو زه په چټکۍ سره د هغه پسی شوم.

— احرار!

احرار حتی يو ځل هم ونه دريده،ما د خپلو ګامونو سرعت زيات کړ او د هغه مخې ته ودريدم.

— احرار يوه دقيقه.

هغه غوښتل پرته له دې چې ما ته وګوري تېر شي، نو ما د هغه لاس ونيولو..

— احرا....

احرار زما لاس د خپل لاس څخه ليرې کړ او دومره يې وغورځاوه چې زه په ځمکه ولويدم او هغه په وحشتاناکه انداز وويل: ته په څه حق زما لاس نيسې؟ تخو زما څخه کرکه کوې! دا دی وروستی ځل وي چې ته دا جرئت کوئ او زما لاس نيسې بيا به زما مخې ته نه راځې که نه بد به ووينې.

هغه خپلې ټولې خبرې پرته له دې چې ماته وګوري او یا حتی یو ځل ماته د سترګو لیدو اجازه راکړې لاړه! زه په ځمکه وم چې ساره ماته نږدې راغله او ما ته یې د مجرم په څیر وکتل او ویې ویل: خدای خبر چې د دې غریب زړه دې څنګه مات کړ! ایا ته له خالق نه وېرېږې؟ د خدای په مخلوق دې داسې ظلم وکړ، څنګه به ځواب ورکوې؟

اې ربه!!! حتی ساره، چې زما د خور په پرتله ما ته نږدې وه، ما داسې غندی! خو دا رحم نه وه! ما چې څه وکړل هغه زما حق وو، ما د احرار سره بد وکړل دا خبره زه منم خو هغه زما مجبوریت وو ..

زه پاڅیدم او باغ ته لاړم او د شپې تر تیاره پورې مې کار وکړ چې د احرار له فکره راووځم، خو آیا دا ممکنه وه؟ احرار زما په رګونو کې د وینې په څیر روان و

ما هغه څخه ساه اخیسته.

ما له ځانه سره په ګیه مند انداز وویل: مغرور څه کېدل که یو ځل ستا سترګو ته مې کتلې وایې؟که یو ځل دې زما خبرې اورېدلې وای؟ زما مطلب دا دی چې ته په ما دومره ځورېږې چې زما د څو خبرو د اورېدلو توان هم نه لرې؟ زما احرار دومره ظالم نه وو! خو بیرته مې خپل جواب ځان ته ورکړو. ته څه وایې؟ ولې هغه باید تاته اجازه درکړې چې هغه وګوري؟ ولې هغه باید تاته غوږ ونیسي؟ ایا دا ته نه ویې چې وویل دی چې له هغه څخه کرکه کوئ؟ رحم اوس د څه لپاره دی؟ هغه څه چې زموږ مشرانو په سمه توګه ویلي دي.

# خود کرده را تدبیری نیست.

یوه بله هفته هم تیره شوه او په دې څو ورځو کې خاله یو څه ناروغه وه، له همدې امله سارا په کور کې د هغې پالنه کوله او زه یوازې باغ ته تللم.په هغه ورځ له باغ څخه سترې کورته راغلم او سارا دروازه خلاصه کړه.

سارا- ښه راغلاست.

— خوشحاله اوسیږې.

سارا- وږی یې؟

— نه.

زه خونې ته لاړم او د لاسونو او مخ په مینځلو سره بیرته راغلم، خاله حلیمه زما په لیدو باندی موسک شوه او ویې ویل: لورې سترې مه شې.

— ژوندۍ اوسې خاله جانې ښه شوې؟

خاله- ښه یم لور جانې.

ساره په بېړه راننوتله..

سارا- آیتتتت .....

— څه شوي، ولې چیغې وهې؟

سارا- کوم یو واغوندم؟

دوې جوړه جامې یې په لاس کې وې.

– هسې لکه چې واده ته روانه یې؟

خاله- ساره، ته آیت ته نه وو ویلي؟

سارا لاس په تندي کېښود او ویې ویل: اوففففف بیخی مې هېر شو!

خاله په افسوس سره سر وښوراوه او ماته یې وویل: لورې، سکندر خان خو پېژنې؟

– د پورې کلي خان؟

خاله- هو هماغه، نن شپه یې د زوی واده دی.

– ښه؟

خاله- د هغې لور کوثر خو تا لیدلې وه؟ هغه د سارا د ماشومتوب ملګری ده چې تل زموږ کور ته راځي، هغې موږ د خپل ورور واده ته دعوت کړي یو خو زه بې وسې یم، تګ نشم کولی، که تا ته ستونزه نه وي، ساری به بوزې؟

– سمده زه ساره بوځم او بیرته راځم.

ساره په بېړه رانږدې شوه او ویې ویل: آیت، لطفاً، راځه چې لاړ شو. که ته ولاړه نشې، مور مې ماته هم د تګ اجازه نه راکوي!

– ساره، زه ستړې یم.

سارا- اوففففف ګواکې غرونه ځې هلته کښې واده دی، خوشحالۍ کیږي، لطفاً!

– ساره، نه پوهېږې زه څه وایم؟ ما ویل ستړې یم!

ساره خپه انداز باندې خپل خونې ته ولاړه زه پښېمانه شوم خپل د خبری څخه،؟له هغو دوو جامو څخه مې هغه چې سپینه تنۍ او اوږده، روښانه نیلي لمن یې لرله، واخیسته او دباندې لاړم. ساره په کوټه کې ناسته وه او ژړل یې.نږدې ورغلم

– دا ستا میک اپ څو ساعتونه وخت ونیوه؟

سارا- دا ستا پورې اړه نلري؟

– اړه لري ځکه چې زه یوازې نیم ساعت انتظار کوم. اوس پخپله وګوره چې ژړا یې خرابوي که بې میک اپه ځې؟ ساره په چټکۍ سره سر پورته کړو او ویې ویل: ته به مې بوځې؟

جامې مې ورته ورکړل او ومې ویل: که نیم ساعت وروسته د دروازې سره نه وې، زه یوازې ځم. او بیخي زیات میک اپ مه کوه!

ساره زما غاړې ته لاسونه تاو کړل او په خوشحالۍ وویل: آیت! زه مینه درسره لرم، په خدای قسم!

—سم دی، چاپلوسي مه کوه، زر چمتو شه!

سارا- شل دقیقو کې چمتو یم.

— اوبه شته؟

سارا-څه یې کوې؟

— حمام کوم.

سارا- هو شته.

ما حمام وکړو او خونې ته راغلم، یو له خپلو جامو مې واغوست، ویښتان مې وچ کړل، تازه مې غوښتل چې په ټیکري یې پټ کړم چې دروازه خلاصه شوه او ساره رانوتله..

سارا-  آیت، وګوره چې زما ویښتان څرنګه...

زما د ویښتیانو په لېدو سارا چوپه شوه دا لومړی ځل و چې هغې زما ویښتان لیدل، هغې په حیرت راکتل چې ما وویل: څه ته ضرورت لری؟

سارا- وګوره خدای چاته نعمت ورکوی! آیت، واقعاً ته احمقه یې! ولې دا ښکلي ویښتان پټوې؟

ما ژر ژر خپل ویښتان پټ کړل او ومې ویل: چمتو یې؟ ځو؟

سارا- آیت، موضوع مه بدلوه! دا ښکلا دې افسوس نه دی چې د ټیکري او پراخو جامو تر شا پټه وې؟

— ساره، کومه ښکلا؟

سارا- آیت، واقعاً یې نه وینې که نه غواړې چې ویې وینې؟ کاشکې خدای لږه برخه ستا د ښکلا ماته راکړې وای، کاشکې! آخر تر کومه د هلکانو په شان ژوند کوې؟ آیت، ته نجلۍ یې، نجلۍ!

زه نجلۍ یم! هو، زه نجلۍ یم، خو حتی خپله مې دا هېر کړی و.

— ساره، له هغه وخت چې کوچنۍ وم، زما ویښتان یې خریل او پراخې جامې یې راته اغوستې! ما هېڅکله لاسونو کې نانځکې نه دی نیولی. ته ووایه زه له کومه د نجلۍ کېدو زده کړه وکړم؟ ساره، زه نه پوهېږم چې څنګه نجلۍ شم!

سارا زما لاسونه په خپلو لاسونو کې ونیول او ویې ویل: آیت، خلاص شو هغه وخت، وګوره نور هېڅوک هېڅ نشي کولی! ته یوازې اجازه ورکړه، زه به پخپله د نجلۍ کېدو لار در زده کوم! آیت، نجلۍ کېدل ډېر خوند لري،

ډېر منې زما خبره؟

ما يوازې ورته کتل چې پخپله يې ادامه ورکړه او ويې ويل: سکوت د رضا نښه ده. راځه پاځه.

— چېرته؟

سارا زه خپلې خونې ته بوتلم او څو جامې يې زما مخې ته کېښودې.

سارا- انتخاب کړه.

— زه دا جامې نه اغوندم، زما جامې سمې دي.

سارا- آيت، مهرباني وکړه، ماته غوسه مه راکوه، انتخاب وکړه، هله، که نه پخپله يې درته انتخابوم!

د هغو جامو منځ کې يوه ساده خو ډېره ښکلي اوږده سپينه کميس مې خوښ شو، لستوڼي يې تر مړوندو پورې وو او غاړه او د لمنې څنډې يې په ډېر هنر سره جوړې شوې وې. يوه ستره، ښکلې او شنه ټيکري هم له کميسه سره وه.

سارا زما د سترګو نظر تعقيب کړو او ويې ويل: دا دې خوښ شو؟

— نه، زما خپل کالي سم دی.

ساره کميس زما لاس ته راکړو او پخپله يې دروازې خوا ته لاړه او ويې ويل: دوه دقيقې وروسته راځم، کميس دې بايد اغوستی وي!

ما کميس واغوست، خو دباندې وتلی نشوم. ساره بيا بيا دروازه ټکوله.

سارا- آيت، دباندې راشه! يو کميس اغوستل څومره وخت نيسي؟

آخر مې ځان ته دلداری ورکړل او دباندې ووتلم. خاله او سارا دواړو زما په ليدو حيرانې شوې، چې خاله وويل: سارا سپيلنې(اسفند) دود کړه ساره له اسپند سره بيرته راغله.

خاله- ماشالله لورې! نظر نشې! ډېره ښکلې شوې.

— ستاسې سترګې ښکلي دي.

کالي راباندې لږه لنډ وس، خو بيا هم ډېره ښکلي وه.سارا په زور زما ويښتان خلاص کړل او شنه بخملي بنګړې راته په لاسونو کې واچولې، آخر کې يې رانجه راته په سترګو وهل چې ما منع کړل خو ساراپه خپل لاسونو زما مخ ونيو او ويې ويل: خاموشه اوسه، نن هر څه زما په واک کې دي!

د هينداری مخې ته ودرېدم، خو يوه شيبه مې ځان ونه پېژندو دا څوک دی؟ دا واقعاً زه يم؟

سارا- وای خدايه، بد نظر دې درنه لرې وي ماشاالله!"

مونږ د سکندر خان کور ته روان شوو، خو د دروازې مخې ته مې ټول جرات ختم شو.

– ساره، ته لاړه شه، زه ژر جامې بدلوم او بيا راځم!

ساره زما لاس کلک ونيو او ځان پسې کش کړم او ويې ويل: آيت، زه له تا لويه يم نو زما خبره ومنه او غږ مه کوه، چټک شه راځه!

کله چې موږ دننه لاړو، لکه څنګه مې چې تمه درلوده، ټول زما په ليدلو حيران شول. هېڅوک دا انګېرلای نه شو چې ما به داسې ووينې! ټولو داسې کتل، لکه چې زه له بل سيارې راغلی وم! زه ناست وم چې سترګې مې په دريا ولګېدې.

– سارا دوی دلته څه کوي؟

کوثر وويل: زما پلار او آصف خان نږدې ملګري دي او لالا احرار هم له لالا سره مې د ماشومتوب راهيسې ملګري دي!"

– اوس څه وکړم؟ اوففففف سارا، دا هر څه ستا له لاسه وشول.

سارا- آيت، څه پېښنه ده؟ آيا تا قتل کړی؟ په آرامۍ سره کښېنه تا خو هېڅ کار ندی کړی.

هغوی رانږدې شول او چې راورسېدل، ټول حيران ودرېدل. مينه وويل: آيت، دا ته يې؟"

د خپلو غومبرو سره کېدل مې احساس کړه چې ميني په خندا وويل: جلۍ خدای دې بد نظر درنه لرې کړي، ډېر ښايسته شوې يې!

رخشانه وويل: اوس پوهه شوم چې ولې دې تل د هلکانو جامې اغوستې!"

ټولو وخندل، او زما وارخطايي ورو ورو کمه شوه او ښه احساس مې وکړ، کله چې د ډوډۍ وخت شو، موږ هم له کوثر سره د مرستې لپاره ودرېدو.ډوډۍ ووېشل شوه او موږ هم خپل برخه واخيسته، خو د هوا ګرمي او د مېلمنو ګڼ شمېر له کبله، د کوثر په مشوره، حويلي ته لاړو. خو مخکې له موږ، دريا، مينه، رخشانه او يو شمېر نورې نجونې هلته وې.

موږ هم کښېناستو او ټولو ډوډۍ خوړله. د هوا د ګرمۍ له امله، تږی شوم.

– کوثر.

کوثر- ها؟

– له کومه ځايه اوبه راواخلم؟

کوثر- ته کښېنه، زه يې راوړم.

– نه، ته خپله ډوډۍ وخوره، يوازې راته ووايه چې له کومه اوبه واخلم؟

کوثر- دا تعمیر تاو کړه، د دهلیز لومړی دروازه آشپزخانه ده.

ما لکه څنګه چې هغې وویل، هغه لاره ونیوه. تازه مې تعمیر تاو کړی و چې د یو چا سره ټکر شوم!چې سترګې مې پورته کړې، په دوو اشنا سترګو مې سترګې ولګېدې!

آه چې سومره خفه وم ددی دوه سترګو څخه لکه د ځمکې او اوو آسمانونو په اندازه، خو رایاد مې شول چې هغه ورځ یې ویلي و، نور مې نه غواړي چې د ده په وړاندې ښکاره شم!ژر مې خپل څادر مخ ته ونیو او غوښتل مې چې تېره شم له څنګ څخه یې چې غږ یې پورته شو!

احرار- ته څوک یې؟

زما د زړه درزا تېزه شوه او ودرېدم، خو سترګې مې ښکته وې.

احرار- اورې که نه؟ زه وایم، ته څوک یې؟

اوففف خدایا، اوس څه وکړم؟ ژر مې غوښتل چې لاړه شم، چې په کلکه او جدي ډول یې وویل:له تا سره مې خبرې دي!

اه مغرور خان، دا تا غوښتل، ما نه غوښتل چې مخکې درشم! وېرېدلې مې څادر لرې کړ. لکه هغه ورځ مې، د ناوړه غبرګون تمه درلوده، خو یوازې چوپتیا وه!په پای کې مې خپل نظر ته اجازه ورکړه چې د هغه سترګو ته لاړ شي......

احرار- آ...آیت دا ته یې؟

وېرېدم چې بیا هغه ظالم احرار نشي او راسره بد اخلاقي ونکړې، خو بیا هم دومره می د هغه د لېدلو شوق درلود چې نظر مې هم نشو ورڅخه اخیستلې هغه هم راته حیران حیران راکتل، او د ښه شېبې خاموشې وروسته یې وویل:

#امشب از باده خرابم کن و بگذار بمیرم

غرق دریای شرابم کن و بگذار بمیرم

زندگی تلخ تر از زهر بود گر تو نباشی

بعد ازین مرده حسابم کن و بگذار بمیرم

تا به کی حلقه شوم سر بدر خانه بکوبم

از در خانه جوابم کن و بگذار بمیرم

قصه ی عشق بگوش من دیوانه چه خوانی

بس کن افسانه و خوابم کن و بگذار بمیرم

گر چه عشق تو سرابی ست فریبنده و سوزان

دلخوش ای مه به سرابم کن و بگذار بمیرم

اشک گرمم که به نوک مژه چون شمع بلرزم

شعله شو یکسره آبم کن و بگذار بمیرم

خسته شد دیده ام از دیدن امواج حوادث

کور چون چشم حبابم کن و بگذار بمیرم

امشب از باده خرابم کن و بگذار بمیرم

غرق دریای شرابم کن و بگذار بمیرم

احرار- بوډا شوم آیت د یو بې وفا انسان غم زه بوډا کړم.

نور مې ونشو کولې د هغه وسترګو ته وګورم، د هغه داسې نظر زما بدن ته اور اچوه.

د هغه په نظرونو کې د میني او محبت څخه بغیر نور هېڅ هم نه وه، د لومړې ځل لپاره ما ته د نورو انجونو پشان احساس بیدا کړو او غومبری مې د شرم او حیا څخه تک سره شول خپل ټکرې مې بیا خپل پر مخ راکش کړو او په تلوار د هغه د څنګ څخه تېره شوم..

آشپزخانې ته لاړم خو د زیات وېرې او استرس څخه مې لاسونه رېږدل په سل زور او جبر مې ځانته یوه پیاله اوبه راوخیستل د اوبو څکلو وروسته مې لږ طبعیت ښه شو او بیرته انګړ ته لاړم.

سارا- آیت ته چېرته وې؟ ولې دې دومره ناوخته کړل؟

– کومه خبره نشته سارا یوازی د اشپزخانی لاره راڅخه ورکه شوه او په زیات ستونزه مې پیدا که همدی امله ناوخته دی!

سارا- ولې دې رنګ پریدلې دی ښه یې ؟

آیت_زه ښه یم، ښه یم، څه نه دي شوي!

ډوډی ختمه شوې وه او دسترخوانونه هم ټول شوې وو، له نور نجونو سره مو یو ځای ټولو میلمنو ته چای او خواږه ورکړل چې یو کوچنی هلک راغی.

– کوثر خاله کاکا مې وویل چې نکاح وخت دی، وګوره چې څوک نه وی دننه چې موږ راشوو!

کوثر ټول کوټې ته ولېږه ما او سارا هم غوښتل چې لاړ شو، خو کوثر موږ پرینښودو چې لاړ شو

کوثر- د خاله ګرانه،ورته ووایې چې راشي.

کوثر یو لوی شال زموږ په لاس کې راکړو او ویې ویل: تاسو دواړه د ناوې مخې ته دا شال ونیسي

د څو شیبو وروسته، دوه سرې راننوتل، ناوۍ خپل پلار د وکېل په توګه وټاکه، او هغوی بیا لاړه. لا زیات وخت نه و تېر شوی چې د نکاح ترڅلو خبر راغی چې ټولو نجونو نڅا پیل وکړه، نږدې یو ساعت وروسته ناوې او زوم راننوته او له دوی سره یو شمېر هلکان په شمول سبحان، جمال، اصیل، اسد لالا او احرار هم، چې ټول سره یوځای شو او په نڅا یې پیل کړه.

احرار هیچا ته نه کتل او سر یې ټیټ اچولی وو، خو بیا هم د تل په څېر د ټولو سترګې ورته وې.نڅا پای ته ورسیده او ټول په یوه کونج کې ودریدل چې احرار نظر په ما باندې ولږیده! ژور شکایت او ګیله د احرار په کتلو کې وو!

چې په سلو مې د پښتو ټپه ځان سره زمزمه کړه:

#زه ستا مینې نا منکره نیمه

حالات خراب دی براره نه یمه

خو په همغه شور ماشور کې روخشانې ځان تر احرار ورسه وه او هغه بیا په خبرو کې مشغوله شو، ما هم سترګې په غوسه ورنه تاو کړ.اصیل او اسد لالا هم زما په لیدو حیران شو او باور کول ورته ګران وو چې دوی زه داسې ولیدلم.څو شیبو خبرو وروسته دوی دواړه بیا له نورو هلکانو سره یو ځای شول.

سارا- ایت

آیت- ها؟

سارا- هلته وګوره.

د سارا څخه مې نظر واخیست چې سبحان ته مط فکر شو هغه زما په تماشا کې غرق وو!

یو ژوره ساه مې واخیسته مګر پروا مې ونه کړه او بیا د محفل په لیدو شوم

نا څاپه زما لاس په کلکه کش شو! مخامخ مې وکتل د احرار له قهره مخ سره مخه شوم!

آیت- احرار پری مې ابږده.

هغه څه ونه ویل.

آیت- احرار، تاسره یم، ټول موږ ته راګوری،پری می ابږده!

احرار زه له کوره څخه پوره وویستلم او د کور انګړ ته وی ورم.

آیت– احرار!

د هغه د لاس فشار دومره زیات شو چې احساس مې وکړ چې لاس مې مات شو، چې په غوسه زما خوا ته مخ

راواړو،

احرار- څه احرار، څه احرار! تا ولې دا جامې اغوستې؟

آیت- تا ته یې څه؟

زما په خبره احرار چیغې کړې.

احرار- ما لېونی کوه مه! زه وایم ولې دی دا جامې اغوستې هاا ولې؟

آیت- تاته یې څه ها تاته یې څه؟؟ زه ولې تاته حساب درکړم؟ ته څوک یی؟

د احرار سترګې له غوسې برګې شوی.

چې ما ځان یره وویل: ای آیت لعنت دې وي په تا، تا بیا هغه د مار د نیش ژبه بنده نشوه کړې؟ احرار چې کوم زور او فشار زما لاس ته راکړو زما د بنګړو شیشه ټوټې ماته شوه او زما په لاس کې ننه وته، دومره درد یې وکړو چې ناحاپه مې وویل: اخخخخ احرار لاس مې!!!

له سترګو څخه مې د اوښکو یو څاڅکی توی شو، چې احرار تازه زما په لاس نظر ولوېده او په چټکۍ سره زما لاس خوشې کړ. دومره په غوسه و چې زما لاس وینې د هغه لاس یې پوښلی وو احساس یې نه کړه!

د احرار په سترګو کې اندیښنه راغله او په ورختای وویل: آیت... آیت ښه یې؟

آیت- ښه نه یم، نه یم ښه! وحشی ته وګوره، چې لاس دی راته کوم حالت ته ورسول!

غوښتل مې چې د بنګړو مات شوی ټوټه له خپل لاس څخه لرې کړم، مګر نشو مې کولی چې لرې کړم، ما فکر کاوه چې هغه به ما د دې سختی کلمو سره پرېږدي، مګر هغه زه پرېنښودم! برعکس، چې په ډېره اندیښنه سره د بنګړو مات شوی ټوټې راوویسته، د خپل موټر ته لاړ او د لومړنۍ مرستې بکس سره بیرته راغی او په احتیاط سره یې زما لاس پټی کړ.

که رښتیا ووایم په ژوره توګه خوشحاله شوم، ځکه فکر مې کاوه، چې له هغې ورځې وروسته به یوازې له احرار څخه کرکه تر لاسه کړم خو اوس هماغه احرار زما مخې ته په مینه ناست دی، که پوهیدم چې داسې به کېږي. د دی څخه مخکې به مې خپل لاسونه په وینو رنګ کړي وایې نه پوهېدم چې موسکا مې په شونډو ښکاره شوی

احرار- ولې خاندی، درد خندا لری؟

آیت- خندا کول ګناه ده؟

احرار په خواشینۍ سره یې سر وښوراوه، کار یې پای ته ورسېده.

احرار- ایت

ایت- هاا؟

احرار - زه...... زه بخښنه غوارم! قسم چې ما نه غوښتل تا ته زیان ورسوم خو..... خو کله چې مې هغه بیشرف ولید چې تا ته داسې ګوري، سترګې مې له وینو ډکې شوې!

ایت - څوک؟

احرار- هغه بېشرفت چې تاته نیږدی وو په لعنتي سترګو یې لاحول ولا.....

د لومړي ځل لپاره د سبحان په لیدو خوشحاله شوم، ځکه چې د احرار په څېره کې مې د حسد څرګندونه ولیدله!

غوښتل مې یو څه ووایم چې رخشانه راغله.

رخشانه - احرار احرار ته چیرته یې، له یو ساعت راهیسې ستا په لټه کې وم!

احرار– کار مې درلود، ته لاړ شه زه راځم،

خو هغې احرار تر لاس ونیوه.

رخشانه - راځه، ټول تاته په تمه دي!

سترګې مې په بشپړه توګه خلاصې شوې! څه یی وکړل؟؟؟ د احرار لاس یې ونیول؟ بی شرمه نجلۍ!

د احرار لاس مې د هغې د لاس څخه لرې کړو او ومې ویل: رخشانه، موږ دلته خبرې کوو! یعنی، تاسو په خپلو لویو سترګو ما نه ګورئ؟

رخشانې په غوسه وویل: نه زه ستا د لیدو توان لرم خو ناراحته کیږه مه، زه له تا سره کار نه لرم، زه له احرار سره کار لرم، ته تر هغه وخته چې غواړې دلته پاتې شې، نو پاتې شه خو احرار له ما سره ځی!

په غوسه شوم خو په خندا مې وویل: نه زما ګرانې، اندیښنه مه کوه، ته دومره مهم نه یې چې زه ستا له امله خفه شم! زه همدلته پاتې کیږم او احرار به هم پاتې کېږي، تاسو پخپله لاړ شئ ځکه زموږ خبرې لا نه دي ختمې شوې!

روخشانې احرار ته وکتل، خو کله چې یې ولیدل چې احرار ورسره نه ځي، نو په غوسې سره دغه ځای پریښودو.

ما د هغه خبری په مسخره تکرار کړل

آیت - (احرار، ته چیرته یې، زه له یو ساعت راهیسې په لټه کې یم! زه له تا سره کار نه لرم، زه له احرار سره کار لرم، ته تر هغه وخته چې غواړې دلته پاتې شې، نو پاتې شه خو احرار له ما سره ځی! بی شرمی نجلۍ حیا وکړه ولې د خلکو د زوی لاس څخه نیسې؟ مګ......

احرار- ایت.

ایت- ها؟

احرار- ته هم بوی احساس کوئ؟

ایت- نه، د څه بوی؟

احرار- ته څنگه احساس کولی نه شئ؟ هر ځای بوی نېولې؟

ایت- احرار د څه شې بوی؟

احرار- د بخیلې بوی!

اوففففففف خدای دی سزا درکړی ایت لوړ فکر دی وکړو..

ایت- د څه شې بخیلې، ولې باید بخیلې وکړم؟

احرار په موسکا وویل: ما خو ته ونه ښودلې چې تا بخیلې کړی؟؟؟؟

افففففف، ایت خاوره دی په سر شه!

ایت- هغه..... زه ....

احرار- نو ولې دی رخشانه سره بخیلې وکړه؟

ایت- هغه نجلی څه لري چې زه له هغه سره بخیلې وکړم؟؟

احرار- نو تا بخیلې ونه کړ؟

ایت- نه!

احرار- نو ولې دې زما لاس ورڅخه اخوا کړ؟ ولې په غوسه شوې؟

ایت- زه په غوسه شوی نه وم!

احرار- ښه ده، نو اوس چې ته.کومه ستونزه نه لرئ، زه به هغه سره نڅا وکړم!

ما خپل شونډان د ډېر قهر وچیچل او ومې ویل: که ته جرعت لری لاړ شه !

احرار- که ونه وایی چی ولی دی بخیلی وکړل ځم.

– اووففف احرار بخیلی می نده کړی.

احرار- ښه دی نو زه لاړم.

احرار وغوښتل چی لاړ شی خو ناخبره می په چیغو وویل: هو بخیلی می کړی ! بخیلی می کړی ځکه مینه درسره لرم لکه لیونی دربانډی میه  یم پوه شوی ؟ ښه شو؟

وای خدایه ما څه وکړل ؟څه می وویل ؟

احرار ژر راغی غوښتل می چی وتښتم خو لاس یی راته ونیو او ویې ویل: څه دی وویل ؟؟؟

– چ... چیشی نه!

وروسته د څو شیبو چوپتیا څخه د هغه د خندا غږ پورته شو او ویې ویل: یالله پوهیدمممم پوهیدم چی دا راسره مینه لری او هغه تول خبری دروغ وی...

په تیزه سره هغه ځای می پریخود او دننه لاړم خو د احرار د خندا غږونه زما په غوږ رسیده !

سارا- آیت..

– همم

سارا- جینی په تا چیشی شوی؟

ژبه می بنده شوی وو چی د ساره سترگی زما لاس ته شو.

سارا- آیتتت ستا په لاس څه شوی ؟؟؟

خو زه په بل نړی کی غرق وم.

سارا- اخخخ الهی ړنده شم درته ته حتماً نظر شوی یی؟

سارا زما لاس یی پریخود او ویې ویل: آیت آوری ؟آیتت

– هاا.... ه....هو...

سارا خپل لاس یی په اندیښنه زما په تندی یی کیښود.

سارا- تبه هم نلری نو په تا څه شوی؟غواړی کور ته لاړ شو؟

– ن ...نه

ټول نڅا کی مصروف وو چی احرار صالون ته راستون شو،یو هلک د هغه خواته لاړه او هغه یی د نڅا میدان ته ویوړ. احرار ډیر مست نڅا او خندل یی په کوته کې ناست خلک ټول په چوپه خوله ناست وو او د هغی تماشه یی کول!رخشانی هم ډیر په ناز او مینه نڅا یی کو او ټول ورته سترگی څیر وو.

پرته له دی چی مخ واړوم په غوسه می وویل: ساره رخشانی ډیر ښکلی نڅا کوی ! ډیر هم ښکلی ده همداسی نده؟

– نه!

زه دومره په فکر کی غرق شوي وم چي د سارا تګ او د احرار کیناستل می هیس پام نشوو..

– ساره چیرته لاړه؟

احرار- هغې سره میني کار درلود.

ما سر وخوځاوه، مګر ما یو عجیب احساس درلود، شاید دا شرم و، زه نه پوهیږم، مګر ما غوښتل له هغه ځای څخه لاړه شم.

احرار- ایت

– هوم.

احرار- نور رانجه په سترګو مه وهه ؟

– ولی بد ښکاري؟

هغه سر د نه پشان وخوځاوه او ویې ویل:برعکس، ته دومره ښکلې شوې چې د ټولو سترګو پام تاته دی .

زما په شونډو یوه غیر ارادي موسکا راڅرګنده شوه، غوښتل می لګ یی وزوره وم نو ما وویل: ایا ستا مطلب دادی چې زه د رانجه پرته ښکلی نه وم؟

هغه د تل په څیر په مینه راوکتل او ویې ویل:

#ز عشق نا تمام ما جمال یار مستغنی است

به آب و رنگ و خال و خط چه حاجت روی زیبا را

#حافظ.

ما په ناخبري وویل: ولې دومره ښکلې شعر وایې؟

هغه هم زما غوندي مسکا وکړل او ویې ویل: ځکه چې زما لیدونکي دومره ښکلي دي چې دا اوه اسمانونه کی ځلیږی

– اوووف احرار بس دی خپل مئین توب خبری درتولې کړه.

هغه وخندل خو زما زړه یې ولړزه ولو.

احرار- آیت هېڅ کله می فکر نه کاوه چي تا به یوه ورځ په سره شوي غومبرو ووینم

کرار می پر اوږو ووهلو او ومې ویل: زه ښه شو ارمان په زره پاتي نشوی .

هغه غوښتل چي ځواب راکړی، مګر مخکې له دې چې ځواب راکړی ، ما د سارا غږ واورېدو.

سارا- آیت ولاړ شو ډېر ناوخته شوی ؟

ما ساعت ته وکتل د رښتیا هم ناوخت شوی وه.

– هو راځه. چی ځو.

مورې دواړه خدای په امان وکرل او باندي ووتلو چی سبحان هم راغی.

سبحان- ناوخت دی زه مو رسه وم.

– نه مننه زحمت مه باسي

سبحان- زحمت ندی راځې.

– آیت لاړ شو؟

شاته مې وکتل او له قهرجن احرار سره مخامخ شوم چې په موټر کې ناست و

زه پوهیدم چې هغه د سبحان په لیدلو غوسه شوی و او اوس که زه ناهیلي کړم نو غوسه به یې نوره هم زیاته شي، له همدې امله بې له څه ویلو له ساره سره په موټر کې کېناستم.که څه هم ما نه غوښتل چې له احرار سره لاړه شم، خو پوهیدم چې سبحان شله دی او په هغه غوسه چې د احرار په څېره کې ښکاریده، له هغه سره تلل تر ټولو غوره لاره وه، که نه نو ضرور به جګړه یې کړې وایی.هغه په ټوله لار کې د شیشې له لارې ما ته کتل او مسکا یی کول په پای کې یې د دروازې مخې ته کښته شو.

– احرار..

احرار- جان.

زما زړه په درزا شروع وکړل.

– م... مننه.

هغه وخندل او غلی شو زه لا نه وم ننوتلی چې بیا یې غږ وکړو.

احرار- ایت.

– هممم؟

احرار- څه شی نه ، هغه مطلب ، ښه شپه ولری ؟

هغه سر وخوځاوه او مورې هم کور ته ننوتو، د نن ورځې پیښې په یادولو سره زما په شونډو مسکا راغله او یوه اونیۍ وروسته په ارامه ویده شوم.بله ورځ سهار وختي باغ ته ورغلم او په کار مې پیل وکړو.

سارا- سلام  آیت ، سترې مه شی؟

—علیک سلام دې وي ژوندي وسی.

سارا- ما تاته خواړه راوړی، ته باید سترې وې، سهار وختي راغلې.

— زه له سترې ډېر خه زیات وړی یم.

سارا- نو راشه خپل لاسونه ومینځه، زه به دسترخوان آوار کوم.

د لاسونو له مینځلو وروسته بېرته راغلم او پر دسترخوان کېناستم، د تنور پخې شوې بولانۍ بوی مې نوره هم د لوږې احساس وکړ.

— وای وای تا بولاني چمتو کړی؟

سارا— هو، ما ستا لپاره بولاني چمتو کړی دی هغه هم ترخه بولانی.

— خیرت خو دی ته څنګه دومره مهربانه شوې؟

سارا خپله خوله کږه کړل او سترګې یې پټې کړې او ویې ویل: زه تل مهربانه یم خو ته قدر ناشناس یی.

په خندا مې وویل: هو، ګرانی ته صحی وایی ښاغلی ملایکې ستا بالونه ( وزری) چیرته دی؟

سارا- ته دی خپله ډوډۍ وخوره زما په وزرو کار مه لره..

زه د خواب ورکولو په حال کې وم چې یو چا له شا څخه غږ وکړو: ایا تاسو یو نابللی میلمه ته اړتیا نلرئ؟

شاته مې وکتل احرار او اصیل می ولیدل،په ټوکو می د اصیل ځواب ورکړ: نه، موږ ورته اړتیا نه لرو.

اثیل- نو موږ بیرته ځو.

— په مخه مو ښه.

ساره ماته په تیزي سرهوکتل او ویې ویل:میلمه د خدای دوست دی ، راځی مهرباني وکری .

اصیل- ښه وګوره  زده که ، سویا ( خرګوش) ،

— راځه کښینه ، ډېرې خبرې مه کوه، بیزو.

زما او اصیل په ټوکو او د احرار او ساره په خندا ډوډۍ مو وخوړل شوه.

اصیل- لاس مو درد ونه کی ډیر مزه داره وو .

— ساره هر څه تیار کړي وو.

اصیل په حیرانتیا وویل: رښتیا؟؟

ما په ویارۍ وویل: هو کنه نو د چا خور ده؟

سارا- نوش جان مو.

له ډوډۍ خوړلو وروسته ساره او اصیل د باغ د ښودلو لپاره لاړه خو زه او احرار هلته ناست وو چې ناڅاپه یو څه زما په پښو راښکته شو.

– احرار، ته څه کوې؟

احرار- عه ما مې څوروه.

– دا د شرم خبره ده، که دی ساره یا اصیل ووینې؟

احرار- پرېږده چې وګورئ مګر ته پردی یی ؟ که زه خپل سر د خپلې میرمنې په پښو کېښږدم نو د چا په پښو یې کیږدم ؟

ما آسمان ته مخ وا ړو او ومې ویل: پاک ربه خپل دی بنده ته صبر او خپل هغه بنده ته لږ عقل ورکړه زه له کوم وخت ستا میرمن شوم؟

احرار- دیر ژر کیږې.

– چا وویل؟

احرار- ما ..

– تا اشتباه وکړل ، زه به ستا ښځه نه کیږم.

د احرار مخ بدل شو او په جدي توګه یې وویل: نو ته به د چا ښځه کیږی؟

اوووف زما خدایه، ده بیا خبره چیرته کش کړل؟؟

– زه د هیچ چا ښځه نه کیږم .

احرار- تاسو کولې هم نشې د بل چا ښځه شې، ځکه چې تاسو یوازې د احرار ښځه یاست دا خبره خپل هغه کوچنی مغز کی ځای کړه.

څومره خوږ ګواښ و، زما په زړه کې د زرګونو تیتلیانو( شوبراکانو) فکر د الوتلو لپاره خپلې وزرې خلاصې کړې، په هماغه غوټۍ سره چې د هغه د وریځی ترمنځ وه، سر یې زما په پښو کېښود او سترګې یې وتړلې.ما ورته په غور سره وکتل، څومره بدل شوی و، ګډوډ ویښتان، ډوبې شوې سترګې، اوږده ږیره ډیر ډنګر او ضعیفه شوې وو هی قسمته زما له احرار سره دې څه وکړل؟ تا زما په یار څه ورځي راورې؟ خو بیا هم دومره ښکلې وه چې هر لیدونکي یې خپل ښکلا ته متوجه کول

په ناځاپي ډول، زما لاسونه د هغه ویښتو ته لاړل او لاس مې په کې تېر کړو چې هغه سترګې یې خلاصې کړې.

— احرار.

احرار- وایه د احرار ژونده.

کاش چې ځان مې په همدی شېبو کې نیولی وای، نو د تل لپاره په همدې شېبو کې پاتې شوی وای او دا کلمه مې اوریدلی وایې.

— تا له ځان سره دی څه کړی؟ وګوره چې ته څومره ډنګر شوې یی ، سترګې دې ډوب شوې او ږیره دې هم لویه شوی ده زما احرار داسې نه و.

احرار:

# چو عاشق میشدم گفتم که بریدم گوهر مقصود

څه دانستم که این دریا چه موج خون فشان دارد.

احرار- زما ژونده همدا چې ستا پرته ما ساه اخیستل او ژوندی وم همدا معجزه ده.

— احرار، زه ستا د خوښۍ لپاره لاړم، خو هر څه بل ډول شول.

احرار- زما روح، ته نه پوهېدې چې ته زما خوښه یې؟ او پرته له تا خپل ځان ربه ته ....

ما هغه ته اجازه ورنکړه چې دا خبره کامل کی د ځان کلمې په اوریدلو سره زما مزاج بدل شو زه له احرار پرته یوه ثانیه هم نه شم منلی.

— احرار

په غوسه مې مخ واړوه

هغه په زړه پورې وخندل او ویې ویل: تا خو زما څخه کرکه درلود اوس نو ولې زما د مرګ په خبره خفه کیږی؟

— هو، زه له تا څخه کرکه لرم، لیونی مغرور خان!

دا ځل یې په لوړ غږ وخندل.

احرار- غوسه دی ښایسته ده یار می خو د عاشق زړه ته درد ورکول ګناه ده.

— زه نه پخلا کیږم څه....

احرار- هیڅ لاره نلری ؟

ما لږ فکر وکړو او ومې ویل: یوه لاره شته.

احرار- قبول دی.

– ایا ته ډاډه یی وروسته به پښیمانه کیږی نه؟

احرار- هر څه چې وي زما قبول دی.

– خپل ویښتان لنډ که، زه خپل پخوانی احرار غوارم.

احرار- په سترګو نور څه وکم ؟

حیران شوم، احرار وویل په سترګو ؟ احرار خان مشرف وویل په سترګو؟ واو!!!

– ته همدا کار وکړه بیا به خبری وکوو

احرار سترګې وتړلې او په شونډو یې موسکا راښکاره شوه

– د څه په اړه فکر کوی؟

احرار- زموږ د راتلونکی په اړه.

ما د هغه په څیر وخندل.

– ښه څه فکر کوی؟

احرار- ته یی زه یم ، زما مور ده، اصیل، ایمان، مدثر، لالا اسد او مینه ده زه له اصیل، لالا اسد او مدثر سره کباب جوړوو. او ته زما د مور مینه او ایمان سره مجلس کوی

– نو کوچنی آیت چیرته ده؟

احرار- آیت راغلې ماته شکایت کوی.

– د چا شکایت کوی؟

احرار- زما او ستا د لور شکایت کوی( هغه خپل غږ د ماشوم په څیر جوړ کړو او ویې ویل: کاکا احرار، وګوره، هغه زما نانځکه واخیسته.

ما په کنټرول شوي خندا وویل: نو ته څه وایې؟

احرار- زما لوری، چاره څه ده هغه خپل مور غوندی شیشګه ده ته هم مجبور یی لکه کاکا پشان دی وزغمی ؟

او بیا هغه په لوړ غږ وخندل چې ما د هغه اوږه چونډی کړل او ومې ویل: زه زور وایم؟ زه شیشکه یم؟

احرار- هو، ته هم ځورونکی یی هم ظالمه یی.

ما د هغه مسخره الفاظ تکرار کړل.

– ته هم ځورونکی او ظالمه یی. ایا ما ستا میراث په زور اخیستی ؟

احرار په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ایت، ته خو ډېر بی ادبه یی.

– مننه ستاسو څخه.

ناڅاپه مې هغه ورځ را یاد شول چې موږ ټول چینې ته تللی وو ما په غوسه سره د هغه ویښتان راکش کړل.

احرار- آخخخ څه شوي دی ؟

– څه شوي دي هاا؟ تا ولې هغه ورځ د چینې سره له هغې نجلۍ سره داسې خندل؟

احرار په خندا وویل: څه وشول بخیلی دی وکړل؟

ما د هغې ویښتان نور هم کش کړل.

– ته ماته ځواب راکړه..

احرار- وحشي زما ټول ویښتان دی وشکول.

– ښه کار می وکړو ترڅو ته وسیږی او نور د انجونو سره داسې ونه خاندی ، په ځانګړي توګه هغه انجلۍ روخشانې سره.

احرار- ایا دا کیدی شي چې ته اوسیږی او زه دی و بل چا ته وګورم؟

ما د هغې ویښتان پریښودل او ومې ویل: نو ولې دې نجلۍ ته کتل؟

احرار- لومړی دا چې ما هغې انجلۍ ته وه نه کتل، ما یوازې د هغې سره خبرې وکړې ځکه چې موږ د ماشومتوب ملګري یو، او دویم دا چې رخشانه کوژدن ده ، بخیلی میرمني.

زه حیران شوم او ومې ویل: ریښتیا؟؟؟

احرار- ساحل دی په یاد دی؟

– د حریر ورور؟

احرار- هو هم هغه یی کوژدن دی.

– امممم خدای دی د یو بل سره زاړه کړې.

زه د حریر یاد کی وولیدلم.

– حریر څه شو؟ زما مطلب دی، هغه څه کوي؟

احرار- ستا له د تلوو څو مياشتې وروسته هغه ايټاليا ته ولاړ او هلته پاتې شوه.

— څنګه لاړه؟ يعنې څنګه يې تا پرېښود؟ هغه خو ستا س...

احرار- کېدای شي پوهه شوې وي چې په يو طرفه لار تګ هېڅ ګټه نه لري!

د حرير لپاره خپه شوم، او دا خپګان له احرار څخه پټ پاتې نشو هغه کرار وويل: ولې خپه شوې؟

— زړه مې د حرير لپاره خپه شو احرار، ته پوهېږې چې تر يوه طرفه مينې ډېر درد بل هېڅ شې نلری، زه هغه يو دم درک کولې شم.

احرار څو شېبې وروسته هيڅېد او چوپتيا يې پای ته ورسوله او ويې ويل: آيت ولې کله چې زما له مينې خبر شوې، ځان دې داسې کړ لکه کرکه چې راڅخه لری؟

شرم زما ټول وجود ونيو او ما په کرار غږ وويل: احرار، زه او ته ډېر توپير لرو، د دې توپيرونو سره څه کولای شم؟

احرار- دا توپيرونه زما لپاره هېڅ ارزښت نه لري!

— پوهېږم، خو ټولنه؟ ستا کورنۍ؟ خلک څه به وايي؟ تا ددی په اړه کله فکر کړی؟ احرار، دا توپيرونه شته، موږ يې نه شو انکار کولې.

احرار- آيت، زما کورنۍ دوه کاله مخکې دا توپيرونه منلي وه، او پاتې شو د خلکو او ټولنې خبره نو مازر ځله درته ويلي، زما لپاره هېڅ اهميت نه لرې چې خلک څه وايې.

د جمال غږ زما د خواب مخه ونيوله.

جمال- آيت!

— سلام، جمال! پخير راغلې.

جمال په حېرانه سترګو موږ ته کتل.

جمال- خوشحاله اوسې! سلام احرار خان!

احرار- سلام، جمال خان! ښه يې؟

جمال- د خدای فضل دی.

په حېرانه حالت کې مې وويل: تاسو يو بل پېژنئ؟

جمال- هو! له هغه ورځې چې احرار کلي ته راغلی، سره ملګری يو!

احرار وویل: تاسو یو بل له کومه پېژنئ؟

– د جمال او ساره پلرونه د کورنۍ ملګرتیا درلود او جمال دې روغ وي، له لومړۍ ورځې راهیسې یې زموږ سره مرسته کړې، او نن د جمال په برکت دا باغ لرو!

جمال ووېل:  دا څه خبره ده؟ تاسو دواړه راته د یاسمین پشان یاست! رښتیا، تاسو دواړه څنګه یو بل پېژنئ؟

– احرار زما بهترین دوست دی، او همدارنګه کاکا حمید در یاد دی؟

جمال- هغه چې ته یې موټرچلونکی وې؟

– هو، احرار د هغه زوی دی!

جمال حیران شو او ویې ویل: رښتیا؟؟

– هو!

سارا او اصیل هم بېرته راغلل او سلام یې وکړ.

سارا- خیریت خو دی لالا! څنګه مو موږ در یاد شو؟

جمال-  خیرو خیرت دی، یاسمین خواږه تیار کړي و، تاسو ته مې هم راوړل.

– وای وای، عسلي خواږه هم شته؟

جمال- هو شته! هغه مې خاص ستا لپاره پخه کړي!

– ساره جانې وا دې ورېده؟ زما له خواږو سره دې لاس مه لګوه!

سارا- سمه ده، کنجوس، ټول ستا دي!

ټولو وخندل، چې اصیل ووېل: لږ لوی شه، خرګوش! لا هم لکه د ماشومانو پشان یې، په اعتراض سره مې ووېل: احرار! ګورې، دا بېزو ما څوره وي.

احرار- پرېږده هر څه چې وایي و دی وایې خو ته هېڅکله مه بدلېږه، همدا آیت پاتې شه!

– وا دې ورېدل بېزو؟؟

ما ژبه را وویسته چې بیا ټولو وخندل! په پای کې ورځ ختمه شوه او ټول خپلو کورونو ته لاړو.له هغه ورځې وروسته احرار او اصیل هره ورځ زموږ لیدو ته راتلل. ساره هم له احرار سره ډېره نژدې شوې وه، خو له اصیل سره یې تر احرار ډېر صمیمي والی پیدا کړی و. وختونه په ښه ډول تېرېدل او داسې ښکارېده چې زما تورتمه شپه هم پای ته رسېدلې ده!

ورځې يوه پر بله تېرېدې چې يوه ورځ کور ته راورسېدم او و مې ليدل چې سحر له ساره او خاله حليمه سره خبرې کوي.

– سلام.

خاله- وعليکم سلام، لورې! ښه راغلې، ستړې مه شې.

– ژوندۍ اوسې، خاله جان.

سحر- سلام.

– سلام، سحرا! ښه يې؟

سحر- ښه يم، مننه. ښه شو چې راغلې، زه هم ستا انتظار ووم.

– خيرت خو دی؟

سحر- هو خيرو خيرت دی، سبا د ثناء کليزه ده، راغلم چې بلنه درکړم.

– مبارک دې وي! مننه.

سحر- خامخا راشئ، ستاسو انتظار کوم.

– ان‌شاءالله، که د خدای رضا وه در به شو.

سحر- پخير راشې ښه نو زه لاړم خدای پامان.

– په خير ولاړه شې.

سبا چې بېګ ته روان وم، ساره ته مې غږ وکړو.

– سارا!

سارا- هاا؟

– زه لاړم څه ته خو اړتيا نه لرې؟

سارا- نه، هېڅ نه.

– رښتيا، تياره اوسېږې.

سارا- سمده تياره يم.

– که درته زحمت نه کېږي نو زما کالي هم تيار کړه.

سارا- سمده څه زحمت، خامخا به تیار کړم.

— د الله پامان.

سارا-  په خیر ولاړه شې.

په بڼ کې مې خپل کارونه زر خلاص کړل او بازار ته ولاړم. د ثناء لپاره مې دوه تحفې واخیستې، یوه د ساره له لوري او بله له خپله لوري، بیا کور ته راستانه شوم او ساره ته مې غږ وکړو: ساره، چېرته یې؟

سارا- دلته یم.

کوټې ته یې ورغلم.

سارا- سلام، په خیر راغلې.

— وعلیکم سلام خیر یوسې تیاره یې؟

سارا- تیاره یم. ته خپل کالي بدل کړه چې لاړ شو.

لاس او مخ مې ومینځل، کالي مې بدل کړل او بهر لاړم، چې و مې لیدل سارا په اندېښنه ولاړه ده.

— څه شوي؟

سارا- اوفففف، ایت! موږ تحفه وانخیسته؟

— واه، څه وایې؟

سارا په اندیښنې وویل: اوس څه وکړم؟

— هېڅ. ته مه راځه، بې له تحفې چېرته ځې؟

سارا په خفگان وویل: اممم سمده نو ته ورځه خوند واخله خدای پامان.

— د الله پامان.

سارا په خفه زړه غوښتل چې دننه لاړه شي، خو زه وخندېدم او ومې ویل: دومره مظلومه شوې! راځه، راځه. ما تحفې اخیستې، هم تاته او هم ځانته.

سارا- رښتیا وایې؟

ما په سر اشاره وکړه چې هو، سارا زه په غېږ کې ونیولم.

سارا- آیت! ته یوه دانه یې.

— بس دی، چاپلوسي دې بل وخت ته پرېږده. اوس ځو، ناوخته شو.

د خاله سکینه کور ته ورسېدو. که څه هم تمه مې نه درلود خو ټول حاضر وو. ټولو ته مو سلام کړ او کیناستو.
سحر غږ کړو: ایت!

— ها؟

سحر- یو ځل دلته راشه.

اشپزخانې ته ورغلم، او ومې ولیدل چې سحر او سارا دواړه ولاړې دي.

— څه شوي؟

سحر- دا ګیلاسونه راښکته کړه، زموږ لاس نه رسېږي!

ور نږدې شوم، ګیلاسونه مې راښکته کړل او بېرته صالون ته راغلم. دا ځل احرار او نور هلکان د سحر د ورور عمران سره یوځای حاضر وو، او له بده مرغه، سبحان هم هلته و.احرار خپلې ږیرې او وېښتان اصلاح کړي وو، بیا هغه زما پخوانی احرار شوی و! ما په سر اشاره وکړه چې سلام او د هغه مسکا مې ولیده. څو شېبې وروسته، د کلیزه دې مبارک "تولدت مبارک" سندره ولګېده، او ثناء له سحر او ساره سره را داخلې شوې. کیک پرې شو، او د ټولو مخکې دریا ورته مبارکي ورکړه. د دریا نه وروسته نور ټول مبارکی ته ورغلل.

وروستی کس لالا فرهاد و، خو چې ثناء لالا فرهاد ولید، نا ارامه شوه.

لالا فرهاد-  مبارک دې وي! ان‌شاءالله چې کال دی ښه تېر شي...

ثنا- م.... مننه.

لالا فرهاد- هیله کوم، دا یوه وړه تحفه ده!

ثنا- ولې دې زحمت وایست؟

لالا فرهاد- د څه زحمت ستاسو وړ ندې.

احرار- ته هغه څه وینې چې زه یې وینم؟

— څه شی؟

احرار ثناء او لالا فرهاد ته اشاره وکړه چې له دې نړۍ بې‌خبر په خبرو ډوب وو. په غیر ارادی توګه مې موسکا وکړه. زه د لومړۍ ورځې پوهېدم چې ثناء له لالا فرهاد سره مینه لري، ځکه هر ځل به د لالا فرهاد د نوم په یادولو سره د هغې شونډې په موسکا را تلې او حال یې بدل کېده خو دا ځل د لالا فرهاد نظر هم بدل ښکارېده.

کرار مې وویل: ګواکې یوه واده په مخکې لرو!

احرار ږ- هو ولای همداسې ښکاري.

موږ دواړه وخندل.

– احرار!

دا د دریا غږ و. چې احرار ته یې غږ کاوه.

احرار- ها؟

دریا- کېدای شي نڅا وکړو؟

هغې خپل لاس د احرار پر لوري اوږد کړ، خو احرار پرته له دې چې دریا ته وګوري، وویل: ما له نڅا کولو ښه نه راځي.

دریا- راځه، لطفاً!

زما صبر پای ته ورسېدو او ومې ویل: هغه وایې نه مې خوښېږي بیا ولې اصرار کوې؟

دریا- په تا څه؟ ګواکې ته د احرار ویانده یې؟

– هو، زه یې ویاند یم! ستونزه لرې؟

دریا په قهر صحنه پرېښوده.

– توبه یا رب، وختونه بدل شوي دي! اوس نجونې اصرار په نڅا کوي!

احرار- ایت! زما میرمن له څه وخت راهیسې بخیله شوې؟

– خوښه دې نه شوم؟ هو، جناب! زه بخیله یم. نه مې لورېږي چې ته له دې نجلۍ سره خبرې وکړې!

احرار په خندا وویل: نه برعکس، زه ډېره هم خوښه یم! آفرین، تل همداسې بخیلې کوه!

– احرار! زه ټوکې نه کوم. دا انجلۍ په تا نظر لري!

احرار- ښه، پرېږده چې نظر ولري، کله چې زما نظر یوازې په تا دی، نو څه توپیر کوي؟

زه په دننه کې سل ځله وخندېدم، خو په ظاهره مې یوازې چوپتیا غوره کړه.

احرار- ایت!

– هوم؟

احرار- زه به ستا په اړه خدای ته شکایت وکړم.

– ولې؟

احرار- ځکه ته ډېره ظالمه یې!

حیران شوم او ومې ویل: ما پر تا څه ظلم کړی دی، جناب!

احرار- دوه کاله ستا د فراق په اور کې سوځېدم، دا بس نه دي؟ ولې دا بیلتون پای ته نه رسوي؟ زما پلار او مور ټول ستا انتظار کوي. د ایمان له حاله مه پوښتئ، له هغه وخته چې ستا نوم یې اورېدلی، دومره بې قراره ده چې ورته نه شم ویلی. اخر ولې دا فراق پای ته نه رسوې؟

لا مې تازه غوښتل څه ووایم چې د دریاب غږ مې مخه ونیوله.

دریا- احمقه نجلی، تا څه وکړل؟

سارا- ز... زه بخښنه غواړم.

دریا- ستا بخښنه ما ته څه ګټه راکوي؟ زما جامې دې خرابې کړې.

زه د ساره خواته ورغلم چې وېرېدلې وه.

— دلته څه خبره ده؟

دریا مخکې شوه او په همغه غوسه یې وویل: څه خبره ده؟ دا احمقه خور دې د مېوې جوس زما په جامو واچاو.زما جامې خرابې شوې.

سارا- والله که د قصداً مې داسې کړې وی اوس یې زر پاکوم.

دریا- څنګه به یې پاکوې؟ دا د انارو د اوبو داغ دی، نه پاکېږي.

اصیل نږدې شو او ویې ویل: دریا، بس کړه.

دریا- نه اصیل، بس نه ده. دا بیعقله انجلۍ...

— دریاااا خپل خبرې ته پام کوه...

د فرهاد د چیغې سره، دریا لا زیاته عصبي شوه. پوهېدم چې دا اور به لا زیاتوي، نو زر مې وویل: ته ډېره مه چیغېږه، یواځې دا ووایه چې له کومه ځایه دې اخیستې دا جامې چې سبا به نوې جامې درته راوړم.

دریا لوړ وخندل او په طعنه یې وویل: ګورئ، میسره څه وایي؟ وایي نوې یې را نیسم!

وروسته یې په حقارتي نظر زما لور ته مخ کړ او زیاته ویې ویل: ته فکر کوې زه ستاسو په شان د سړک کالې اغوندم؟ ته په اصل کې د دې جامو قیمت ته خبر یې؟ که ته او دا ستا عجوبه یتیمه خور دې دواړه وپلورې، د دې جامو پیسې به...

ما پرېښنبودل چې خبرې یې پای ته ورسېږي.

او ومې ویل: سارا، ولې دې د انارو جوس په دې جامو واچاو؟

سارا- آیت... قسم خورم قصداً مې نه دي کړي!

— ستا ګناه همدا ده چې باید په تېروتنه دې د جامو په ځای دا جوس( د خبرو سره سم مې د ساره له لاس څخه د انارو جوس ګیلاس واخیست او په بشپړ ډول مې د دریاب په مخ کې وغورځاوه او ومې ویل: باید قصداً دې په مخ یې غورځولی وای، همداسې!!!

هغه حق نه درلود چې یوازې د دې لپاره چې د شتمنې کورنۍ څخه ده، مور ته داسې سپکاوی وکړي. دریا چې تر دې دمه لکه بوت پشان هک حیرانه شوی ولاړه وه، غوښتل یې چې ما ته حمله وکړي، خو مخکې له دې چې دا څه وکړي، ما یې ویښتان په لاس ونیول.

دریا- احمقه نجلۍ، پرې مې ږده، زه به تا ووژنم...

— غوږ ونبسه د شیطاني ښکلا، زه د نورو په څېر نه یم چې ستا چاپلوسي وکړم. که شتمنه یې، که ښکلې یې، هر څه یې، ستا خپل دي. وګوره، که یو ځل بیا یوازې یوځل بیا که و مې لېدلې چې زما خور ته دې سپکاوی کوی ژوندی به دې خاور ته وسپارم...

دریا- ته څنګه جرأت کوی داسې ووایې؟ ته څوک یې چې ما ته داسې خبرې کوې؟ یوه داسې انجلۍ چې نه معلومېږي له کومه ځایه راغلې، کورنۍ دې چېرې ده؟ څوک یې ته یوه بې اصله نجلۍ یې!

— خوله دې وتړه!

د احرار چیغه د دریا په څېره کې وېره راوسته او ما هم پرېښوده.

احرار- چا ویلي چې آیت کورنۍ نه لري؟ چا ویلي چې هغه بې اصله ده؟

دریا- ایا ما دروغ ویلي؟ دا نجلۍ څوک ده؟ د هغې کورنۍ چیرته ده؟ دا بی اصل نسب.

احرار زما خواته راغی او زما لاس یې په خپل لاس کې کلک ونیوه او ویې ویل: دا انجلۍ نوم لرې او نوم یې ده آیت او د احرار مشرف کوژدن او میرمن ده او زه د هغې کورنۍ یم..

ټول غلي ولاړ وو، خو دریا نور حتی ساه نه اخیسته. هغه څه چې دې واورېدل.

احرار- آیت زما نامزد ده او ژر به واده وکړو.

دا ځل سبحان په بې باوري سره وویل: دروغ وایې، ته تازه څو ورځې کېږي دې کلي ته راغلی یې، کوم نامزدي؟

مخکې له دې چې احرار ځواب ورکړي، لالا اسد وویل: دوی دوه کاله مخکې ټاکل شوې وه چې واده وکړي، خو نصیب اوس دی، نه په هغه وخت کې.

ټول همداسې حیران پاتې وو، چې ما د ساره لاس ونیوه او له کوټې ووتم او د غونډۍ په لور لاړو. باید خاله مور دواړه داسې نه وای لیدلې، په ځانګړې ډول ساره!

ساره ټوله لارې وژړل، په پای کې مو غونډۍ ته ورسېدو او په خپل پخواني ځایونو کې کیناستو، ساره مې په غېږ کې ونیوه.

— هششش، لیونۍ ولې ژاړې؟

سارا- آیت، ایا ما غوښتل یتیمه شم؟ ولې تل... تل... ټول ماته د یتیم په نوم توهین کوي؟ او طعنه راکوی؟

— ساره، نړۍ د ښه او بدو خلکو څخه ډکه ده، موږ نه شو کولی دا حقیقت انکار کړو، خو که هر ځل په هر ډېره چې درباندې غورځېږي، زخمي شې او ژاړې هیڅ شی به دې په برخه نه شي پرته له دې چې ماتې وخوري، نو باید مخکې له دې چې د دوی کاڼی پر تا ولګېږي، ته خپل کاڼی وغورځوه. سارا ته لکه ښیښه پاکه او صافه یې، خو دا دنیا د جګړې ډګر دی، باید جګړه ماره واوسېږی او وجنګېږې.

تر هغو چې مظلوم ظالم ته د ظلم حق ور نه کړي، ظالم د ظلم کولو توان نه لري. ساره له څو شېبو وروسته زما له غیږې را ووتله او خپلې اوښکې یې وچې کړې او ویې ویل: آیت شکر چې تا لرم، که ته نه واې ما به څه کول؟"

ما په موسکا سره د هغې پر مخ لاس تېر کړو او ومې ویل: پخپله پوهېږم چې زه یو لوی نعمت یم.

موږ دواړو وخندل چې ناڅاپه یوه غږ زما غوږ ته راغی.

— ساره!! آیتتتت!"

ما شاته وکتل او اصیل او احرار مې ولیدل.

اصیل- سارا ښه یې؟

سارا- ښه یم.

احرار په کراره وویل: ډېره خپه شوې؟

— که موږ و غواړو د دریا پشان خلکو لباره هم خفه شو نو حتی یوه شېبه هم خوشحالي زموږ لپاره حرامه ده.

احرار زما په لوري په تحسین سره وکتل.

— ساره ژر کړه، باید کور ته ولاړ شو، ناوخته کېږي.

احرار- یو څو شېبې صبر وکړه، کار لرم درسره.

ما ساره او اصیل یوازې پرېښودل او له احرار سره مې ګامونه یو کړل.

— اورم.

احرار- نو آیت، ستا نظر څه دی؟

— په کومه موضوع کې؟

احرار- د واده په اړه.

– احرار ..... هغه......زه .......... ما فکر کاوه چی .... تا..... هغ...

احرار زما خبرې پرې کړې او ویې ویل: ته فکر کوې چې ما دا خبرې د هغې نجلۍ د خاموشولو لپاره وکړې؟ آیت، زه واقعاً غواړم له تا سره واده وکړم. ولې نه پوهېږې؟ هغه وخت مې هم غوښتل واده وکړم او اوس هم غواړم واده وکړم. زه درسره مینه لرم آیت. ګوره، زما مور او پلار ستا په انتظار کې دي. هر کله چې ته اجازه ورکړې، خواستګارۍ ته راځي. خو که ته واده نه غواړې، زه دې مجبوره نه کوم او ستا پرېکړې ته درناوی لرم.

زه غلې پاتې شوم، خو دا په دې معنا نه وه چې ما شک درلود. نه، هېڅ شک نه و، خو نه پوهېدم چې څنګه ځواب ورکړم چې احرار خاموشي ماته کړه.

احرار:

#گر هیچ مرا در دل تو جاست بگو،

گر هست بگو؛

نیست بگو؛

راست بگو.....!

سارا- آیت، لاړ شو، ناوخته کېږي.

غوښتل مې د ساره په لور لاړه شم، خو مخکې له دې چې لاړه شم، په کراره غږ داسې چې یوازې احرار یې واورې ومې ویل:

#اندر دل من درون و بیرون همه او است

اندر تن من جان و رگ و خون همه اوست

***

حلیمه جان، چای مو وڅښله، راځئ د اصلي موضوع په اړه وغږېږو؟

خاله- حمید خان تاسو خپله یې پیل کړی.

ما له ډېرې خوښۍ نه ځان ورک کړی و. هر څه لکه یو خوب و. باور مې نه راتله چې نن زما د خواستګارۍ ورځ وه. کاکا حمید او خاله آسیه دوه ورځې مخکې بدخشان ته راغلل او د ما لیدو نه یې ډېره خوشحالي څرګنده کړه.

کاکا حمید خپل غږ صاف کړو او ویې ویل: حلیمه خور، د ځوانانو د ژوند جوړول زموږ د مشرانو مسؤلیت دی. که ستاسو اجازه وي، د خدای په امر او د هغه د رسول په وینا، موږ غواړو خپله لور آیت خپل زوی احرار ته په نکاح کړو.

خاله- حمید ورور، احرار لکه زما د خپل زوی پشان دی او زه هېڅ ستونزه نه لرم، خو وخت او زمان بدل شوی. نن ورځ نجونې لوستې او عاقلې دي. واده د یوه یا دوو ورځو خبره نه ده، بلکې د ټول عمر موضوع ده. نو وروستۍ پرېکړه د آیت ده.

حمید کاکا- سمه وایې، حلیمه خور.

بیا یې ماته وکتل او ویې ویل: نو نظر دې څه دی، لورې؟

زما لاسونه له زیاتې اندېښنې نه ریږدل او شرم ټول بدن مې نیولی و.

په سل زور او زحمت مې آخر وویل: "هر څه چې تاسو مشران مناسب وګورئ، کاکا جان.

خاله په خوشحالې وویل: ښه، نو مبارک دې وي، یو د بل سره دې زاړه شرې او خوشبخت ژوند دی ولری.

ټولو لاسونه ووهل، کاکا حمید زما سر ښکل کړ او بیا خاله آسیه زه په غېږ کې ونیولم او یوه ګوته یې زما په ګوته کړه.کاکا حمید غوښتل چې زما خواستګاري له کاکا مې وکړي، خو ما پرېنښوده ځکه ما کاکا نه درلود. ځینې وختونه د نړدې اړیکو لپاره د وینې اړوند اړتیا نشته.خاله حلیمه او ساره په دې دوه کلونو کې لکه د خپلې کورنۍ غړې راسره چلند وکړ، او تر خپلو خپلوانو یې ډېر محبت راکړ. خاله راسره د مور په شان او ساره راسره د خور په شان چلند وکړ، او زه یقیناً تر هغې ورځې چې ژوندی یم، د دوی دواړو مننداوی یم.

***

ما سترګې پټې کړې او ژوره ساه مې واخیسته، او د دوو کلونو وروسته د کابل هوا، زما د زېږون ځای، په سږو کې دننه کړه. آه، څومره مې د دې هوا لپاره زړه تنګ و. ډېر مې د خپل کابل لپاره زړه تنګ و.

— احرار؟

احرار- جان احرار؟

— کېدی شي مخکې له دې چې کور ته ولاړ شو، یوه بله ځای ته مې بوځې؟

هغه زما خبرې ته په تعجب وکتل او ویې ویل: کوم ځای ته؟

زما ستونی له غم نه ډک شو.

— د پلار او مور څنګ ته، ډېر مې زړه تنګ دی.

احرار سر وخوځاوه او د پته اخیستلو وروسته یې زه د هغوی د هدیرې په خوا بوتلم. په لاره کې ودرېد او اوبه او دوه ګلونه یې واخیستل.

کله چې د هغوی هدیرې ته ورسېدو، نور مې خپل ژړا نه شوه کابو کولی. د هغوی قبرونه په خاورو او دوړو پوښلي وو او یوازې څو وچ ګلان پاتې وو چې مخکې له تلو مې هلته ایښي وو. ښکاره وه چې په دې دوو کلونو کې هیڅوک ورته نه وو ورغلي.د احرار په مرسته مې قبرونه پرېمینځل او ګلان مې پرې کېښودل. بیا مې د دواړو ترمنځ کیناستلم.

– مورا! مور جان، وګوره، ستا لپاره مې مرسل ګلان راوړل. زما هېر کړي نه دی چې ستا مرسل ګلان څومره خوښ وه، پلار جان په تل هره ورځ ستا لپاره یو مرسل ګل درته راوړ؟ تا به تل پوښتل چې دا ګلان له کوم ځایه راوړې؟ خو پلار به هېڅ نه ویل، هههههههههههه پلار جان د فابریکې ترڅنګ یو کوچنی باغچه وه پلار به هره ورځ باغوان سره مرسته کوله او د ورځې په پای کې به یې یو مرسل ګل اخیست.

پلاره په یاد دې دي چې ما به هم ګلان اوبه کول؟ پلار، څه کېږي که بیا یوځای کار وکړو؟ څه کېږي که بیا زما لاس ونیسې او بهر مې بوځې؟ څه کېږي؟ مور، څه کېږي که بیا مې په غېږ کې ونیسې؟ وګوره، زما وېښتان بیا اوږده شوي دي، خو ته نې چې پرې لاس ووهې. مور، تل به دې زما د ډېر خوب نه شکایت کاوه، خو پوهېږې ولې ما خوب خوښاوه؟ ځکه پوهېدم چې ته زما تر څنګ یې او هیڅوک ما ته ضرر نه شي رسولی، خو اوس خوب کول نه خوښوم، ځکه ته نه یې..

ما په لوړ غږ وژړل او بیا مې وویل: پلار، مور، ډېر مې ستاسې لپاره زړه تنګ دی. کاشکې چې ستاسې څنګ ته راتلای شوم،ما خپل سر د پلار په قبر کېښود او ژړا مې ډېره سخته شوه او په ساندو بدله شوه چې احرار خپل لاس زما پر اوږه کېښود او زما تر څنګ کېناست.ما د ژړا په منځ کې مسکا وکړه.

– پلار، دا احرار دی، هغه څوک چې د هغه په اړه مې تاسو ته ویلي و.

احرار زما لاس په خپلو ګوتو کې ونیوه او ښکل یې کړ.

احرار- کاکا علي، خاله رعنا، ستاسو لور زما امانت دی. وعده درکوم چې تر وروستۍ ساه پورې به تر ځان او هر څه ډېر ورسره مینه لرم او خیال به یې ساتم. تاسو په ارامه خوب وکړئ.

– په خوب کې وګوره چې آیت به ستا شې....

ما شاته وکتل، "اوففففففف، نه، نه، خدایه!

– مصور، ته دلته څه کوې؟"

مصور په ژوره نظر راوکتل او ویې ویل آیت، ډېر مې ستا لپاره زړه تنګ شوی و. ته چېرته تلې وی؟ ځان سره دې ونه ویل چې مصور به زړه تنګ شي؟

ما چیغه کړه: زه ستا آیت نه یم

مصور په عصبي توګه وخندل او ویې ویل: نو ته د چا آیت ها؟ آیت؟

احرار ډېر په قهر وویل: مصور یې او که هر خر چې یې، له دې ځایه څه.

مصور- آیت تا د ده لپاره تېښته وکړه؟

– پر تا اړه نلرې.

په یوه شېبه کې مصور له جېبه وسله را وویسته او په احرار یې ونېوله.

– احرارررررا!

احرار ژر زه خپل شا ته پټ کړم.

مصور- څه پېښ شو آیت؟ وېرېږې چې ستا محبوب ته به ضرر ورسه وم؟

هیڅ ویره د احرار په مخ کې نه وه، داسې ښکارېده لکه چې یوه کوچنۍ د لوبو سامان دی د هغه پر لوري نیولې وی.

احرار- که نر یې، له ما سره خبرې وکړه، او دا وروستی ځل دې اوسیږی چې خپل په مردار خوله د آیت نوم اخلې.

مصور د لیونیانو پشان وخندل او ویې ویل: احرار خان ته هېڅ ویره نه لرې چې دا خبرې کوې؟

احرار- پرېږده آیت ولاړه شي، بیا به ویره ووینې.

زه پوهېدم که احرار خپل کنټرول له لاسه ورکړي، هر څه به ګډوډ شي، نو ځکه مې وویل: مصور، احمق مه جوړېږه! هغه وسله کېږده.

مصور په همغه خندا وویل: وسله کېږدم ترڅو ته ورسره ولاړه شې؟ نه، اغلې آیت داسې کوم شی نه کېږي. آیت، ته که زما نه شوې، د بل چا هم نه کېږې. لومړی به تا وژنم، بیا ځان. آیت، زه په تا مین یم. یا له ما سره ژوند کوې، یا له ما سره مړ کېږې.

دا ځل ما عصبی وخندل او په چیغه مې وویل: مینه؟ کومه مینه؟ کله چې به مې شپه تر سهاره ژړل، ته چېرته وې؟ کله چې زینب مې سپکاوی کاوه، ته چېرته وې؟ کله چې په نهه کلنۍ کې مې ټول کور کارونه یواځې کول، ولې چوپ وې؟ کله چې په بدو کې ورکول کېدم، چېرته وې؟ کله چې پلار دې له هغه لعنتي جاوید سره زما د وژلو هڅه کوله، ولې چوپ ولاړ وې او کتل دې؟ ولې؟؟ همدا مینه ده؟ که مینه دا وي، تر آخر عمره به له مینې څخه کرکه کوم. مصور، زه ستا، ستا له کورنۍ، او ستا له مینې کرکه لرم. پوهېږې؟ کرکه لرم!!!"

مصور هک حیران راکتل د څو شېبو وروسته یې وویل: هیڅوک به دومره ډېره مینه درسره ونه کړي لکه زه چې درسره کوم. له هغه وخته چې ځان راته معلوم شوی، درسره مینه لرم او لرم به یې. هو، ما تېروتنه کړې، خو زما مینه رښتینې ده، آیت. قسم خورم، همېشه مې تر ځان ډېر درسره مینه کړې.

مصور وسله خپل پر سر کیخودل او ویې ویل: آیت، ما وبخښه ته رښتیا وایې ما باید ستا ساتنه کړې وایې....

— مصوررر، مصور، لیونی کېږه مه..

مصور- زه هغه ورځ چې ته مې لومړی ځل ولیدلې په تا لیونی شوم.

هغه خپلې سترګې پټې کړې او غوښتل یې چې ماشه کش کړي.....

د ټوپک ډز شو!!!

"خدایه، شکرررررررا!"

احرار په وروستیو شیبو کې وسله د هغه له لاسه کش کړه او د پاسه یې ونیوه.

مصور لکه روح چې یې لیدلی وي، بې حرکته په ځمکه پرېوت.

احرار- نن مې پرېښود چې مړ شې، ځکه نه غواړم آیت هر ځل د دې صحنې په یادولو خپه شي. خو که بیا، حتی له سل کیلومترۍ څخه هم د آیت څنګ ته تېر شې، زه خپله به دې په دې لاسونو جهنم ته ولیږم.

احرار پرته له اضافي خبرو زما لور ته راغی، زما لاس یې ونیوه او په موټر کې یې کښېنولم او له هغه ځایه یې لرې کړم.

***

— Mommy! Are you the one who has white dress, and dancing with daddy?

(مورا! هغه چې سپینه کالي یې اغوستي دي او له پلار سره ګډېږي، ته یې؟ )

د اریج په غږ له دې کلونو د فکرونو څخه راووتلم، داسې د دې لسو کلونو په خاطرو کې ډوبه وم چې پوه نه شوم فلم څنګه تر دې ځایه را ورسېد.ما په وړاندې تصویر ته کتل او په خوله مې مسکا راغله. زه او احرار په نڅا وو.څومره ژر وخت تېر شو! اته کاله، هو، اته کاله د زما او احرار له واده څخه تېر شول. خو د خراب امنیتي وضعیت له کبله، د کاکا حمید په اصرار، ټول کاناډا ته مهاجر شوو. زه د مهاجرت خوښه نه وم، ځکه مخکې مې د ژوند تر ټولو بد تجربه په مهاجرت کې کړې وه، خو وروسته مې فکر وکړ او پوه شوم چې دوی سم وایي. په دې هېواد کې زموږ ماشومانو هېڅ راتلونکی نه درلود، نو د خپلو ماشومانو د راتلونکي لپاره اړ شوم چې خپل هېواد پرېږدم.

احرار په دې ځای کې په یوه روغتون کې کار پیل کړ، او ما هم د هغه د ډېر اصرار په اساس خپل درسونه پای ته ورسول. اوس په یوه ښوونځي کې د ښوونکې په توګه کار کوم، ځکه زما د پلار خوب همدا و چې زه ښوونکې شم.خو حتی وروسته له اته کلونو هم مې عادت نه شو، او هر ځل چې د خپل هېواد یاد راشي، سترګې مې له اوښکو ډکې شي. خو په دې وروستیو کې دا اوښکې زیاتې شوې، ځکه درې کاله وړاندې زما افغانستان د طالبانو لاس ته ولوېد او زما د هېواد ښځې بیا هم رنځ ګالي. خدایه، تر کله؟

مدثر او ایمان هم څو میاشتې زموږ د واده  وروسته واده وکړ او فرانسې ته مهاجر شول. اوس د دوی دوه ډېر ښکلي زامن دي.آیت ډېره لویه شوې، دومره چې ځینې وخت د خپلې خور هم خیال ساتي.جمال له سحر او لالا فرهاد له ثناء سره واده وکړ.

سبحان او دریا هم د افغانستان له سقوط وروسته جرمني ته مهاجر شول.رخشانه او ساحل د حریر خواته لاړل، خو حریر لا هم له چا سره د واده کولو ته چمتو نه ده.

اصیل دلته له یوې نجلۍ سره آشنا شو او واده یې وکړ. اوس د یو ډېر خوږ زوی څښتن دي.کله چې عمه حسیبه ساره ولیده، هغې یې خوښه شوه او همدا و چې له مسیح، د احرار د عمې زوی، سره یې واده وکړ. یو کال مخکې دلته راغلل او اوس له موږ سره ژوند کوي.

— مورا! هغه ته یې؟

د اریج غږ بیا زما خیالات لړې کړل.

– هو، د مور نازه ولې یه زه یم.

– پلار! زه هم د مور په شان جامې غواړم. سپینې جامې له لویه لمن سره!

احرار په خندا اریج په غېږ کې ونیوه او ویې ویل: د پلار شهزادګې ته لا ډېره کوچنۍ یې چې داسې جامې واغوندې.

دا ځل ایرج وویل: مور! زه هم د پلار په شان جامې غواړم.

ایرج او اریج جملې ماشومان مې وه او خپل د ژوند په شپږم پسرلی کال کې ګام کېښود. ما او احرار وخندل.

– احرار خان! زوی مې ستا جامې غواړې، اورې؟

احرار ایرج هم د اریج په شان په غېږ کې ونیوه او په زنګون یې کېښناوه. خاله آسیه وویل: خو لومړۍ باید لوی شئ!

اریج په اعتراض وویل: خو زه خو لوی یم! ایرج باید لوی شي!

ایرج مظلومانه وکتل: مادرکلان، وګوره! ماته کوچنی وایي.

ټول په خندا شول چې کاکا حمید خبرې پیل کړل او ویې ویل: زه به دواړو ته یې واخلم.

اریج په خپل ناز او نخرو ځان کاکا حمید ته ورسوه او لاسونه یې د هغه غاړې ته تاو کړل او ویې ویل: زما ګران نیکه..

زما خوله د دې ناز او نخرو څخه حیرانه پاتې وه.

– وینې؟ دا مکارۍ ته احرار خان!

احرار- دا خپل مور ته تللې ده.

– نو زه مکار یم؟"

احرار- نه، ته دلبره یې! له همدې دلبرۍ سره دې لس کاله مخکې زه ښکار کړم، هېر شوې د دې؟

ما ورو په اوږه کې ټک ورکړ و او ومې ویل: ما تا ښکار کړې یا تا زه ښکار کړم جناب؟چا هره دقه ویل: آیت! واده وکړو، آیت! واده وکړو!"

احرار په زړه راښکونکې خندا راوکتل داسې نظر چې زما زړه یې د زرګونو ځلونو لپاره یې ولړزاوه. په همغه زړه راښونکې نظر وویل:

<u>#به از این چه شادمانی</u>

که تو جانی و جهانی

په دې ژوند کې هر څه تېرېږي، هم خوشحالي او هم غمونه تېرېږي. د انسان ژوند د دواړو ترکیب دی. خوشحالي په غمونو کې، او غمونه په خوشحالۍ کې معنی لري. نه غمونه پاتې کېږي او نه خوشحالۍ، خو موخه د دې تېرېدو پوهېدنه ده.

مورېټول د ژوند په لاره کې د موخې په لور روان یو، خو کله چې وروستي کرښې ته ورسېږو، پوه به شو چې ژوند هماغه روان جریان و، نه وروستۍ کرښه.

پرون تاریخ شو، سبا معما ده، خو نن ورځ یو تحفه ده. نو هماغه جریان ته وګوره، او پای خالق ته وسپاره، چې دی د ټولو ښکلاوو خالق دی.

شاعر څومره ښه وايي:

هرگز از گردش ایام دل آزرده مباش

به مدادی است پی هر شب تاری."**

د زنهار ناول پای.

لیکوال: آریا.

ژباړونکې: خواجه زی خپروندیه اداره.

خپرونکې: خواجه زی.

زموږ د داسې نور ښایسته ناولونو د ویلو لپاره زموږ د تلګرام چینل ته راشې
https://t.me/pashtoonovels0
دا هم زموږ د یوتیوب چینل لینک.
http://www.youtube.com/@PashtooNovls09
او دا هم زما د انستاګرام
@king.shuhab
دا هم د تلګرام شخصی ایډی.
@shuhab09
او دا هم زما جمیل آدرس.
shuhabkhan795@gmail.com